# غزلیات

Ketabton.com

Downloaded from: ketabton.com



# (الف)

صورتگر چه ښه صورت په دیوال ساز کا　　کل عالم ئې په صفت زبان دراز کا
د هغه نقاش په صنع نظر نه کا　　چه له څه څاڅکي نه دا نقش و طراز کا
سترګي ورځي پوزه نور کښېږدي په مخ کښ　　غاښ و شونډې ژبه خوله سره پرداز کا
یو سر بل سر په سر جوړ کا دوه غوږونه　　چې په دواړو اورېدنه د آواز کا
بند په بند د لاسو ګوُتي و بله کښېږدي　　سر تر پایه درست صورت سره یو راز کا
که څوک زر کتابه وکښي له دې بابه　　که په کښل شي زر به نور پسې آغاز کا
هر ویښته چه به صورت باندې لیده شي　　که پر ځیر شي د شناخت ور به درته واز کا
خاص بنده د خدای هغه ګڼه خوشحاله
چه د ځان په معرفت ئې سر فراز کا

اورنګزیب چه آرایش د تخت و تاج کا　　تخت و تاج به ئې مرګي تاخت و تاج کا
په جهان کښ به ئی پاتو ښه بد نوم شي　　ده زده چارې د کسری که د حجاج کا
زه غمجن په عید په جشن خبر نه شوم　　که درست خلق د دهلیَ ابتهاج کا
اوبه سترګو لره لاړې اور د زړه شو　　څوک به څرنګه ژوندون په دا مزاج کا
چه په دګ مي ګوُتی کښېږدي رنګ ئې زیړ شي　　طبیبان می به په څو دَ رنج علاج کا
جدائي دِ ما په زړه کا هسې چارې　　لکه باز ئی په تارو یا په دراج کا
دوه مین چه په هواد و بله بېل شي　　خدای ئې څه شکل د تش سلام محتاج کا
ځما اوښي د کوګل په جوش پیدا دي　　لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوک چه د قضا له شسته خېژي
زمانه د خوشحال زړه ورته آماج کا

بازیګر چه د بازیو صندوق وا کا　　په یوه زمان کښ څو بازی بر پا کا
نندارچي چه ورته ګوري حیرانېږي　　بازیګر چه په بازیو کښ بلا کا
عارفان د سر په سترګو ګوُتي کښېږدي　　د خپل زړه په سترګو ګوري تماشا کا
دا عالم لکه طفلان ورته ښکارېږي　　د طفلانو په بازي پوري خندا کا
همېشه خوښي د چا ده، د هغه ده　　چه په زړه کښ د دنیا چاری فنا کا

Downloaded from: ketabton.com



د هغه په وفا څه خوښي خوشحاله
چه وفا در سره کا بیا زر جفا کا

بیا رباب د مغني ښه سرایت کا    په نغمه کښ نوی نوی حکایت کا
شیخ دي کنج د صومعې زه به گلگشت کړم    د بهار گلونه ما ته هدایت کا
گدایانو لره غم د گیډي ډېر دئ    بادشاهان دِ غم د ملك و ولایت کا
د وفا مهر کرم به ئې لا څه وي    په جفا کښ چه دا هونبره عنایت کا
په مانې ئې هم خوشحال شم هم دلگیر شم    لکه څوک چه له چا شکر و شکایت کا
دا دِ ما دَ بخت اثر نه دي نو څه دئ    له رقیبه چه شکوه پدا غایت کا
په دا ښهد کښ څرگند شراب خرڅېږي    محتسب د باده نوشو رعایت کا
که د کښلیو[1] د دیدن مینه گناه ده
سکه خوشحال خټك درست عمر جنایت کا

په هر ځای چه طمع خپل هنر څرگند کا    ډېر هوښیار ماهی مرغونه طمع بند کا
بادشاهی د بحر و برده که باور کړې    قناعت دي که په خشك و تر خورسند کا
په هغه ځما سلام خرم دي اوسی    چه د چا سره نه مهر نه پیوند کا
خلق واړه داند وه په دریاب ډوب دي    کله کله له دریابه سر بلند کا
درویش بخره خوښي غم د هغو دَئ    چه په شمار دَ زرو ناست دي چون و چند کا
هوښیارانو څخه ډېری اندېښنې دِي    چه ملنگ د مسلې، هغه انند[2] کا
و نور چا وته به څه وته څه وایی
و خپل ځان وته خوشحال خټك دا پند کا

په عاشق باندي غوغا غماز پدول[3] کا    چه گلونه پرې کوي اغزي قبول کا
ارسطو تر افلاطون ښه وُ سکندر ته    په جهان کښ هر څوک مینه پخپل کول[4] کا
څو مې زړه په ببغمیَ پسې درومي    هونبره نور تازه غمونه را وصول کا

---

[1] ښکلیو.

[2] عیش.

[3] بیهوده.

[4] یا به مصدر وی په معنی د (کردن) یا به مخفف د کهول وی په معنا د کورنی.

Downloaded from: ketabton.com



دا تازه تازه مضمون چه په بیاض کښم　　خبر نه یم چه له کومه را نزول کا
آشنایي لکه ښه تول[١] چه ورته اش[٢] کړي　　جدایي لکه ژلی وراني د تول کا
یو ښکاره د قیامت علامت دا دئ　　په فاعل باندي چه اوس تېري مفعول کا
دریغه یَو هسي پیدا شي چه په عشق کښ　　دا دِ ما لېونی زړه څه خو معقول کا
زه د عشق په کنج توانگر یم که نور خلق　　ټولول د زرو مال، متاع د پول کا
ځما روږ سترگي ولاري ته ځلور شوې　　که ښکاره د یار له لوریه خداي رسول کا
گنُدی وي چه د وصال په خوښي خوښ شي
چه خوشحال په جدایي کښ ډېر نول[٣] کا

په اختر په جمعه څه غرض زما　　زه مجنون یم سر نیولَي په صحرا
هغه وخت د ما اختر ما جمعه ده　　چه دیدار راته ښکاره کا د لیلا
عاشقان له عشق له کاره انکار نه کا　　فاسقان به پخپل زړه کښ لَری غلا
د یاریَ لایق نه دي رنگ ئی ورک شه　　چه ئی نه وي په یاریَ کښ وفا
د رښتیني[٤] یاریَ لافی ډېر عالم کا　　ولی ما پکښې و نه لیدل رشتیا
هی توبه د عشق د پټو سرو لمبو نه　　نه واښه نه ئې لرگي لکي په تا
په یرغ په مصلحت د عشق کار ندی　　په لیدل په اروېدل شي را پیدا
نه په پند لوېږي له هر کاني بڅیري　　دئ سوخته سره بکرْ[٥] لَرِي سودا
دا رنگیني معنی چېری دي خوشحاله
چه را درومي لکه گل په بیاض ستا

په سپین جمال چه تار په تار دوې زلفي عنبر فام کا[٦]　　محبوبه غواړي دا چه رڼا ورځ په عاشق شام کا
چه ډېري د یار زلفي یادوم مقصود مي دا دئ　　چه ما د یار د زلفو د حلقو دیوانه نام کا

---

[١] کښت.

[٢] په پښتو کښ د تعجب او مسرت کلمه ده.

[٣] غم، ویر.

[٤] رښتني.

[٥] بکرئ.

[٦] دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



عاشق چه په جهان کښ خپل ژوندون له خدایه غواړي / د زړه مقصود ئې دا دي چه ځان ځار تر دلارام کا
زه مست بیخوده پروت یم په یوه پیاله د میو / ساقی ښیښه نیولې راته فکر د بل جام کا
په مخ د ښو محبوبو زه مین چه هونبره نه یم / چه یا به ئی څوک وکښي یا ئی شرح څوک مدام کا
دلبره چه له دله د عاشق په مرگ راضي شي / د سترگو په کاته کښ و عاشق وته پیغام کا
چه تا منع کوي د بت په عشق کښ ورته وایه / کعبه د کانیو گوره ترو دې څه خلق احرام کا
که غټ د عنایت په سترگو وگوري خوشحال ته
د ده مقصود به واړه په یوه نظر تمام کا

تا وې چه غم مه کړه نور زه ستا یم ته ځما / زه خو د ژوندَي کړم که دروغ کړې که رشتیا
څه بلا زیبا ئې، بې نظیره محبوبا ئی / که دا عیب د نه وي په زړه سخته ئې بلا
که کل جهان خوبا شي په هر لوری محبوبا شي / عجب که لا پیدا شي یَوهَ تا غندي زیبا
په هونبره ډېر مقتولَ ته لا هیڅ نه ئی ملوله / که سل خونونه وکا د جلاد ترو څه پروا
چه گل غواړم له تا نه، ستا له باغه له بوستانه / که خس را عنایت کړې هم په گل نیولي ما
څو زه بنده زنده یم، د هغو زلفو بنده یم / چه تل ئی سل سل زړونه په هر تار دي مبتلا
که لوی دي که هلك دي دواړه ستا په نعرهٔ ورک دي / په ښهر کښ څوک نشته چه مین نه دَې په تا
د سبر ونه گوره په زمان شي نامنظوره / چه وخوځې په باغ کښ ته په دا قد و بلا
نسیه جنت سبا دَئ، د زاهد دئ د ملا دئ
په لاس جنت موندلي نن خوشحال دئ ستا لقا

تل که دا وي د خوبی طمطراق ستا / نور دي لاس له ځانه پرې وینځي عشاق ستا
نن پدا دور هغه ښایسته ته ئې! / چه په هر لوري ثنا وائي آفاق ستا
دواړه شونډي دي تریاق، زلفي ښامار دي / جار وتلي دا ماران دي تر تریاق ستا
لږ شکیب ورته په مثل د لوی غره دي / په شکیب کښ به په څو پائي مشتاق ستا
د بازیو دي موندلي یم غلوه مي / د هلك غندي رشتیا گڼم مزاق ستا
ته خپل ځان لره مهمیز کړه څه پروا کړی / که قدم د چا په سر کښېږدي براق ستا
خلق وائي چه دوږخ شته پسله مرگه / په حیات صورت دروږخ نه دئ فراق ستا؟
لکه تل وه همیشه په هغه شان د / هیڅ ملا مرشد بدل نکړ اخلاق ستا
لکه باد د صبا راشي گذر کا
ما خوشحال چه آزمیلي دَئ میثاق ستا

---

په لوري.

Downloaded from: ketabton.com



تلم په خپله لار را سره مله شوه نگارا     شوخه غمزه گره خنده رویه خود آرا
رنگ ئې د سرِي وُ اما خوي د ښاپېریو     تن ئی لکه سیم وُ په زړه سخته سنگ خارا
راغللم په ښهر لاس په لاس شوه له ما ورکه     کوي په کوي جار وزم پسی غواړم بخارا
ډېري لري نخښبي[١] د صورت د زیبایۍ     څخو درته وایم یو څو نخښبي آشکارا
دنکه[٢] تازه کنکه[٣] قد عرعره مو کمره     ښه ئې تر گلونو د گلابو عذارا
غاښ ئې د گوهر په لب شکر ابرو کمانه     تور باڼو ناوک په دواړو سترگو خونخوارا
پوزه ئې غنچه وه د زنبق سیب سپینه زن ئې     مښك د مخ خالونه په مخ کښلې مه پارا
هار د جواهرو دوه لړی د مرغلرو     تور وربل وُ دلی زلفی ئی عنبر سارا
واړه ئی د تن جامې گلگونې زرنگارې     درسته سره لمبه وه چا لیدله خدارا
بیا هسي مدد کړه چه خوشحال سره دي تل کړ
بخته! د دې   ورکي سراغ نخښبه[٤] و مارا

ځان ئې سر تر پایه جوړ کړ بیا بلا کا     د زلفینو په هر وله د زړونو غلا کا
معشوقې ته چه ئې هونبره حسن ورکړ     دا په دا چه د عاشق خونه تالا کا
په هر ځای چه څو محبوبه[٥] سره کښېني     هغه ځاي مي تر جنت ښایسته لا کا
دوه مین که سره هر څو، مرور وي     خپله مینه ئې بیا زر سره پخلا[٦] کا
تور باڼو ئې تور توبري دي را څرخېږي     که را پورته محبوبا سترکي شهلا کا
څو د شاه په کښلي مخ باندي خالونه     ما به هم په هونبره داغ مبتلا کا
همگي ئې ستا له مخه گفتگوي شي     چه دردمن وبله ټول شي مشغولا کا
په خیر خیر ئې مخ ته مه گوره خوشحاله
په خاطر به دي اور لمبې والا کا

---

[١] نښبي.

[٢] د سید راحت په لغاتو کښ ابتدا په ساکن او په گ دا کلمه په معنی د لوړ قد او جگ راغلې ده.

[٣] د دې کلمې اصل نسو را معلوم. په پښتو قاموس کښ کنگه په معنی د غټه، غوړه (پیغله) دئ.

[٤] نښبه.

[٥] محبوبی.

[٦] پخولا.

Downloaded from: ketabton.com



څه عجب دلخوا دي دا صهبا   چه ساقي ئې راکوي په مرحبا
د غنچې خندا محاله په چمن ده   که نسیم پر گذر نه کړي هر سبا
مصلحت ئې د بلبل په کار کښ دا وُ   چه صبا کړ د غنچې کمیس قبا
د بلبلي قدر زده کړه اې گله!   که هر څو ئې په دا خپل حسن زیبا
چه علاج ئې وابسته پخپل مطلوب دئ د   عاشق له رنځه څه زده اطبا
بې د یار د زیبا مخ گمان مکړه
چه خوشحال به په بل مخ شي شکیبا

چه یار مهر وفا نکاندي څوک څه کا   چه بې جور و جفا نکاندي څوک څه کا
د جهود به هم زړه سوي را باندي وشي   چه یار رحم په ما نکاندي څوک څه کا
ما وې زړه ئې گُندی نرم په ژړا کړم   چه اثر پر ژړا نکاندي حؤک څه کا
که وصال ئې په دنیا له عمره خوږ وي   چه تل عمر وفا نکاندي حؤک څه کا
حال دي هیڅ له یاره پټ نه دي خوشحاله
عنایت چه په تا کاندي څوک څه کا

چه په ما باندي ئې زړه سیځې تپاک کا[١]   الحذر چېري به ځان د اور خوراک کا
ما پخپله ملامت وته ځان ساز کړ   عالم عالم دي په ما سل ځله بلغاک کا
که د خضر په چشمه باندي مي کور شي   د فراق اندوه به هور ته ما هلاک کا
چه بقا ئې په چمن کښ یوه ورځ وي   لاله ځکه د کمیس گریبان چاک کا
د اسمان له عاشقانو سره کست دي   هر زمان ئې په هجران سره غمناک کا
ترې به سل رنگه گلونه شگفته شي   هر سړی چه خاکساري واخلي ځان خاک کا
زه خوشحال په هغه چا پوري حیران یم
چه له یاره نه جدا شي په څو ژواک کا

چه د پلار سره دروغ نفاق خلاف کا   د نور چا سره به څه رنگه زړه صاف کا
گوره بیا ئې کوم دروغ نفاق په زړه دي   منافق پخپل گناه چه اعتراف کا
نه به زه د ناخلف گناه مراف کړم   نه به خداي د عزازیل گناه معاف کا
دا واړه غرونه لا هیڅ ندي راضي یم   که په میان کښ مو خداي غر د کوه قاف کا

---

[١] دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



حال[1] د خپل زوي ئی خپل پلار وته معلوم دئ ‌ ‌ حؤک به څه لره د عاق راته اوصاف کا
نه به ده غندي دروغ دروغجن وائي ‌ ‌ نه به ده غندي سړی مکر و گزاف کا
هم هزار رنگه دروغ خلاف په زړه کښ ‌ ‌ هم هزار رنگه په خوله د صدق لاف کا
په ژوندون ئې دیدن مه وینم هاله هم ‌ ‌ پسله مرگه که د مار د گور طواف کا
چه مي هسي تربیت د ناخلف کړ ‌ ‌ دا په دا چه دي له ما سره مصاف کا
په ژوندون به ئې ارمان وزي له دله
زمانه که د خوشحال سره انصاف کا

چه دنیا ورته ښکاره شوه بی وفا ‌ ‌ و دنیا ته به مخ نکا بې قفا
د غرض یارئ هیڅ یارئ نه دئ ‌ ‌ که یاران دِي خو اخوان دِي د صفا
که کاته دي که لیده که اروېده دئ ‌ ‌ دا د ښو یارانو واړه دي شفا
چه په چا باندي مین شوې قبلوه ئې ‌ ‌ سل نازونه سل نا سازي سل جفا
که په وصل کښ ئې هر ساعت یو کال شي ‌ ‌ لا په دا د عاشق نه وي اکتفا
له ما خوار سره څو قاف[2] وهې ورې کړې ‌ ‌ جگي جگي څه خو لا وطې وفا[3]
دا بیدرد عالم پرې هیڅوک خبر نشو
و خوشحال ته ئې خوله ورکړه په اخفا

څوک چه مخ کا په مذهب د خپل مولا ‌ ‌ د هغو په خدمت ودري دنیا
څوک چه مخ په لمو روان شې خو دي گوري ‌ ‌ چه سایه ور پسې درومي په قفا
درویشان که اشارت وکا و غره ته ‌ ‌ د غره کاڼي به هم شي لکه طلا چه کیمیا
کیمیا کیمیا یادېږي په جهان کښ ‌ ‌ کیمیا څه ده ښه نظر د اولیا
که د تخت د پاسه ناست وي صاحبي کا ‌ ‌ د درویش په زړه کښ هیڅ نه وي هوا
خیري زنگ ورځني نن دي چا وللي ‌ ‌ د درویش جامه له ځایه[4] ده صفا
مړه و ده وته ژوندي وي ژوندي مړه وي ‌ ‌ د درویش هونبره قوت دي د دعا

[1] ځان.

[2] ق،هـ، ر: قهر.

[3] ل، ط، ف: لطف.

[4] ځانه.

Downloaded from: ketabton.com



مگر چېرې د دروېش په مهر ياد شي
چه خوشحال ئې کړ دا هسې بې نوا

چه خپل خوې شې په جهان بد خواه د چا　　د خپل خوې دې نه چه دې تباه د چا
من فليل په يوه مچ سره بد بوې شي　　بد دې نشي يو زمان همراه د چا
کاڼې لعل د بدخشان، گيا کيميا ده　　چه ئې نه بېژني ته گناه د چا
چه بادشاه ئې ستمگر شي خلق خوار شي　　خداې دې نکا ستمگر بادشاه د چا
زه که سل ځله وفا کړم يار جفا کا　　بخت دې نشي په دنيا سياه د چا
د جمشيد او د سکندر فلك پرې نښوې　　پرې به نږدې همېشه کلاه د چا
دا دنيا لکه لولی ده خوشحاله!
که ئې گورې گاه د چا شي گاه د چا

جار تر هغه مخ شم چه به ما په ځان مين کا[١]　　سحر دې که دم دې که څه نورې فتنی فن کا
زړه بويه چه خوی ئې د بورا يا د بلبل وي　　درومي کرزي غواړي خو په گل باندې وطن کا
وسيځې په اور کښ پتنگ، هو چه پتنگ نه وي　　و تښتي له اوره ځان پخپله دروغجن کا
ډېر په باغ کښ کړ شي څوک خالي وزي له باغه　　څوک ئې مېوه وخوری په گلونو ډک دامن کا
ما ئې چه مزه د خوږو شنډو ده موندلې　　ناست وم که ولاړ وم زړه مې هرکله من من[٢] کا
خيال ئې د زلفينو لکه غل د خپلې خونې　　هر کالې ليدلې فراغت ئې دزديدن کا
سترگو ته ئې وگوره څه څُنې تورې زلفې　　څرِ په سنبل زار کښ دوه هوسيه د ختن کا
هر چرته چه گرزي لکه سرو سمه درومي　　هر چرته چه کښېني هغه ځاې لکه گلشن کا
تن ئې آزارېږي په کميس د سرې[٣] صافو
گل د چنبې بويه چه خوشحال ئې اغوستن کا

چه مې وليدې دا تورې سترگې ستا　　زه به نکړمه هېر نورې[٤] سترگې ستا
يا د باز يا د طاوس يا د شاهين دې　　يا د تور هوسي که گورې سترگې ستا

---

[١] دا بدله په چاپي نسخه کې نسته.

[٢] د اغزو خواړه.

[٣] يو ډول کالي وُ.

[٤] نور هېرې.

Downloaded from: ketabton.com



لکه وژغوري کبلې په مرغزار کښ د خواره وربل تر سیوري سترکي ستا
لکه پټ سپاره د جنګ نېزه په غاړه دا اوړده باڼو پری پوري سترکي ستا
چه دئ هسي و هر در وته ولاړ کړ د عاشق دي اور په کوري سترکي ستا
لکه څوک په میو مست شي هسي مست شم زه چه ووينم مېخوری سترکي ستا
که شېخان که زاهدان که عابدان دئ د هر چا د زړونو چوري[1] سترګي ستا
چه دي غوښت هغه دیدن دي ورته ګوره
که خوشحال ندئ[2] کوري سترګي ستا

چه مي ښکته پورته اوښکي تګ و پو کا د خپل یار په طلب ګرځي جستجو کا
زه په دا طمع د شاه د سپيو مل شوم ګوندي ما د خپلو سپيو سره تو کا
هر چه ستا په کنبلي مخ باندي مين دي هغه درسته شپه له ما همه ګفتګو کا
که زه ورو وايم خبري ګرم مې مه کړه ځايګي ويشتلي تل خبري ورو کا
ستا له غمه چه و چا وته ويل کړم لا مي حرف ويلی نه وي چې هو هو کا
په هر ځاي چي درې څلور و بله ناست وي چي پرې غوږ باسم خبري د مهر کا
پادشاهان يې ارزومند د نندارې دئ ګدايان به ئې د خولې طمع په سو کا
د ګلونو دور تل نه وي خوشحاله!
ښايسته به په خپل حسن کبر څوک کا

حقيقت راته معلوم شو د هر چا باور نشته په آشنا په نا آشنا
چه په سر دي سوګند خوري ورځني ډار کړه يوه ورځ به ستا د سر وکا سودا
د هر چا نه چه دي طمع د وفا وي هم هغه درته ښکاره شي بې وفا
يا څو وُ دا جهان واړه بې وفا وُ يا د ما په دور ډېره شوه جفا
آدميت له آدميانو نه خداي واخيست تر دوه پايو نه بهتر وينم چارپا
که هندو که مسلمان که بل فريق دئ په هيچا کښ به بيا نه مومې رشتيا
نه د دين د چاري شناخت مهر و وفا شته نه په شرم ننګ حؤک ښر دې د دنيا
د تقليد رسم عادت ياري خپلوي کا د هر چا نظر پخپله مدعا
همګي واړه ياران د خپل مطلب دي بيهوده ناز و منت کاندي په تا

---

[1] غلې.

[2] نه وي.

Downloaded from: ketabton.com



مخامخ دي په ثنا په صفت سر شي — سل بلا دربانديِ وايي پسي شا
د دو دام ترې سرېونه بهتر دئ
اې خوشحاله ځه له ښهره په صحرا

خداي دي مخ د هيڅ غافل را ښکاره نکا — د غافل سره دي ما آواره نکا
په هر لوري نو بهار دي غوړېدلې — سترګي وخوره چه به دا ننداره نکا
هغه څوک چه د الفت په توري پوه شو — نور په ساز د سوختګانو ناره نکا
د چار پايو په حساب دئ سړي ندئ — چه په ساز د سوختګانو ناره نکا
هغه څوک دي چه په حال ځما خبر شي — چه ګرېوان به تر لمن پاره نکا
په يوه نظر ئې هر څه له ما يووړه — چه هيڅ نشته نور نظر دوباره نکا
طبيبان د رنځ و هر لوري ته ډېر دي — رنځوران ولي د وخته چاره نکا
د تقوی غليمي دف کښېږده له لاسه — په وهلی ّهر څوک نقاره نکا
وړه ستا دا توري سترګي خوشحال وژني
دا قتلونه څه طالع ستاره نکا

خدای چه تار په تار ياران بيا سره ټول کا — تروړې خاوري په په سر د رنتبول کا
د جهان غمونه يو سر ځما بل سر — که سړی ئې د باور په تله تول کا
نه مي يار نه مي غمخوار شته په دا غم کښ — لکه بي اوبو څوک بند په ګرم چول کا
که په پوهه کښ دانا د زمانې وي — د زړه غم ئې تر هلکو کچو کول[1] کا
چه ئی ډول واهه ځما په دلګېری — اوس دي تر په[2] پخوا هم په دغه ډول کا
چه مستان د يوه جام دي غم ئې نشته — که ئې هر څو زمانه په لاس کچکول کا
د پسا له صفت ئې شي د رنګ ئې نشي — څوک چه پوري په بدرنګي ناوې پسول کا
که د اسپنو کلا وي چه بخت يار شي — خاوند خدای به ئی آسانه لکه شپول کا
چه ګلونه د بهار واړه تمام شي — د زړه سود شيدا بلبله په ختول[3] کا
خال ئې مست خوني هاطي دئ سنبال کړي — چه ښکاره شي شا به ورته د غم غول[4] کا

---

[1] په قلمي نسخه کښ يوه محشي "نادان" ورته کښلي دي.

[2] ترپي.

[3] يو خود رويه ګل دي.

[4] په قلمي نسخه کښ محشي (فوج) ورته کښلي دي. ممکنه ده چه دا د پښتو يو ورک لغت وي، په قندهار کښ داسي ويل کېږي

Downloaded from: ketabton.com



د خوشحال د رنج علاج په یوه خدای شي
چه له درده سره تل ښوري آشول[١] کا

خپل عمل چه سړی سپك کا    لکه خس هسي ئې ورک کا
بد عمل لیونی سپیَ دئ    چه حملی پخپل کنډک کا
مگر نه گورې و ځان ته    چه احوال پېغور دَ پك کا
مزري ښکار کا د گاوزو    پیشو گرزی ښکار[٢] مږک کا
دا خبره ده که کېږي    که کیسه د دو تك کا
چتی[٣] باز په پرونو نشو    گه آلوزی پر پرک کا
چه بیزو د بازیگر شو    نن څه ناسته په انډک[٤] کا
ځما ژبه نده اور ده    گذاروُنه دَ توپك کا
چه ځما اختیار ئې خور کړ    خدای دي خوار هغه خټك کا
خوشحال ناست په برَموَل دئ
ارمانونه د اټك کا

د دنیا یاران په خوي دي د دنیا    بی وفا لکه ئې مخ هسي ئې شا
که د دین دپاره تا سره یاري کا    له هغو غواړه که غواړي څه وفا
د دنیا ښادیۍ غمونه سره گډ دي    په خندا خندا دي ژر کا په ژړا
چه فتنې ترې پیدا کېږې واړه نفس دي    نفساني یاران به نه وي بی بلا
اولیاء د اولیاء سره بد نه وي    دا پدا چه ئې د نفس نشته هوا
په دنیا د بادشاهانو سره ضد دي    امرا سره دښمن وي امرا
یا په نه یاري کښ سود دي که پوهېږی    یا په نه ویل کښ سود دي د دانا
بیا هاله د بل جفا وته نظر کړه    که ته نه وینې په ځان کښ هیڅ جفا

(غولی غولي خلق راغله) ممکنه ده چه د دي دوو کلمو اصل یو وي یعني فوچ فوچ،

[١] په قلمي نسخه کښ محشي آه و فریاد ورته کښلي دي، ما تر اوسه دا لغت ندي ارویدلي.

[٢] یعني ښکار د مږک.

[٣] یعنی شب پرک.

[٤] پر یوه انډی ناسته د تکبر علامه ده محاورتاً.

Downloaded from: ketabton.com



لکه تا سره څوک څه کاندي خوشحاله
ته هم هسې زيست روزګار کړه له هر چا

د مرغه ئې که وزر شته الوته کا — څه په دور لکه باز هسې خاته کا؟
که مته[۱] غندي تېره لري مرګ داړه — څه مته غندي ګزار وته واته کا؟
په ارمان د ديدن مرم پرې سلام دئ — چه ځير ځير مي د يار مخ وته کاته کا
ښايسته په جهان ډير دي ښه هغه دي — په ښه خوي چه د عاشق د زړه ساته کا
لکه سترګي تصويري ځنبل مي نه وي — چه مي سترګي ښه جمال وته کاته کا
څه خوښی ئې پکښې يښې دي پوهېږې — هر نفس چه د واته ننواته کا
په هر څه کښ ئې لذت فرحت راحت دئ — لکه ساه چه وواته ننواته کا
که په تن خوشحال خټك دئ ځنې لري
د ده زړه د يار په کوي کښ جار واته کا

د عشق په باديه کښ مړده ګام د تمنا[۲] — هغه څه عاشق ندي چه وړي نام د تمنا
زار[۳] ځما د زړه دي، زار ځما دي په دا کار کښ — که دا طور به تل دورمي ايام د تمنا
مرم له يار له شوقه سره دواړه نه جوړېږي — آغاز د يار د وصل او انجام د تمنا
څه شوه هغه مينه چه د سترګو په کاته کښ — ښو به ئې را واستاوه[٤] پيغام د تمنا
قدم زده د هغه عاشق په پله باندي خوشحاله
چه کام ئې خپل موندلي په هنګام د تمنا

دنيايي ياران چه طمع د دنيا کا — عاقبت په يوه طمع ځان جدا کا
ديدني ياران په کار دئ په دنيا کښ — چه ياری د ديدن په تمنا کا
د ګونګټ مينه په غول په غوښايه ده — خاصګي مينه په ګل باندي بورا کا
که پخپله رضا دورمي چاره نشته — که ځما په رضا دورمي خوله به را کا
په بار بار د هغه يار منت را باندي — چه پلو په مخ نيولي مخ ئې وا کا

---

[۱] محشي په خربيشوي ترجمه کړي دي،
[۲] دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.
[۳] په پښتو زار په معنا د زحمت او مشقت عموماً راغلي دي.
[٤] را ستاوه.

Downloaded from: ketabton.com



سل رحمت د عاشقانو په همت شه    چه په طمع د دیدن د سر سودا کا
په رقیب به ئې بې تیغه مرگ روا شي
که دلبره د خوشحال مقصود روا کا

دروغ دروغ وعده چه دل سنگین سره پیوند کا    عاشق له ډېره خیاله ځان پروین سره پیوند کا
بلا کاندي خوله وازه د فتنو آتش تازه شي    چه نازو جلوه دواړه نازنین سره پیوند کا
آزاد تر سینه درومي د جگر دننه کښېني    چه غشي لینده دواړه مه جبین سره پیوند کا
که نور مهر دي نشته څه خو کړه د حال پوښتنه    چه تا په زړه ویشتلي سر بالین سره پیوند کا
څه زه څه مي مجال دي، چه دي وصل غواړم دریغه    که ځړه توره شړي څوک وریښمین سره پیوند کا
که ځان غواړې خوشحاله له چشمانو ئې حذر کړه
خپل ځان وژني قځري[1] چه شاهین سره پیوند کا

دوې دي توري سترگي لکه دوی توري بلا    دوې د توري ورځې لکه دوې توري تر ملا
بیا دي تور باڼو د دواړو سترگو کربلا[2]    بیا دي توري زلفي تر ښامارونه بلا
له هسي رنگه حاله، راته ووایه اصلا    د هغو به څه احوال شي چه په تا وي مبتلا
عاشقان دي واړه سر کړل همېشه په واویلا    چه هسي رنگ ستم به په هیچا نه وي اصلا
د خاطر بخچه مي هسي تا خالي کړله تا لا    لکه غل د خپلي خوني همېش روږد یي په غلا
نه به بل څه وکښي نه به کاندي نور املا
دا بنده خوشحال او ستا له عشقه مشغولا

د خوبی نوم دي ولاړ د بد خو هم لا    پخپل کلي په اولس په هر سو هم لا
ته چه هسي په دا خپل جمال نازېږی    گله ستا به دا جمال نه وي بو هم لا
چه بد مست شي په مجلس کښ هغه نه یم    که کډو د میو تش کړم سبو هم لا
ستا له جوره له ستمه هورته لاړي    هغه ځاي چه آدم نه وي آهو هم لا
د نماستي په وخت ئې واکړه آزار مه شه    د وربل غوټي کوڅی د گیسو هم لا

---

[1] بله املا د دې کلمې تنزري دي په معنی د تیهو او کبك.

[2] تر دې کلمه لاندي محشي (لویه بلا) لیکلې ده، ممکنه ده چه مخفف د (کره بلا) وي، یعنی خاصه او خالصه.

Downloaded from: ketabton.com



د خوشحال خټك دپاره چه ميخور شو
په مغان مي وښي کښېښوول باهو[1] هم لا

دوه زړونه چه يو شي غر به هم پاره کا    ځار تر ېګانګي چه نعمتونه را ښکاره کا
توري زلفي بويه خط و خال زرو زيور هم    مخ چه ښايسته وي خلقه ئې ننداره کا
څوک چه په اخلاص و بله مين شي په دنيا کښ    زر سازي نا سازي په دنيا کښ آواره کا
خلق په شيطان باندي لعنت لرينه    چاري په سړيو واړه نفس اماده کا
سل رنګه غمونه لور په لور د نفس لاله سه    دوه سوه د حرص له مخه نور را اجازه کا
چه وېش وي د شکرو ډېر عالم ورباندي ټول شي    چه واخلي خپلي بخري نور ځانونه کناره کا
خو بي د خپلی چاري څوک په مټ په کوښښ غواړي    څوک خپل کارونه واړه حواله په ستاره کا
ځار تر يکرنګی چه زړه ئی يو يو ئی اقرار وي    هر چه دو زبان وي خخل غمونه دو باره کا
هر څوک دي دعا کاندی چه حاجت ئې چا ته نه وي    ولي بادشاه نه وي چه حاجت ئې بيچاره کا
ګل و سړي ورکړه چه خوشحال په يوه ګل شي
خره غوايه نظر کله د ګل په پشتاره کا

د بې ننګو پښتنو له غم ما    لوئي پرېښوه وينو له کم ما
دا هم ښه که پدا کار کښ هونبره کار وي    چه که واخيست انتقام له ګرم ما
چه د ننګ ګوهر مي مات شو دواړه سترګي    په ژړا کړې يو دم بی نم ما
هغه درومي په لاس نه راغي[2] ببړيه!    استاده کړه په ساحل له يم ما
هغه ملا مي چه په هوډ سره لوي غر ده    په ناکام کړه و مغل ته خم ما
هم د بخت و ماته شا شوه هم د خلقو    په مغل کړ ځکه مخ له هم ما
که مي لاس وئ په رضا می به کښې نښول    د مغل په لوري دوه قدم ما
د هغو د خولې کړې خبري اروم    چه خبره ورته نکړه سم ما
دم د خپلو د پرديو را معلوم شو    که هر څو ساته خپل ځان له دم ما
په هغو لويو خبرو شرمسار يم    چه هر چا وته ايستې له فم ما
سل غندنې پېغورونه را دو څار شول    چه به ځان ساته همېش له ذم ما
دا الم مي هيڅ الم سره سم نه دئ    که ليدلي د هزار الم ما

---

[1] بله املا ئی (باوُ) دي، په معنی د بنګړي چه د ښځو يو پسول دې.

[2] نه راځي.

Downloaded from: ketabton.com



مگر بخت را سره بیا مدد آغاز کا    چه فارغ کا د اندوه له سم ما
هاتی ځکه په سر لوني دا خاوري
چه خبر کړ دي خوشحال له غم ما

راته څه وائې چه یار در سره څه کا    که وفا کا، که جفا کا واړه ښه کا
دا تل دود د ښایسته وو، د یاری دي    چه یك لخته د زړه مهر په چا نه کا
سل بلا ئی قبلوه ور پسي درومه    ښایسته د جهان کل واړه خپل زړه کا
چه د کبر خیال دماغ وته ئې گورم    اندېښنې مي ویښ بیدار ورته اوده کا
که په نه عمر ئې نه گڼم زه خوار شم    هغه عمر چه جدا له یاره تله کا
تېره چار به د هیچا په لاس را نشي    که په ډېره ژړا سره دواړه لېمه کا
د بتانو په دیدن د زړه نشاط شي    لکه باغ پاڼي گلونه په اوبه کا
'په درتللو ئې شړې په تلو ئې بولي
چه ئې نه پرېږدې په هېڅ کښ خوشحال څه کا

راشه وگوره نن دا طراز ځما    حقیقت سره قرین مجاز ځما
درست عالم ئی په بازار په کوڅه وایي    لا و چا ته ښکاره ندئ راز ځما
د نیازمنو عمر غواړم په دا څه شي    که بی نیاز وگړي نه وړي نیاز ځما
د عمزی په تېغ مي وژنه صرفه مه کړه    څوک به نه غواړي لتانه ساز ځما
د مسجد محراب د چا دئ د عابد دئ    په محراب ئې د ابرو نماز ځما
ښایسته د بڼ طاوس ور لره بویه    دا واړه ښکارونه نه کا باز ځما
چه په خوږو زړونو بلوسي سزا مومي    ښه چه خوار شو پدنیا غماز ځما
ته په ما باندي تل ناز کړه معشوقه ئې
زه خوشحال خټك عاشق یم نیاز ځما

زړه چه نه وي مبتلا    پری دي سازه شي بلا
تر عاشق دي صدقه شي    که زاهد دي که ملا
عاشق هر زمان غزا کا    په تېره توره د لا[١]
که عاشق د یار په تېغ مري    پرې منت دي د یار لا
زاهد خوښ کنج د خلوت کړ    عاشق خوښ د یار بالا

---

[١] نفی له غیره.

Downloaded from: ketabton.com



گل د عشق دي غوړېدلي        و عاشق ته ده صلا
دا د ني چاري ادني وي        د اعلا چاري اعلا
که شېخي زاهدي غواړی        پخپل لاس کښ ده لالا
لکیور[۱] د ستا په سر کړه        سر وهه په مصلا
یا مسواک کښېږده په سر کښ        یا ئې و ټونبه تر ملا
په تسبیح خو ځوه شونډي        نور ټکي کوې که غلا
مرد هغه ګڼه خوشحاله
چه ئی کېږي مشغولا

زه تا پېژنم هوا        واړه تا کړم[۲] سر هوا
چه همیش ئې په عالم کا        د جهان ګوره غلوا
په نوا ئې بې نوا کړل        بې نوا شول په نوا
د هر رنځ دارو موندل شي        د بد خوي نشته دوا
عاشقی ځني په ګور کړل        څوک پراته دي په زګروا
چه مي ویني د کوګل خورې        ویني کله دي روا
د چمن ګلونه وا شول
د خوشحال نه شو زړه[۳] وا

زاهدان چه د رندانو تل پېغور کا        که توانیږي ازلي قسمت دي نور کا
ښه چه سپین د زهد لیري له ما ګرزي        چه و تورو ته نزدې شي سپین هم تور کا
که رشتیا وایم ویل ئې په ما اور دي        څوک چه ما سره بی عشقه بل بیور[٤] کا
که په خوله مهر وهلي د عقشق دي        په سینه کښ ئی ززه وګوره څه شور کا
د لیلی نه نوریده د مجنون مینه        چه مي زړه له یاره نیسی خلق زور کا

---

[۱] دا کلمه په هره نسخه کښ په جلا املا لیکل سوی ده، په یوه نسخه کښ (لکور) په بله کښ (لکیور) په بله کښ (لکه یور) کښلې ده، په یوه نسخه کښ محشي (سمله) هم ورته لیکلې ده. ممکنه ده دا د کاتب غلطی وي او په اصل کښ (لکی ور) وي.

[۲] واړه تا کړمه رسوا.

[۳] زړه نه شو وا.

[٤] تر دې کلمی لاندي محشی (مشغولا) ترجمه کښلی ده، د سید راحت په لغاتو کښ بیوره په معنی د ښکاره، او ظاهر او روښان کښل سوي دي.

Downloaded from: ketabton.com



نازنیني د دې ښـهر واړه بویه    چه نن ناز و غمزه ستا له سترګو پور کا
ځما یار په هر محفل باندي چه راشي    په ښایست د ښایسته وو بازار خور کا
یو زمان د زړه خوښي په لاله زار کښ    دا فلك ئې بل زمان را باندي اور کا
چه دیدن د مین نه وي زه ئې څه کړم    که ګلونه شګفتن راته هر لور کا
تېر یاران به نورو نه ویني په سترګو
که خوشحال ورپسې دوه سترکي څلور کا

ستا له چمه به وا نه وړي عاشقان ستا    که هر څو تېره دندان لري سګان ستا
چې قدم له تا نه اخلم زړه مي نه شي    پا بسته یم د زلفینو په ریسمان ستا
ته لا اوس لکه غونچه په غوړیدو ئې    د ښایست خبري لاری په جهان ستا
په ښایست د ښایسته یوسف ثاني ئې    په دوه کونه ښه دیدن دي رایګان ستا
په جهان کښ که تر مرګه ګران څه نشته    زه تر مرګه لا بتر ګڼم هجران ستا
زه به نوم د سلطانیه باندي کښېږدم
که تش نوم د خوشحال تېر شي په زبان ستا

سور پېزوان دي په زرګر نوي سو اریا[1]    بیا د زړونو آزار اخلې پاریا پاریا
په خاوند مي دي سوګند وي باور وکړه    چه هیڅ دم مي له خاطر نه ئې و ساریا
زه هر ګوره دماغي په ځان غره وم    ولي ستا سترګو ځما دماغ او تاریا
د چرې د کټارې حاجت هیڅ نشته    د بڼو په غشیو تا بېچاره ماریا
کله کله ئې له حاله خبر آخله
بېچاره خوشحال خپل زړه در پسي هاریا[2]

ښه سړي د چا په بدو نظر نه کا    که څوک بد ورسره کاندي دوي به ښه کا
په بارداره ونه تل ورېږي کاڼي    ورته ګوره چه بارداره ونه څه کا؟
د جهان کینی غصې واړه تر شا کا    که سړي په وخت د قهر مرګ تر زړه کا

---

[1] په دې بدله کښ د بیتو وروستي کلمات ټوله هندی دي چه د لمړي بیت د لمړي مصراع د اخیري کلمې اصل نسو را معلوم، د دغه بیت پاریا په معنا د کناره ګېرۍ او د دوهم بیت آخر په معنا د فراموشی او دریم بیت پاي په معنا د کښته اي څلورم په معنا د وېشلو او څلورم په معنا د ویشتلو دي، په څلورم بیت کښ د کټراي کلمه په معنا د خنجر ده.

[2] بایلو.

Downloaded from: ketabton.com



دا پدا چه خود بیني ور ځخه نشته　د جهان نندارې ځکه دوه لېمه کا
په کینه په حسد هیڅ د چا و نه شي　هر سړی چه حسد کاندي ځان اوبه کا
نصیحت د نیکو ښه دي نه د بدو　کم بدبختان به بد فعلي د چا په خوله کا
و سړي ته ئی اختیار ورکړ هوښیاره　که په هره چار کښ خداي واړه خپل کړه کا
ورځ او شپه په لار رواني قافلې دئ　نیك او بد د قافلې په لاري تله کا
یك تنها په لاري تله[۱] نه ده خوشحاله
په دا هسي لار ځوک څه د لاري مله کا

عقل سل د مصلحت بندونه جوړ کا　چې د عشق سیلاب پرې راشي واړه نوړ کا
ما ته مه وایه عاقله چه عشق څه دئ؟　که مین شي تا به هم له عقله موړ کا
زه به هیڅکله له عشقه نه وانه وړم　عقل څه په قهر تل د ګوتو مروړ کا
زه که هر ځو خپل پېوند شولم له عشقه　ولي ما او عشق خداي لا ویله جوړ کا
زما عمر په حساب تر شلو زیات دي　د عشق غم به مي په دیرش کاله کښ زوړ کا
که ئې چیري د خپل یار په وصال لاس شي
بیچاره خوشحال به هم خاطر پرې سوړ کا

که بې نمازه د قیامت په ورځ ممتاز کا　و جنت ته ئې روان په ډېر اعزاز کا
نماز ګذارو ته ئې هسي حکم وشي　چه فرښتې ئې د دوږخ په اور کذار کا
اولیا او انبیا به هیڅوک نه وئ　چه تر شونډو به بیرون نری آواز کا
تر عاصي نه لا بتر هغه عابد دئ　چه په خپل طاعت به عجب یا به ناز کا
دا ځاي کار د هیڅ تاعت ندئ خوشحاله
ګوره ځوک به پخپل فضل سر افراز کا

که یو ځل دي د وصاله بهره مند کا　په هر دود به دي خرم خوشحال خورسند کا
په زمان به دي پیوند له هر چا پری کا　که محبوبه دي د ځان سره پیوند کا
نوې میاشت به دي په مخ ګوري وګري　که په مخ باندي دي جوړ سم د سمند کا
زه به ځان لکه پتنګ ترې صدقه کړم　که له ورایه د دیدن مشغل ځرګند کا
مبتلا خاطر مي مري د یار له لاسه　بیا له میني هم د یار په سر سوګند کا
چه له سوزه له ګدازه ئې حذر شي　زمانه به ئې ګلاب نه به ئې قند کا

---

[۱] تلنه.

Downloaded from: ketabton.com



د هر چا قدر قیمت پخپل هنر وي　　د ګني قدر ځرګند د ګني خوند کا
چه د عشق د لېونیو په حلقه شي　　کله وي چه هغه غوږ د چا په پند کا
د جاهل سره ګلګښت لکه دوږخ دي　　له دانا سره راضي یم که مي بند کا
که د خپلو سپیو نوم وربانديِ کښېږدي
خوار خوشحال به په عالم کښ سر بلند کا

که دي زړه لري بها[۱]　　ځان به نه کړی کم بها
څه وې څه به شي خبر شه　　ابتدا په انتها
چه به کانده[۲] تنها کېږي　　خو لا نن ښه ئې تنها
چه ئې نور له تا آخلي　　پخپل لاس ئې کړه رها
ته خبر نه ئې له ځانه　　چه په تا کېږي څه، ها[۳]
درته وایم نه پوهېږي　　څه غفلت لرې ها ها
بل مخ مه ګوره خوشحاله
مخامخ شه په شها[٤]

که د یار پسې څوک سپیني جامې رنګ کا　　اواره دي د نیمګړې دنیا ننګ کاه
شپه او ورځ دي پسې ژاړي یار دي غواړي　　که مین وي په رښتیا ځان دي ملنګ کا
و اشنای وته د یار مینه ځرګنده　　لکه قصد چي له ډیوي سره پتنګ کا
دا د غم کښتي چه ګرځي په دریاب کښ　　یوه ورځ به ئې ذرې ذرې نهنګ کا
ښایسته بلا دي ولیده خوشحاله!
اوس که زړه منع کوې سترګي دي جنګ کا

---

[۱] لمړئ بها په معنا د رونیوالي او دوهمه په معنا د پلور ده.

[۲] ښایي چه د کاتب غلطي وي او اصلي ئې دا وي (چه په کانده تنها کېږي).

[۳] "ها: د افسوس کلمه ده که یو ځای (چها) وویل شي، هم صحیح دي.

[٤] شها یا شهی په ښنتو کي لکه لیلا د معشوقو عام نوم دي.

[٥] دا شعر د عبدالغني کاسي په تذکره کښ د خوشحال د اشعارو په برخه کښ اخیستل سوي دي.

Downloaded from: ketabton.com



له دلبري نه مي خوله غوښته اما ¦ ډکه خوله ئی راته دا ووې "له ما"؟
د ماڼي په وخت ئې تل هسي خواب وُ ¦ گوره بيا ئې په څه زړه بد دي له ما
هسي يار سره څوک څه لره ياري کا ¦ چه له کبره ئې نظر وي په سما
زه به هېڅکله له عشقه نه وانوړم ¦ پند گويانو خپل پند وساتي شما
څه خبر يې چه اول په عشق کښ څه ځي ¦ په اول وصلت[1] ئې ځي د سترگو ما
د چا زړه لکه کابل د چا بگرام دئ ¦ د يوه نصيب ساړه د بل گرما
که جمال راته ښکاره کا زه به ورکړم ¦ دا گټلې دنيا واړه رونما
زه خوشحال چه ستا په مخ باندي مين شوم[2]
پارسايي غواړې له ما نه صنما؟

نو بهار شو بيا نرگس په باغ مستي کا ¦ چه صبا مي په سنبل دراز دستی کا
په پنځه ورځي کښ گل د باغ تازه وئ ¦ په شپږمه ورځ فنا خپله هستي کا
مبتلا بلبله سر د گل په پښو ږدی ¦ لکه برهمن د بت بت پرستي کا
تواضع زده کړه په تن له سرو وني ¦ چه په هسي بلندئ[3] کښ پستي کا
کرلاڼي لا نور شراب نوشلي ندي
دا مستي واړه په جام الستي کا

نادیده په نادانی څه بلا کا ¦ الف بې ئې لوستي نه وي ځان ملا کا
روستايی تر دښته نه وي رسېدلي ¦ بيهوده ويل د دښت کربلا کا
و کافرو[4] ته روغ کړې د دين توره ¦ مسلمان ته ئی مشرک سړی تر ملا کا
و دانا وته بلا شوه خپله پوهه ¦ چه ئې تل په سل غمونو مبتلا کا
دا همه د بد خويی علامت دئ ¦ چه سړی زنا خونونه، ټگي غلا کا
په جهان کښ چه خويونه د بدئ دئ ¦ يو دروغ تر زرو بدو تېري لا کا

---

[1] يا به وهلت وي يعنی پلا، په بله نسخه کښ رحلت هم راغلي دي.

[2] يم.

[3] چه په هسي بلندي کښ ئې پسي کا.

[4] په بله نسخه کښ داسي دي "وکافر ته روغه کړې د دين توره".

Downloaded from: ketabton.com



عطارد[۱] دي نور قلم له لاسه کښېږدي    چه په دا خوبي بهرام انشا املا کا
دا خبري د خوشحال و چا ته نه دي
خو هم دي له خپله ځانه مشغولا کا

نشته په دا ښهر څوک چه نه دي خريدار ستا[۲]    څرنګه ډېر تود دي چه مي وليده بازار ستا
ښه ده سرو ونه نه چه ښه ده ستا تر قد    شهد که شيرين دي نه شيرين دې تر ګفتار ستا
ښې د هوسی سترګي دي، نه ښی دي ستا تر سترګو    ښه د زرکو يون دي چه ښه دي تر رفتار ستا
څوک دې چه تا ويني مين در باندي نشي    هر لوري ته ډېر دي که ئې ګورم خريدار ستا
چا چه تا ته کړي يو نظر دي په درسست عمر    څو په دنيا پايي نور به تل وي طلبګار ستا
زه به ورته نه وايم سرې چه تش کالبد دئ    هر چه ته ئې وليدې لوټ نشو په ديدار ستا
ګل د لاله داغ لري سختي د رابيل پاڼي    چا وې چه لاله دي يا رابيل دي ګلعذار ستا
ډېر طبيبان راغله لکه راغله هسي ولاړل    راشه حال ئې ګوره چه څه حال لري بيمار ستا
وې مي و طبيب ته چه د رنج دارو مې وکړه    وئي چه دا دارو کړم اور بلېږي په پرهار ستا
سر لري خوشحال درته پېښکښ که دي په کار دئ
به تر دا نور څه چه د چا سر راشي په کار ستا

واړه مست شه بد ويل کا    و سرېو ته ښکنځل کا
سل بلا تر خوله وباسي    په تېره توره ورژل[۳] کا
چه خپل زړه و چا ته ورکړي    هغه چاري په تاتل کا
زه به څه ماڼه له چا کړم    په ما دا چاري زړه خپل کا
ځان به واچوم و سيند ته    څوک به دا هونبره زغمل کا
ده پخپله دا فتنې زده    که بد خواه ورته سنبل کا
نه ئې ويره د آزاد شي    به مي رحم په ژړل کا
چرته ځم په چا فرياد کړم    څوک به داد ځما د دل کا
بل تاراج نشته خوشحاله
واړه عشق دي چه نتل کا

---

[۱] ستوري چه منشي د فلك ئې بولي.

[۲] دا بدله هم په چاپی ديوان کښ نسته.

[۳] غوبنـي کوټل او ټك ټك كول.

Downloaded from: ketabton.com



هر بیمار چه د[۱] طبیب سره شدت کا — که ئې ګوري و خپل ځان وته آفت کا
د ماهي ژوندون دریاب دي ګه ترې ووت — په خشکي کښ به دي کله فراغت کا
شاپېرک چه له آفتابه نه پټېږي — د افتاب د کومي چاري خسارت کا
و مهتاب وته د سپیو غپا کېږي — په غپا غپا ځان هسي فضیحت کا
د ګونګټې[۲] د ګل د بویه نه بلا ده — ژواک ژوندون واړه په بوي د نجاست کا
انبیاء چه کافرانو وته بد شول — واړه چاري د شیطان په مصلحت کا
خوار هغه چه د غلیم په نغوته[۳] درومي — مدعي غلیم د نیکو نصیحت کا
یو د رود په غاړه ترې تشنه لب مري[٤] — هر خسیس په خساست کښ خپل عادت کا
د فرقان په هدایت فاروق پوهېږي — نه بوجهل بولهب ته هدایت کا
طهارت د مسلمان کېږي خوشحاله
نه اودس غسل د کبر طهارت کا

یار په څه بې وفایي کا — چه بې جرمه جدائي کا
لکه شمعه له ما دروسي — په بل ځاي به روښنائي کا
عاشقي دي هغه کاندي — چه قبوله رسوائي کا
څو ښایست دي دلبره — هونبره کبر و منائي کا
خوار خوشحال ته د سرو شونډو
بوسه ورکړه ګدائي کا

یار مي مرور دي که څوک وي چه ئې پخلا کا[٥] — ژر پاڅه رویباره ځما زړه پسې بلا کا
تل به د جفا په دریابونو کښ غوټې خوري — څوک چي زړه د دور په دلبرو مبتلا کا

---

[۱] له طبیب.

[۲] جعل.

[۳] یعني اشاره.

[٤] دا بیت په بله قلمي نسخه کښ داسې دي "بو تیمار د رود پر غاړه تشنه لب مري"، اما دغه صورت ئی لکه چه صحیح دي بوتیمار په پښتو ککوی بولي، چه د رود پر غاړه سوي سوي نارې وهي او مشهوره ده چه دا نارې ئې له تندي وي.

[٥] دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



څه ګنده عالم دئ مه ئې دود وي مه ئې رسم[۱] وړي په ځاي پربږدي و مړو وته صلا کا
هيڅ سزا ئې نشي باندي لاس د ما د زړه شوي توري زلفي ستا دي چه دايم د زړونو غلا کا
ستا د تورو زلفو ظالمی څه پټه نه ده مست چه زورور وي ظالمی په ملا کا
ته چه عاشقي کړې قبلوه په عاشقي کښ تل په عاشقانو باندي خلق الالا[۲] کا
ستا خونخوارو زلفو زه تنها نتلي نه يم څو به د ما خوار غندي لا نور هسي جلا[۳] کا
راشه که ئې ګورې دا پخپل جمال مغروره
څو رنګه نازونه په خوشحال خلا ملا کا

يار چه تل هسي جفا کا ظلم، جور، سل بلا کا
نور څوک هم شته په دنيا کښ خو که تل به ئې په ما کا
راشه ګوره ستا له لاسه څوک خندا کا څوک ژړا کا
د هغو په حال خبربږه چه په در، درته دعا کا
که رشتيا ور څخه نشته مرګ ئې مه وه تل رشتيا کا
څه ئې شته په زړه پوهېږم دا چه ځي نظر تر شا کا
مخ ئې ګل دئ زه بلبل يم تل بلبل د ګل ثنا کا
هيڅ مانه مکړه خوشحاله
ښايسته خپله رضا کا

# (ب)

خوار عاشق په خاصيت دي د سيماب څو ونه مرې ځنې نه ځي اضطراب
ولي هسي خپل عاشق په جفا وژني نه ديت شته نه قضا شته نه عذاب
ستا د سپېو سره ګرزم ستا په کوي کښ ګندي ما ورسره ګډ کړې په حساب

---

[۱] څه ئې دود دي څه ئې رسم.

[۲] يعنی شور او غوغا، په بله قلمی نسخه کښ "غل غلا" کښل سوي دي.

[۳] سوځل او بلول.

Downloaded from: ketabton.com



خو خوښي دي د خپل يار د ديدن مومم    که په وېښه ميسر شي يا په خواب
دا چيستان د يار له شونډو راته حل شو    اروېده شو يو ځای نقل او شراب
چه په ډکه خوله دی ووې ياري نګړم    د بلا په خوله دي ورکړم زه خراب
په ملال ملال کاته عاشقان[۱] وژني    ستا په سترګو کښ چړې دي د قصاب
ماته څه وايې چه وايه څك دي وژني    ته له خپلو سترګو غواړه دا خواب
که دي زړه وي چه به زړه د خوشحال ګورم
راشه وګوره په اور يښي کباب

خپل بيمار مي حواله کړ به نصيب    ورته زهر شوې ګولی د طبيب
برامد وربانديي صوت د غراب شو    خوشامد ورته آواز د عندليب
طبيعت چه مخبط شي سود ئې نشته    بن په پند څه نصيحت نه په ترکيب
په اعجاز د محمد خلقو اقرار کړ    د بوجهل تل نارې وې د تکذيب
عمارت لکه خطا هسي خطا ځي    په اول ئی چه خطا پر بوزي ترتيب
نصيحت د ناصحانو باندې باد شي    چه زوال د چا د چاري شي قريب
دانشمند دي خپل دانش ليري ساتلي    د تعليم او هنر اثر په ذئب
د پخو په حال اومه کله پوهېږي    د مقيم په حال خبر نه وي عريب
نصيحت بې ځايه واړه جګر خون دئ    ځکه ژبه تر غاښ لاندي کړه اديب
د هلك مينه په چا وي په هلکو    د لبيب قدر په چا وي په لبيب
په زرګونو مي دنيا و هر چا ورکړه    په جهان کښ پيدا نشو يو حبيب
د خوشحال خټك په شمار په حساب ندئ
په هر ځاي په هر ديار لري رقيب

ما د مځکي په مخ وليده مهتاب    چه خجل ترې دا مهتاب دي هم آفتاب
د زلفينو تر نګهت ئې مشك شرمېږي    د خولې[۲] تر بوي ئې نه رسي ګلاب
د وربل په هر هر پېچ کښ ئې نافې دئ    مشاطه ئې چه پرانزي[۳] پيچ و تاب

---

[۱] په يوه قلمي نسخه کښ داسي دي: په ملال ملال کاته زړونه ورژلې.

[۲] د خولو.

[۳] پرانځي.

Downloaded from: ketabton.com



نور شراب ورته اوبه د تر خوبي[۱] دي　　چه ئې مست وي د لبانو په شراب
وې مي زړه مي ستا د مخ په اور وريتېږي　　وې ئې پرېږده چه ښه وريت شي دا كباب
ستا په زار مي صورت سر تر پايه پر دي　　زړه مي گوره په تصوير كښلي كتاب
عاشقان مي كشتگان د معشوقې دي　　كشتگانو څخه نشته سوال ځواب
كه ته څه خو اشارت وكړې د سترگو
د خوشحال ختك به ووينې شتاب

نول د تن د ځان شيون د زړه آشوب　　يوه څه بده بلا دئ عاشق توب
وايي ته په چا مين ئى راته وايه　　بې له تا له نورو مينو توبا توب
خوله چېيه ده د حيات په تور ملسل[۲] كښ　　نوم ئې شته لا هېڅوک ندي پرې خروب
ستا له تورو شهلا سترگو ئې سيالي كړه　　نرگس ځكه كښېيښ سر د دار په چوب
خار و خس به دي په لاري كي پرى نږدم　　چه ئې توږم د مژگانو په جاروب
واړه شونډي په لذت سره يو نه دي　　څوک حلوا دي د نباتو څوک اتوب
لكه باز خال دي تارو دا ښگار د ده دئ　　كه څه شي ځما د زړه په تلا توب
دا ځما د سترگو اوښي ويني بدي　　د ويشتلي زړه له سترگو ځي زهوب
ستا د مخ په ياد ئې دواړه له زړه ولاړل
د خوشحال د زړه آرام د سترگو خوب

# (ت)

په جهان كښ څلور قسمه دي نعمت　　عاقلان ئې دي خبر په حقيقت
لمړنې نعمت د علم، د ښه خلق دئ　　دا نعمت په دواړه كونَ دَى راحت
بل نعمت په دا جهان د ډير دولت دئ　　چه هر شان پرې ابلهان كا فراغت
بل نعمت د رياضت دئ كه ئې گورې　　په هغه جهان راحت دلې محنت

---

۱ په چاپي نسخه كښ "تر خولي" ليكل سوي دي چه معنا ئې نسوه را ښكاره.

۲ مطلب ځني زلفي دې.

Downloaded from: ketabton.com



پـه خپل مټ، پـه خپل کوښښ نه ده خوشحاله
هر آزاد بنده ته رسي خپل قسمت

چه مين شوم د بلندي په قامت    راته ودرېده دار د ملامت
چه بلا ئې د قامت راته ښکاره شه    گويا پاڅېده بلا د قيامت
چه محراب ئې د ابرو راته ښکاره شه    هغه دم مي ناره وکړه قد قامت
د مژگانو ناوکي ئی هسي نه دئ    چه به څوک ورحئي درومي سلامت
چه نه مي نه معشوقه نه کښت د گلو    تېر ئې عمر دي په غم په عرامت
نن د کښليو د ديدن ننداره گوره    او کنه کانده به درشي ندامت
چه د کښليو ننداره ور څخه ولاړه    خبر نه يم کوم گناه وه کوم شامت
چه نظر به د کرم پر خوشحال کاندي
لا به کله وي دا فضل و کرامت

چه مي وليده په سترگو ستا ښايست    ښاپېريو څخه نشته دا ښايست
هم هغه دربانديي هسې شان مين کړم    چه درکړي ئې و تا دي دا ښايست
مخ ئې کله د لاله غندي زيبا دې    د لاله تر گل ئې ډېر دي لا ښايست
گرمه نه ئې چه خپل ځان ستايي نگاري    وايي نه لري قمر ځما ښايست
لور په لور به د بلبلو ږغ پرى وشي    که صبا کا د گلونو وا ښايست
د نرگس گلونه هم هر گوره زيب کا    ستا د سترگو وينم لا زيبا ښايست
عاشقان دي پرې پتنگ کړل چه وريتېږې    خدايه تا کړ په جهان پيدا ښايست
ملاحت وه نزاکت وه لطافت وه
د خوشحال دلبره سر تر پا ښايست

چه د پلار بد گوئی سر شي پوت[1]    صد لعنت د ده د مور په گنده چوت
چه د مور په چوت ئې خير و برکت وي    له هغه موره به نه زېږي کپوت[2]
بختور ئې هغه پلار هغه ئې مور وي    چه له موره نه فرزند زېږي ثبوت
د بد زويه ږغ د فسق و د فساد ځي    د ښه زويه ځي ناری په ملکوت

[1] محشي فرزند او زوي ورته کښلې دې.

[2] محشي " نه زوي" ورته کښلي دي چه مطلب ئې نالايق دي.

Downloaded from: ketabton.com



د مزرې په خوي پیدا شي ځني زویه — ځني غواړي د ګیدړ غندي خپل قوت
چه ئې نوم په جهان پاتو شي د نېکو — هغه زوي خو عمل ګوره کرتوت[1]
د سپین توب چه مزه نه وي په څه کار دې — که ښه خوند لري ترې ښه ګڼه تور توت
ډېر ځوانان چه احمقان دي لکه پیاز دي
و خوشحال ته هوښیار مښك دي پیر فرتوت

د شوم سړي له کوره که اوبه وي د حیات — [2]په ما باندې لګېږي لکه زهر د ممات
موسی څخه هیچ نه وُ ور څخه یوه عصا وه — قارون څخه دنیا وه خود ئې ولیده آفات
هر چا څخه مال وي و بال هم ورسره مل وي — دانا به هسي کار کا چه ئې نه وي و بال زیات
د ګل د عمر کار، د دنیا مال، د سفله مهر — دا درې څلور کارونه بې بقا دي[3] بی ثبات
چه شرم ننګ ئې نه وي نه هنر لري نه پوهه[4] — په مال ئې نظر مکړه مه په حسن په ذات
دانا په جګرخون کښ د نادان خوښي افزونه — عالم واړه حیران دي په دنیا کښ دا واقعات
عادت د فلك دا دي هم دِ ښاد هم دِ غمجن کا — که هر څو ښه صفا وي بیا زنګ ونیسي مرآت
خوشحاله څه اندوه کړې خوښ پدا اوسه خوښي کړه
چه بې ما له غني دئ نه ئې حج نه ئې زکات

که عطار د خپلو مښکو کا صفت[5] — په دا څو ئې روان نشي نګهت
مشاطه دي د دړیو ارایش کا — ولي دریغه که د ناوي وي صورت
که د خره زین د سرې واړه سره زر کړې — خر به آس نشي په دا زیب و زینت
کوري هم لکه یاقوت هسي لېده شي — جوهري ئې خبر دار دي په قیمت
د هوښیار چه زیست روزګار شي له نادانو — شیرین عمر بزي تیریږي په حسرت
په نصیب ئی دغه دواړه تو که نه وي — چه هم بخت هم ئې د عقل وي نعمت

---

[1] دا کلمه عیناً ولیکله سوه په ټولو نسخو کښ دغسي ده.

[2] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

[3] وي.

[4] چه شرم ننګ ئې نه وي نه مهر دي نه پوهه.

[5] دا بدله په نورو نسخو کښ نسته، له یوې قلمي نسخې څخه نقل شوه.

Downloaded from: ketabton.com



د خوشحال که نه د تن يې نه د ګيډې
و سفله لره ورشه په حاجت

ما چه نظر وکړ په ذرات په موجودات    ګول په جهان راغلم ترې په ګول درومم هيهات
يو څادر تر ميان وي فهم پاتو شي له کاره    دا هونبره کيسې هونبره ادراک د سماوات
هيڅ بني ولي ئې درست اسرار موندلن ندئ    لويه کارخانه ده که وګورې کائنات
وزېږي[1] له نوح د طوفان په موج فنا شي    زوي د آذر و مومي له ناره نه نجات
کار د بل حکيم دي چه څه کاندي هسي کاندي    واړه سردرګم دي د آبا دا امهات
دخل د ساعت د طبيعت دي که د نور څه    نيك زېږي له بدو له بد ذاطو نه نيکذات
هونبره[2] علم زده کړه چه فرښتو ته سبق ورکړي    بيا به خبر نه وي د جهان په ترهات
رد دئ که مقبول دئ که معقول که نا معقول دئ    ګوره ننداره کړه، تر دا دم مه وهه زيات
سر په سجده کښېږدي وايی نمونځ کوم خوشحاله
زړه ته نظر نه کړې، بکښي څو لات و منات

نن مي وليده هغه مست    غنچه خوله ئې نيست و هست[3]
په دوو زلفو عنبر پاش    په دوو سترګي[4] مي پرست
څه[5] شېوې دِي په جهان کښ    دَ همه شېوو همدست
منفعل ئې ګل تر مخه    تر ښه قد ئې سرو پست
اوس مي بيا مونده په کور کښ    چه دايم ئې وم په مرست
دَ بالا[6] بلا ئې ښه دَه
دَ خوشحال سَره پيوست

---

[1] مطلب ځنې د نوح زوي دي چه کافر وُ او د آذر زوي ابراهيم وُ.

[2] همره شي عالم چه فرښتو ته.

[3] خوله په اعتبار دَ تنګی ګويا نيست دهَ.

[4] سترګو.

[5] چه.

[6] چه مطلب ځني قد دي.

Downloaded from: ketabton.com



## (ټ)

که د شمع غندي کښېناستې مخ پټ    تجلي دي د جمال وینم تر څټ
ته ورځه په نجاست باندي پېرې کړه    د ګلزار له ګلو څه غواړې ګونګټ
د چندنې دوني لږ لرګي تحفه دئ    نه د بلي بدي وني درسته سټ
په وکښلو به ئې څوک وي چه بد وايي    د ګنډ هېرونه که خېژي تر بنسټ
که په څو را باندي و خېژي خطا شي    راته وایه چه دي پرېوزه دواړه مټ
مګر مرګ ئې په ارمان و بله جدا کا    د جیجي[1] جدائي نشته له لویټ
چه دي زړه هغه به ووینې خوشحاله
خون یوه قطره که تېر شی تر دا خټ[2]

## (ث)

چه بد نه کاندي خبیث    نور به څه کاندي خبیث
ځني طمع د ښو مکړه    کله ښه کاندي خبیث
چه د بل ښېګړه ویني    ځان اوبه کاندي خبیث
که ئی ځاي وکړی په زړه کښ    خوږ دي زړه کاندي خبیث
که ځما په خوله شي خداي دئ    زر رانده کاندي خبیث
چه جهان ور ځني خلاص شي    خداي دي مړه کاندي خبیث
د مېږي غندي خوشحاله
الوته کاندي خبیث

یار مي بیا د سترګو تور کا الغیاث    واړه جور ظلم زور کا الغیاث
په ما خوار باندي ئی نر ناحقه لېږدي[3]    سل بلا د څنګه نور کا الغیاث
زاهد هم هسي له عشقه خالي ندئ    په عاشق به څه پېغور کا الغیاث

---

[1] محشي ورته لیکي: چه جي جي او لویټه د وه مرغونه دي چه یو له بله هیڅکله نه بېلېږي.

[2] خط.

[3] تلنګ او راهي کېده او لېږل.

Downloaded from: ketabton.com



چه د وصل په دولت وي[۱] سره جمع    جدايي به هغه خور کا الغياث
د خزان دوک ئې ليدلي دي په سترگو    چه بلبلي هونبره شور کا الغياث
هونبره اور چه د خوشحال په خاطر بل دئ
څوک به مړ دا هونبره اور کا الغياث

# (خ)

چه صاحب نفر پرور نه وي هم هيڅ    په نفر کښ چه هنر نه وي هم هيڅ
په پالنگ د معشوقې ورځې سر تېري    هر عاشق چه تېر تر سر نه وي هم هيڅ
له معشوقي نه شېوه بويه څو رنگه    د عاشق چه پرې نظر نه وي هم هيڅ
که په زر رنگه خوبی اراسته وي    چه زلمی په بلا بر نه وي هم هيڅ
هوښيرانو لره عقل فکر بويه    لېوني چه بی خبر نه وي هم هيڅ
چه له شور و شره خلاص دي مردگان دي    د ژونديو چه شور شرنه وي هم هيڅ
که بادشاه څخه بی شماره خزانی وي    چه ئې ښه جنگې لښکر نه وي هم هيڅ
مړني چه بې وسلې شو په څه کار دئ    چه سخی سړی تونگونه وي هم هيڅ
زوړ سړی که تر څنگ کښېنوي ښه ناوې    چه قوت ئې د ذکر نه وي هم هيڅ
سوداگر که وقوف دار د هر کالي وي    په کيسه کښ چه ئې زر نه وي هم هيڅ
که سړی د جهان واړه علم وکا    چه د ده د عمل چر نه وي هم هيڅ
باز که لوی کټه خو شرنگ د بېر صفت وي    چه تېز پر په زړه زړه ورنه نه وي هم هيڅ
يو د بل له حاله پند اخلي خوشحاله
د سړی چه دا سير نه وي هم هيڅ

---

[۱] دې.

Downloaded from: ketabton.com



# (ح)

کلك خراباتي يم له ما غواړه صلاح ډکي پيالی اخلم تر صباح تر رواح
څوک دئ چه د نمر خوبي به ستا مخ په څېر کا نمر مثال څراغ دي ستا جمال لکه صباح
مه پوښه زاهده د ښه مخ له ننداروته سترگي چه دا کار دي په فتوای د عشق مباح
توي کړه په هنگام د حادثې ساقي په جام کښ مي چه باد را پاڅث په زجاج کښ ښه مصباح
پاڅه محتسبه خوشحال راغي جنگ ته جوړ شه
غسل په مي وکړه د مومن وضو سلاح[1]

[1] الوضوءُ سلاح للمؤ من عنی اوسد د مومن وسله ده.

Downloaded from: ketabton.com



# (د)

د خداي عرفان مى وشو په عرفان د محمد    پاک دَي محمد پاک دي سجان دَ محمد
راشه نظر وکړه په طه او په يسين[۱] کښ    خداى دي صفت کړي په قرآن د محمد
ډير خلق پيدا دي انبياء که اولياء دي    نشته په خلقت کښ يو په شان د محمد
خداي سره موسى په کوه طور کړلې خبري    دَى د عرش د پاسه لامکان د محمد
پيك ئې جبرئيل وُ دَ رفرف جلب نيولَي    پاس ئې چه معراج وُ په اسمان د محمد
خوان د موسى خوړمن سلوي يو لك وګوري    انس و جن مريړي تل په خوان دَ محمد
خواست به نور څوک نکا دَ خسته وُو عاصيانو    خواست به محمد کا، خاندان د محمد

لاس دي لګولي ما خوشحال په دواړو کونه
غم اندوه مي نشته په دامان د محمد (صم)

ډير عالم ځما په ياد    راغَي تير شو لکه باد
هم دا هسي راشي تير شِي    په ځاي نه لري ايستاد
عجب لويه کارخانه ده    چه پيدا کړه لوي اُستاد
و حباب وَته نظر کړه    څه حباب څه ئې بنياد
هسي نه ئې که پوهيږي    ښه مثال شو درته زباد[۲]
هيڅ خبر نشوې له ځانه    هي فرياد، فرياد، فرياد
غمجن والي دي په څه وِي    بيا په څه شي هسي ښاد
څه سختي لرې خوشحاله
دا دي زړه دَي که فولاد

سپَى چه ولامبى په رود    لا بد بوى شى دا دَى دود
په بهار او په خزان ئى    هيڅ و نه شو ځما سود
ليونى لېونى تر شِى    څو چه شِى ورته سرود

---

[۱] رشه نظر وکړه په طه په يسين باندي.

[۲] يعني پاد او بيان او ثابت.

Downloaded from: ketabton.com



په سوړوالی کښی چه کار شیِ و هیچا ته مه شه تور
چه ئی قصد د گزار نه وِئ هغه نکا زغره خود
که ته کام غواړې خوشحاله
کام نه مومې په مښود

عمر هر زمان رفتن کا لکه باد مرگ دي هر سړَی همېش لَرِی په یاد
چه د عمر ئې بنیاد په هوا اِیښَي په دا هسي ژوندون څه دَي اعتماد
د آدم خاوري د غم[۱] په اوبو نم دئ خمیره[۲] [۳]په قدرت کړې چل بامداد
انبیاء او اولیاء لاړل و کور ته ته به وائې چه دَ دوي نه وُ بنیاد
د دنیا ژوندون هیڅ ندي که ئې گورې چه هیچا ځَني بیا نه مونده مراد
همېشه که ژوندون[۳۳] غواړې درته وایم همیشه کَه د نفس سَرَه جهاد
مسافر چه ئې سفر وِي څو دوړاند په مقدار دَ هغې لاري آخلِي زاد
راشه زړه له غیرو پریکړه اې خوشحاله
په امید ئې دَ دیدار لَرَه زړه ښاد

و دِ نه زېږ فرزند د بابا په غولي وند[٤٤]
د مریخ په کوکب شوي شوخ بې باک بلا لوند
دَ زهره په ستوري زېږه خوش خرم خوشحال خورسند
نحس او سعد اُوه ستوري تر دا نور شته لا بلند
په هغه طالع چه وشِي په عالم کښ شِی څرگند
بختور دانا مخ دُوڼَي دَ وگړی دلپسند
دَ ده زړه په هره چار کښ دَ همت سَرَه پیوند
هَمگي په خوږو ډک وي د گني غندي بند بند
د ده علم عطائي وي نه سبق دَ دانشمند

---

[۱] د مرگ په اوبو.

[۲] خمرت طينة آدم اربعين صباحاً.

[۳] یعني ځما گله.

[٤] سید راحت وند په معني د خندق او غنډی را وړي دي.

Downloaded from: ketabton.com



چه تر ژبه څه وَباسي نصيحت وِي وعظ، پند
پخپل شرم ننگ راغلَي نه په شخوند وِي نه په خوند
دا ته څه وايې خوشحاله
خرو ته څه ورکوې پند[1]

هر گروه له خپله گروهَ دَي خوشنود هر سړَی لَرِي نظر پخپل مقصود
دانشمند دَ دانشمند په صحبت خوښ دَئ د جاهل په صحبت گډ شِي جاهل زود
مسلمان ئې په بزرگي په لويي پوه دئ د جيند له حاله څه پوښتې جهود
د جماع په لذت حيز کله خبر دَئ که ئی حوره په پالنگ کښېنی څه سود
چه په خوي دي خبر نشو غير جنس دَئ
غير جنس سَرَه خوشحاله کوم بهبود؟

# (ذ)

د خوږو شونډُ وې ډير دَی تلذذ تر همه خواږه ئې تير دَئ تلذذ
ما وې زه به ئې غسل سره نسبت کړم د دشنام ئې په بل پير دَئ تلذذ
له شکرو زړه نيوه شِي نه له ده نه د پيو[2] روي[3] په څه څير دَئ تلذذ
څو مي ياد د هغې خولې دَ مچي خوند دَئ نور مې کل له دله هير دَئ تلذذ
د ناوک ئې[3] هم[4] لذت تر حساب تير دَئ ولي زيات ئې[4] دَ[1] شمشير دَئ تلذذ
لکه وُ د زنخ سيب په هغه شان دَئ نه چه اوس ئې تير و بور دَئ تلذذ
ستا دَ ژبې دَ سر ډير منت را باندي په دا يم ئې را بر سير دَئ تلذذ
په هجران دَ شکر لبو په جهان کښ
په خوشحال زهر و گنډ هير دَئ تلذذ

---

[1] قند.

[2] دا کلمه په هره نسخه کښ جلا املا لري (پيو وړي، پيووري) ام اصل يې (پېروي) دي چه په پارسي ئې قيماق بولي.

[3] دِ.

[4] دِ،

Downloaded from: ketabton.com



# (ر)

آه دا هونبره استغفار چه ئې تل کړې په اسحارَ
که رشتيا دا استغفار دَئ بيا ګناه څه ګناه کارَ!
که دا کار دي په دروغ کړې شرم وکړه له دې کارَ
هم دروغ کړې هم ګناه کړې ترس د نشي[1] د قهارَ؟
هم توبه کړم هم ګناه کړم ته مي وينې ګردګارَ
زه عاجز بنده عاصي يم پرده پوښ مِي شې ستارَ
د خاصونو توبه راکړه
ما خوشحال ته استوارَ

با تو خلوت برګزينم در تو بينم ځير ځير ګر چه وقت نو بهار است باوجودت هېر هېر
پنج روزي بيش نبود صحبت ګل با هزار اى دريغا در ګلستان ګر بماندې ډېر ډېر
بار آن صبر است اين سيب زنخ در دست ماست کز رقيبان تو مى برديم جور تېر تېر
آهوى چشم تو از شيران عالم دل ربود ګر چه بر شيران نديدي هيچ آهو چېر چېر
ګفتم اى جان جهان از من ګهى ياد آيدت ګفت وقت قتل مى آيى بيادم ډېر ډېر
مى نياسايد دمى خوشحال بې دردت بلې
لشکر درد ِتو اکنون کرد دل را زېر زېر

تا غُندِي به نه وي يوه کښلې په دا دور يُون دي دَي د زرکى دواړه سترکې دي د ميور[2]
وخت دَ نو بهار دَي راغ و باغ واړه ګلزار دي راز دَ کردګار دَي دا ګلونه نه طور طور
بار[3] [4]دربانِدي مه وه زه هم زړه لَرم ويرېږم باز خوري دَ زړه غوښې، يا ئې ته خورې يا ئې بور
نور عالم بې غمه زه دا يم په درد و غم کښ عشق نه دَي بلا دَي چه ئې وينوم په ځور

---

[1] ترس دِ نشته.

[2] يعني طاوس.

[3] په قلمي نسخو کښ پار هم راغلي دي.

[4] يعني پړانك.

Downloaded from: ketabton.com



مي شته چنگ و ني شته ساقي راشه باده راکړه     تَل به بهار نه   وِي چه تیریږِي وخت دَ ثور
کښینم وَ رودبار ته چه رواني اُوبه گورم     عمر غُندِي درومي چه ښه وکم باندِي غور
یار دي که دَ کور[۲۸] دین قبول کا پدا څه شِي     شرط دَ محبت دَي ته هم واخله دین د کور
مینه [۲]دَ مجنون په لیلا لا شوه ډېره ډېره     څو چه عالم وَرباندِي وکړه هور زور
طبعَ دَ خوشحال ده لکه ښه باغبان په با غ کښ
گل و هر چا ورکا چه ئې زړه وړي على الفور

په تازه عاشقي مهر کوهَ مهر     چه آشنا شو نور که مهر کړې که قهر
که دَ زهرو پیاله وِي ستا له لاسه     تر عسلو به لا ښه وِي هغه زهر
چه له لویو له هلکو جفا اروم     مگر دود دَ وفا نشته ستا په ښهر
په عالم کړي بلا ستا سترگي نزولي     څوک به څه لَرَه تهمت وايي په دهر
زه هاله له دَ عافیت ناوِي قبول کړم     چه مي خپله تمنا ورکړه په مَهر
د وصال ورَځِي هلکی تر گړی دِي     بی لیدلو میاشتی کال شوې گړَي پهر
د دیدن تږَي بې حده تلوار کاندي     گوره کله به خړوب شي ستا په نهر
خوار خوشحال ئې لکه خس هسي لاهو کړ
چه دَ عشق سیلاب را وخوت لهر لهر

ته چه مخ په آینه کړې برابر     ربڼه[۳۳] شي په دا مخ کښ مخ دَ نمر
مَرَني سپاره دَ مخ دِي دا دوه توگه     توري ورځي توري سترگي مخ لښکر
چه پلو له مخه واخلِي زه دعا کړم     هر چا زده چه دعا ښه دَه په سحر
د یوسف غُندِي مخ پټ کړه په برقع کښ     چیري نه وِي چه پری ولگي نظر
مخ هغه چه ئې ستاینه درست عالم کا     نه هغه چه لکه ستایي د لال خر
زاهد مخ په محراب وینو سجود کا     ستا د ورځیو په محراب نه دَي خبر
مخ دي هسي شان لیده شِي په خالونو     که ئې گورې لکه گل دَ پیغمبر

[۱]محشي تر کور لاندي کافر کښلي دي.

[۲]مینه د مجنون به په لیلا وشوه لا ډېره     څو به چه عالم ورباندي ډېر کړ هورزرو

[۳]دا توري د هري نسخې لیکونکي په جلا ډول غلط کزي دي، چه هیڅ معني نه ښندي مگر ربڼه صحیح دي، د سپوږمۍ     سپکي رڼا ته وايي، یا نوره سپکه رڼا.

Downloaded from: ketabton.com



ستا د مخ مخي به نه کرم نور مخونه  نور که ستوري دَ آسمان دِي ته يی نمر
دا دَ مخ خوبي ئې وګوره خوشحاله
دَ شرابو دَ مستي لَرئ اثر

چه مرغونه دَ آسمان ساتي دا کار[۱]  دَ هوښيار دَي دَ بيدار دَي خبردار
زه دا نه وايم چه زه هوښيار بيدار يم  د ما هم له لاسه ولاړ دِي څو دينار[۱]
دَ نادان خطا لا هسي ګرانه نه وِي  که خطا دَه خو خطا دَه دَ هوښيار
هو دا هونبره تفاوت تر منځ ليده شِي  چه مير ښکار سَړی پوهيږي پخپل کار
سرښته دَ مير ښکاری ور څخه نه وِي  بيهوده مرغه ضايع کا نا مير ښکار
ښه مرغه د نامير ښکار تر لاس ور مه شه  او که ورشِي يا به خاوري شِي يا خوار
د خوشحال خبره نغوږه پرې عمل کړه
تجربې ئې دي ليدلي دَ روزګار

څه سړی څه ئې تدبير  هم هغه شِي چه تقدير
که جهان شِي تېره توره  ستا په مرګ شي خلق خير[۲]
بی تقديره به وَ نه مرې  نه په توره نه په تير
بی اجله مرګيي نشته  تېغ وَهَه مکړه تقصير
لکه کار دَ مَړَني دئ  هسي کار نه دَئ د پير
دَ غازيانو شهيدانو  پروا نشته دَ سعير
ګُل ګټنه دَه دَ توري  که کابل دَي که کشمير
مَړَنيِ دِي چه[۳] يادېږي  په سندرُو هم په وير
چه دروغ دَ توري لاف کا  د هغو[٤] نه يم دلګير

---

[۱] محشي روته کښلي دي چه يو څو اينار بازونه.

[۲] ځير.

[۳] که يادېږي.

[٤] په هغو.

Downloaded from: ketabton.com



توره بخره دَ خوشحال ده    کان[۱۱] په کان خلق خبير
تر اووُ پېړېو پورى    واړه مړه په تېغ په تېر
دا دَ خان ستاينه نه دَه
حقيقت وايم په ځير[۳۲]

چه له خپله هوډه نه وواوښت منصور    که وګړِى په سولي[۳۳] کړ مخ ئى سور
ملامت چه په عاشق باندِي وايه شِي    په مذهب دَ عاشقانو دَي معذور
عاشقان په معشوقه باندِي پتنګ دِي    له جهانه به ولاړ نشِي دا دستور
څو دَ عشق مينه زيار تېرِي په کوګل کښ    دَ عاشق په پوهه نورُ علي نور
دَ عشق کار په لېونتوب دَئ نور څه ندئ    راشه واوره، نه په عقل نه شعور
معشوقې وته بادشاه لکه بنده شِي    که قيصر دَئ که خاقان دَئ که فغفور
روغ ئې هيڅ په حال خبر نه وِي له درد    که په درد کښ قراري نکا رنځور
زړه مي سر تر پايه واړَه آبله دَئ    په فراق کښ، لکه وَړِي دَ انګور
هر ګروه له خپله ګرده سَره سرور کا    د ما هيڅ نه شِي له چا سره سرور
عاشقان په عشق کښ واړه ناصبور دِئ
څه خوشحال يواځې نه دَئ نا صبور

چه مکې لَرهَ څوک درومي[٤٤] په خره سپور    که حاجي شِي نه ئې ننګ وِي[٦٥] نه پېغور
چه خبر په هنر نه هغه کم عقل    چه دَ خط سترګِي ئې نه وِي هغه کور
چه ئې خداي و چا ته ورکا دَ هغه[٦٦] دي    بخت دولت نه په کوښښ دَي نه په زور

---

[۱] کال په کال.

[۲] څېر

[۳] يعني دار.

[٤] ورشي.

[٥] شته.

[٦] د هغو.

Downloaded from: ketabton.com



اصالت هنر چه دواړه سَرَه يَو وِي — لکه ښه کښيده روغه[11] په انځور[32]
په[33] خصلت هنر سيرت دانش باقي وي — قد قامت صورت فاني دئ سپين و تور
دا همه له نا پوهَی پيدا کيږِي — خر خښې دعوې نا سازي شر و شور
پيرځوينه، ښه سلوک، نمځنه،[4] عدل — که دِ دا خويُونه شته څه غواړې نور
کبر جن، حريص، بې زړه چه دروغ وايي — دَ ياریَ لايق نه دِي دا څلور
که وعده ئې قيامت وي دَ غوښتنِي — د هوښيار سړی به نه وِي په کار پور
که طالع ئې دَ دولت په شربت ډک کا — بيا آخر شِي دَ کم عقل جام نسکور
دَ یارئِ دَ دوستی لايق هغه دِي — چه آزاد ورځي نه وِي پلار و مور
که ځوانمرد يې ځوانمردي به دِ هاله وي — سل بدئِ آواره کړه دَ خپل ورور
په ايمان په ځان په دواړه خرفه نکا — چه دَ خپلي ژبي وَلگيږِي اور

دَ هوښيار[5] سَرَه مجلس ښه دَئ خوشحاله
دَ نادانه سَرَه ښه ندَئ بيور

خپل پرَدئ[5] راته په خوله وايي زر زر[5] — و عالم ته تر هر څه دي بهتر زر
اوس په دا دَور ما وَليدَل خواړه دِي — تر پدر تر برادر تر پسر زر
نورُو چارُو وته څه گورې دا گوره — چه صاحب دَ مسلمان کا کافر زر
که دِ قصد کښينه حسد ور سَره پرېوزي — په وژو دَ سيد درست کا محضر زر
فيروزه الماس يا قوت لعل له کانه — له دريا به نه وَکاږِی گوهر زر
مځکه څه دَ اسمان ښايست په زر دي — ستوري زر دي آفتاب زر دَي قمر زر
شاهزاده بې زرو گُښي تنها گرزي — دَ هندو سَرَه روان کا لښکر زر
زور، قوت، حرمت هورې درومي چه زر وي — دَ پادشاه په سر څوک کښيږدي افسر زر

---

[1] جوړه.

[2] نقش يا د نقاشي اسباب.

[3] چه.

[4] دا کلمه په ځنو نسخو کښ فقط (نمنځنه) ليکلېده، چه معني ئې نسوه راته جوته، ممکنه ده چه نمنځه حاصل مصدر وي له نمانځل څخه يعني لمونځ کول.

[5] خپل پردي په خوله په زړه وايي زر زر.

Downloaded from: ketabton.com



خداي دِ ما دَ قانعانُو په حساب کا چه و ديو وته يَو دي حجر زر
ښه ځوانان ئې ليدَل نه مومي له ورايه دَ نامرد په غېږ کې ورکا دلبر زر
جوهري قدر قيمت زده دَ جوهرو قلب سَرَه سَرَه جدا کا زرگر زر
دَ گيدړُو نوم په خوله څه لرَه اخلی دَ زمري له تنه هم پرې کا سر زر
هر مراد چه دَ سړی دی په دنيا کښی دَ طلب په وخت ئی ورکا در بر زر
که چميار دَي که نداف دَي که جولا دي تر اصيل سړي ئې کښېنوِي بر زر
نه به دي په لړُو زور نظر وَکا
نه به پرېوزي و خوشحال ته غر غر زر

دَ غريق اوبه چه پاس واوړي تر سر[۱] د جهان له حاله هيڅ نه وی خبر
خبر دار ئې په پساره په اوږده نه وي چه درياب تر کومه لاړ دَي پهن تر
اوس مي درست صورت دَ غم په درياب ډُوب دَئ په هيچا باندِي مي نه لگي نظر
اندرون بيرون همه په غم کښ ځار شوم هم دَ غم سَرَه مې يَو شو درست پيکر
ژواک ژوندُون مې همگي واړه په غم شو
غم په مثل لکه اور زه سمندر

دَ دولت لَمن نيوه نشِي په زور[۱] روند که سترگي په سمه کا لا پېغور
دولت څه دَئ په مثال ښايسته ناوې دَ نامرد کره ئې عمر وِي په اور
د گنده ټټو نه بد ټټو پيدا شِي ښه آسونه دَ ميدان راوړي ښه مور
دَ دولت په آس دِي هر نا سور سوز نشِي که سواري ورباندِي کاندِی خو شاه سور
چه په کور کښ مِی اول ټټو راغلَي د ما بخت وُ لا اول له ځَايه تور
ټټوگي دِي تازهگي دي ترې زوولي همېشه کا په پايگاه کښی شر و شور
نه يَو ښه لايق فرزند دَ پلار په خونه نه دَ سرو دَ سپينوُ گنج دَ ده په کور
ربه ډېر اولاد دي را کړ منت دار يم دَ خوبی ډِغ ئې بيايې په هر لور
چه په ورُونو کښ نفاق کا نا لايق دي يا ئې ښه کړه يا ئې مه گرزوه نور
دَ خوشحال په دعا غوږ دَ سترگوُ وَرکړه
که بهرام[۱] عابد[۱] دِي واړه کر و کور

---

[۱]بهرام او عابد د خوشحال خان زامن وه.

Downloaded from: ketabton.com



دَ بازوُنو ښکار د چا دَئ د زردار  هم زردار هم بې پروا قلندر وار
که ئې غم دَ هوس کا دَ زيان ئې نکا  که ئې مرِي په قوشخانه کښ څو دينار[١١]
دَ هغه سړِي څه کار دَئ په بازُونو  چه بنده دَي دَ درم او د دينار
دَ ښکار کار په مصلحت په سيالِی نه دئ  دا يَو عشق دَي چه ئې ورکا کردگار
چه په اصل کښ شجاع عالي فطرت دِئ  دَ هفه په زَړه کښ حُب پرېوزي دَ ښکار
قمار باز به له قماره صبر وکا  مست نه هم شِي له شرابوُ توبه گار
زه خوشحال به دَ بازوُنو ښکار پرېنږدم
څو ژوندَی[٢] يَم دا مي کار دَئ دا روزکار[٢]

زه ژولېده تر يم که مجنون ژوليده تر  هيڅ خبره مکړه[٣٣] سَرَه دواړه سر په سر
گوره چه څه حال دَي ستا په زلفو کښ دَ زړه مِي  باد را لَرَه راوړ نن پرېشان پرېشان خبر
مخ دي مسلمان دَئ واړه[٤٤] زلفي دِي کافري  دواړه مِي قبول دَي مسلمان دَي که کافر
گل د لاله ښه دَي راته وايه که بارخو مي  ستا زيبا بارخو نه له گياه کرم برابر؟
نه په گښت دَ باغ ځِي نه په سيل دَ گلوُنو  څوک چه په کوڅه دَ دلربا لَرِي مقر
تا وَته دَ خپلوُ شونډُو قدر ښکاره ندئ  ما زده چه عسل دي يا نبات دي يا شکر
مخ په پلَو پَټ کړې رڼا ورَځ ور باندي شام کړې  بيا چه پلَو واخلی په عاشق شِی سپين سحر
ډېر[١٥] په غېږ کښی پروت قدر ئی هيڅ نه نه ئی زده شِی  چا دَ سر قيمت زده جوهري صاحب نظر
سترگو ته ئې وگوره خوشحاله بانُو ورځِي
ستا دَ مرگ دَپاره په څو جوړ لرِي لښکر

---

[١] محشي ورته کښلي دي: يعني دينار بازونه، ممکنه ده چه يوه نوعه د باز وي.

[٢] په ژوندون ئ له ما نه درومي دا کار

[٣] نده.

[٤] توري زلفي.

[٥] در په غېږ کښ.

Downloaded from: ketabton.com



راشه گوره دَ بهرام دَ نفاق چر ‏ ‏ ‏ گاه سني گاه را فضي گهي کافر
کله ښه زویَ دَ پلار ښه ورور د ورور شِي ‏ ‏ ‏ گاه له دواړو توګو ګرزي پر پر نځر[٢١]
دا تاثير دَ بد پټي دَئ که د تخم ‏ ‏ ‏ چه غنم باندي کرېِ کېږِی جودر
که لوګي دَ اور فرزند دَئ په دا څه شوه ‏ ‏ ‏ چه دَاور غُندِي ئې نشته خير و شر
په ما درکښ ئې بلا وِئ که په پلار کښ ‏ ‏ ‏ چه دا هسي ځَني زېږي ګيدي[٢٢] خر
بهرام خان[٣] دَئ سعادت دَي هم يحيى دَي[٣] ‏ ‏ ‏ په خصلت کښ سَرَه يَو[٤] ترْبل[٥] بدتر
و خانِی وته ځَغله هنر هيڅ نه ‏ ‏ ‏ و عالم وته پيدا کړه درد سر
خاني کار دَ هر چا نه دَئ دَ هغه دَئ ‏ ‏ ‏ چه صرفه ئې نه په زر وِي نه په سر
يکباره ئې په نظر کښ شرم ننګ وِئ ‏ ‏ ‏ دَ دنيا په سود زيان نه وِئ خبر
دَ خوشحال خټك که سل زويه نمسِي دِي
لا لايق دَ خاني نه وينم پسر

راشه مه کوَه ډېر جور ‏ ‏ ‏ زه هم خوي لَرَم يَو طور
زه فرهاد دَ زمانې يَم ‏ ‏ ‏ ته شيرينه دَ دې دور
دَ غماز په خولې[٥] مي وژنې ‏ ‏ ‏ نه انصاف لَرې نه غور
په خبرو دِي پوهېږم ‏ ‏ ‏ زه ته رنګ لَري دَ ميور[١]
ګُندي راشې په منګلُو ‏ ‏ ‏ درته پروت يَم لکه بور
په خوشحال کړې ځَني چاري
دَ غمزې په هور زور

شپه ئې وينځه بې بې نور ‏ ‏ ‏ تور زنګي نوم ئې کافور
مرده شوي چه منافق دئ ‏ ‏ ‏ مړ جهود بولي مغفور

---

[١] دا کلمه په چاپه ديوان کښ پزنځر او په نورو که هم ډول ډول لېکلې ده چه حل طلبه پاته سوه.

[٢] سيد راحت ګېدي په معني د زره را وړي دي.

[٣] بهرام، سعادت، يحيي د خوشحال خان زامن دي.

[٤] سره يو تبله بتر.

[٥] په خوله مي.

Downloaded from: ketabton.com



نادیده چه ،منیه[۲۱] لولي ځان ملا کاندِي مشهور
سفله ټول کا څو درهمه تر خواجگانوُ شِي مغرور
دروغجن تر ټوپه[۲] ورشي د کابل کاندِي مذکور
خپله بل وته نیولِي په پردِی باندِي غیور
پُټي ډکِي پیالې اخلي ښکاره مه خوره یَو انگور
موحد دَ رسالو شه تر ځان کوز گڼه[۳۳] حضور
د خوشحال سَرَه خندا کړه
بیا ئې ژاړه په سرور

عشق تر ځوانَ نه زوړ کا ژر نسکور[٤] په پخه ونه لا ښه لگېږِی اور
اندرون دَ هر چا شین دَ عشق په شین دَئ دا یو اور دَي لگېدلَی لور په لور
چه په عشق کښې څك پېغور ترِي په نورو هم په دَه پوري به لگ وِئ دا پېغور
زاهد وَرچانی[٤٤] انکار کاندي له عشقه نلدمن[٥٥] لیلا مجنون لولِي په کور
چه دَ مځکښي دَ اسمان په منځ کښي څه شته زه همه وینم له عشقه سپین و تور
زه حیران یم دا مي څه دي په کوگل کښی چه ورَځ و شپه پر تل وي شر و شور
په وصال کښي سل هراسه دَ هجران دِي په هجران کښي خو غم یو دَئ نه وي نور
جهان واړه کور دَ عشق دَ محبت دَي
په خوشحال باندي بانډه[٦٦] شو رنتبهور

---

[١]د فقه له لمزنیو کتابو څخه دي.

[٢]په ننگرهار کښ دَ یوه زاړه عمارت کنډواله ده چه ښایسته ټوپ ئې بولي، دا ټوپ زما په خیال له هغي زړې کلمې ستوڅه څخه پاته دي، چه پخوا ئې دَ بودائي دین معابدُو ته ویله.

[٣]منصور.

[٤]یعني دروازه ترِي.

[٥]د یوه عاشق نوم دي چه جلا کتاب لري.

[٦]یعني کوچني کلي.

Downloaded from: ketabton.com



فلك کا دا هسي چارِ دَ ده چاري دِي مردارِ
دوه یاران سَرَه جدا کا بیا ئې بند کا سره لارِ
گاه دِ زړه وِي په ښادي کښ گاه دَ غم ژړا چیفارِ
گاه دشواري کا آساني گاه اساني کا دشوارِ
دواړه توگ گزران شِي
بده دا هم نه ده بارِ

که په خوله را سره جنگ کا هغه یار په زړه مهر رنگارنگ کا هغه یار
چه له ما سَرَه راځي غاړه غړیَ څه مِي لیري له زړه زنگ کا هغه یار
هیڅ حاجت دَ توري نسته ماتَي بس دَئَ که مِي مرگ وته آهنگ کا هغه یار
چه مشال ئې دَ جمال راته ښکاره کړ بیا به ما باندِي پتنگ کا هغه یار
چه ملنگ دَ مسلې غواړِي خپل مخ ته عاقبت مِي به ملنگ کا هغه یار
له هر چا سره خندا په اَرت زړه کا خو په ما باندِي زړه تنگ کا هغه یار
مرصع بسیر[۲۱] دِ نور لَري په پوزه اکتفا په تور لَونگ کا هغه یار
زه فقیر یم دَئَ بادشاه دَي باندي ښائي که څما له یارئ ننگ کا هغه یار
رقیبانو وَته نرم شِي تر مومَ
و خوشحال وَته زړه سنگ کا هغه یار

که مسجد گورې که دیر واړه یو دِي نشته غیر
یو مي بیا موند په هر څه کښ چه مي وکړ دَ زړه سیر
هغه ځاي په سیر گرځم چه تر نه رسېږي غیر[۲۲]
په احوال باندي یو دوه شِي ځکه نشته باندِي خیر
خوشحال یَو وینِي خوشحال دَئَ
ورته ورک دي غیر و زیر

---

[۱] دا کلمه په هره نسخه کښ په جلا بول لیکلې ده، په چاپي کښ بیر، په بله کښ پسرده، چه اصل ئې نسو را معلوم.

[۲] طیر.

Downloaded from: ketabton.com



که دي زلفي نه وي تار تار     ما به نه ژړله زار زار
ستا له خاره خاره عشقه     په سینه کښ مي خار خار
چه په تا ئې دَ زړه مینه     هغه تل ګرزي خوار خوار
زړه دَ یار له لاسه مرینه     بیا مدام وایې یار یار
توري سترګي دي ګواښ ګرندي     بانه ستا وایي مار مار
ستا دَ شکرینو شونډو     اشتیاق لَرم بار بار
خوشحال ستا له مخه وایي
واړه ښه وایِي ځار ځار

لکه کار لَرِي نظر     هسِي ژبه کا اثر
ماهیت ئې مونده نَشِي     چه څه ځیز دَئ دا بشر
هم ترکیب دَ نیك و بد دَئ     هم معجون دَ خیر و شر
هم فرښته دَئ هم حیوان     هم مومن دَئ هم کافر
کله اور کله اوُبه شِي     کله توره کله سپر
کله څورب شِي له باده     کله بیا په هیڅ ډنګر
لکه دَی دَي په جهان کښ     بل به نه وي دیده[1] ور
دَ څلورُو[2] میندو[2] زويَ     دَ اتو پلارُو پسر
څه خو لږ تر خداي را کوز دي     که ئې نه دي برابر
دا وَ چا ته کړې خوشحاله
د مستي شور و شر

لښوني سَرَه[1] به څه کړې نور تدبیر[1]     لیوني لَرَه زندان بویه زنجیر
دما زړه ئې په حلقه دَ زلفو یوور     لکه لوي ماهی په شست دَ ماهي ګیر
که خوښي دِه په جهان کښ دَ لیدو ده     نه خوښي دَ بادشاهیَ دَ سریر

---

[1] د پدر.

[2] مطلب له څلورو مندو څخه څلور عنصر دي، او اته پلاره به ممکنه ده، اته عرض وي، په اصطلاح د قدیم حکمت، مګر په بعضو نسخو کښ (د نو پلارو پسر، دي چه محشي ورته کښلي دي مطلب ځني نه فلك دي.

Downloaded from: ketabton.com



که یوسف ئې دَ کنعان دَ ښاهَ وَکېښ　　په نیك بخت ستوري زوولَي وُ بشیر
دَ شکرو په دکان هندوُ بچه دَي　　که تور خال دَي ستا په سرو شونډو جایگیر
دَ بهار په وخت په بوره۱ د سراي گرزه　　نه په بوزه دَ کابل او دَ کشمیر
دَ لنډیۍ۱ اوبه هغه گڼه خوشحاله
چه یادېږي په جنت کښي جوي دَ شیر

مرد به نشې په گفتار　　ښو پیدا نه کړې کردار
چه دي وښکنځي مرد نه يې　　که له تا نه وِي په ډار
چه څه دَي خو انتقام دئ　　دَ مردانو کار و بار
عفو هورته ځاي لَرينه　　چه نه عیب دِي نه عار
چه غیرت ور ښخه نه وِي　　هغه مرد نه وِي پکار
هم مهره لَري هم زهر　　ښه مردان وِي لکه مار
چه هم تندره هم باران دئ　　تر هغو مردانوُ ځار
مرد به غم دَ خپل هنر کا　　نه دَ زر نه دَ دینار
مرد به غم کا دَ خپل شرم　　دَ عزت دَ اعتبار
نا مرد فخر په نسب کا　　مرد نه مور لَري نه پلار
دَ خوشحال خبري گوره
لعل و دُر پېئي په تار

نه مي لاس رسي په یار　　نه طاقت دَ انتظا
دا ستم په ما خپل یار کا　　که گردش دی دَ روزگار
پکښي ستا غمونه ځاي دِي　　که یَو زړه دَی که هزار
تر وینښته ضعیف وجود مي　　ستا دَ زلفو دئ یاد گار
غم دَ یار دَ بیلتانه دَئ　　چه تر هر څه دَئ دشوار
خپلي اوُښي میي دریاب شوې　　پکښي نه مومم کنار
چه مي تل په دیو زورې　　ستا په شونډُ ولَرم کار
چه ښوک سوځي، هغه سوځي　　هم پتنگ گوره، هم نار
ځما زړَه څه اسان ندي　　چه ئې وړې نه ترس نه ډار

Downloaded from: ketabton.com



دَ بوسی وعده دي وکړه
زه خوشحال لرم تلوار

ننګيالي قبلوي ګور[۱۱]    ګور خو نه وِي[۳۲] رنتبهور
لس په کال پرېِ نَنوزِي    ځني وزِي درې ځلور
مور زادي بلا پروت[۳۳] يَم    چه بلا هورې مِي کور
ننګيالی دَ ننګ دَ پاره    په هر څه لګوِي اور
سر په باد دَ سرِي پېوزه    چه ئې وِي ژوندُون نور
چه په نام و ننګ اَړ نه وِي    خو دي نشِي ويَي[٤٤] سپور
سر په دار لك شوي ښه دي    نه لك شوي پر پېغور
په همت سرَی پرده دَئ
نه دَ مست هاتي په زور

نه د ما د هنر شته حوُک طلبګار    نه د ما دَي ددې ملك منر په کار
خپل حُانونه هوښياران کښي نادان دئ    خداي د ما د هسي خلقو کړ روزګار
په يو ژبه ويل سَرَه ښتو کړو    ولي هيڅ ځبله[٥٥] نشو خبردار
چه دَ سوات په ملك کښي ما ننداره وکړه    بل اولس تر يوسفزيو نشته خوار
زور زياتي خو د پسندي خصلت دَ واړُو    هر سړي ئې طمع خواست وته تيار
که په کور کښ مال دولت لَږِي سترګ وږي    ملکان ئې لا تر نورُو دِي مردار
حقه چار به دَ عزيز کاندي نا حقه    که په بډي رشوت مومي يَو دينار
ختکیَ له ختکی نه رنګ آخلي    عالمان شيخان ئې لا دِي نا پکار

---

[۱] دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.

[۲] خون دي.

[۳] وت لاري او سړک ته وايي.

[٤] په يوه لمي نسخه کښ وهي ليکلي دي.

[٥] وَبله.

Downloaded from: ketabton.com



چه مې ولیدَل له نورُو خبر نه یم    دا خو واړه[1] یا غوایه دِي یا حمار
دا په هر دیار کښ سیل هم بد نه دَئ    چه خوشحال وته څرګند شو هر اسرار
چه د سوات د سیمي خاوري خوشحال بوي کړې
یَو سړَی[2] به ځنِي نه وِئ وفادار

نخښبه نه ولي همېش لېندی په سر    کله منځ کله ښَي کیڼ کله لَر بر
دا یو لحظه دَ هوښیار غلطي نه وئ؟    یا هر ګز دَ لانبوزن نه وِئ خطر؟
په زمان کښ به خپل ځان تر هر چا ښه کا    دَ سړی که لاس رسېږي په قدر
بخته! چېرې یې له ورایه را ښکاره شه    چه مې ښه تر عراقی شِي لا شه خر
دانشمند په خواري خوار جاهل کامران دئ    دَ سړي طالع په کار دَي نه هنر
هنر مند سړی په هر دیار عزیز وئ    په ځاي قدر قیمت لَریي سره زر
دَ بلبلو په کار ګل دَي نه دا نور څه    په چمن کښ خار و خس بلا بتر
چه دَ زرکو ښکار په غره کښ پیدا کېږي    باز په دا سبب نیولَي دَي لوي غر
اول فکر دَ زړه وَکړه بیا وَیل کړه    کاتبان تر کښو پخوا وهی مسطر
هیڅ خبر دَ ورځو شپو په حساب نه دَئ
همیشه ښه دَ خوشحال ختِك اختر

ولي په کوڅه دَ هغه یار نکړې ګذر    وَرلَرَه دِي بولي ته لا ګرزې در په در
خاورِي دِي په سر شه چه به ورپه ورجار وزې    زده کړه دا خبره در په در خاوري په سر
یار دي په ښایست کښ دَ بهار تر ګلو ښه دَئ    ولي ئې له مخه لاله ګل ته کړې نظر
هر چه ته ئې غواړې هغه یار درته حاضر دَئ    دواړه سترګِي وَخورې هیڅ په ځان نه یې خبر
دا یم درته وایم ستا بد خواه نه یَم نېکخواه یَم    فکر دَ توښې کړه چه پخوا لَرې سفر
زرکی تور تارو تمځړی هر لوری ته پېر دی    هسی باز در څخه تا ئی وَترل سهپر
تخم شته هم مځکه هم قبله لَري تیاره    هر اسباب دِ جوړ دَئ ولي نکړې کار د کَر
کانده به حساب وي مو بمو به سوال ځواب وي    څه دِي پکښې کښلي راشه ګوره خپل دفتر

---

[1] دا خو بې غوږو لکی دي حمار.

[2] به پکښ نه وي.

Downloaded from: ketabton.com



مه اوسه بې غمه غلیمان لګي له همَ
فهم کړه خوشحاله چه دا لار لَرِي خطر

هر ساعت چه په چا ځَي هسِي بې کار    تر هغه نه زه لا ښه ګڼم بېګار
رنځوران که کا روبار نکا معذور دئ    روغ سَړی به ولي نکا خپل روزګار
که هیڅ کار و بار دِ نه وِئ درته وایَم    هَسِي مه کښېنه بېکاره نا پکار
په هر څه چه غم غلط شِي واړَه ذوق دَي    که په نرد که په شطرنج وِي که په ښکار
سړی هر ساعت هر وخت په بل بل[21] حال شِي    همېشه په يَوَه حال دَئ کردګار
ستا به نوم په جهان پاتو شِي خوشحاله
يَوَه لویه مشغولا دَه ستا دَ کار

يَو دا هسِي ښه بهار    بیا پرې صوت دَ هزار
څوک سپاره په عراقیانوُ    تر چا لاندِي ښه رهوار
په لاس ناست خاصه بازوُنه    په هر لورِي خاصه ښکار
ښه کرجي[2] [1]وړاندِي نیولي    دَ باز ونوُ سَرَه یار
ښه تازی په دور تړلي    پرانتلي په وار وار
زړه فارغ له هره لوریه    پکښې واړه خیال دَ یار
تر دا هسِي هوس به
زه خوشحال کړم دنیا ځار

## ړ

په سرو شونډوُ دې بازار دَ شکر مات کړ    توروُ زلفو دِي ناموس دَ عنبر مات کړ
چه دَ صبر په آهن مي وه تړلې    تا دَ زلفو په حلقه هغه ورمات کړ

---

[1] بېل بېل.

[2] په قلمي نسخو کښې کرځي لیکلي دي، یعني زوړ باز.

Downloaded from: ketabton.com



چه ئې ستا دَ خط و قد ننداره وکړه
صورت گرو مي پر کار و مسطر مات کړ

سحر گرُو اوس دَ سحر دکان ونغښت
دواړُو سترگوُ دي دَ سحر هنر مات کړ

په دا دوه سپاره دَ مخ يعني ستا سترگي
تا مي درست دَ بارسايَی لښکر مات کړ

په هوس هوس راځې طره پريېښې
گوره بيا دي دَ چا نَويَ سنگر مات کړ

چه آرزو لرم په زړه کښ ستا دَ ورځيو
دې ارزو مي په ځگر کښ خنجر مات کړ

تا وې نور به قول مات نکړم سوگند دَئَ
په سوگند سوگند دي لا څه بهتر مات کړ

په بارخو دَ مار حلقه شو که صبا مي
ستا دَ تورُو زلفو خولې وته سر مات کړ

ماتوه دَ خوشحال زړه بيا به وَوايې
چه مي څه لره دا هسي گوهر مات کړ

په دا شکر چه ئې بوي ښکاره آتش کړ
اگر[1] درست صورت وَا ورته بېشکش کړ

زړه پخپله هغه مخ لَرَه لاړ نشو
دَ ذلفينو ئې هر تار ورته دلکش کړ

دا بېغش شراب دَ کومي ميخانې دي
چه ځما دَ زړه ئې ليري غل و غش کړ

لېونتوب ئې مبارک شه تَل ترتَله
چه ئې يار دَ زړه په غوره پرېوش کړ

په يادی ئې نر باحقه نازېدلَم
بېهوده مې په سراب دَ اُوبواَش[2] [3]کړ

مشوش ئی کړ روزکار دَ پرهېز گارُو
چه کاکل ئې په جبين را مشوش کړ

ما وې سپينه خوله به ورکړې وَ خوشحال ته
په خندا ئې له نا خوا له پنج و شش کړ

چه مِي زړه دَ مال و ملك په هوا نه ولاړ[3]
[1]که په کښليو پسې لاړ شو ښه چه ښه ولاړ

عقل و هوښ صبر و آرام ور پاتو نشِي
دَ هر چا چه په دلبرُو پسې زړه ولاړ

هر چه خوړ دَ کښلي مخ په مينه نه وئَ
دَ جهان په مخ اُوده راغَي اُوده ولاړ

هم مي زړه په غمزه وړي هم ځان نادان کا
راته وايي وايه بيا دِ زړه په څه ولاړ

محبت دَ کښلي مخ ځما په زړه کښ
باور وَکړه لکه اور په وچ واښه ولاړ

دَ هجران په شپه ئې درست ټوکر ټوکر شو
په ژړا ژړا مِي زړه تر دوه لېمه ولاړ

---

[1] عود.

[2] د تحسين او تعجب کلمه ده.

[3] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته. .

Downloaded from: ketabton.com



هغه یار را ځخه وایې هر گز نه وُ  هیڅ مې نه زده که همېش را سره وه ولاړ
هر زمان به ئې شا راته په مانی وه  یوه ورځ بې غمه نه وه تلتل ته ولاړ
نور به بیا په بېارته را نشی خوشحاله
گذشته عمر پسو لکه اوبه ولاړ

چه مي ښه توریت[٢١] دَ خپلي چاري ځیر کړ[٣٢]  ځان مي واړه حبطه پخپل تدبیر کړ
لکه واچوي دانه دَ دام په منځُ کښ  خلقو ما سره په مهر کښ تروير کړ
ما پدا سترگړ لیده دَ دنیا خلق  څو ئی بېر دَ دنیا سود[٤٣] هونبره ئی ویر کړ
مور زادی کانه هر گز نه هوښیارېږي  نصیحت په تور زړگي کله تاثیر کړ
په ناپوه باندي بې غمه بې غمي ده  دَ دانا آفت ئې خپل ضمیر منیر کړ
راشه وگوره یو گز مځکه نیولې  چه ئی مېّ دَ خپلی خوني په توفیر کړ
دَ ارمان لاسُونه مړه مړي په گور کښ  چه مو ولي په نیکیَ کښ تقصیر کړ
دَ هر چا مي خپل هنر بلا دَ ځان دئ  خپلو پرونو په خزه بندي کجیر کړ
چا ئې وصل پخپل مېّ حواله کړَي  چا دَ هري چاري حکم په تقدیر کړ
لیونی د لېونتوب په سبب بند شِي  مست هاتي خپلي مستِی په زنجیر کړ
په بار بار دَ خپل استاد منت را باندي  چه له زنگه ئې صفا ځما ضمیر کړ
دَ زړه ښهر مي چه ځاي د قناعت دئ  په ناحقه مي حرص بکښی امېر کړ
که وَیل ئې دَ غماز منلي نه دِئ  بیا ئې ولي له حیرانه زړه دلگیر کړ
پوره زر اتیا کلونه په کابل کښ  دا غزل مي په بیاض باندِي تحریر گړ
دَ خوشحال دَ زړه خوښي نشِي بې سرایَ
خپل وطن ئې په هر چا باندِي کشمیر کړ

څو ئې بوي په هر طرف بهیر و نه کړ[٤٤]  په گلونُو عندلیب نفیر و نه کړ
ځما اوښیو کاڼي هم په مخه یووړل  ولي ستا په زړه ئې هیڅ تاثیر و نه کړ

---

[١] د طالع ستوري، نجوم.

[٢] دا بدله په چاپي نسخو کي نسته.

[٣] سور.

[٤] دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



په ژړا په بی صبري له لیدَل مومم    ما په دواړو توګه هیڅ تقصیر و نه کړ
په خندا خندا دي مرګ وته نیژدې کړم    ترو دي څرنګه په ما تزویر و نه کړ
خو لا زه یم چه له غشیه نه دي دروممم    ګنه هونبره مې په تور نخچیر و نه کړ
مګر زه سهل غرڅه وم ستا تر فهمه    چه څما په مرګ دِي هیڅ تکبیر و نه کړ
اوس به څرنګه خلاصېږم له دې غمه    چه لمَړی مي دَ خلاصی تدبیر و نه کړ
د کعبې په لار به څنګه برَی کړې    چه هر ګز دَ یوه شپه شبګیر وَ نه ګړ
په صورت به دَي تل وېر وئ پسله مرګه    که د ځَان دی په ژوند ونې ویر و نه کړ
زه خوشحال چه سر و تیر ځم ستا له تیره
هیڅ ارمان دي دَ غمزې په تیر و نه کړ

خداي یَو هسې فکر راکړ[1]    چه ئې ملك راته رڼا کړ
چه په ملك په ملکوت دِي    پرې خبر ئې زړه دَ ما کړ
په اعلی په اسفل واړه    را ښکاره ئې هر اشیا کړ
که په نورُو توره شپه دَه
په خوشحال ئې سپین سبا کړ

لکه خداي چه دَ یار حسن بې نظیر کړ    هسی ما دَ زړه په سر باندې تصویر کړ
د مجنون غُنډي په درد دَ عاشقی کښ    پخپل حال مي همګي خلق خبیر کړ
ما وې کندي تفحص وکا پخولا شِي    تر پرونه نه ئې نن مانې کبېر کړ
ښایسته د قندهار دَ چا په یاد دئ    پدا حسن ئې بنده واړه کشمیر کړ
دا څه حسن څه جمال څه ئې اقبال دَئ    چه شالاڼُو ئې په وَر کښ ځَان فقیر کړ
زړه پخپله هغه مخ لَرَه ولاړ نشو    دَ زلفینو ئې هر تار ورته زنجیر کړ
نه ګناه نه ئې خطا نه نیت ئې نور دي
نر ناحقه ئې خوشحال په زړه دلګیر کړ

مخ ئې فکر دَ نسرین را څخه یووړ    خط و خال ئې مشك چین را څخه یووړ
د ترسا زلفې زنار شوې را تر غاړه    شکر شکر چه ئې دین را څخه یووړ
بې د یار دَ شونډُو تل چه یادوم ئې    میني نور ذکر تلقین را څخه یووړ

[1] دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



درسته شپه ژړا نارې آه و فریاد کړم    بیا ئې خوب په څه آئین را څخه یوونړ
دواړه سترګي ئې شاهین شهپر ئې زلفي    ځما زړه کوتر، شاهین را څخه یوونړ
په راتله ئې درست آرام را لَرَه راوړ    او په تله ئې درست تسکین را څخه یوونړ
د چمن ګلُونه کوز ګوري دا واړړ    چه دلبري هر تحسین را څخه یوونړ
چه مِي زړه وړي ما وې پاسه په اسمان ده    ولی تُرکي په زمین را څخه یوونړ
زه هاله دَ عافیت ناوِي قبول کړم    چه هوس ئې په کابین را څخه یوونړ
تل اوبه په نري ځاي باندِي ما تېږي    عقل و هوښ ئې نخستین را څخه یوونړ
هغه ورَځ مِي زړه له خپله ځانه موړ شو    چه له لاسه دل سنګین را څخه یوونړ
چه دعا ځما دَ صبر کا وَګړي    عشق دَ دې دعا آمین را څخه یوونړ
ما وې زه به ئې لا فکر دَ علاج کړم
ولی خوار[۱] خوشحال زړه خوړین را څخه یوونړ

ما دَ کښلیُو نندارہ کړه زاهد ننګ کړ[۲]    ښه خو دا چه خداي دَي هم د ما په رنګ کړ
هغه وخت چه را په یاد شِي ډېر خوشحال شم    چه به ما درته دعا کړه تا به جنګ کړ
زما زړه ئې په قلاب دَ زلفو یووړ    ور سَرَه ئې اوده کړي په پالنګ کړ
که ژوندی نشي له خوبه عمر ئې شوم دَئ    چه په خاک ئې دَ پایلو باندِي شرنګ کړ
کښلي مخ ئې لکه څراغ هسِي بلېږي    خوار عاشق ئې پدا څراغ باندِي پتنګ کړ
ملنګان ئی دَ دربار دروېزه مومي    ما هم ځکه ځان دَ یار دَ ور ملنګ کړ
ته دَ ځایه هسي نه وې دا څه حال دَئ
چه په ما باندِي دي زړه دا هسِي سنګ کړ

[۱] ولي خوار عاشق زړه.

[۲] دا بدله په چاپي نسخو کښ نست له یوې قلمي څخه را نقل سوه.

Downloaded from: ketabton.com



# ز

پر د قاز شته پر د باز[۱] لکه پر هسې پرواز
لکه سترګي ليده هونبره لکه خلق هسې آواز
لکه قد جامه هم هونبره لکه حسن هونبره ناز
دَ دانش کښيده بويه نه دَ سرو زور طراز
بېړۍ کرزې په ببله[۲] کښ په قلزم ګرزي جهاز
سګ لاهو غُندی خو نشته مېرک که هر څو وي اوباز
په دا پړانګ نشو خوشحاله
که پړانګ پش[۳] دَي پړانګ ته ساز

چه هر يار ته مي تر خوله ويوست آواز[٤] زر په واړه عالم خور شو هغه راز
که دي زړه دَئ چه سوا په هيچا نشې د قلوب دننه ښه دئ ساز ناساز
که آواز دَ زرکُو وَئ په درو کښ چا به چېري ور پسې ګرزاوه باز
چه نارې کا تور تارو په مرغزار کښ باز جره ئې بتې يوسي د طراز
چه ځما تر خوله و نه ووت چا وَ نه وې خپل نفس دَئ په سرې باندي غماز
په سبا به هغه راز په کلي خور وُ چه په شپه به ما وَزوي ته وې په ناز
ډېر ياران مي تر سرتېر دئ ځوان وَم زوړ شوم په زرګونو کښ پيدا نشو دمساز
پخپل زړه کښ جګرخون کوَه خوشحاله
خپل پردې ته دَ زړه راز مکړه آغاز

لکه غشي لَرَه بويه تير انداز هسي شعر لَرَه بويه سحر ساز
همېشه دَ زړه په لاس تله دَ وزن زيات وکم دَ وزن يو توري غماز

---

[۱] دا بدله له يوې قلمي نسخې څخه را نقل سوه، په نورو کښ نسته.

[۲] يعني جزيره.

[۳] د زنګله ياغي پېښي چه لکه پړانګ داسي ده.

[٤] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



په تور آس دَ حقيقت ناوې سپَره کا     په سپين مخ پلَو نيولَي دَ مجاز
سل جلوې سل کرشمې سل مکيزُونه     په نظر کښ ئې ښکاره دَ سترگو ناز
دَ صنعت زيور په حؤ رنگه پرېوزي[٢١]     د تشبيه چندڼ چووه باندِي طراز
دَ تجنيس پايلي جوړی[٣٢] په پښو کړي     د تر صيع منی[٤٣] په غاړه اوږد دراز
د مضمون د نزاکت غمزه ور څخه     سر تر پايه درست صورت سَرَه يواز
که په نظم کښ کارگه او تپوس را وړي[٤٤]     هم دَ زړونو په ښکار گرزي لکه باز
چه يوه وينا ئې وکړه هوښيار هغه     عاقلان به وَيل کاندِي په ايجاز
و پښتو ژبي ئې ډېره خوبي ورکړه
چه خوشحال کا په پښتو شعر آغاز

---

[١] پر ېوزي يا پرې پوري.

[٢] څړي.

[٣] امېل.

[٤] دا درې بيت په نورو نسخو کښ نسته، له يوې نسخې څخه را نقل سوه.

Downloaded from: ketabton.com



# (س)

په رموز د عاشقانو عاشقان پوهېږي بس — [۱]په طلب دَ طالبانُو طالبان پوهېږي بس
په ضمير دَ نخلبندُو نخلبند سرَی خبر وِئ — په تصوير دَ نقاشانو نقاشان پوهېږه بس
چه کښتیِ پکښې بیایي په عظیم دریاب ګوېږي — په بېلو د کښتیِ ملاحان پوهېږي بس
چه ګردش ئې ورځ و شپه کا دَ کامل انسان دپاره — په اسرار ئې کاملان یا دا آسمان پوهېږي بس
سپینیِ ږیرې وَته بویه چه نظر پخپل قوت کا — او هوس دَ شوخي شنګي پدا ځوان پوهېږي بس
نادانان دَ ملك ښبتن کا دانا هسي ورته ګوري — دغه پوهه دَ چا نه دَه پرې سجان پوهېږي بس
چه خوشحال ئې په بیاض کښ دا تازه تازه خبرِی
نو په دا تازه خبرُو سخندان پوهېږي بس

په درست کلی کښ مي یار دَئ هغه کس — چه په درست تومن اوښار دَئ هغه کس
که په شکل شمایل سړی لیده شي — سر تر پایه پر یوار دَئ هغه کس
ځکه زه وَر باندې هسي عندلیب یَم — چه په حسن یَو ګلزار دَئ هغه کس
که هر څو راته ښکنځَل کا یا قهرېږي — په خوله واړه شکر بار دَئ هغه کس
که ئې زلفي که کاکل که ئې ګیسو دي — همګي مشك تا تار دَئ هغه کس
چېرې نه چه په ټولی کښ ئې غلط کړې — هوسی سترګي ګلرخسار دَئ هغه کس
دَ جایفل په ځای به سر ورته بېښکښ کړم — که په سرمی مینه دار دَئ هغه کس
چه زه خوله ورځني غواړم نور ښکنځَل کا — بې حسابه ستمکار دَئ هغه کس
سر تر پایه زرزری جامې آغوستي — سر تر پایه زرنکار دَئ هغه کس
زرکی! څه لَرَه پخپل رفتار غره یې — لا تر تا نه خوش رفتار دَئ هغه کس
چه صورت سیرت ئې دواړه سَرَه جوړ دي
دَ خوشحال دَ زړه پکار دَئ هغه کس

په لحد کښ به هوا نه وِی هوس[۲] — در سَرَه به خپل عمل درومي نور بس
بې طوطی نه قفس هیڅ نه دَئ باور کړه — روح په مثل دَ طوطي دَي تن قفس
فهم وکړه چه ضائع در څخه نشِي — لکه در بې بها دَي دا نفس
چه دا در بې بها هسی تلف کا — دَ ښارویو په شمار دَي هغه کس
د خانانو په خاکونُو ګذر وَکړه — زرغونه ئې په خاکونو خار و خس
هر چه شوِي نه بدلېږی دا په څه کړې — هونبره ډېرې اندېښنې هونبره وسوس
نصیبه له جهانه یو کفن وړي — هغه هم اته یا نه ګزه یا لس
دا به واړه له تا پاتو شي اې جانه! — که ښې جونه که آسوُنه که اطلس

---

[۱]دا بدله په چاپي دیوان کښ نسته.

[۲]دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



تیارېږه وخت دَ کوچ راغي خوشحاله
په هر لورِي نارې اَروې دَ جرس

ته څه زړه لرې څه لاس　　واړه گنج ئې کوز و پاس
گاه دَ مځکی طراحی کړې　　گاه په عرش کښېږدې اساس
لکه ډک شې هسې تش شې　　د د شناځ دَئ ستا اماس
لکه پونډ[۱] یې وَ اور ته　　وَ اُوبو وَته قرطاس
هم گوهر یې هم شبه یې　　هم کُتني[۲] یې هم کرباس
هم ملك یې هم ملِك یې　　هم خنزیر یې هم خجاس
په افلاس کښی دِ دولت دی　　په دولت کښی دِ افلاس
ته له دیوه په هراس یې　　دَی تا نه په هراس
نه اطلس دَئ نه زربفت دَئ　　لا څه ښه دَئ ستا لباس[۳]
واړه ښه وایې خوشحاله
وایه هیڅ نشته وسواس

چه ئې غم لرې دَ مخ هم دا وصال بس[٤]　　اندېښنه ئې د جمال دَ خط و خال بس
بادشاهان دئ زر زری جامې اغوندي　　دَ قانع گداي په شا باندي یو شال بس
په بهاندُو اُوبو کښېښه ننداره کړه　　دَ جهان دَ تېرېدَلو دا مثال بس
خو یوه گېډه خواړه دوه درې خرخوری　　که دانا یې په جهان کښ دا جنجال بس
و حریص وته درست مال دَ دنیا لږ دئ　　و قانع ته یَو فلوس دَ دنیا مال بس
زاهد سترگې ترې پوښې زه کښلي گورم　　که جنت لَرَه مي بیایې دا وبال بس
که لایق ئې دَ جمال دَ لیدو نه یَم　　که ئې بیا مومم وصال په خوب و خال بس
دواړه کوَنه د هغه چه ئې طلب کا
ستا دَ سترگو ننداره د خوار خوشحال بس

خدایه که زه تا ته نیژدې کېږم په افلاس[٥]　　زر مي گند په غاړه کړه یَو مات کچکول په لاس
ته که په دا خوښ یې چه خاوند د ملك و مال وم　　مال و ملك مي هونبره کړې چه تېروي تر قیاس
هسې مال را مه کړه چه ئې ځاي وي تر زړه کښته　　هسې اموال را کړه چه ئې ځاي دَ زړه دَ پاس
لاس مي همېش بر لَره په واړُو غلیمانو　　دوه می غلیمان دِي یو مي نفس بل مي خناس
طمعَ که حسد وئ که حرص که بد خویونه　　واړه له ما پرېکړه د خپل فضل په الماس
توان د طاعت راکړه چه اخلاص ور سَره مل وئ　　نه هغه طاعت چه شِي په رسم په لباس

---

[۱] یا پونړ دا یو راز قدیم اورلگت وُ، چه وچ لرگی او نور وچ اور اخیستونکیي مواد به وه.

[۲] هم کیمخا یې.

[۳] ستا پلاس.

[٤] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

[٥] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



یا بارَ کریمه! د خوشحال خټك دا خواست دَئ
تل دَ ده په زړه کي لرې ټېنګ دَ دین اساس

زه هغه سړی یم چه قلم واخلم په لاس[۱]    ناظر مي عطارد دَي چه به څه کښ په قرطاس
نائب دي د تقدیر د ما تدبیر په مصلحت کښ    صائب دَي ځما فکر د هر امر په اساس
د تورُو په میدان کښ چه سودا وِي د سرونو    هغه زمان مي ګوره تل به سور وِي د ما آس
حاسد مي لکه کاڼي د صحرا په هیڅ حساب دئ    په قدر په قیمت کښ یا یاقوت یم یا الماس
که حاصل مي د قضا په حکم هسي محول وي    قمر وَته نظر کړه کله بدر کله کاس
ظاهر لکه شهباز یم که وَ ما وته نظر کړې    باطن لکه خورشید یم هیڅ مي مه غواړه په قیاس
که لافي د کوزیِ د هسکی وهم باور کړه    تر تورُو خاورُو کوز یم تر اسمانه یَم لا پاس
ویَل کوې و چا ته چه د ما ویل سَرَه زر دِي
ړوند و وته خوشحاله لکه زر هسي رصاص

سړی ښه دئ حق شناس    سر دئ خورِي ناسپاس
دَ یوې دانې اوربشي    احسان ډېر دَئ تر قیاس
چه احسان وته ئې شا شوه    مخ ئې تور شه نه دَئ ناس
څو اخلاص ور سَره نه وِئ    یاري نَشِي په لباس
یار ئې مه ګڼه اغیار دَئ    چه ته پرېوزې درکا لاس
تل خالي دَئ[۲] له خلله    دَ رشتیا میني اساس
که دي یار دَئ هغه یار دَئ    چه خپلوی ئې بې وسواس
بې وفا دِي دا دری توکه    توره، ښځه، دریم آس
دَ خوشحال خبري دُر دِي
چه ئې کښلي په قرطاس

کله باز کا و مرداري ته هوس    دغه کار دَي د کارګه و د کرګس
و ګفتار وَته ئې غړوه سترګي    په کرده په عمل ګوره کس ناکس
که ئې سر په لکیِ اوړي هغه دئ    په هیڅ رنګ به نور څه نشي سګ مګس
په ظاهر شماره که لس سَرَه دوه پنج وِئ    د ابجد په حساب نوي وګڼه لس
ده سړی په باغ کښی ګډ شي یَو ګل ګوري    دویم ګرزي په طلب د خار و خس
زه دا یم په بېلتانه کښ له هغو یم    چه دَ یار بې یادوندی یو نفس
که هر څو ښایسته روغ دي څك ئې څه کا    د طوطي له مخه ښه یشي[۳] قفس
خوار شوخحال به ځَني څو شړې په جور
که سړې شونډې دي شکر دي دَ مګس

---

[۱] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

[۲] وِئ.

[۳] یعنی ښه ایسي.

Downloaded from: ketabton.com



که د موږ نفس کښ څه وئ لکه وئ هسي به اوس[1] — چه په څه دئ زړه مينه هم هغه مينه به بوس
لاس دَ زړه دَ پاسه کښېږده چه څه حال درته معلوم شي — څه تسپې په لاس کښ نموږې څه په ږمنځې زيره پوس
که د باغ دئ که دَ راغ دئ په څو لونه دي دا ونې — حڅک سپيدار څوک چنار دئ څوک پلو[2] دئ حڅک پلوس
اينځر نه لري ګلوُنه مېوه سپينه لَرِي توره — د انګورو ژنکوري ګوره مېوه ګل لَرِي نلګوس[3]
دا جهان پټې پټې دَئ جنس دَ جنس سَرَه خوښې کا — چه په خيال په هوا ګرزِي زير پړوني سر منډوس
الحذر دَ عشق له اوره که دئ لاس رسي زړه ژغوره
دَ دلبرو مينه اور دَه اې خوشحاله زړه کړه بوس

## ش

توراني خو د جنجال دِئ د پرخاش[4] — دروغجن سوګند خواره بهتان تراش
ايراني د آشنايئ د وفا دِئ — د خلقت د مروت دِئ دَ معاش
پښتانه دَ بد نيتی د خصومت دِئ — په حيا په شجاعت ئې وکړه شاش
که بلوځ که هزاره واړه چرکين دئ — نه ئې دين نه ئې مذهب ستر ئې فاش
که هندي دِئ که سندی دِئ مخ ئې تور شه — نه حيا نه ئې وفا نه نان و آش
کشميري که نرکه ښځې واړه هېڅ دِئ — د مردئ ور څخه نشته هيڅ قماش
د آدم له نسله نه دِئ ګوره څه دِئ — دواړه ورک شه يو اوزبك بل قزلباش
لغمانی بنګښ سواتي تيراهي واړه — موت مټر لوبيا چڼه دئ مهي ماش
هر احوال ورته ښکاره دَئ دَ وګړي
د خوشحال خټك په پوهه کړه شاباش

## ښ

دا ښايست چه ئې په تا باندِی کښېښ — دَ زړه داغ به ئې په ما باندي کښېښ
که جمال ئې و يوسف نه وُئ ورکړَي — چا به غم په زلېخا باندِي کښېښ

---

[1] دا بدله په نورو نسخو کښ نسته، له يوې قلمي څخه را نقل سوه.

[2] دا کلمه عيناً وليکه سوله حل طلبه ده.

[3] د دې کلمې تلفظ د قندهار په خوا کښ نرګوس دئ، مګر دلته په ټوله نسخو کښ په لام ليکي دئ، نو موږ هم پر دغه املا پرېښود.

[4] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



مگر گل په اشارت کښ ورته وَ وې    چه[۱] بلبل تېتر په ما باندِي کښېښ
که دَ زلفو[۲] مار ئې وخوري عاشق گرم دئ    چه ئې لاس په اږدهار باندِي کښېښ
زه که ستا په لږ شوبو[۳] باندي پروت نه وئ    دَ سپي نوم به دئ په چا باندِي کښېښ
که هر څو به دئ شاړه له خپله وره
خوار خوشحال به قدم لا باندِي کښېښ

# ض

له تا به ستا له تېغه عاشق چېري کا اعراض    د شمع د اور پېښتی[٤] مینه نه ځي په مقراض
د خپل خاطر احوال به زه خپل یار وته معلوم کړم    بیمار به له تبیبه په څو پټ لری امراض
تر دانه به ته کوم طاعت ته به مومې اې دله    چه یو ساعت مي کښېنې دَ زاهد سَرَه مرطاض
سودا ئې د چشمانو په ژړا ژړا بتر شوه    دا اوښیو محرمي [٥]ئې اوس وړینه په بیاض
د یار کوڅه مي بیا مونده دَ یار له بویه پُره    هوا به دَ گلونُو نوره څو کړم دَ ریاض
خوشحاله مستعد اوسه و فیض ته قابل یې[٦]
ورېږِي دَ قابل په زړه تل فیض دَ فیاض

# ظ

چه دَ کښلیوُ په لیدَل نه وِئ محظوظ    د سرود په اَرویدل نه وِئ محظوظ
چه حاصل ئې دَ خپل یار نندارہ نه وئ    په گلزار ئې سوخته دل[۷] نه وِئ محظوظ
که شیخان که زاهدان که عابدان دي    په دا خپل عمر به تَل نه وِئ محظوظ
چه ئې دواړه شونډي کښل کړم پرى محفوظ شم    څوک به هم په مي خوړَل نه وِئ محظوظ
کله کله هسي وخت په سرِی راشي    چه دَ گلو په کتَل نه وِئ محظوظ

---

[۱] چه بلبلي تېتر بیا باندي کښېښ.

[۲] د زلفینو مار کښ وخوري.

[۳] دا کلمه عیناً ولیکه شوه حل طلبه ده.

[٤] یعني پتن.

[٥] د اوښیو محرر ئې اوس درینه په بیاض.

[٦] شه.

[۷] خسته دل.

Downloaded from: ketabton.com



دَ خوشحال ویل[۱] هنر دي هغه خر دَئ
چه به دَی په دا ویل نه وِئ محظوظ

زړه مي بې له عشقه په بل کار نه وِئ محظوظ[۲] ببله ښکلیه مخه په ګلزار نه وِئ محظوظ
کله مړنَی دي چه د توري په میدان کښ دَی دَ تېرې توري په پرهار[۳] نه وِئ محظوظ
هر چه عاقلان دِي په فتوی دَ عقل کار کا هر چه عاشقان دِئ پدا کار نه وِئ محظوظ
هر چه بل ئې وَولِي بیا دي پرې غشي لك کا هیڅکله ښکاري په هغه ښکار نه وِئ محظوظ
خاوري ئې په سر حبطه ئې عمر تېر شو هر چه نن دَ ښکلیُو په دیدار نه وِئ محظوظ
عید شو هم بهار شو وَ صحرا وته خلق ووت زار دئ دَ هغه چه پخپل یار نه وِئ محظوظ
دور دَ عاشقانُو دَئ که وګورې په عشق کښ پند که ورته وایي پخپل پلار نه وِئ محظوظ
هر کله چه راشې ورته وخاندې له ورایه
خوار خوشحال به ولي په بار بار نه وِئ محظوظ

# ع

سخت ساعت دَي دَ وداع په آشوب و په صداع
چه یَو ځَل سَرَه څوک بېل شِي بیا په بخت وِي اجتماع
عجب هر زمان نیاز کا نوې نوې اختراع
چه په لړ ماتې وه نزع ترو به څه وئ په نزاع
هم مي وغلوي بیا وایي نه پوهېږِي په خداع
شونډه بوڅه په نخوال[٤] کا چه مي وَویني اوضاع
دَ بورجل غمجن په رقص دَ پایلو په سماع
چه ترې دَ لیدو لارِي څه دِ خیر دَئ مناعَ!
نه ئې یو دیدن خوشحاله!
نه دَ درست جهان متاع

---

[۱] د خوشحال ویل هنر نه د هغه دي.

[۲] دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

[۳] ګزار.

[٤] نا خوال.

Downloaded from: ketabton.com



# غ

خلقي سَرَه ياري كا په دروغ و به نه وينې دوه زړُونه سَرَه روغ
د شودو پيو عوض ئې وي په زړه كښ چه سفله و چا ته وركا چېرى دوغ
د هغو صحبت كيميا دَئ كه ئې مومې چه ئې بيا مومې په ناسته كښ فروغ
د دې دور ياران واړه منافق دي په خوله تا سره هو هو كا په زړه يوغ[1]
په قيامت به ئې په كوم عبادت پټ كا په آزاد دَ خپل پدر ترلَي توغ
نور كارُونه اوس په كار ندي خوشحاله!
يا و چا څه وركوه يا الچوغ[2]

كه يو گل و ما نه راكړې دَ خپل باغ خداي دئ تا تر و تازه لَرى تل باغ
ستا له باغه يو گل ما لره دولت دَئ نه په سل رنگه گلوُنه دَ بل باغ
چه ورتله دئ باندې نه وئ سپېره ډاگ وئ په راتله دي شى درست ملك و بورجل باغ
په خوږو خوږو مېوو په گلُو ډک وئ چه ښكاره كړې راته ته په ښكنځَل باغ
دَ ښه مخ دَ گلستان بلا هجران دي تل گلونه به خزان رېژول باغ
نور باغونه دَ نوروز په وخت غوړېږي په اهاړ كا غوړېده دَ كابل باغ
همېشه به پرې نارې وئ دَ بلبلو
دا چه ساز كړ نن خوشحال په وَيل باغ

# ف

را معلوم شو دَ اورنگ عدل و انصاف دَ ده ښه مسلماني ښه اعتكاف!
سَكه ورونه وار په وار واړه وژلي پلار په بند كښ اچولَي په مصاف
كه هزار ځله څوک سر وهي په مځكه يا په صوم تر شمځَي وروليي ناف
څو نيت[3] د ښه عمل سَرَه جوړ نشي عبادت، طاعت دي واړه دي خلاف
چه دَ ژبى لار يَوه دَ زړه ئې بله په چاره ئې شه ځگر شگاف شگاف
مار په تن دَ پاسه ښه ښايسته روغ دَئ ولي ننه[4] اندرون لرَي ناصاف
مرنى په كرده ډېر وَيَل ئې لږ وئ د نامردُو لَږ عمل وئ ډېر ئې لاف
كه دلې دَ خوشحال لاس په ظالم نشته
دَ قيامت په ورَځ ئې خداي مكړه معاف

---

[1] د دې كلمى معنا حل طلبه ده.

[2] دا كلمه هم حل طلبه ده.

[3] څو دي نيت.

[4] د دننه مخفف دئ په جاپي نسخو كښ دا مسرئ داسي ده: ولى تن ئې اندرون لري ناصاف.

Downloaded from: ketabton.com



# ق

چه بنیاد ئې پیدا شوی په نفاق[1] د هغه[2] نه طمع مکړه اتفاق
چه وودلې وِئ په ذات توره شړئ سپینول ئې وَ هر چا وَته دِئ شاق
چه په باغ کښ رنګارنګ مېوه پیدا شي لَون لَون ئې مزه وِي په مذاق
دَ عسل سَرَه ئې خوره خوږه به نشِي مَرَ غونې چه ترخه دَه په میثاق[3]
دَ دانا به دَ ناپوه سَرَه څه زیست شي کونګی[4] هیڅکله دَ باز نه وئ مشتاق
که اخلاقِ ناصري په یادووایي په اخلاق کښ به ښه نشِي بد اخلاق
دَ طاوس سَرَه که زاغ په قفس بند کړې
تر وصاله ئې خوشحال وي په فراق

خر دَ سرو زرو دَ زین نه دي لایق[5] ښه څړَی ور لره بویه موافق
بوالهوس چه عاشقي کا عاشق ندئ په خالي هوس ئې مه بوله عاشق
نفساني تاریکه شپه صادق هغه دئ چه سهار غُندي سینه لَري صادق
څه په علم په تلقین سَرَه نور نَشِي چه راغلي له ازله دَي فاسق
د سینا[6] زويَ له ځایه شیخ ملا وُ آراسته نشو په درس په خوانق
په ادب آداب به نه فائق تر چا شِي چه له ځایه په فطرت نه وِي فائق
صالحان له ظالمانو نه پیدا شِي له زاهدَ نه پیدا شِي غل سارق
دَ بد خوي دَ خوي علاج ملك الموت دي نه په ډېر علاج خبر حکیم حاذق
هغه باغ هغه باغوان هغه ئې ګل دئ چه فرهاد باندِي بلبل وُ یا وامق
زړه سوخته مینان ډېر دي په جهان کښ څه یواځې یَو مجنون ندَئ عاشق
که کارګه غندی ئې فهم وِي خوشحاله!
هیڅ استاد به شین طوطا نکړي ناطق

ډېر دَ خیال سپاره ترې لاړل معلق[7] سپور په شا پرېښې نه دَي دې ابلق
په دا طشت کښ هَره ورځ ویني توئېږي ښکاروَل ئې هر ماښام کاندِي شفق

---

[1] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

[2] د هغونه.

[3] یعني په ازلی تړوُن.

[4] یعني جغد.

[5] دا بدله هم په چاپي نسخو کښ نسته.

[6] بو علی سینا د اسلام مشهور حکیم او فیلسوف د څلورمي هجري پېړۍ.

[7] دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



په ازل چه دا نسق دَ بېلتانه دي ‌‌ ‌ ‌ ‌ ‌ تر ابده به وران نشي دا نسق
و گداي وته به څرنگ پاتو کېږي ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ د بادشاه له تنه خېژي دا يلمق[۱]
روغ به هاله دَ دردمن په حال خبر شي ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ چه په زړه باندي رسا وَخوري شلق
پيدا کېږي، فنا کېږي، نه ښکارېږي ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ پدا سيند کښ جهازونه هم زورق
که د مرگ سبق دِي هېر دَي گورې گوره ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ خپل ياران به درته ياد کاندي سبق
که هر څو په سود سودا گرم ليده شي ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ تر ماښامه دَئ دَ دې بازار رونق

عاقبت به واړه سترِي شي خوشحاله
که څوک ژاړي ناړي مرگ گڼي ناحق

دربغه سره تش کړې دا يک زړونه دَ فراق[۲] ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ټول کړلي په تله دَ چا زيات شوي اشتياق
مرگ به ما قبول کړ نه بېلتون له خپله ياره ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ څه کړم چاره نشته حکم دا وُ په ميثاق
وېش چه په ازل وُ دَ هر چا دَ قسمتونو ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ غم وُ که محنت وُ په نصيب شو دَ عشاق
څوک په عاشقي ولاړ چه څه پاتو هجران وتوت[۳] ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ اوس به له ما څه غواړي وَگړي خوي اخلاق
هر محنت، آفت، شدت، نکبت په جهان ښه دئ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ يَو بېلتون بلا دَئ تر هر څه په اتفاق
عشق ئې دَ زلفينو لکه زهر دَ مارونو[٤] ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ښوری په ځگر کښ د واړه لب ئې دِي ترياق
تل سبا بيگا باندي دَ آه د ناوکيو ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ووري [۵]سپين توبري څه ښادي کا اهل نفاق

تل شهد و شکري که خوشحال خوري گمان مکړه
چه بې هغو لبانو به خوږ شي دَ ده مذاق

که دَ سرو شونډو سَره غواړې تحقيق[٦] ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ دَ يمن په ملك به نه وِي دا عقيق
خوله ئې هسته دَه که نېسته نه پوهېږم ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ دا رموز دَئ و هر چا وَته دقيق
په زرگونو راته لاف کړي دَ ياریَ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ما يَو يار بکښي وَ نه ليده صديق
په هر لور مي غورزَوي په سر لگېږم ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ زمانې کړم لکه سنگ دَ منجنيق
اول غم دَ يار وَ ما وَته غليم وُ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ اوس تر دَه نه بَل څوک نلَرم شفيق
په لُمرِي قدم دي سر له تنه پرې کا ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ چه قدم کښښېږدې پدا خوني طريق
چه دَ عشق په بحر ډُوب دَئ حال ئې گوره ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ دَ دنيا په حال خبر نه دَئ غريق
طلبکار ئې دَ وصال په لوي طلب وی ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ له ازله ئې راوړَي دا توفيق
آزاده عالم بندی دَی که ئی گورې ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ د زلفينو په خنځير ئې دِی عتيق

---

[۱] محشي ورته ليکي چه يو راز کالي دي.

[۲] دا بدله په چاپي ديوان کښ نسته.

[۳] دا کلمه په نورو ټولو قلمي نسخو کښ دغسي ده مگر په يوه نسخه کښ داسی ده: چه څه پاتو وه هجران يو.

[٤] مارانو.

[۵] دَ اوسپني توبري څه ښادي....

[٦] دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



گټه زیان دَ عشق یوازي دَ عاشق دَي
امید قطع کړه خوشحاله دَ رفیق

یَو څه بحر دَي عمیق دَ سیماب غُندي حریق
په شنا تري واته نشي څو چه بخت نشی رفیق
په ساحل وَلاړو څه زده چه څه حال لَری غریق
حال د ما یو معما دَئ چا مي حال نه کړ تحقیق
که هندو که مسلمان وئ پَت پالي د خپل فریق
چه مي یار دَ طریقت وه په کار نشو هیڅ طریق
یو له بله بهره مومي په اخلاص او په توفیق
چه ئې زه لَرم په زړه کښ عجب فکر دَئ دقیق
سل بلا دَ جهان کل وَئ جدایی نه وَئ تفریق
په نامه به شقیق[1] نشي که څوک نوم کښیږدي شقیق
پدا ښهر کښ اکبر دَئ
دَ خوشحال یار شفیق

## ک

چه په رُوي به ئې بخښل ښي پاک نا پاک[2] بل سرې نه دَي صاحب دَي دَ لولاک
تر هلال ئې صدقه شم تر بلال (ص) په اخلاص یَم زه دَ دُوي دَ تلي خاک
دَ بوذر (ص) او دَ سلمان (ص) ئې درویزگر یم تَل دَ دُوي په محبت دَئ څما ژواک
ذوالفقار ئې اږدهار وُ دوې ئث ژبي چه دَ دین مخالفان ئې وُ خوراک
په دا هسې مرتتوب ئې آفرین وُ چه په کار ئې محمد (ص) شو فرحناک
که سپاره ئې مَرَني دَ لښکر ډېر دئ لاس څما دَ دلدل سوار دَ زین فتراک
د خیبر په کوټ ئې هسي زور ښکاره کړ چه له وېخ ئې را و لوړل تاک[3]
محمد (ص) دَ علم ښهر دَی ئې وَرُوُ
تر قنبر ئې شه خوشحاله خټک فداک

---

[1] حضرت شقیق د بلخ یو لوي ستانه دئ.

[2] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

[3] چه له وېخ ئی راونړول پاگ.

Downloaded from: ketabton.com



دال[۱] و د محرم دَ صفر[۲] اک[۳]    دَ ړومبی خوري دروښيم څه يك[٤]
دَ دوهمي خور ړونبيه اتلسمه    دَ دريمي خوري يا[٥] مه وکړه شك
ځلورمي خوري[٦] دال چه سَره يد شِي    دَ رجب دي ب[٧] ويج د شعبان دک[٨]
دَ روژِې د مياشتي جك[٩] پوره حساب دئ    حيِ[۱۰] شوال ذي القعده بط[۱۱] ذوالحجه وک[۱۲]
چه په هَرَه مياشت کښ دوې ورځِې دِي نحسي    هم دغه دَي چه حساب وشو خوبك
بيا وروستیَ چارشنبه دَ هري مياشتي
نحسه ورځ دَه، وايي ښه خوشحال ختِك

که زه نه وَی تا به ځان لَره بلل څوک    په پالنگ به دي دا هسي در ختل څوک
واړه عشق دَئ چه ئې سر راته گياه کړ    گڼه[۱۳] زه په ځان مين دَ سر ښندل څوک
چه پتنگ ته روښنايي دَ څراغ ښکاره شي    نور له څراغه نه ئې غواړي جار وتل څوک[۱٤]
بدرگه که محبت را سَرَه نه وِي    يك تنها به په خونخواري لاري تلل څوک
دَ دي[۱٥] مېُو پيالي ډېرُو دِي آخستي    ولي ما غُندي به نه وئ لا يعقل څوک
دَ زنخ په ځادِي بند دَ شونډُو مست وي    روغ هوښيار به په کوهي کښ پرېوتل څوک
چه پخپله[۱٦] راته ووايي چه وايه    گڼه زه دَ ميني راز ښکاره وَيل څوک

[۱]دال يعني ځلورمه او (و) يعني شپږمه ورځ.

[۲]په دې بدله کښ پر زاړه نجوم مطابق د ابجد په حساب د هري مياشتي نحسي ورځي بيان سوي دي.

[۳]ا يعني لمړی او ک يعني شلمه ورځ.

[٤]ی يعنی لسمه اوک يعنی شلمه ورځ.

[٥]ی يعنی لسمه يا يعنی يولسمه ورځ.

[٦]ی يعمي لسمه او دال يعني ځلورمه ورځ چه دواړه حروفونه يد کيږي.

[۷]ب يعني دوهمه او يج يعني ديرلسمه ورځ.

[۸]دال يعني ځلورمه او ک يعني شلمه ورځ.

[۹]ج يعني دريمه او ک يعني شلمه ورځ.

[۱۰]ح يعني اتمه او ي يعني لسمه ورځ.

[۱۱]ب يعني دوهمه او ط يعني نهمه ورځ.

[۱۲]و يعني سپږمه او ک يعني شلمه ورځ.

[۱۳]کنه.

[۱٤]نور له څراغه د ده غواړي جار وتل څوک.

[۱٥]د ديو ميو.

[۱٦]ته پخپله راته ووايې چه وايه.

Downloaded from: ketabton.com



ته مې وژنه دَ قصاص اندېښنه مکړه　　دَ خپل خون په تور به ونسم[۱] یو بل څوک
ښه خو دا چه دَ چا نوم پکښې یادېږي　　په فاني دنیا به نه وِئ ژوندي تل څوک
تا پخپله سپينه خوله و خوشحال ورکړه
گڼه دَئ دا هسې شونډي کښلول څوک

مرد هغه چه همت ناک برکت ناک　　دَ عالمه سَرَه خوږ په زیست و ژواک
مخ ئې مخ، قول ئې قول، عهد ئې عهد　　نه دروغ، نه ئې فریب، نه تش تپاک
لَږ ویل ډېر ئې کوَل په خاموشي کښ　　دَ غنچې غُندي خوله ډکه سینه چاک
چه خبره د پسی د بلندئ شِي　　په لوئي لکه اسمان، په پستي خاک
په تمکین کښ لکه سبر په پستيٰ[۲] کښ　　په هر لور څانگي ږنگوري لکه تاک
لکه گل شگفته روي تازه په باغ کښ　　همېشه دَ ښو بلبلو پر بلغاک
چه دا هسې ښه ویل کا زه حیران یم
چه خوشحال راوړ له کومه دا ادراک

نه[۳] په خوله گولی خوږې دَ ټوپك　　نه نمږئ دَ لیئمانڅو دا ښانك
که دَ تن ویني یو جام وڅښې لانبې دِئ　　نه اوگره دَ بخیلانڅو یَو کاشك[٤]
که اوبه دئ دَ بخیل دَ منگی وڅښې　　ستا دي وَخېژي دانه په چنغږک
نه دَ شوم دَ لاسه سل ښېري خوږلی　　نه[٥] د مرد دلاسه پاڼې دا پالك
دَ نامرد سَرَه مکې ته رسېدلي　　ښه دا مرد سَرَه په ښېد ښېد یا ورک
مخ دئ سوَي دَ دوږخ په لمبو ښه دئ　　نه چه سم کړې وَ ممسك وته ورسك[٦]
دَ منت سره حلوا مه خوره خوشحاله
تر حلوا نه لا بهتر دَي وچ کنډک[۷]

---

[۱] ونسیم.

[۲] په سخا کښ.

[۳] ښه.

[٤] د قاشق مفغن دئ.

[٥] ښه.

[٦] ورسك: وربوز درلودنکښی او گردنه درلونکي غر یا د کلا برج (سیند).

[۷] دلته کنډک په معني د یوه ټوک ډوډئ دئ.

Downloaded from: ketabton.com



# ل

اقربا راته اقرب شول    رضا من مي په تعب شول
دواړه ترُونه مي ناأهلَ    ابو جهل، بو لهب شول
زه ئې بند كړم په مغلوُ    په خانی[۱] او په منصب شول
رشوتونه ئې قبول كړه    په تلاښ كښ زوز و شب شول
دا لوي زوی مي لوي مشه    دَ زرو بلا سبب شول
زه ئې هند لَره روان كړم    په نشاط او په طرب شول
خپلخانه مي شوه په غُرونو    پرې كارُونه پېښ عجب شول
ناز پروره زوی مي واړه    په فرياد و په شغب شول
چه ئې نمر ليدلَي نه وُ    په ځنگلو تشنه لب شول
درست اولس قبيله واړه    گرفتار په ډېر غضب شول
په آه آه دَ فراقجنو    زړُونه وړی دَ عنب شول
خوشحال نه مونده ختِكوُ
كه ئې هر څو په طلب شول

بد زحمت شی په بازُونو يو يو كال    نوم ئې څه دئ پارسي سيه پيخال
طعمه اَچَوِي طلب دَ اُوبو ډېر كا    ور پيخال كاندي دَ لويو په مثال
په نبات دَ غوا په غوړ سَرَه باز صاف كا    يا علاج د سنگتا وكړه دم در حال
دَ سنگتا و ترتيب اوبه دَ درياب واخله    د صحرا په غوشيو تاوده سفال
پكښی اچوه چه ښې اوبه په جوش كا    بول[۲] ناس، نبات بكښي مثقال مثقال
دا سنگتا وكه دَ اوبو سَرَه باز ځښبينه    فائده ئې تجربه دَه دَ خوشحال
كه يوه ذره لونگ هم پكښي وينه
په ښيښه كښ ئې ساته په ماه و سال

په درست جهان به نه وئ يو د ما غُندي رسوا بل[۳]    ورځَم توره وكښلې چه مين واروم په تا بَل
يو تير دي وَويشتمه چه د ما دَ درد دارُو شو    هان اي د ما طبيبه! چه ښه روغ نه يَم يَو بيا بل
كه سبر كه عر عر كه صنوبر ستا تر قامته    څه نوري دَ باغ وني؟ چه په ځېر ستا دَ بالا بل
نن ما وته چا ووې چه اشنا غواړې خپل تېغ ته    دَ خداي دَپاره كوم به له ما به وی اشنا ستا بل
ستا زلفو مي زړه يووړ سترگی ستا راته پڅو دی    تاراج به دا تركان كا نه به ځيز يوسي په غلا بل
نه ننگ لَري نه شرم تا وې هر چه عاشقان دئ    بې ننگ دِي كه بيشرمه هيڅ عاشق نشته تر ما بل

---

[۱] په خانيو په منصب شول.

[۲] يعنی د انسان بولي.

[۳] دا بدله په چاپي ديوان كښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



ملا ئې فتنه گر دئ ور ښئي فتنې جنگونه
تعليم ته ئې خوشحاله زر پيدا شوي يَو ملا بَل

چه په زلفو ئې پابست شول    دَ ماهي غُندي په شست شول
دَ خمار وېره ئې نشته    چه دَ شاه دَ سترگو مست شول
چه په لام[۱] و بې ئې مينه    دَ سرو ميو مَي پرست شول
دَ هغو ښادي به تل وي    چه دَ شاه دَ غم تر دست شول
چه دَ خولې رموز ئې بيا موند    عاشقان له نيسته هست شول
دَ خوشحال خلاصي له کومه
چه ئې تا غُندِي په کست[۲] شول

خپل پردِي چه دَ شمشېر شول    کشتني تر شماره تېر شول
توره وَنغاړه خوشحاله    اوس به څو وَژنې چه ډېر شول
که صاحب[۳] و که تُر سم وُ    خټك ډېر دَ دُوئ په څېر شول
هسي چارِي کا ستا زوئ    چه اَتش[٤] شاهي بيگ هېر شول
چه نظر وَکړِم خپل ځان ته    څو غمُونه را چاپېر شول
دا پېرى ده که طالع دَه    چه گيدړِ وه راته شېر شول
هيڅ دم مه وهه خوشحاله!
گه نبات درته گنډهېر شول

دَ ښه يار ديدن وَئ تَل    سَرَه ځاي چمن وَئ تَل
تر کنار او تر آغوش مِي    هغه گلبدن وَئ تَل
لکه سيب ځما په خوله کښ    غه[٥] شيرين ذقن وَئ تَل
رقيبان وَلاړ له ورايه    له ما هم سخن وَئ تَل
جدايِي نه وَئ له ياره    سَرَه ځان و تن وَئ تَل
مه مانې وَئ مه عتاب وَئ    په رقيب شيون وَئ تَل
دَ خپل يار دَ کوڅې خاوري
دَ خوشحال وطن وَئ تَل

---

[۱] لب: لب.

[۲] قست.

[۳] که ساهب وه که تور سم وه.

[٤] د مغولو طرفداران او د مرحوم شاعر مخالفين وه.

[٥] غه مخفف د هغه دئ.

Downloaded from: ketabton.com



راشَه بر چشمم نشین ای شاه خوبان چگل[1]    لمعهٔ خورشید را بر چشم باشد جای تل
تا وَیل قند و نبات و شهد یکجا دیدهٔ؟    آری آری آن دهان و آن لبان و آن وَیل
سر[2]دهم تا هر چه فرمائی ترا فرمان رواست    از تو حکم ای پادشاه مهو شان از ما منَل
ځار و قربان تو گردم گر به تیغ خود کشی    نی به تیغ دیگران خونم ترا باشد بحل[3]
نن بمن میگفت در کوی تو میرفتم رقیب    شوخ چشمی بر نه میگردی ازین کوبر شړل
ځو په تن گتم ضعیف و لاغر و خوار و نحیف    نیست اندر فرقت خوبان مرا خوب وخوړل
تا جفا و جور از حد و نهایت بیش کړ    من نیاز و عجز و زاری مینمایم یَو په شل
تل سبا بېگاه آه و ناله و فریاد ماست    بر دل سختت نشد تاثیر زاری و ژَړل

هېچېری مثل تو دکبری نیاید در نظر
زین سبب خوشحال میل دل نمیدارد په بل

مخ دی لاله گل دئ لا بهتر تر لاله گل    سرې شونډې د مل دي لا بهتری دئ ترمُل
ډار کړمه لازم شم چه پرېشاني کړې خبري    مښك دئ که عنبر دئ ستا پرېشان پرېشان کاکل
زلفي دي ښکاره کړه خجل شِی کار کښ    څه لَره ښېوه کا لکه ستا زلفی سنبل

نه زه ملك غواړم نه مال    نه دَ دهر نور جنجال
نه په تله دَ جهان غم کړم    نه په راغله ئې خوشحال
دَ اسفل فکرُونه نه کا    په اعلی ختلَي[4] فال
په اسمان باندي ببره کړم    دَ همت په پر و بال
دَ خپل خداي منت را باندې چه ئې رانه کړ بل خیال
بخارا بخښم هغه یم    په دیدن دَ یوه خال
وَ جهان وَته ئې شا دَه
که خوشحال مُومِي وصال

یو ځله که ووینمه بیا وچلوی دَیار خپل    نور به تر قیامته شکر وایم دَ دادار خپل
هر چه بار ئې پرېووت په ځاي پاتو شه له ملونُو    بې وفا یارانو تېارَي وَکړ دَ بار خپل
ښه سَرِی پردَي په دلاسا په نېکي خپل کا    کومه ښاغلتیا دَه چه څوک بد کا زړَه دَ یار خپل
درد دَ زړه پنهان ساته که ویني د ځگر شي    مه وایه دښمن ته که دئ دم خبژي اسرار خپل
زه خو امید وار یَم گندي وئ چه مرهم کښېږدي    پسله انتظاره په پرهار دَ امید وار خپل
حکم حکم ستا دَئ که آشتي کوې که جنگ کړې    ما له لاسه واچوه اوس حکم انتظار خپل
زړه که عافیت غواړې نظر په کښلیو مکړه    هر چه کښلي گوري نور دئ واچَوی قرار خپل
گبر که ترسا دَئ که جهود که مسلمان دَئ    دین قبله لرِی، د ما قبله دَئ مخ دَ یار خپل

---

[1] چو گل.

[2] سرور ماهر چه.

[3] بحل عربي دئ یعني بخښلي.

[4] ئې قیل و قال.

Downloaded from: ketabton.com



مه وایه و چا ته دَ خاطر له درده دُوکه     اې ځما لېمه چه څوک به نه مومې غمخوار خپل
یَو ځله دَ زړه په غوږو فهم کړه خوشحال ته
تا وته چه عرض کا ګښُې ګښُې دَ زړه زار خپل

## م

آشفته دي دَ جمال یم     همېشه دي پدا خیال یم
نورُو مینُو ته مِي شا کړه     مین ستا په زلفو خال یم
چه مِي اُوښي په ګرېوان ځي     دا په تا پسې بې حال یم
ځاي مِي ته يې په خاطر کښ     ته ریحان يې زه سفال یم
نور مي هر څه فراموش دي     آرزو من دي دَ وصال یم
لا د مهر وَیَل پرېږدَه
په ښکنځلُو دي خوشحال یَم

په مردن پروا دار نه یم     په زندان پروا دار څه[1] یم
یو غصه دوهم ببېلتون دَئ     چه په اور په اوبه زه یم
اشرفخان[2] دي راته کښلي     څه خو خوښ په خط دَ ده یم
پنځه میاشتِي یم په بند کښ     بابا ډېر ډاډه په زړَه یَم
زویه ما خو غم دِ تا کړ     چه ته ښه يې زه خو ښه یم
چه فلك سَرَه سر باسي     په همت کښ هغه زه یم
کړه يې نه دِي بې حکمته
زه خوشحال دَ ده په کړه یَم

په زړه تر یار ځارېږم دَ پتنګ غُندِي پېرې کړم     یَو راز دَي په دا کار کښ که په خوله ورته ښېرې کړم
بو باغ دَئ دَ ګلونو نُو چه وَما وَته غوړېږي     چه یار را سَرَه ناست وِي ورته زه دَ ناز هېرې کړم
عاشق می باتو نشو پرېږده پڅي پردې اوسي     ښائِي چه بوالهوس ته دَ عمزې توري تېرې کړم
چه ځاي مِي په ګلشن وُ هغه زه وم راشه ګوره     په هر چرته چه درومم په ګلخن باندي دېرې کړم
دا زړه دئ که قسمت دَئ که څه نور څه کوډي موډي     چه زه ئې مبتلا د ستمګري په څېرې کئم
چه ته له ما نه ولاړ شې، که بالښت که نهالی وي     په درسته شپه چه ژاړم په ژړا دواړه ترې کړم
که پایم په دنیا کښ زه خوشحال په دا زوړ والي
دَ خپلوُ دَ پردیُو به لا حُو میني سپرې کړم

---

[1] نه یم.

[2] د خوشحال خان د زوي نوم دئ، چه تخلص ئې "هجري" او د پښتو یو مقتدر شاعر دئ.

Downloaded from: ketabton.com



ته دلبره که عذار يې زه وامق يم — ستا په مينه کښ هر ګوره موافق يَم
ته که له ما نه پايې معشوقه ئې — زه به بې له تا په څو پايم عاشق يم
ته تل خانده هوسيږه ځما زړه بې — غم به زه کړم چه همېش دَ غم لايق يم
پتنګ خان په اور کښ وَيشت دا ئې ووې — که مي لاف دَ ميني وَواهه صادق يم
که د غشيو باران را باندې وشي — که به سترګې له تا واخلَم منافق يم
چه و تورو خاورُو هسي حسن ورکا — زه حيران پاتو په صنع دَ صادق يم
د نيمګړو طبيبانو دارو اور دَئ
زه خوشحال په طلب ستَړي دَ حاذق يم

تا چه زلفي کړې خم خم — ځکه نه وايې سم سم
تا چه سترګي کړې را پورته — پکښي زه وينم غم غم
څو به ته لکه هوسی بې — تل له ما ګرزې رم رم
دَ خوبیَ کار په تا دئ — نن په دا دور تم تم
که دِ ډېر نه وِي په زړه کښ
خوشحال ياد لَرَه کم کم

تا خو ياری پرې کړه واړه زه در پسې درومم — څو در پسې درومم هونبره ډېره خواری مومم
هيڅ په ما پوهېږې نوم مي څه دئ ستا په عشق کښ — قيس دَ ليلی وُ، تا ويشتلي ليس نومم
زه څه هغه نه يم چه خوښي غواړې له ما نه — تل د د غمونو لبالب جامونه شومم
هر چه شهسواران دي واړُو وَتېځلي[1] وراندی — زه دَ دُوي په منډه دا يم[2] ځَم ورپسې درومم[3]
ځار تر تا رسول[4]! تا مي يار ليده په سترګُو — راشه را نيژدې شه چه دِ دواړه کَسِې چومم
يو لوري مِي نشته ميني هسِې سر هوا کړم
باد غُندِي خوشحاله په هزار طرفه درومم

څه عجب زيبا صورت دَئ چه زه بيبست دَ ده يم — راشي وګوري عالمه چه پسو تر دست دَ ده يم
دواړه زلفي ئې دَ زړه په قصد سرَه شکست کړ — زه په ځان و زړه بندِي په هر يوه شکست دَ ده يم
زه حيران يم له دې حاله چه دا چا عالم ته ووې — چه همه عالم خبر شو، چه زه هم نشست دَ ده يم
آوازه شوله په دهر نيك بد واړه خبر شول — چه ځما اشنا يَو بت دئ زه هم بت پرست دَ ده يم
درسته شپه ئې په هر غولي زه وَلاړ نارې وَهمه — چه اې خلقو عيب نشته که مستي کړم مست دَ ده يم
که دا خپل صورت دې نيست په عشق کښ نن کړې اې خوشحاله!
بيا دَ ځان دَ هستی[5]لاف کړه، وايه زه هم هست دَ ده يم

---

[1] يعني تاخت ئې وکي.
[2] يعني لار او شهراه.
[3] لغومم.
[4] ځار تر تا رسول شم.
[5] دا هسي.

Downloaded from: ketabton.com



چه دا هسي دِ له جوره مشوش یم          له آزاده مي حذر کوه درد کش یم
که قوت دِ دَ هاتي په زړه مزري يې          زور قوت را باندي مه کوه آتس یم
دَ جنون بخره مي اوس نده هاله وه          چه مین په هغه یار پرېوش یم
څوک به ما غُندِي يَو هېښ په زړه ساده وي          چه وفا غواړم له کښلیو په دا اش یم
راته څه وايې، چه ته په چا مین يې          په ایمان به درته وایم پنځ[1] و شش یم
که مریي مي زر خرید گرزي بې شماره          و خپل یار ته زر پېرو دئ دَ حبس یم
طعام خورم مزه مي نه درومي تر کومي          همېشه د شیرېنی مزه چش یم
غم د اور له تا وه زر لَري چه قلپ وي          ځما څه اندوه له اوره چه بې غش یم
د دې دور حریفان که شوده پی دئ
زه خوشحال دَ شودو پیو په سررش[2] یم

ځما خوب له اندېښنو نه شي بیدار شم          و عالم وته په دا تهجد گذار شم
غرُونه غرُونه گناهُونه را په یاد شِي          وَ خپل خداي وته گويا په استغفار شم
استغفار په خوله په زړه دَ شر فکرُونه          بیا له خپله استغفاره شرمسار شم
دَ دې دور دَ شیخانو حال مي وکوت          چه ساعت ور سَرَه کښېنم ترې وېزار شم
ما دا هسي شیخي دوي[3] وته بخښلې          په محشر دِ دَ رندانُو سَرَه شمار شم
چه حلال کسب ئې نه وئ شکرانې خوري          خدایه بخَن په شېخي دَ شیخ مکار[4] شم
دانا تار چه په جلي ذکر شیخان کا          کله زه په تاخت راضي په دانا تار شم
چه څرگنده سر بازي کاندِي دَ تورُو
زه خوشحال خټك تر هسي هنر جار شم

چه دَ عشق په ملك ندیم یم          دَ اندوه په ملك مقیم یم
نه بهښت وَته هوس کړم          نه په وېره دَ حجیم یم
بند دَ یار په اختیار یم          آزاده له هر نعیم یم
سینه زه لَرم روښانه          تا ته تور سیه گلیم یم
هغه قول چه حما کړَي          په هغه قول مستقیم یم
خلیفه[5] اصل ځما دئ          لوي نسبت یم که یتیم یم
که نور اوس دَ میني لاف کا          زه عاشق په یار قدیم یم
په غه اور چه عشق ئې نوم دی          گه براهیم کله کلیم یم
دَ یوه نفس دَ پاره          په امید، وهم، په بیم یَم

---

[1] محشي ورته لیکي، چه د ابجد په حساب ۵۰، و) پنځه او شپږ راځي، چه (هو) ځني جوړېږي، یعني په هومین یم.

[2] محشي ورته (پېروي) معني لیکلې ده، په یوه نسخه کښ (د مخ رش یم) هم راغلي دَئ.

[3] دیو ته.

[4] په ځنو نسخو کښ د مکار پر ځاي رحمکار راغلي دئ، په دغه مسرئ کښ د (بخن) معنی حل طلبه ده.

[5] تلمیح دي په دې آیت شریف اِنی جاعل فی الارضِ خلیفه.

Downloaded from: ketabton.com



## زه خوشحال په خرابات[١] کښ
## گرم په امانت عظیم یم

چه ستا له زیبا مخه چېري گل وته نظر کړم　　پخپلُو سترگو خیر شم چه که ښح[٢] پکښي خنجر کړم
چه ستا له زیبا مخه څوک بل مخ راته وستایي　　یو هسي قهر راشي چه که غوځ ئې دغه[٣] سر کړم
که هر څو دَ بهار گلُونه ښه دي په چمن کښ　　یو گل به په ښایست کښ ستا له مخه برابر کړم
دا مهٔ[٤] وایه و ما ته چه ته ولي وَر په ورشوې　　خپل مخ وته ووایه چه ئې ولي ور په ور کړم
خاطر مي څه خو خلاص وُ فراغت وم له غمونو　　چه مخ دِ را ښکاره کړ زه دِ بیا په نارو سر کړم
که واړه خزانې دَ شاه جهان بادشاه ځما شِي　　همه واړه به زه په یوه خال دَ خوبا ورکړم
رشتیا خبره ښه دَه راته غوږ باسه خوشحاله
که تېر تر سر و مال شوې ځما ځانه خوله به درکړم

څه زه څه مي مجال دَئ چه به وَوایم ستا یار یم　　دا هونبره عزت لږ دَئ چه گداي دِ دا دربار یم
چه ما زهد، تقوی، طاعت، بندگی لَره څوک بولي　　زه کله ستا له عشقه وَ بل کار وته وزکار یم
په لویه ورځ به ستا په گریوان ښخي کړم منگلي　　څه ته څه دِ وېَل دئ، ستا د خون څه پروا دار یم
په ما باندی ته تل د واړُو سترگو عزیز یې　　که ستا تر فهم هر څو تر دا تورُو خاورو خوار یم
سودا دَ یار دا وصل که په سر شِي پایمال شي　　دَ سر و مال به هیڅ صرفه وَ نکړم خریدار یم
چه وَمرم عزیزانُو تور کفن را لَره بویه　　پدا سبب چه زه دَ تورُو سترگو سوگوار یم
هزار ځله په کال کښ یَوَه میاشت دَ گلُو وخت وي　　دَ یار په صحبت زه محبوبَ تل تازه بهار یم
څه جك وهې ناصحه چه و ما ته نصیحت کړې
در درومه خپل روزگار کړه زه خوشحال پخپل روزگار یم

چه نظر د په تیك[٥] د تور وربل کړم　　دَ جهان بادشاه دَ ځان مخي ته بل کړم
لا د ما طالع بهتره تر هر چا دي　　چه دا هسي کښلیو سترگو ته کتل کړم
دَ سرو شونډُو په شرابوُ چه بېخود شم　　د مستی رقیبانوُ ته ښکنځل کړم
اجابت به ئې لا کله تاثیر کاندِي　　چه دعا دئ دَ وصال په سحر تل کړم
چه مي زړه ورپسې سه[٦] هونبره سرېږي　　چه په مخ ئې پرهاررُونه په چیچل کړم
د ښه مخ مینه می نه درومي له دله　　که تَل غوږ دَ ناصحانوُ په ویل کړم
په صورت می پرهارُونه دي خوږېږي　　په وار وار دَ هر پرهار دارُو به تل کړم

---

[١] په خیر آباد کښ.

[٢] سیخ.

[٣] که غوځ د هغه سر.

[٤] و مه وایه.

[٥] یو پسوال دئ چه ښځی ئې پر تېکو ځروي.

[٦] سو.

Downloaded from: ketabton.com



دا داغُونه چه می سرِ په زړه بنځوس دئ    تر بل کال به ئې دَ عشق لا لاسه سل کړم
چا په زور را لَرَه غم نه دَئ راوړي    وَ خپل زړه ته ئې پخپله راوستل کړم
ازلي مي دَ غم بخره ده راوړې    غم که نورُو لَرَه درومي زه ئې خپل کړم
یو نېبېخت ساعت به وِي چه راته غوږ کا    چه په وَرئې په یاد فریاد ژَړَل کړم
چه لا ښهر دَ دهلی شته خوشحاله
څه فائده که وران په آه سَرَه کابل کړم

چه په خوب شم ستا له خیاله سَرَه خواب کړم    چه بیدار شم دَ مخ سود دِ په آفتاب کړم
چه مي ستا دَ خولو بوي تر سپږمو تېر شو    نور به څه مینه په مښك او په گلاب کړم
بې نصیبه لیدل نه میسر کېږي    په لیدو پسې که هر څو اضطراب کړم
ښه لیدَل ئې په مثال آب حیات دئ    دا تشنه خاطر به کله پرې سیراب کړم
په ښکنځا مي کله کله سر افراز کړه    هغه دم چه دَ سوال هیله په خواب کړم
ما ته څه وایې چه چا هسې خراب کړې    چه دَ حال پوښتنه نه کړې تا خراب کړم
ما ته مه وایه چه ولي پېچ و تاب سوې    ستا دې تورُو زلفُو هسي پېچ و تاب کړم
چه له مخه دِ پلَو واخیست لمبه شوې
بېچاره خوشحال دِ درست سَرَه کباب کړم

څو ژوندَی ئې دَ زرق مه کوَه هیڅ غم    خپل قسمت به در رسېږي بېش و کم
قابل غم د ننگ و نام کا په دنیا کښ    نه په غم وِي دَ دینار او دَ درم
قارون لاړ تحت الثری لَرَه لا درومي    موسی (ص) پاس په علیین کښېښ قدم
پسله مرگه ښخ دَ مرد تر قدم ښه یم    گور مي مه شه دا نامرد له گوره سَم
دَ خوشحال قدر که اوس په هیچا نشته
پسله مرگه به ئې یاد کا ډېر عالم

چه په ما باندِي مین یم    چه ځما په غم غمجن زه ئې غمجن یم
ما وې یَو زمان که ببل شم زه به ومرم    چه جدا پایم له یاره دروغجن یم
که دَ پښو خاورى[1] ئې نه یم باري شکر    چه دَ گرد په دود ئې نښتي په لمن یم
په نور څه مي دَ خاطر دلاسا نشي    په جهان کښ آرزومن دَ ښه دیدن یم
خوبه راشه! ما اوده کړه چه پخشو[2] شم    په فراق کښ په ژړا ژړا کړمن یم
که رقیب په دا خبر شي ترو به څه کا    چه له یاره سَرَه زه لاس و گردن یم
یماني چهره مي ولاړه حبشي شوه    دَ فراق په اور ئې سوَي لوغړن یم
زه دَ دوو په ځاي درې گواه لَرم په عشق کښ    رنگ مي زیر، سترگي لندې، زبون په تن یم
ته محبوبه له شیرینه د دې وخت یې!
زه خوشحال دَ اوسنِي دور کوهکن یم

---

[1] خیري.

[2] د دې کلمې معنی نسوه را ښکاره عیناً ولیکه سوه، په یَوَه نسخه کښ بخشو راغلي دئ.

Downloaded from: ketabton.com



ځوک خو به کېده واړه به نه وه سَرَه سم[1]
ته د کښلیو سر یې، نور تر تا دِي واړه کم

یو کلي یا دوه چه ئې ستاینه کا دا ډېر دئ
چون کښلي هغه دَئ، چه ئې ستايي درست عالم

وخوځه په باغ کښ رنګارنګ ګلونه ګوره
ګل دئ دَ ګلابُو داَ ګلونو مقدم

څه لَرَه اې میاشتي ته خپل مخ ستایې و ما ته
دَ یار په مخ مي نورځِي ستا په مخ دروِمي تورتم

مخ ئی لکه اور دئ، پرې پرې دِي توري زلفي
څه رنګه بازي کا په سره اور کښ تور ارق

ځوک چه ډېر ډېر ګوري یار، دَ زړه مینه لږېږي
ځو ئې ډېر ډېر ګورم، پرې مین شم دم تر دم

تا وَیل خوشحاله که مي غم لرې په زړه کښ
خوښ اوسه خَوښي کړه تل تر تله ستا څه غم

چه بازئِ په جهان کړم هغه زه یم
هم ئې پوسم[2] هم ترې یوسم اړې پر نه یم

و اغیار ته لکه کاڼي موم و یار ته
په سختي او په نرمي کښ هغه زه یم

و بلا ته دَ اختیار توره په لاس کښ
و قضا وته تسلیم په شان دَ مړه یم

لکه بوټي دَ کیمیا په مرغزار کښ
چه په حال مي خبر دار شِي دَ هغه یم

تندر هم ځما له ذاته نه پیدا دئ
په سپین زړه که دَ باران سپېڼي اوبه یم

په هر نام چه دِ رضا هغه مِي بوله
آدم زاد، فرښته، پري، بوده، لېوه یم

دَ کونینُو ننداره دَ زړه په عین
دَ وېښ والي په دود کړم تا ته اوده یم

دَ هر چا بازار ځما په سودا تود دَئ
خبر دار په سود دَ بحر هم دَ غره یم

هم دَ اُوښ غُندي هلك سَرَه په لار ځم
چه په بده لار مي بیایې هلته نه یم

هم مي ځیز هم مي نا ځیز کا په زمان کښ
زه خوشحال په حال خبر نه یم چه څه یم

ځو به ستا دَ دیو غمونو زغمل تل کړم
دَ یارانُو کمي نشته یار به بل کړم

په قراره قراري دِ یاري پرې کړه
دَ نېمګړي نیت و چا وَته ویل کړم

چه وعده دئ دَ وصال چېري خطا شِي
په ژړلو خاوري ختِي دَ بورجل کړم

هر طبیب لَره چه وریشم ناقص وي
چه له حاله ئې خبر شم ځَني تلَل کړم

نور به هسي یك تنها له خلقو اوسم
دَ هر چا سَرَه چه کښېنم غم حاصل کړم

بلا پېري زړه لرم دا ئې عادت دَئ
غم وَ بل لوري ته دروِمي زه ئې خپل کړم

چه منګي مي تشول دَ مېُو زه وم
اوس نور ډکي پیالې اَخلي زه کتل کړم

منکري دَ عاشقیَ سَرَه مله دَه
په انکار که دروغجن یم دروغ سل کړم

خالي لاس ورځَني ځَم هیله مي نه وه
چه ډک زړه به ئې له ډکه باغه تلَل کړم

پدا هونبره هوښیاریَ هسي هېښ یم
ځوک چه زهر راته نوش کا، هم مَنَل کړم

غر ګناه راته دَ خس غُندِي ښکارېږي
چه په مهر کرم رایشم بخښل کړم

هر غزل مي په بیاض باندِي وګوره
زه خوشحال خټك دَ زړه په وینُو کښل کړم

---

[1] دا بدله په چاپي دیوان کښ نده راغلې.

[2] پوسل: تربیت او روزنه او پالنه.

Downloaded from: ketabton.com



چه مين دی د زلفينو په سلسل يم | خود پخود وَ لېونتوب وَته مائل يم
وايیِ ته به دَ مجنون غُندیِ مين وې | که وَ چا رُوته می گورې ترې فاضل يم
ما به څه پوښتنې چه څه لَرَه زړه تنگ يې | ستا دَ تنگی خولې په فکر کښی تنگدل يم
دَ گلونو په ليده دی مخ را ياد شي | ځکه هسی په گلگشت دَ چمن تلل يم
په ځېر ځېر راته کاته کړې ځَېروې مي | چه دِ زړه هسی جفا کړه اوس دی خپل يم
لکه څوک چی پخپل دين کښي مستحکم وئ | هسي زه دَ يار په مينه مستقل يم
چه جدا له خپله ياره ژوندة پايم | زه په دا ژوننَون له ياره تل خجل يم
دَ نفر غُندي مي عذر چاره نشته | هر چه ما واَته څه وايې په منَل يم
لکه څوک چه خواړه شهد وَخوري خوښ شي | هسي خوښ دَ شکر لبُو په ښکنځَل يم

زه[۱] خوشحال په گلرېزي کښي بهار راغي
په زيبا وَيَل هر گل ته مقابل يم

حيران يم نه پوهېږم چه زه څه يم څه به شم | له کومه يم راغلي بيا به کوم لُورې ته ځَم
خبر دَ هغو تلليو بيا په بيارته چا رانه وړ | له حاله له احواله ئې که هر څو څوک پوښتم
دلې چه څوک ليده شي نن[۲] ئې په[۵] پدا باندې[۳] کښ | آخر ئې له دې ځَايه وار په وار واته گينم
جهان يَو کټوري شُوه زه په مثل دَ مېږي يم | حيران پکښ جار وَزم لاس وپښې پکښي وهم
په هيچ[٤]کله زړه ښه کړي کله زړه په هيڅ بيا بد کړي | په کام که په ناکام دي واړه باد د دې پيما يم
دنيا وَته چه گورم کار و بار ته دَ وگړي | دَ اوړکيو تماشې دئ زه ئې هم ور سَرَه کړم
چه ته پرې مبتلا يې که دِ مال دَئ که دِ ملك دئ | دا واړه بې له خوبه بې له خياله نه وينم

چه تور وښته دسپين شول خوي دِ نور نشو خوشحاله
باور کړه اوس ناحق دَ سرِی نوم در باندي ږدم

دا صفا په لارې نه يښي قدم[٥] | هميشه له درويښي وهي دم
هغه کله شيخ، ملا، ولي، درويش دئ | چه نظر په سود زيان په مدح و ذم
درويشان په تفاوت ندي راغلي | خپل پرَدي په سترگوُ واړه گوري سم
دَ درويش تر زړه به نه رسي دا دواړه | آئينه د سکندر که جام دَ جم
و درويش علم په درس په مکتب ندئ | تل نظر لَري په لوح او په قلم
که څلورر دئ که پنځه که شپږ اوه دِئ | دَ درويش نشته دا هېڅ اتم انم
ما و تا وته ديوار شته غاړي غرونه | په درويش تر شرقه غربه دئ يوسم

[۱] د خوشحال.

[۲] نن ميشه په دا.

[۳] له کلي جلا يوه کوچنی بنا بانده بولي.

[٤] که زړه په هيڅ ښه کړي که نه زړه په هيڅ بد کړي.

[٥] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



نه په نون دئ نه په میم دَئ نه په جیم دئ[1] کامل پاس په لام وهلَی دَئ علم
چه ذره طلب دَ نمر کاندي خوشحاله
په همت مه شه ته هم تر ذرې کم

دا نه وایم وَ چا ته، چه پارسا یم فاسق نه یم دَ خداي منت را باندِي چه هر څه یم منافق نه یم
یا ما زده ستا په حسن، یا ځما په مینه تا زده که هر څو کښلي ډېر شی نور په هیچا عاشق نه یم
د مخ مثال دي بل کړ دَ پتنگ غُندِي پرې راغلم بیا ته به راته وایې، چه په عشق کښ صادق نه یم
که ته لکه لیلی یې ما مجنون بوله په عشق کښ که ته لکه عذرا یې زه هم کم تر وامق نه یَم
یا مست یا لېونَی یم یا مي نه زده کار د میني ښکاره ښکاره وَیل کړم دَ رازُنو سارق نه یم
دَ هر ښهر په کوي کښ ناقصان طبیبان ډېر دئ که هر څو پسی گرزم زه لا پېښ په حاذق یم
څو ذکر څو مذکور کړې تل ځما دَ گمراهیَ انصاف ښه دَي زاهده زه مخلوق یم خالق نه یم
دروغ وعده هم ښه دَه دَ سرِي دَ زړه امید شي یو تش مهر خو وَکړه که دَ پک د ِ لایق نه یم
که وایې هغه وایه چه دَ عشق دَ محبت دِئ
که نور څه راته وایې زه خوشحاله شایق نه یم

دَ خپل یار میني په زړه هسي بیمار کړم چه په درد کښ ئې هر گوره ناقرار کړم
چه ناقص مِی دارُو کا پرې نه رغېږم دَ حاذق طبیب طلب په کوم دیار کړم
توري سترگي، توري ورځِي، توري زلفي دا همه توري بلا وی[2] زه ئې خوار کړم
که یَو تَش نظر دَ مهر راته وکا دَ دنیا واړه منصب، مال به ترې جار کړم
زه خو هسي نادیده نه یم اې خلقه! چه به بِه تر مخ گلُونه دَ بهار کړم
دَ بهار گلوُنه اور شِی زه پرې سوځم چه بې کښلیه مخه سیل دَ گلذار کړم
بې له ځانه په بل چا مي پېرځو نشِي چه کاته د مهو شانُو په دیدار کړم
چه ډېر ډېر پرې کښلي مخ ته کتَي نشم دواړه سترگي ئې مزري دِئ ځني ډار کړم
ما خوشحال په ځان پخپله چارِي وکړې:
چه په ملك کښ یو ناترس وي زه ئې یار کړم

دَ تقوی د پارسایَی دعا تل کړم چه د عامي اثر نکا څه ویل کړم
زړه مي خداي مین کوي په ښایسته وو هسي نه چه زه پخپله زړه مایل کړم
چه عالم مي اړوي دَ عشق له کاره زه اقرار ورته په خوله انکار په دل کړم
مگر زه فسق او فجور لرَه پیدا یم چه بیا بیا ئې ماتوم که توبې سل کړم
واعظ حوري ښه کوي تر دا دلبرُو که هوهو ورته لَرَم کله منل کړم
زه پدا سبب لیمه غواړم له خدایه چه دلبرو ته دَ سترگو غَروَل کړم
چه دَ عشق غموُنه نور گا لَرَه درومي زه ئې مخي لَرَه ورشم واړه خپل کړم
عاشقان به دَ جهان په ما پېغور کا زه که اوس په عاشقَی کښ خوي بل کړم

---

[1] په دې بیت کښ نون اشاره ده ناسوت ته او میم ملکوت او جیم جبروت، وا لام عالم لاهوت ته، چه دا د تصوف په اصطلاح خاص عالمونه دئ.

[2] بلا دئ.

Downloaded from: ketabton.com



و هر چا وته ئې راز وایم دَ میني
د هر چا سَرَه چه یار شم یار خجل کړم

زه لمړی په آشنایَی بازېدلم
واړه غم وُ چه پرې ښه وَ پوهېدلم
د زړه زور دَ صورت توان را څخه لاړ شه
چه درانه دَ ښلتانه پېټی آخلم
آشنایي یاري په مهر په رضا شِي
پدا کار کښ په چا نشي زور و ظلم
سر اول دَ یار دَ یاد په بالین کښېږدم
له غه پسه په پالنگ باندِی څملم
چه دَ سر په ځاي سینه راته بدِه[1] کا
هم هغه به دَ ښو په غشیو ولم
ښایسته لکه گلوُنه زه طوطی یم
چه و هر لوري ته ځم په گلو ملم
که سیالي له مَرَه[2] شِي نه ئې له بخته
شاه پخپله بې ریباره و بللم
هوسی چا په دَو نیولِي دِئ خوشحاله
بیهوده په غزاله وُو پسې زغلم

زه چه هسي په تعجیل او په شتاب ځم
خرابات لَرَه په هیله دَ شراب ځم
د ساقي له لاسه مي چه تناول کړم
بیا په بیارته به بیخود دَ مست خراب ځم
دَ ساقي دَ مخ جذبه مي مخ ته بولي
چه دا هسي میکدې ته په ترتاب[3] ځم
درد د درد مي ئې له خمه دئ نوشلي
اوس په هیله په امید دَ مي ناب ځم
چه مي نشِي بله یو سر بل سر سترگي
له جهانه مخ پوښلَي په نقاب ځم
له دوو سترگو مي روان دَ اوښیو سیند شو
د دې سیند دَ پاسه زه لکه حباب ځم
خوب و خور مي له خاطره فراموش دي
دَ جمال په خیال ئې سرسته شپه په خواب ځم
دَ محبوبي دَ جمال شغلې آتش دئ
زه خوشحال ئې له لېدَلُو زړه کباب ځم

زه چه تل هونبره ناسازي دَ عالم وړم
دَ خپل یار دَپاره دا جور و ستم وړم
دَ لاله غُندِي داغدار په جهان راغلم
هم دا داغ به له جهانه د صنم وړم
په وصال ئې دَ جهان خوښِی راشي
چه له کښلیو جدا کېږم ځني غم وړم
په عالم دَ مجنون ږغ دَئ مرد مي بوله
په محشر که ځني وراندي خپل علم وړم
هر قدم په ځگر خون ږدم توئي مشه
دَ شرابُو پیالې ډکي په تور تم وړم
چه نرگس ته نظر نکاندي له کبره
و هغو ته څه گلوُنه دَ شرشم وړم
کار کنان دا کار فرماي په حکم کار کا
زړه چه حکم فرمایي هوري قلم وړم
هونبره ډېري خرخښې فتنې جنگونه
بیا به وایې چه زه ستا غنجونه کم وړم
په هر دم دا هغه یار منت را باندي
چه ئې هسي ډیر خیالُونه په هر دم وړم
مخ به چېرې راته سم کړي په یاریَ
که دا خوي به همېشه له عمره سم وړم

[1] محشي ښبانه ورته کښلې ده.

[2] له نره شي.

[3] یعني غم، افسوس، ساندي، نارې.

Downloaded from: ketabton.com



چه په کوي کښ دِ مقيم شم دروغجن يم　　که به نوم په ژبه چېړي د ارم وړم
راته وايې نن زړه څه رنگ وړې له ما نه
که دِ خوړين کړ هم ئې خوښ خوشحال خرم وړم

زه چه خپل قدم دَ عشق په خوني راه ږدم　　هر زمان له تنه سر لکه گياه[1] ږدم
دَ جمال خوبي دي زياته تر آفتاب ده　　دَ نظر دَپاره نوم دربان‌دي ماه ږدم
درسته شپه چه ستا له غمه سره تاو شم　　هر سحر په افلاکونو باندي آه ږدم
که ته تيغ دَ جفا وَکاږې و ما ته　　ستا وَ تيغ وَته به سر لکه گياه ږدم
که مي چېړي لاس و واک در وَرَسېږي　　په سپين مخ به دي دَ غاښ نخښي سياه ږدم
بېچاره خوشحال چه ستا دَ ور گداي شو
ځکه زه وربانديِ نوم دَ بادشاه ږدم

ښه به هغه وخت وي چه به يار لَرَه ور درومم　　وايم چه زه باغ و بهار لَرَه ور درومم
زلفي ئې ښکاره کړې مښک غنبر ئې په ما توي کړه　　اوس به له دې پسه څه عطار لَرَه ور درومم
خداي په کور کښ راکړه، هغه توري سترگي تُرکه　　اوس به ئې په مرسته څه فرخار لَره ور درومم
زار دَ خوړوُ زړوُنو، خوښ خرم زړونه آزار کا　　غم اندوه مي دا دئ چه خپل زار لَرَه ور درومم
هر چرته چه خار وي، هغه ځاي مومي گلوُنه　　ځکه پدا هيله هر هر خار لَرَه ور درومم
کوم سحر ئې وکړ په ما خوار باندی حيران يمه　　مرگ و ته مي ناست هغه خونخوار لَرَه ور درومم
هم ئې په ما وکړل څو څو رنگه ستموُنه　　بيا له ناڅاریَ ستمگار لَرَه ور درومم
يار مي په ښايست کښ لکه گل دَ نو بهار دئ　　سود ئې دَ جمال کړم چه گلزار لَرَه ور درومم
ښه خواږه ياران چه ما خوشحال ليدل په سترگوُ
اوس ئې په ژړا ژړا مزار لَرَه ور دورمم

که مين زه په گلزار يمه په ځاي يم　　که دَ مخ ئې په ننداريمه په ځاي يم
چه جدا ورځنی پاتو يم عالمه!　　په ژړا که په چيغار يمه په ځاي يم
يار مي ولاړ شو پدا لار ورپسې درومم　　که ډېر ستړی پدا لار يمه په ځاي يم
بې له عشقه بله چار نشته بهتره　　که دايم دَ عشق په چار يمه په ځاي يم
په جنت کښ هم دَ حوروُ صفت کېږي　　که طالب دَ ښه نگار يمه په ځاي يم
له خوږوُ شونډو وې سرې شکري اوري　　که طوطي دَ شکر بار يمه په ځاي يم
زه خوشحال په لېونتوب کښ خوشحالي کړم
لېوني دَ پري وار يمه په ځاي يم

که مي هر څو ته بادشاه يې زه گدا يم　　مخ له ما نه مه جار باسه مبتلا يم
زه چه ستا له غلامیَ داغ لَرَمه　　هيڅوک ځان سَرَه سَم نه کښم بادشاه يم
دَ خاطر ور مي ترَلي دَئ په غنو[2]　　له عالمه سَرَه ناست په فکر ستا يم

---

[1] لکه کلاه.

[2] د اغزونو ونو ښاخونه، چه کروُنکي ئې پر کښت د ساتني د پاره را کرزوي، يا ئې د باغ په ورکښ د ترلو دپاره ږدي.

Downloaded from: ketabton.com



که دی څوک په درد دردمن دی زه دردمن یم　　که دئ څوک د تلي خاوري زه خاکپا یم
کله ستا دَ راز خبري په کاغذ کښم　　کله ستا له مخه حال قلم ته وایم
دَ ښه مخ دَ عاشقانوُ دي شمار نشته　　ولي زه په همه وارِوُ کښ یکتا یم
خادمانُو له شمارې مي محروم مکړه　　که دَ نورُو انعامونو دي تر شا یم
که په ما مهر کرم کوې ته ښایي　　که پما جور و ستم کوې سزا یم
تا خوشحال وته ویل چه څه پکار یې
که په کار که نا په گار یم خو هم ستا یم

که همېش دَ ملامت کانې په سر خورم　　غم مي نشته چه په تور ئې دَ دلبر خورم
که دَ سپیوُ دَ کَودِي اوُبه ئې مومم　　زه به وایم چه په تن آَب کوثر خورم
لکه باد په نرگس ولگي تازه شِي　　دَ رقیب څپېړه هسي په بصر خورم
زه به لا ورته تلوار کړم لکه تَړي　　که تل ستا له لاسه توره یا خنجر خورم
چه په ښاخ ئې ډَول ډَول مېوې زانگي　　لا به کله دَ وصال دَ وني بر خوعم
تا ویل خوشحاله چپ شه خوله مي واخله
زه طوطي یم چیغار وکړم بیا شکر خورم

که گناه نه کړَي آدم　　ترو په چا به شو کرم
سکه کرم لَره بایده دئ　　چه پیدا شوَي نور عالم
په یَوَه توبه گناه ځَي　　دَ سړي له عمره سم
گرد غبار چه په گل پرېوزي　　شست و شو ئې کا شبنم
دَ مؤمن گناه په غاړه　　دَ شیطان وِئ بېش و کم
شاهزاده چه بدي وکا　　دَ ندیم سر شي قلم
دَ ده بد په نور وېشل شي　　یار تر یاره ندي گرم
په لا تقنطوا خوشحاله
تل خوشحال اوسه خرم

گرم خو نه یم که ارمان کوم لا ژاړم[۱]　　دَ باغ گل مي غوړېده زه ځَني لاړم
بل بادشاه نشته اورنگ مي عدل نکا　　که سبا بېگا ئې تل په دربار ناړم
دَ طلب غړي مِي لاندِي شول تر غرونُو　　هغه بېل یاران په کومو غړیو غواړم
دَ هواد یاران مي هر زمان یادېږی　　چه ئې مخ په خوب کښ وینم وَیاړم
چه قاصد دَ یار دَ خولې کتابت راوړي　　څو ئې لوند په اُوښیو نکړم نه ئې نغاړم
زه خوشحال پخپل قسمت پوري حیران یم
چه په چرته گرزېدم، په چرته ولاړم

گرم خو نه یم که له درد سَرَه ښورم　　نور به ډکي پیالې اخلِي زه به گورم
لاله زار به شگفته په هغه ملک شي　　چه باران دَ دوارُو سترگوُ باندي وورم

---

[۱]دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



وايي زړه له ما نه وَژغوره که ښه کړې　　کشکي ستا له لاسه خلاص شي زه ئې ژغورم
ځان به درکړم، مچه راکړه ښه سودا ده　　که ئې ته په بهار پېرې زه ئې پلورم
په دا راز به هر بې نياز کله خبرېږي
چه خوشحال راته دعا کا زه ئې زورم

که غمونه د دې خپل خاطر کباب کښم[1]　　بويه دا چه دفتر وُ نه يا کتاب کښم
په بيان په قصيده به تمام نَشِي　　که نا سازي دا سپهرو دا شهاب کښم
دَ فراق غمونه لور په لور انبار دِئ　　په کاغذ باندِي دَ کوم يوه حساب کښم
په ډېر غم کښ هيڅ خبر نه يم له حاله　　چه زه دا ويَل په ويښه که په خواب کښم
که جفا دَ زمانې وه که دَ خلق　　زه به دا واړه په حکم دَ وهاب کښم
په فلك باندِي دَ هيچا حکم نشته　　چه ئې ظلم، ستمونه، انقلاب کښم
دَ آګرې په کوټ کښ بند شاه جهان دئ　　دَ دارا به هغه کوم فاني جناب کښم
نه به زړه ځما سړېږي نه به لاس کړم　　ورځ و شپه که سلامونه په احباب کښم
خراب شوي دَ فلك له لاسه ډېر دِئ　　اوس به حال دَ هغه کوم يَوَه خراب کښم
که دَ خوږ خاطر له حاله چا ته کښل کړم　　يا آهونه يا ژړا يا به عذاب کښم
يَو مکتوب دَ خپل اشنا را لَرَه راغي　　اوښي بغرګي تويَوَم چه ئې ځواب کښم
حاسدان مي په حساب لکه ګِلاب دئ　　حيف ندي چه به جور دَ کِلاب کښم
ما خوشحال په خوب دا حال نه وُ ليدلَی
چه به دا دَ غم بيتونه په پنجاب کښم

له هنره چه څوک وو وايي لَرَم　　چه مي بخت نه کا يارِي څه وَوايم
په جهان کښ دَ وفا هنر کيميا دئ　　زه ئې څه لَرَه له چا هيله کوَم
دَ وفا مېوه دَ هر چا په باغ نشته[2]　　بېهوده ئې هَرَه وَنه لَټَوم
غه باران چه په درياب باندي ورېږي　　په باران به ئې زه څه حسابوم
نا داني مِي غلبه په هوښيارِي شوه　　مرغلَری په درياب کښ تويَوَم
له قسمته به نه لږ نه به څه زيات شي　　غه روزي چه ځما نده نه ئې خورم
چه ځما له رزقه زيات ځما څخه وئ　　امانت غُندِي ئې بل لَرَه ساتم
کوم مکان دَ زمانې له مکره خلاص دئ　　چه هغه لوري ته تېښت ورځني کړم
که په تښتي خلاصېدي[3] ځني به خلاص شوم　　دَ قضا له لاسه کُوم لوري ته ځم
زمانه مي دَ فتنو په کاڼيو ولي　　زه ابله دَ ښيښې سپر په مخ کښېږدم[4]
چه په راغله ئې ښادی را سَرَه نه وه　　په هجران به ئې څه زړه[5] زهيرَوم

[1] دا بدله په چاني نسخه کښ نسته.

[2] د وفا مېوه د دهر ه باغ نشته.

[3] خلاصي وئ.

[4] په مخ کښ ږدم يا په مخ کښ وړم.

[5] زړه څه.

Downloaded from: ketabton.com



چا ویَل چه صبر نخښه دَ بري دَئ
زه خوشحال په صبر ځکه زړه تَړَم

لا به کله خپل مقام وَ دلبر ورکړم[۱] چه ګټَلَي مال همه ورته وَلورَ کړم
یو ویَې دَ دلاسا راته پرې نږدي ځان که هر څو خپل مین ته مرور کړم
هیچا نه وکړه ځما دَ زړه ساتنه هر سړَی مِي زړه دردمن کا چه زړه ورکړم
په درست کلي کښ یَو هسي دلبر نشته چه خپل زړه دَ ده په وصل بهره ورکړم
خبر دار به شي عالم ځما له درده که دَ آه په اور ډېوزي پېښور کړم
ستا دَ خولې خبري نوري دَ زړه نوري
زه خوشحال خټك پوهیږم پرې باور کړم

ما شراب خوړلي نه په حد واهه شم که ئې وَخورم خبر نه یم چه به څه شم
په هر لوري چه نظر کومَ اغیار دئ دَ زړه حال وَ چا ته وَوَیلي نه شم
زمانې را باندِې وکړې هسِې چارې لکه دُر دَ خر مهر و سَرَه پېیه شم
دَ اورنګ بادشاه په دور عدل نشته تر طناب لاندې په ښهر کښ لوټه شم
که دَ رنځ دارُو مي کړې طبیبه وخت دَئ هاله ستا دارُو وَ مشه چه په تله شم
خپل خوني و چا ته څه ښیم په ګوته چه دَ چا دَلاسه مرمه خود لیده شم
درسته شپه لکه اَغزي په زړه څرخېږي دَ فراق غموُنه، څنګه اوده شم
هیڅ په سترګو لیده نشي یو قصاب دئ نه ئې لاس نه ئې چاړه په زړه ورڅه شم
لکه وُ په هغه شان په وفا ټینګ دَئ چه تر یار ئې خجل نکړم ځار تر زړه شم
په دا لوڅو پوڅو نه رسم تر یاره دَ سیمایا علم مي نشته چه مرغه شم
خلق تشي تسلې کا زه له ځَلي دَ هلك غُندِي َ هر سړی په خوله شم
اللهداد چه بند په بند ګوتي په تار ږدي دَ خوږ زړه دمه مي شِي څه خو تابه شم
نه شیخان نه طبیبان نه ساحران شته چه له دې رنځُه دَ چا په سبب ښه شم
زه خوشحال له نورُو څه لَره فریاد کړم
په زړه زړه واړه پخپل غشي ویشته شم

ما بې دوده توسني کړه منځېدلم[۲] عاقبت ئې په کمند وَ څکېږلَم[۳]
وړاندِی ورُوستو ئې را واچَول بندونه په آخور ئې کیزه کړَي وَ تَړَلم
هغه ډیچي[٤] هغه ترنډي[٥] له ما ولاړې چه به خوشي په جلګو کښ ګرزېدلم

---

[۱] دا بدله په چاپي دیوان کښ نده راغلې.

[۲] منځېدل: پورته پورته عمودي غورځېدل.

[۳] یعني پېچل او بندول.

[٤] یعني نه رام والي او نه اېل والي.

[٥] دا کلمه له ترهند څخه جوړه سوې ده یعني توند والي، د آس هغه هال چه توربېږي چه په فارسی ئې رم بولي.

Downloaded from: ketabton.com



ریاضت ئې دَ مولا[۱] را باندِي کښېښښ     رنګ په رنګ ئې په حلب وَپوهَولم
چه مي لاس دا چا تر شا نه وُ راغلي     اوس پخپله شا پخپله زین آخلم
دَ سورلی هنر ئې وښایه و ما ته     په تېمار او په راتب ئې وَ ساتلم
ورځ و شپه مِی دَ تپاک خبر آخليِ     که خوراک خورم که وَلاړ وم که څملم
هم ئې نوم دَ ډېري ميني په ما کښېښښ     هم ئې زه پخبله ژبه وَستایلم
بیهوده زغاسته واړه له ما لاړه     چه په هر لوري ئې حکم هوريِ زغلم
چه په ما به ئې نظر په حقارت کړ     هغو واړُه په هنر کښ وَپسندلم
اوس مي قدر یو په سله یَو په زر دي     چه اول په څو درمه پېریدلم

اوس په هر توکي خوشحال خورسند خرم یم
پخپل قدر په قیمت وَ پوهېدلم

مست یم مَی پرست یم رندي کړمه کړمه کړم     واوره محتسبه باده خورمه خورمه خورم
نور شراب مي واړه نور عالم وَته بخښلي     لام و بې مِي مَي دئ پسې مرمه مرمه مرم
موړ به څَني نشم زه دَ میو مستسقي یَم     تل که هسِي ډکي پيالې څښمه څښمه څښم
لار دَ محبت دَه تل به روغ سلامت نه وم     زه چه په دا هسي لاري تلَمه تلَمه تلَم
څه وائې وَ ما ته حال دئ څه وُ په هجران کښ     نور خبردار نه یَم په زړه سومه سومه سوم
خلق راته وايی رنګ دِ بیا زیړ شو عاشق شويِ     هیڅ منکري نکړم خلقه شومه شومه شوم

دود دَ عاشق دا دَئ چه په عشق کښ ملامت وړی
ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وړم

نور به مخ په آئینه برابر نه کړم     نه به دواړه سترګي توريِ په رانځه کړم
نه به سپین لاسُونه سره کړم په نکرېځیوُ     نه به نور په ړمنځي ساز دَ سرو پښته کړم
نه به ماتی ماتی څوبی په مخ پرېږدم     نه به لاندِی باندی لب په پانُو سره کړم
چه دَ مینی یار می نشته چه ئې ګوري     دَ صورت سینګار وَ کوُم یَوه ته وه کړم
درست صورت مي سرې لمبې شي شنې ډېوزی     چه دَ خپل مین دَ میني راز تر زړه کړم
که ژوندُون تر هر چه خوږ دَي په جهان کښ     اوس بې یاره په ما تریخ شو زه ئې څه کړم

هغه یار چه چرته دَي خوشحال دِ اوسي
دَی دِ خپله خوشحالي کا غم به زه کړم

هغه دم چه دَ ساقي پیاله نوش کړم     په مستی ئې دواړه کونه فراموش کړم
په معنی کښ هم شراب یَم هم ساقي یم     طالبان دَ میو شته چه ئې مدهوش کړم
ناصحان راته دَ عقل دفتر لولي     خداي به نکا چه ئې زه په ویَل ګوش کړم
دَ زاهد په صومعه کښ مي زړه تنګ شو     له دې پسته به خدمت د میفروش کړم
زه بلبله خوش نوا د دې چمن یَم     په موسم دَ ګلو څرنګه خاموش کړم

چه په زړه ئې اثر نه کېږي خوشحاله
څه فایده که تل په ور ورته خروش کړم

---

[۱] د سورلی.

Downloaded from: ketabton.com



هله مخ راته ښکاره کړه دیوانه شوم    په همه واړه عالم کښ افسانه شوم
لا مي ستا دَ مخ څراغ لېدلَي نه وُ    زه زړه سوَي لا هاله پرې پروانه شوم
اشنايي دي له ښادۍ نه وه غم وه    چه دا هسي له ښادۍ بيگانه شوم
ستا دَ زلفو دام مي وليده په لاري    له مسجده نه مقيم په بتخانه شوم
ستا دَ زلفو دَ زنځير هوس مي وکړ    نه چه زه له بې عقلی دیوانه شوم
آغرين[1] دي د ښو نه وُ بلا وُ    چه په ځان وزړه ئې هسي نښانه شوم
زه چه تل دَ لېونيوُ په شماره وم    بيا له کومه په ساعت کښ فرزانه شوم

زه خوشحال هم بې نظير يم په عالم کښ
چه مين په بې نظيري جانانه شوم

يَوَه نخښه درته وايَم دَ بې شرم    په وعده په قول نه وي نرم گرم
خدايه ما دَ هغو مل مکړه په لاري    چه ئې نه وي په يارئِ کښ آزرم
دَ ناکس ياری په مثل دَ اُورو ده    چه دَ باد په مخ کښ درومي ترم ترم
يوه بده زمانه شوه درېغه درېغه    په هر چا چه دَ يارئِ باور ورم
که هندو که مسلمان د پَت په کار کښ    چه مي وليدَل دَ هيچا نشته برم
څوک چه نرم ويل کا عمل ئې گوره    ټگان هم په خوله ويل کا نرم نرم

دَ هغو وَ مخ ته مه گوره خوشحاله
چه ئې سخت په بې شرمي کښ دَ مخ چرم

# ن

په کاته شم وَ عالم وَته حيران    چه دا نس دَپاره څه کا دا سگان
هَسي چارِي ئې پيدا شِي له وجوده    چه په فکر ذکر نه وِي دا شيطان
تل قرآن دَ وراندي ښی قرآن لولِي    ولي هيڅ عمل ئې نه وِي په قرآن
په کوم لوري پسې ځم چرته ئې غواړم    دَ کيميا غُندي ناياب شول دانايان
ښه سړی لعل و ياقوت دَي مونده نشيي    لکه نور کانِي لړ ندِي ناکسان
که په نور خلقو کښ ښه سړی موندل شي    ولي ښه سړی به لَږ وِي افغانان
له هر څو ورته دا پند خبري وايې    دَ پلار پند ئې هم ښه نه لگِي په ځَان
هره چار دَ پښتانه تر مغل ښه ده    اتفاق ور څخه نشته ډېر ارمان
دَ بهلول[2] او د شير شاه[3] خبري اورم    چه په هند کښ پښتانه وه بادشاهان

---

[1] دې کلمې ته په يوه قلمي نسخه کښ محشي "غشي" معني ليکلې ده، په دوو قلمی نسخو کښ آغزين راغلي دي، منسوب وَ آغزي ته يعني خار دار.

[2] سلطان بهلول په هندوستان کښ د لوديانو کورنی مشهور باچا دي وروسته تر څلوېښت کاله پاچهی په (۸۹٤ هـ\۱٤۸۸ع) کښ وفات شوی دي.

Downloaded from: ketabton.com



سپېړ اوه پېړی ئې هسي بادشاهي وه چه په دُوي پوري درست خلق وه حيران
يا هغه پښتانه نور وه دا څه نور شول يا دَ خداي دَي اوس دا هسي شان فرمان
که توفيق دَ اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دو باره شِي پدا ځوان

په تېرو تورُو، ور درومي يکرنکان په لمبوٌ[1] باندِی ځان ولي پتنکان
دَ کنجکو قدر يَو، د دُرو بل دي ننگېالو سَرَه څه ژوي بی ننگان[2]
ارتگي دَ زړه دليل دَ جنتي دَه دَ دوږخ دَ اور لايق دِي دلتنگان
دَ بادشاه په سلطنت پوري خندا کا په سپېرو ايرو لَړلي ملنگان
نور ماهي ئې تار په تار درومي له مخي ماتوي لويي بېړئ نهنگان
دَ هاتي دَ پاسه سپور ورته پيکه وي چه دَ ميو پيالې اخلِي سرهنگان
څه دَ ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پرهارژلي پلنگان

بېهوده په ځان غره دَي دا انسان په ساړه په غارمه چينگه خوله حيران
لېونی ملال دلگير دَ خوب په وړل کښ نه دَ لوږِي نه دَ تندِي لَرِي توان
په يوَه ذره خبره خوار خسته شي په يَوه ذره سر خوږِي شِي په ځان
پدا هسی رنگ څو کبر څو لوئي کا چه نظر ئې له خودی وِي په اسمان
واړه عمر تېروي پدا غفلت کښ تر هغه پوري چه ومري پدا شان
په ژوندُون چه دَ خپل ځان فکرونه نکا پسله مرگه به هغه کا ډېر ارمان
زاهدان شيخان وَ هر لوري ته ډېر دِي
دَ خوشحال ختِك پکار دِي عارفان

پنډ بد روز بکر حيران بهاردر خان هدايت ترين سوخته وُ تر دا ميان
شېخ ستار ماشه ټوپك عبدالرحيم وُ دَ ټوپك کُنده خداي يار جامکی کامران
دَ ټوپك کُنده هر گز نه وي بې سيخه[3] حق ناحق ئې پکښي جوړ کړ جهانخان
دَ تسمو په ځای گويا دا نور عالم وه اسفند يار غَندی يو څو گېډِی پاجيان
مردکی دارو همه خواجه صادق وه بند و قچی صاحب صوبه وُ پخپل ځان
پدا هسي غرڅه روخ دَ گذارنه وُ په آزار به ئې گډ وډ کا خداي جهان
په مثال خواجه خضري غرڅه خوشحال وُ
چه گزار ورباندِي وشو ناگهان

---

[3] شير شاه د پښتنو د سوری کورنی مشهور د هندوستان پاچا وُ، چه په (٩٥٢هـ\١٥٤٥ع) کښ وفات سوی دی، په عدل او انصاف مشهور دي.

[1] په سوځونکو لمبو سوځی پتنگان.

[2] ننگيالی سره زر کنجکی بې ننگان.

[3] بې سيخ.

Downloaded from: ketabton.com



څو گلرنګی چهرې راغلې په جهان بیا فنا شوې لکه ګل دَ ګلستان
یو رمق دَی راته پاتو په فراق کښ چه په مرګ له ما جدا شول ښه یاران
که دَ زړه سترګي دِ شته ننداره وکړه په وصال کښ مهیا ګڼه هجران
دَ هغه بقا فنا ده، بقا نده چه تبدیل ئې په دنیا شی هر زمان
دا څه توري خاوري ندي چه پرې دروميې خاوري شوی کښلي جونه دي ځوانان
چه را یاد شي ښه یاران و ګور ته تللي تل په ما وي دا غمونُو ګڼ باران
همګي تر مځکي لاندې شول خوشحاله
اوس دَ مځکي پر مخ نشته راز داران

څو خبر په قباحت نشي انسان نېك و بد هوښیار نادان کښي یکسان
که یو کس په زر کس بیا مومې هم ډېر دي په هر لوري صد هزار دي ناکسان
هونبره ترس ځما له بېره خو که نشي څو په زړه یم له جاهله هراسان
دانایان په ناکامي کښ خوار حیران دي کامراني دَ جهان څوک کاندي؟ خسان
پخپل ښکار باندي غوټې وهي بازونه په مرداري باندي ګرزي کرګسان
تفاوت ئې په کرده په فعل ګوره مچ، مچی دي سَرَه واړه مګسان
چه په درست عمر کښ یو ځله تېره شي نور اصیله توره نه غواړي متان
چه هر ډوړ ئې وار ووته هوس کاندي دَ زربفتو هنر چېري دَي آسان
که دِ زړه دَي چه لذیذ شعر ووایم
د خوشحال غُندي پیدا کړه خپل لسان

خوړ ژوندُون په سرې تریخ کاندي ښلتون په سوزانو لمبو پاس کښېږدي لړمون
چه څه زور قوت دَ زړه وي په کوګل کښ وار په وار ئې له دوو سترګو کا بیرون
تر دا هسې عمر، نه عمر بهتر دَي چه تېرېږي ورځ و شپه په ځګرخون
په ځګر ځګر مي ولي صرفه نکا دَ غم لیندېو راته وواهه زنګون
ځما زړه طومار دَ مهر دَ وفا دَي څېراوه شي چا ئې زده نکړ مضمون
که کتان چه مهتاب څېري کا ګانډه شه سکه ځما دَ زړه دَ یار له لوریه کا څوک ستون
په هجران کښ که امید دَ وصال نه وي زه همېش په هغه هسې لار کړم یُون
یَو دَ بل په ځاي کښېني دَ دنیا دود دَي
زه خوشحال قائم مقام یم دَ مجنون

دَ زیبا جمال ئې ډېر دَی زیب و زین ولي زړونه دَ عالم وړي په عینین
یَوَه سترګه ئې رحمان بله رحیم شوه چه همه مراد پکښې دي د کونین
چه دَ ښهر زاهدان شیخان پیران دي زړه دَ هر یوه کښان وړي په زلفین
لکه عین دِ خپل پلار خوني وژلي پسو سرې سترګي راځې په شین شین
واړه لواړ سرونه نغرې دَ دردمنو دَ مزري تر خولې بتر دي د عشق عین
پخپل یار مي باور شته چه بل به نشي غمازان که غمازي کا تر دا بین

Downloaded from: ketabton.com



په رضا ئې خپل خاطر ورکړ خپل یار ته
په خوشحال محصل نه وُ دَ چا تین

دواړه شملې پرېږدي برېښوي ورته خپل ځان    گوره هغه تُرکه به نظر کا په کوم ځوان
څو گلرنگ مخونه پدا خاورُو کښې بدرنگ شول    څو دَ خیال کړې بگړیِ یاد لَرِي جهان
دور دَ دلبررُو دَ ښایست دَي یَو څو ورَځې    ژر له برمه پرېوزي لکه گل دَ گلستان
سرې سترگي اَوښتِي لکه ډېر خونُونه کړي    خدایه خیریت کړې چه را درومي پدا شان
زړه مي لکه گوي دَي دَ مستِیِ په میدان کښ    تل ئې هغه ترک وهي دا زلفو په چوگان
تل دَ تن هډونه را وگاږم په نوکونو    غم ئې دَ ناوک خورم چېړي مات نشِي پیکان
پټه په نقاب وَه دَ هر چا ورته نظر وُ    مخ ئې را ښکاره کړ، ورته خلق شه حیران
مخ په وړاندِي درومي پټ په څنگ ورته نظر کا
خوښ اوسه خوشحاله ښا ښه پېر وکړ اسمان

را ښکاره شوې کج فهمیِ د جهان    دَ جهان دَ کج فهمیو الامان!
دا هم ځاي دَ تعجب دَئ که ئې وینې    په بازونو چه غوټې وهِي کارگان
دا هم ځاي دَ تعجب دَئ که ئې وینې    چه مغل کاندِي بازیِ په افغان
دا هم ځاي دَ تعجب دَئ که ئې وینې    چه گیدړ په وازدو[1] ډک وَړِی زمریان
دا هم ځاي دَ تعجب دَ حیرانی دَئ
چه لښکري په خوشحال کا بهرام خان

عارف سړی هغه دَئ چه ئې شناخت وشو دَ ځان    دَ ځان په معرفت کښ معرفت دَئ دَ سجان
چه وېرې دَ زړه نه وِئ نه عمل لَرِي دَ نېکوو    په دا ئې نظر مکړه چه په یاد لولي قرآن
په کور کښ دِ بلا دِی دا دَ نفس غلطي چاري    که ته په ځان شیطان نشې بل هېڅ نشته شیطان
حرص مکړه هوا پرېږده له هر چا نه پرېکړه طمعه    بل نوم به پتا نږدم په ځان نوم کښېږده سلطان
چه خداي ئې په لار نکا په وَیل نه په لار نشِي    که پاڅوې له کوره وَ هغه وَته لقمان
عیسی په معجزه سَرَه ړانده سړی بینا کړه    دانا ئې په دعا نشو په عمر یَو نادان
که هیڅ ور څخه نه وِی غم دئ نکا که دانا وِئ
خوشحال ختک گواهي لِي دَ دانا نشته ارمان

گوره راته څه وایِي دا ستا دواړه چشمان    نور عالم نور ښکار کا، موږ دَ دین او دَ ایمان
مرِي چه لینده ویني کارگه ستا داخال دَ ورځیو    ناست دَئ تورکارگه په څو په موټی د کمان
راغله په خندا خندا وړه وړه پوښتنه    چا ورته وَیَل دا په رقیب نکړم گمان
ورټي ورټي اُوښي تل ساړه ساړه آهونه    ستا په درد و غم کښ زه هم دا لرم سامان
نوره پیښکښی را څخه نشته په فراق کښ    یار لَرَه به وړمه دُر دَ سترگو په دامان
یَو زمان مي نه ځَي هغه یار دَ زړه له سره    څه شي که ئې زه په زړه یاد نه یم یَو زمان
پاتو یم له خپله یاره لیري لا ژوندَي یم    خدایږو په دا خپل ژوندون هر گوره یم پښیمان

[1] وازگو.

Downloaded from: ketabton.com



پیا به ئې لا کله د بهار په سپوږمی دربغه    ونیسم په لاس کښ توري زلفي ډېر ارمان
خوښ اوسه خوشحاله دَ خپل یار په درد و غم کښ
درد دَ یار دَ میني لا بهتر دَئ تر درمان

که همېش دِ همنشین وِي تور ماران    ښه دَئ دا نه چه قرین وِي بد کاران
هر چه ستا عیب وَ تا وته ښکاره کا    په جهان کښ هم هغه گڼه یاران
په کردار کښ یار اغیار سَرَه بېلېږي    تر یارانُو ډېر لباس کا اغیاران
دَ کمذات یاری به هیڅ وفا وَ نه کا    لا په تېره بې نمازان او مَي خواران
لکه تخم هسي بر هسي ئې بوټي    نه ئې خوند مځکه بدل کا نه باران
دَ زړه راز و چاته نه وَیلَي بویه    چه دَ مځکِي په مخ نشته راز داران
په قیامت به یو په یو واړه ځواب لي    که مېږي ملخي پیمال کا شهسواران
دَ خوشحال باندِي سلام بادشاه دَ وخت دئ
په سپېرو ایرو لَړَلِي خاکساران

که هر څو ښایسته یې نه یوسفت یې دَ کنعان    که هر څو ډېر هوښیار یې نه مخَي یې دَ لقمان
که هر حڅ ډېر حشم لرې بادشاه دَ مملکت یې[۱]    په زړه کښ فکر وَکړه څه بادشاه وُ سلیمان
څو کښلي ښه مخونه څو هوښیار څو بادشاهان وه    چه راغله هسي لاړل اوس ئې نوم دَئ په جهان
یو نوم دَي پاتو کېږي نور به هېڅوک پاتو نشي    په بد بدان یادېږي په نېکِي یادوِي نېکان
که نوم دَ حجاج اروې نوم دَ نوشیروان    په عدل کافر ښه شو، ظلم بد کړ مسلمان
که ښه کړې ساعت دا دَئ چه په شمار یې د ژوندیو    نه سود نه به فائده وِئ که په گور کښ کړې ارمان
کافر سړَی هغه دَئ چه دَ نفس په هوا درومي    مؤمن سړَی هغه دَئ، چه تل غم کا دا ایمان
هیڅ شك پدا کښ نشته چه په مرگ به واړه ومرُو    خو شك پدا کښ کېږِي څوک به مومي گورستان
سخ به دَ هغه وِئ چه ایمان سَرَه ئې مرگ وِئ    گور په عزت بیا مومي پسې لولِي قرآن
وخت دَ ځوانی تېر شو اوس پیري راغله خوشحاله
نور کارونه پرېږده خو دَ گور کوه سامان

نس مي افریدی دَي څه غم نه لَري دَ دین    ښه فکر ئې لړ دَئ ډېرو بد ووته شین
زه دَ درویزه[۲] غُندِی ایمان ښیَم وَ ده ته    دَئ دَ پیر روښان غندِئ دَ کفر کا تلقین
دوشپېته کالُونه په حساب لرم خپل عمر    تور وېښته مِی سپین شو لا می زړه ندی هیڅ سپین
نشته هغه دور دَ سرو یاقوتو په دبلی کښ    نه هغه نرگس دَئ نه دَ باغ هغه نسرین
زه بې غمه خوب کړم په پاسته بالښت سریښي    پرېواته په گور کښ چه ځما وه هم بالین
ډوبی شوې پېړۍ دَ فنا په اباسیند کښ    ډېر پکښ لاهو شول چه ځما وه همنشین
څه دَ غم پلَو دَئ چه ځما په سترگو پرېووت    نه وینم په سترگو حقیقت واړه مبین

---

[۱] که هر څو ډېر حشم لَرِی بادشاه دَ مملکت وی.

[۲] اخند درویزه د پښتنو لوی مبلغ ملا دی دَ پښتو مخزن الاسلام لیکونکی چه د مغولی اکبر پاچا په عصر ئې د پیر روښان (پیر تاریك) د عقائدو پر خلاف تبلیغ کاوه.

Downloaded from: ketabton.com



هونبره رنځ په ځان کښ طبيبان پدا جهان کښ    مرم دارُو خپل نکړم پدا هسي کار نفرين
ولاړ ځاى ئې سقر شو مگر خداي پرې کوم وکا ء
نفس و شيطان دواړه له خوشحال سَرَه قرين[1]

ندِي لب دئ جان من[2]    ښه ياقوت دئ دَ يمن
نن ما خپل گڼې له طنزه    ما خو نزده هونبره فن
بختور مي ئې نوم کښيښ    لا که نشي دروغجن
څو ني تاو کا چين ئې گورم    شي بنده درته ختن
پښتنې په چين چين څوڼِي    بخښي چين، تبت، ختن
ښې ښې ځي په شين شين    ښه غبغب ښه ئې ذقن
په پښې فيض ځني زېږِي
په زمين چه ځِي په فن

---

[1] چه خوشحال لرى قرين.

[2] دا بدله له يوې قلمى نسخې څخه نقل سوه، په نورو کښى نسته.

Downloaded from: ketabton.com



## و

آفرین دِ پدا سرو سترگو خونخوارو    چه بې تورو پرهاررُونه کا په خوارو
تورِي سترگي ئې تور بازبانه ئې نوكي    چه ځما خاطر ئې يووړ په نوكارو
چه اوچت اوچت وَهَل كا هغه باز وِئ    پخپل باز باندِي نظر وِي دَ بز دارو
دَ وربل په هر هر تار ئې زړونه بند دئ    مشاطه وورباندي نور پيښئ په تارو
په مذهب دِ عيادت مگر گناه دَئ    چه دِ هيڅ پوښتنه نشِي دَ پمارو
لا دِ پی له دواړو شونډُو نه څڅيږي    په ځواب دی ژبي بند کړې دَ هوښيارو
خپل ياران به په پيغور كړې دَ وگړي    چه دِ دا د مهر نظر دَی په اغيارو
په ښايست كه ښايسته تر ښاپيرۍ يې    ولي دا جهل دِ بد دَي په دا چارو
تل په تشو تسلو عاشقان تېر كړې    تا څه لړ غلولي ندي په دا چارو
بلبلان دَ گلستان په منځ كښ گرزِي    كرگسان گرزي په طمعه دَ مردارو
زمانه به ئې په سر گلونه نږدِي    هغه سر چه سزا وار وِي دَ لارُو لارُو
نيژدې يار سَرَه ورو ورو خبري كيږي    ليري يار وته وِيل شي په چيغارو
يك تنها ئې دَ خوشحال خاطر يو نه وړ
په جمال ئې زړونه يووړه دَ بسيارو

آفرین دِ په ولول تورو سنبلو    چه ئې ځاي دَ پاسه ونيوه په گلو
ما چه ستا دَ شونډو مَي سره مزه كړل    مستغني شوم دَ جهان له واړو ملُو
كه په اصل پښتنه دَ هندوستان يې    دا دَ ظلم خوي دِ زده كړ له مغلو
مگر مور دِ دَ خطا دا ملك هوسۍ وه    چه دَ مښكو بوي دِ دِرومي له كاكلو
زه په هونبره تمنا كښ دا به څه شِي    چه ته هر كله په هونبره تغافلو
دَ هر گل ثنا صفت كا په زر ژبه    پدا باغ كښ چه غوغا دَه دَ بلبلو
دَ خوشحال په زړه ئې هسِې چارِي وكړې
لكه باز چه زركه يوسي په منگلوُ

بيا له كومه لوريه بوي راغَي دَ څوڼيُو    چه خاطر مي په هاي و هوي راغَی د حوڼيُو
دا اوږده اوږده غمونه پرېشانِۍ    چه ځما دِئ دا ئې خوي راغَي د حوڼيُو
هم پدا مي به دَ زړه پرهار گانډه شِي    شكر شكر چه ئې موي راغَي د حوڼيُو
په هر مخ باندِي څه څوڼي ښايست نكا    لايق شوي يَو يَو روي راغَي د څوڼيُو
چه په خيال ئې په سپين مخ باندِي وَلول كړې    نو بهار ئې په هر سوي راغَي د څوڼيُو
پدا كوي كښ چه مقيم شوم خلقه ځكه    چه نگهت ئې پدا كوي راغَي د څوڼيُو
بيا به هم دَ مښكو نوم په ژبه واخلِي
چه خوشحال لَرَه ئې بوي راغَي د څوڼيُو

Downloaded from: ketabton.com



بند و بست دَ کائنات دَئ په خبرُو    یو تر سله صدقه شه سل تر زرُو
دَ همت په بال و پر سرِی الوزي    مرغه پورته اَلواته کا په وزرو
ورته وایه توره کښېږده په صندوق کښ    هر سرِی چه مرَنَي وِئ په تلبرو
یا دَ سپیني توري مرد شه یا عاشق شه    چه یادېږي په بدلو په سندرو
دَ عاشق بخره خواري زاري ناندری[1] ده    دَ معشوقي څه پروا له مَرَوَرو
له یوه دریابه خېژي فرق ئې ډېر دئ    که نظر کړې دَ دریاب په مرغلرو
چه ئې غم دَ غلیم نشته بختور دَئ    خدایه ما کړې په شمار دَ بختورو
دَ خوشحال خټك خوښي په هغه وخت وِئ
چه برېښنا دَ سپینو تورُو شِي دَ زغرو

پرېږ غوغا کاښي بلبلو    تل به وخت نه وِئ دَ گلو
دا گلونه مسافر دئ    کال به تېر کا په راتللو
ستا په مخ به ئې څښمه    ساقي مهر کړه دَ ملو
ځایکی دِ وَ ویشتَلم    کم خطا یې په ویشتلو
که صورت ژغورې له غمه    سترگې نسه له کتَلو
دا دَ مهر وَیل پرېږده    زه دی خوښ یم په ښکنځلو
ما وې څو مي به لا سوځې    په خندا ئې وې تر تلو
نه به باز نه به شهند شم    نه به راشې په منگلو
وعده درسته کړه خوله راکړه
خوشحال ندَي دَ غلولو

چه مي ولیده په زړه کښ حال دَ وارُو    مهو شاني قبلَوي و بال دَ وارُو
په جمال غره که ډېر و بله ټول شِي    ستا جمال خجلَوي جمال دَ وارُو
دَ کشمېر که دَ فرخار که دَ تاتار دئ    ښایسته ځما ښه یار دَی سیال دَ وارو
ما ئې ښه تحقیقي وکړه چه عاشق شِي    په هجران باندِي وخېژی فال دَ وارو
سل و سل خبري کاندِي مرگ ئې مه وه    په یوه ځواب پوره کا سوال دَ وارُو
چه ورتله کا تله به هم ورځي کاندِي    سلامت به پاتو نشي مال دَ وارُو
و عنقا وته به څه لَرَه څوک دام ږدي    چه پرېږ راشِي څیري کاندِي جال دَ وارُو
که شیخان که زاهدان که عالمان دئ    له عمل سرَه جوړ ندي قال دَ وارُو
چه ئې لافي دَ یاری د اشنایی کړې
و خوشحال وَته ښکاره شو حال د وارو

چه په لار دَ رحیل راغَی روا رَو    څه کسرا او څه پرویز او څه خسرو
ناست په تخت څوک له منزله خبر نه وِئ    چه تخت څرنگه په باد دروميِ په دَو
نوي کور لَرَه را درومي راشه گوره    ځوانان څرنگه اَخته دئ پخپل لَو

---

[1] یعنی پېغور.

Downloaded from: ketabton.com



چه مي سازه کړه دوهه د ملنگۍَ    ما فیها دَ زمانې شول راته جَو
هم ئې وینم هم ئې اَروم ترې تېرېږم    چه په ځنگ راته بَړوه کا بَوبو
دَ زړه نوي ښه یاران ور ځِني لاړل
دَ خوشحال دَ زړه ژوندُون وُ په دانو

دَ شهی زلفو مختولو    سر هوا پرېشانو طولو[۱]
چه ئې لافي هر سَړی کا    عشق آسان ندئ فضولو
ځما راز مو په ملك خپور کړ    اې ځما اوښیو پدَولو
په کوڅه کښ دَ دلبرُو    حساب نشته دَ مقتلو
تاسو مشوِی ټولی    گښی گښی دَ زړه نولو
دا خبرِي چه خوشحال زده
نه دِی دا دَ نامعقولو

دَ ښادمنو په خندا ړو[۲]    د غمجنو په ژړا ړو
دَ رندانو په رندۍَ    د شیخانو په تقوا ړو
دَ وصال په سل خوښۍَ    د هجران په زر بلا ړو
د بهار په ښو گلونو    د بلبلو په نوا ړو
چه ترې سبروني هیڅ دئ    په هغه قد بالا ړو
چه مکحولِي دِي له نازه    په هغو سترگو شهلا ړو
چه نرۍِ تر وېښته دَه    په هغه باریکه ملا ړو
چه عاشق ور پسې مرینه    په هغه جمال زېبا ړو
چه راځِي دَ یار له لوریه    په هغه باد صبا ړو
چه پیغام راوړِي وصل    د هغه ناصد په پا ړو
چه دوهمه پکښي نشته    د رشتینو په رشتیا ړو
پدا هونبره سوگندُونه    صد هزار ځله بیا بیا ړو
چه تر ځان پتا مین یم
زه خوشحال خټك پتاړو

راته مه وایه پتا ړو[۳]    چه پتا نه ړو په چا ړو
ته ځما دَ سترگو تور يې    پدا تورو سترگو ستا ړو
مخ دِ ورځ زلفی دِ شپه دي    په سبا ړو په مسا ړو
په جهان کښ مي ځان ته يې    نه چه نور، پتا جانا ړو

[۱] یعنی اوړدو.

[۲] ړو په پښتو کښ د قسم کلمه ده.

[۳] دا بدله له یوې قلمی نسخې را نقل شوه، په نورو کښ نشته.

Downloaded from: ketabton.com



یاد مي ته یې په خاطر کښ    هر زمان پخپل مولا ږو
ستا دَ پښو خاوري توتیا دي    چه ما ستا په خاکِ پا ږو
تمنا لَرم ستا دېره    پدا خپله تمنا ږو
تر خندا پوری دِ هیځ دي    لال و دُر ستا په خندا ږو
یار خو ستا یم دَ چا نه یم
زه خوشحال ستا په لقا ږو

ستا په ورد سر فرازُو    تل سجود دَي د پې نېازو
ستا ملالو سترګو پوچ کړ    واړه کار دَ سحر سازو
سا یِوه وینا تېرِي کا    تر هزار سخن طرازو
سپین او سره دَ دنیا دارو    دَ عشق ګنج دَ جانګدازو
دَ خوشحال وَیَل هم واروَئ
راشي اې نوا نوازُو!

سپینو وازدو لَرَه ورغله پیشو    خوله به ونسي له وازدو نه په څو
د عاشق په زړه کښ خیل دَ معشوقې وي    دَ هندو په زړه کښ فکر دَ ټیکو
د لولِی پرتوګاښ پیه پرانزِي    محبت ور سَرَه نشي بې پیسو
په خالي کیسه به نه رسي تر کامه    څه حاصل که بوعلي شي په کِسو[1]
د هغو بخره خواري ده تل تر تلو    چه زکوة خوري د کتاب په مسئلو
چه په هره کوڅه ګرزِي هرزه کار شي    تر دا هسي کښت زنجیر ښه دَئ په پښو
یو خوشحال څه زړه کباب ندي لتانه
تا د خلقو زړونه کښېښول په لمبو

عجب کار دَئ ستا دَ شونډُو    ښه روزګار دَئ ستا دَ شونډُو
پرې پنډو دَي د ځوانانو    څه دربار دَئ ستا د شونډو
په کالونو له ما نه ځِي    بد خمار دئ ستا د شونډو
کله ستا زلفینی زړه مِی    په کنار دئ ستا د شونډو
د یمن یاقوت اَبدار دي    که اَبدار دَئ ستا د شونډو
په صورت کښ مي ځَان څه دئ    یو یادګار دَئ ستا د شونډو
په هجران کښ سرې سرې اوښي    دا نثار دَئ ستا د شونډو
ځَکه ځَان هسي عزیز دَئ    پرې ګزار دَئ ستا د شونډو
چه د خضر ترې مایه ده[2]    چشمه سار دَئ ستا د شونډو
ځَان بې ستا له شونډو پائي    شرمسار دَئ ستا د شونډو
دَ خوشحال ختِك په زړه کښ
انتظار دَئ ستا د شونډو

---

[1] کِسه له قصې څخه مفغنه شوې ده.

[2] چه د خضر تر ماء به دی.

Downloaded from: ketabton.com



که د زړه څه خو ترس دار وَئ څه به ښه وُ — لږ د مهر په ما خوار وَئ څه به ښه وُ
زه چه ستا له غمه راز کړمه په ور کښ — که د غوږ ځما په زار وَئ څه به ښه وُ
چه په ما باندې پېغور کاندې په عشق کښ — ستا له حسنه خبر دار وَئ څه به ښه وُ
هر چه نن دَ زهد لاف کا په جهان کښ — په ليدو د پرهېزگار وَئ څه به ښه وُ
پسله مرگه مي يو هسي مکان گور شوي — چه پرې تل د کښليو لار وَئ څه به ښه وُ
ستا په کوي کښ ډېر کوټه تازى پراته دي — زه هم گډ دَ دُوي په شمار وئ څه به ښه وُ

ستا په غم به پدا لږ عمر مور نشې
دَ خوشحال عمر بسيار وَئ څه به ښه وُ

کل قربان شه تر جمال دَ ښو يارانو — ور ځارېږه تر مقال د ښو يارانو
دا صورت مى څه ژوندَى په اروا ندئ — تل ژوندَى دَئ په وصال د ښو يارانو
په خاطر کښ مى بل حب محبت نشته — يکښ ځاي دَئ دَ زړه خيال د ښو يارانو
که دوي ستا په رضا درومي يا نه درومي — ته هر کار کړه په اقوال دَ ښو يارانُو
په جهان کښ دَ هر څه مثال مونده شې — ولي مه غواړه مثال دَ ښو يارانُو
په هر زيان زوال راضي يم پدنيا کښ — خو دِ نه وي يو زوال دَ ښو يارانو
مرگه ستا علاج که شوَي په هر څه وکړي — چه قتلان کړې په هر کال دَ ښو يارانو
په جهان کښ که څه دِئ خو ښه ياران دِي — خبر دار شه په احوال دَ ښو يارانو
گښني گښني ځان او زړه لَرَه راحت دئ — که ئې گورې خط و خال دَ ښو يارانو

دَ يارانو د يارى په لذت پوه دئ
چه ثنا کاندې خوشحال دَ ښو يارانو

ليوني شول پښتانه په منضبونو — خدايه ما ژغورې له هسې غضبونو
د کنگاش علم دَ چا دَى دَ تورزنو — لکه څوک لولې قرآن په مکتبونو
د کنگاش له علمه هيڅوک خبر ندئ — خبر دار يم دَ هر چا په مشربونو
پښتانه لَرَه لوي عيب دئ که ئې گورې — چه نازېږي دَ مغل په لقبونو
شرم ننگ نام و ناموس ئې په ياد ندي — خو ويل کا دَ منصب دَ ذهبونو
دَ مغل سَرَه ليده په طمعه مکړه — که کېدَي چېرى په نورو سببونو
ختك واله بلنځه ښه ځما تر ملا ده — نه ښېوه دَ نوکرى په قصبونو
د بادشاه د زندان شپه ځما په ياد ده — چه تمامه شپه مي تله په ياربونو
پښتانه که جنگ مغل سَرَه په تېغ کا — هر ختك نيوي مغل تر جلبونو

د ختك دَ ننگ جرگه نشته خوشحاله
را وَتَلِي دِئ له کومو نسبونو

ما خوب ليده په خدا ږو، چه زه ته سَرَه پخلا يُو — خوږې خوږې خبرې دَ زړه حال وَ بَله وايُو
ما څخه کتاب دَئ يکښي واړه غزلونه — تا څخه مينا ده دَ گلزار په تماشا يو
لاس تر لاس نيولې سَرَه گرزُو کښېنو پاڅو — خپله خوشالي هوا هوس کړو په خندا يو

Downloaded from: ketabton.com



پیاله کړې راته ډکه زه ئې ستا له لاسه واخلم     دَ شونډو بوسه راکړې بیا په نوره تقاضا یو
مطرب راته له ورایه په تارونو لیندی ښیي     په بم په ځېر جار وزی موږ ئې محو په نوا یو
ته کل واړه خوبی لرې زه واړه کامرانیَ     ښادی ته مخامخ غم و اندوه ته شاپشا یو
ناگاهه له دې خوبه دَ سحر په وخت را ویښ شوم     نه ته وې نه دِ وصل زه دا کار سَرَه جدا یو
څو پایم په دنیا کښ دَ چا کار را سَرَه نشته     یو زه یم یَو دي غم دَئ، سره دواړه خواپخوا یو
خوشحال یواځې ندئ څو په ملك کښ عاشقان شته
په خوب په بیداري کښ سَرَه واړه باد پیما یو

ما هغه سړی شمارلي دئ په ورَکوُ     چه په خوي کښ بې وفا عادت په سپکو
هغه باز تر مښگیر که لا بتر دَئ     چه غوټې ئې دي په شلانډو[1] یا په مږکو
غافلان له دې دنیا سَرَه کا لوبې     لکه پېغله جن بازی کا په لوڅکو
عراقی په اشارت کښ ځان څرگند کا     ټټو سم په لارې نه ځي بې چابکو
چه ئې ډېرې اندېښنې دَ دنیا نشته     زه پدا خبره خوښ یم له هلکو
دَ عالم سَرَه خواړه نه خوري له کبره     لا تر روغه نه بهتر دَی کار دَ پکو
که په شهد ئې ساتي مزه ئې نه وئ     ناشپاتي دَ ثمرقند دَ هند په مځکو
دَ خوشحال وَیل که دُر قیمت بها دئ
وَ ناپوهو ته بتر دِئ تر کنجکو

مونږه مَي پرست یُو[2]     دَ ازل په میو مست یُو
په سما مو قدم یښَي     لکه مځکه هسي پست یو
هغي خولې وَته نظر کړه     هغه هسي نېست و هست یو
که په تخت دَ پاسه کښېنو     بیا یو مات کچکول په دست یو
حؤک دَ وصل خبري کاندي     موږه خوش پخپل بربست یو
تل مو زړه پدا خوشحال دَئ
چه خپل زړه سَرَه پیوست یو

وَ دِ نه وینم زه ستا وصال په سترگو     که بې تا را درومي بل جمال په سترگو
مېلمستیا مي دَ زړه وینې ورته کښېښوې     چه مېلمه مې شو دَ یار خیال په سترگو
هغه دم مې دَ زړه داغ له دله دور شو     خو چه راغی ستا دَ ورځیو خال په سترگو
چه ډېر خلق سَرَه ناست وي عجب ښه شي     دَ مَیَنو سَرَه قیل و قال په سترگو
په غمزو په کرشمو په مکیزوڼُو     نن دِ نه وینم په ملك کښ سیال په سترگو
عارفان دَ قناعت په گنج تونگر دي     چه ئې نه راځي د خلقو مال په سترگو
دَ مکې دیوال به نور په خوله یاد نکړم     ما چه ولیده دا ستا دیوال په سترگو
ستا په گوتو کښیده رومال چه راغَی     زه له مینی موږم ستا رومال په سترگو
هغه مخ چه مې به تل لیده اوس گوره     چه ئې نه وینمه ماه وسال په سترگو

---

[1] یعنی چونگښو.

[2] دا بدله له یوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه، په نورو کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



چه بې ستا له زيبا مخه بل مخ گورم   زه به چېرې کنښېږدم دا وبال په سترگو
وَ ښه مخ وته له ورايه ځلبلاند شم   لکه وَويني لوغسي[١] تهال په سترگو
نور عالم خو دَ يارانُو ناز په سر وړی
تل بازونه وړي دَ يار خوشحال په سترگو

هر نا اهل مزه څه زده دَ خبرُو   دَ خبرو لذت ښه دَي تر شکرُو
چه دانا ئې په دانش سَرَه انشا کا   يَوه ښه خبره بهَ دَه تر زرو
بې استادَ دَ شاعري بې لاري تله دئ   ياوه گوي گرزي په لوړو په ژورو
تفاوت دَ خاص و عامو سَرَه ډېر دئ   برابر نه دئ شبه دَ مرغلرو
دَ شهبازو دَ عنقا برابر ندئ   مچ او ماشي چه الوزي په وزرو
په څهارم اسمان به ناست لکه عيسی وم   که اسمان ته الواته شوَي په خبرو
عام به چېرې دَ خوشحال په وَيل پوه شي
دَ گوهرو قدر څه زده ښيښه گرو

يا په زړه کښ مهر ځاي وَئ دَ بتانو   يا ئې ورکړَي صبورى وَ عاشقانو
يا حيران عاشق په مرگ وَ مرَي چه خلاص شوي   يا ئې هونبره جورمه وَئ دَ چشمانو
چه ظاهر باطن ئې دواړه سَرَه جوړ وئ   څه عجب خاصه مشرب دَئ دَ رندانو
چه په يار پسې روغ ځان سېځي په اور کښ   زه پدا رسم مَيَن يم دَ هندوانو
دَ خپل يار په بدو خاندم هوسېږم   چېري زړه نشي را ښه د رقيبانو
چه مي نوم په ژبه واخلي هسي خوښ شم   لکه ږغ دَ خلاصی وشي په بنديانو
بيا به صبر دَ خوشحال ختك اُلجه کا
را څرگنده شوه سره کړې خوله په پانو

يو څه داغ لَرَم په زړه دَ نادرستو   دَ دې داغ علاج و نه کړ سستو پستو
يا ئې عين په زړه وَخوري يا زخمی ځي   چه هوسی په پره ور يشی[٢] دَ چستو
دَ بې ننگو بې ننگي مي به ارمان شي   خداي به واړه چاري ښې کا وړاندي وروستو
دَ ښو اوښي مېويني شي ترې څاڅي   دا دَ تن جامه مي نه وِئ دَ اغوستو
دَ دردمنو حال دردمن په قياس معلوم کا   که ئې وايې ښکاره نه وِئ په تندرستو
دا غزل چه دَ خوشحال ورشي تر سرايه
ښه ياران به ئې نارې وکا په لوستو

هـ

ابلهي بد گماني تر هسي حدَه   تر نظر ئې له وسوسه هم بده
بد گويي خست بد نيت تر دا پهورته   سکه ورونه ئې پرَدي کړل له حسده
که ښه نيت که ښه خلقت، که سخاوت دَي   دا ئې واړه له زړه لاړ له خولې له يده
په مجلس ئې برآمد له منځه تلليَ   بَل مذکور پکښ خطا بې خوشامده

---

[١] يعنی لکه دَ لوشلو حيوان چه تهالی او دَ لوشلو لوښی ووينی او لوشلو ته نه درېږی.

[٢] ورسی.

Downloaded from: ketabton.com



چه په ملك دَ پلار غليم هغه ئې سترگي    په دوستانو ئې دَ پلار كينه بې عده
كه دَ باغ انگور ئې ډېر وِي وَ خپل پلار ته    مگر درست ژنكوري وركا له سبده
يا دِ ښه زويَ پيدا شِي له ښه پلاره    يا دِ هسي تنها اوسِي بې ولده
د ژونديُو دَ زړه رنج دَي دَ مړو شرم[1]    په ژوندُون دَ بابا ورشه تر لحده
دَ خوشحال عقل خطا نه وُ نور څه وُ
چه خاني ئې په بهرام كړله نامزدَه

آرزو لَرَم ساقي يو څو اقداحه    كه ئې را كړې دَ خاصه ښيبې له راحه
چه دا هسي نوبهار درومې بې مَيو    دا خبره په هر چا دَه نا صلاحه
ځما پير وايي دَ ميو توبه گار شه    دَ بهار په وخت توبه دَه نا مباحه
تل به وخت د نو بهار نه وِي گلگښت كړه    په دا باغ كښ تر صباحَ تر رواحه
د نرگس گلوُنه پلي سپاره راغله    نندارە ئې د بهار كړه افتتاحه
رنگارنگ غنچه دِ وا كړه په چمن كښ
د خوشحال دپاره ښه راغلې صباحه!

اورنگ زيبَ بې دليله!    په ظاهر باطن عليله!
لكه مچ په انگبين كښ    پسو بند شوې په قليله
په تسپو كښ دِ بلا دَه    هي توبه ستا له تهليله
دَ يوه صورت دَپاره    خېلخانه دى كړه قتيله
نه په زويه نه په پلار يې    په هر چا باندې بخيله
پدا هسي بې عدلىَ    هلاكوُ سَرَه عديله
ښېله خدايه بل يَو نشته
دَ خوشحال په سته سيله[2]

آه هم دا هونبره آهونه    دم په دم بيا گناهونه
هم هغه پكښى پرېوزي    چه كښې چا ته څاهونه
لكه باد هسِي تېرېږي    دَ فانى دنيا جاهونه
اور دَ آه هسى لگېږي    لكه اور په گياهونه
گوره بيا به په چا سر شِي
دَ خوشحال ساړه آهونه

---

[1] دَ زړه رنځ د مړو شرم.

[2] طرفتداري او حمايت.

Downloaded from: ketabton.com



اې پخپل گمان کښ بروسه[1]     له اصلی کاره مایوسه
دانه نه یې چې دې مغز وئ     بې دانې حبطه بوسه
وَ خپل عیب وَته ړُوند شوي     دَ پردې عیب جاسوسه
چه پیدا ئې خوشبویي شوه     اگر ښه شو تر آبنوسه
د طوطی برابر نه یې     که نگار لرې طاوسه
که غوټه یی[2] په چرگوړیو     په دا باز نشوې ټپوسه
لعل و در پرې حبطه دِئ     چه رنگ نه لَرې عروسه
راشه مخ په آئینه کړه     چه چهره شې در معکوسه
دَ خوشحال خټک توبه دَه
ستا له زرقه له سالوسه

ای چه مخ دِ ښایسته دَي په خالُونه     پدا خپل ښایست ډېر مکَوه خیالُونه
همېشه به دِ دا هسي ښایست نه وِي     دَ گلشن گلُونه نه وِي تر کالونه
چه دَ خپلو عاشقانُو ویال اخلې     هونبره ښه نه وِي په غاړه و بالونه
کله ما وته دعا، کله ښکنځل کړې     درته چا ښیل دا هسي جنجالونه
ډېر دِ ما غُندي غلولي په رنگ رنگ دي     څه بلا ئې په لباس په ټېټالونه
ستا دَ ورځیو خال کوتره دَ هونیا[3] دَه     تورِي زلفی دِ چاپېري ترې جالونه
دَ بلبل په خاطر هونبره بلا نه وِي     چه غنچه کا غوړېدل په اهمالونه
نه به باز نه به شاهین نه به شنقار شِي     که ټپوس دَ اَلوتو لَرِي بالونه
پدا څو توکه دِ هیڅوک باور نکا     په وعده دَ کښلیُو خوب دَي که فالونه
دَ مجنون په بېړی ناست دي مرگ ئې مه وه     چه په سپینو خولو ئې وښندَل مالونه
خبر دار وربانديِ روغ لېونیَ ندي
په خوشحال کښ چه پراته دِي دا حالون

اې چه ستا دَ یار له غمه استغفا دَه     که سینه دِ له زنگاره نه صفا دَه
هیڅ دَ خپل مَیَن دَ بدو غارت مشه     دَ اغیار تر وفا ښه دَ یار جفا دَه
دَ یار بد هم لکه ښه هسي حساب کړه     هم پدا دَ عاشقیَ اکتفا دَه
که ئې نېښ زیاده نه گڼې تر نوشه     بېهوده دِ طمعه کړې دَ سفا دَه
مخامخ دَ یار و غم ته وَدَرېږه     که دِ غیرو اشنایی وَته قفا دَه
آه که یو ځله مې ولیدې په سترگو     چه مې تل تل ستا له غمه وا اسفا ده

---

[1] د بروس کلمه سید راحت په معنا د خفه او ناراض راوړی ده، په محاوره کښ هم دغسي دئ. مگر د عبدالحمید ماشوخیل په دیوان کښ هم دا کلمه داسي راغلی ده: که هزار ځله مي بروس دارو درمان کا – دا غ مي کله مرور دي ستا له دردہ. دلته یو محشي بروس ته طبیب کښلی دئ، چه هم دلته هم هلته له موقع سره دا معنا سمه راځي.

[2] کې.

[3] د دې کلمی معنی مطلوبه ده.

Downloaded from: ketabton.com



دَ خوشحال دَ رنځ علاج به څوک په څو کا
چه زګېر وائې له طبېبه په اخفا ده

اې چه اصل دِ يَوَه قطره مني ده    پدا هسی رنګ وجود دِ څه مني ده
راشه زړه ورپوري مه تړه نادانه    که ئې ګورې دا فاني دنيا دني ده
عارفانو وته تلخه شوه تر زهرو    په غافل باندې شيرينه تر ګنی ده
له ګدايه نه لا څه خو مخ جار باسې    تل تشنه ناسته په وينو دَ غني ده
روغ ئې واړه په کمند دَ مکر بند کړه    آزادي که ځني شته دَ لېوني ده
تل دِ خوښ دَ خوشحال زړه دَ عشق پکار وئ
خو يو عشق دَی چه دَ ده خوښي هني ده

بذګر چه دانې لوني په مځکه    دَ يوې دانې زر طمعي لَري ځکه
حقيقت دَئ که مجاز درته ئې وايَم    يَوه ښه ښايسته جل[١] بله کوچکه[٢]
چه محنت په ځان قبول کا راحت مومي    خداي به نکاندې خواري دَ هيچا ورکه
که خبر نه ئې خبر شه حال څه دَئ    په ظاهر ډېر تګي لَرې له تکه
هر زمان به دَ اوُبو په فکر نه وُ    بې اوبو که ماتېدَي د تړي[٣] سکه
دا پريشان پريشان وَيل مي د مستی دئ    چه دي مزي دَ ژوند بولم[٤] څو تکه
تر ليدلُو نه ئې نه ليدَل بهتر دي    چه و مخ ته ئې نظر کېږي په کرکه
د دې باغ ګلونه واړه ښايسته دئ    چه همېش ئې بقا نشته په کځکه
چه ئې مينه دَ زړه سنګو روزي نشوه    په قيامت به دَ هغو تله وې سپکه
که بوسه دَ هغې دنکي[٥] دَ خولې غواړې    يا ئې دواړه څوني نسه يا څونګه
دا دی واړه ناپوهي نه دَه نور څه دَه؟    چه دَ لويو چارې غواړې دَ هلکه
دَ بد ګوي دَ خولې خبري واړه روغي    چاړه[٦] توره بې سندانه بې[٧] څو تکه
دا مي شعر په بياض کښ نه دَئ جمعَ    په کجکول کښ مي پرانه دئ څو کنډکه
چه سرې شنوبې[٨] ئې چېنم په وخت دَ اوُړي    بادشاهي دَ اورنګ زيب ځما غړکه
کوم ياغيان هوډيان دئ پرې يستل له هوډه
چه دا هوښره ډېر دماغ لرې ختېکه!

---

[١] يعني نجلی.

[٢] لوچګه.

[٣] محشي ورته کښلي دئ: تنده.

[٤] يعني زلف.

[٥] دسيد راحت په لغاتو کښ ابتدا په ساکن او په ګ دا کلمه په معني د لوړ قد او جګ راغلې ده.

[٦] چړې .

[٧] کوچنی مطرقه ده.

[٨] شلوبې.

Downloaded from: ketabton.com



بر سېرن شول پيوندونه    په دل[1] نه لَري پندونه
که پدر دَي که پسر دَي    سَرَه بېل لَري سندونه[2]
نه امېد شو سَرَه پاتو    نه باور په سوگندونه
نه سزا دا بد کردار شی    نه دَ غله ځَی مروندونه
دَ اورنگ په ظلم مات شول    دَ بابر دَ وخت بندونه
پدا هسي وخت خوشحاله
مرگ بهتر دي له ژوندونه

بيا ځيره٣ په سر کړه کښېږده له خياله    چه خوبا دي په خوله نوم واخېست خوشحاله
پيا سينه پسې په دواړه لاسه مږم    لکه باز د هونائي[4] ووزِي له جاله
زه لا هسي کچو گول ناديده نه يَم    چه لاله به بِهوَم ستا له جماله
که دَ مښکو انبارې مي په لاس کښېوزِي    همگي به صدقه کړم ستا تر خاله[5]
ځما مينه هسِي نده چه نورېږِي    که هزار رنگه جفا کړې ځما لاله
دَ عاشق عمر کوتاه دئ لا پدا يم
که دَ عمر هَرَه ورځ ئې شِي سل کاله

بيا له ورايه په خندا راغله نگاره    دَ ښه کال خوبي ښکاره وِي تر بهاره
مختوری دَ رقيبانُو دَ يار وصل    فلك ښه را سَرَه وکړه دا دوه کاره
دَ گلزار گلوَنه څه دِي راشه گوره    تر گلونو ښايسته دواړه رخساره
لکه روح چه له قالبه نه واته کا    په دا شان مي جدايي کېږِي له ياره
دَ ماښي توره ئې څه توري پرې باسِي    چه په زړه ئې يَو گزار وِي سل پرهاره
ځما خوار سَرَه چه تل غاړه غړي وه    اوس نظر را باندِي نکاندِي له عاره
دَ عاشق په لاس ژړا دَه تَل دِ ژاړِي    معشوقه چه وېره نکا له آزاره
د معشوقي دَ پالنگ لافي خطا دِي    څو ځما په سر کښ پروت يې دَ سر ډاره
دَ دې کلي طبيبان واړه نا ترس دِي    دَ دارُو په طمعَ مه اوسه بېماره
که هر څو ئې پټوې پسې ئې غواړې    په دا باغ کښ به يَو گل نه وِي بې خاره
هر ساعت سَرَه يَو نَوي نَوي خيال وِي    که ځما دَپاره بيا ور شې ريباره
که څوک غواړِي چه خپل زړه په غم اخته کا    آشنايي دَه لاس په لاس فتنه تياره
په يرغ په مصلحت نه دَه ځَايي ده    دَ خوشحال چه سريکار شه له اشعاره

---

[1] پدل.

[2] يعنی کناره او گوښه.

[3] دا کلمه فقط په چاپي سنخه کښ (چيره) ليکلې ده چه په معنا ئې نه وپوهېدم.

[4] د دی کلمې معنا هم حل طلبه ده.

[5] له خاله.

Downloaded from: ketabton.com



که پوستې له پوستو واوړي ګُندې واوړي
دَ خوشحال خو جار واته نشته له ښکاره

بيا مي څه دَ نورُو يار بولې تور مکړه   په ما خوار دِ ظلم ډېر وَکړ نور مکړه
وايې سپى غُندِي مِي څو په کوڅو ګرزې   څو ژوندَى په جهان پايم، بېغور مکړه
سر تر پايه اخلاصي يم په ياري کښ   په ناحق مِي لباسي بولې زور مکړه
چه په دوه پيالو دَ ميو بد مستي کا   هغه څوک په مجالس کښ ميخور مکړه
يَو عجيب دَ ميو جام دَئ ساقي راوړه   خداوند ئې په دا منځ کښ نسکور مکړه
چه حرمت دَ عاشقانو بکښ نه وِئ   په هيڅ رنګ مِي په هغه کلي کور مکړه
آشنايي دَ ناکسانو دَ ځان غم دَه   ناکسان له خپله ځانه خمسور مکړه
زه چه نن دَ بېلتانه په اور وريتېږم   دَ دوږخ لمبه نسبت پدا اور مکړه
راز دَ عشق دَى فهم دار اوسه خوشحاله
ښکارَوَنه ئې پخپل زوي و ورور مکړه

بې اخلاصه دَ يارىِ جواز نشته   خود پوهېږې بې اَودسه نماز نشته
دَ دانش مرغه هسي پورته ولاړ شه   چه هورې دَ کټه بازو پرواز نشته
که هر څو ئې په سَره اور کښ لولپه کړې   دَ ياقوت دَ اوبو ډار دَ ګداز نشته
هغه باغ چه تل مأوا وه دَ بلبلو   اوس په ده کښ دا بلبلو آواز نشته
دَ زړه راز وَ چا ته وَوايم حيران يم   په هر لوري چه نظر کړم همراز نشته
توکلتُ علي اللّه وينا يَوَه دَه
دَ خوشحال دَ زمانې سَرَه ساز نشته

باغ وَئ دَ ګلونو بکښ ناست وَئ زه او ته   ګل وَئ غوړېدلَي باندِي نماست وَئ زه او ته
زيړه زعفراني شوي يا ګلګونه معطره   لاس تر لاس نيولي سَرَه زغاست وَئ زه او ته
سپينه خوله دئ راکړَه بيا مِي هم در څخه غوشتَي   نورخواستونه نه وَئ خو دا خواست وَئ زه او ته
تل مي درد و غم وَئ دَ زړه کاست او مهر مينه   تل پدا دنيا دا کم و کاست وَئ زه او ته
رنګ دَ غماز ورَک شه راست روزګار دِ در ناراست کا   ځاي دَ ناراست نه وَي سَرَه راست وَئ زه او ته
نمر خېژِي خوشحاله چه خروس دَ سحر بانګ لي
شرط دَ پټ نياز دَئ چه بر خواست وَئ زه او ته

بيا د مار غندي راضي له خپله بختَه   چه د غم له پوسته ووتم يك لختهَ
بيا هغه حسن و جمال هغه ليده دِي   که د بخت سترګي مي خوړ وې څو وختَه
ګرد غبار لړي وريځي تر منځ ولاړې   بيا د نمر سترګه ښکاره شوله له ويختَه
خداي دِ وار، همت ورک نکا دَ مردانو   په دنيا کښ باندي راشي ګرانه سختَه
زمانې په هر بازار و ګرزَوَلَم   خبر دار ئې کړم د هر بازار له رختَه
د بهار په وخت ئې بيا نشو و نما وي   په خزان چه پاڼي پرېوزي له درختَه

Downloaded from: ketabton.com



د خوشحال ختك طالع تر خرم[1] ښه دي
چه بندي شو خاوند ښا ورو ست تر تختَه

پارسائي ئې دَ پارسا له لاسه يووړه   دانائي ئې دَ دانا له لاسه يووړه
چه مي كړې وه توبه له مي خورُئَ   په چشمانو ئې دَ ما له لاسه يووړه
معجزه چه دَ احياء ده په دوه لب ئې   لاس په لاس دَ مسيحا له لاسه يووړه
دلبرانو چه دعوا دَ دلبرئ كړه   دا دعوا ئې د هر چا له لاسه يووړه
راته پاتو دا يَوَه مسلماني ده   دا مي هم هغي ترسا له لاسه يووړه
ما وې زه به دَ عشق راز لَرم په زړه كښ   دا خبره مي ژړا له لاسه يووړه
چه دَ زړه صبر دَ يار له مخه غواړم   محبت مي دا دعا له لاسه يووړه
كه دَ نورُو هوښياري په عشق كښ پس وړي[2]
د خوشحال ئې لا پخوا له لاسه يووړه

پدا ساه نشته وېسا   هر دم ته وايه اللّه
هر نفس يو غنيمت دَئ   پهره دار اوسه دَ ساه
دَ سالك وَيَل كار كړه   كه دَ ځان نه يې بد خواه
دا سالك وَيَل هم دا دئ   ته ئې وايه بې اكراه
چه له خلقه نه زړه پرېكړه   زړه پيوند كړه له اللّه
كه هوا د كړله تركه   نور قبول يې دَ درگاه
بادشاهي به دَ هر تن كړې   كه دَ خپل تن ئې بادشاه
مُوتوا قَبُلَ اَن نموُتوا[2]   پدا راز شه انتباه
په جوار ئې دَ قربت كښ   دَ كم شناختو نشته راه
دَ بيدارو دِ نصيب وئ   ښه دولت دَ سحر گاه
څه اميد دور و دراز كړې   پدا لَږ عمر كوتاه
تل توبه كوَه خوشحاله
چه دِ محو شِي گناه

په جهان كه لويه چارده دَ مير ښكار ده   كه دا چار گورې هر كار لَرَه پكار ده
څو قابو تالاښ دا واړه دي په ښكار كښ   چار دَ جنگ دَ مرنتوب كه دَ پيكار ده
ورته هيڅ دَ ښكار دَ ذوق خبري مكړه   دَ هغه سرې چه طبعه دَ بيكار ده
آلوده دِي په ډېر غم دَ عمر ورځِي   چه په شمار دَ عمر نده ورځ د ښكار ده
په خوشحال باندِي دِ ښكار هوا ژوندُون شِي
مرده دله كه پتا باندِي بېگار ده

---

[1]محشي شاه جهان ورته كښلي دي.

[2]حديث شريف دی: يعنی تر مړينی دمخه ځانونه مړه كي.

Downloaded from: ketabton.com



په خوني هاتي سوره شوه مي پرستَه　　زه هم مست هاتي هم مست دَي دا هم مستهٔ[1]
خداي دَ درېِ واړه مستانو سره سر کړ　　بله نشته يا به نيست شِي يا به هستهَ
نندارو لره ئې راشي نندارچيو　　يوه لويه هنگامه شوله پيوستَه
چه ئې ستا زلفيني گنبېوتې په لاس کښ　　لاس ئې پرېوزه كه ئې دَى پرېږدې له دستَه
يار د ما څخه په كور دننه ناست وُ　　زه بې روحه گرزېدم دَ ده په مرستَه
نه ياري نه آشنائي واړه لباس دي　　چه خبر شوم د وگړي له بربستَه
ما په وړېو سترگو ډېر ياران خوړلي　　په ځير ځير دِ مخ ته نه گورم له كستَه
د خوشحال په ځان د ډېرو غشي لك دِي
خو هم ده زده دَي مرِي د چا له شستَه

په خوله كلمه لولي نمونځ روژه كاندِي كافر شته　　دعوى كا دَ شيخىَ تر شيطانه لا بتر شته
منطق معني لولي درس فتوى قاضي گري كا　　اكثر پدا فرقو كښ كه ئې گروې كون خر شته
له گوره لوټه واخلِي استنجا لَرَه وران شِي　　تقوى تر هسي حده په اولجه ئې وري كه زر شته
دَ بل كرَه چه ورشي پخپل روي بنديان پرانزي　　په ځان باندِي چه راشِي كله روي دَ پيغمبر شته
يو ځاى آلوده ندي په دا هسِي درويشانو　　پدا دور كه گورې دا ناپاك په هر كشور شته
بادشاه قطب اقطاب دي اُمراگان چه روته گرزى　　كړې خير ترلي دَ هر چا په سر ميزر شته[2]
چه خاص د زمانې دِئ حال ئې دا دَئ نور وگړي　　دَ غواوُ د خرو كلِي خالي نوم باندِي بشر شته
چه حال دَ پرهېز گارو سراسر واړه دروغ شو　　رشتيا غواړې له چا نه چرته پاتو دا هنر شته
نه مهر محبت نه مروت نه وفا صدق　　عالم سرَه برهم دَئ څو دا دور دَ قمر شته
اشنا له هيچا مشې له پخوا آشنايي ښه وه　　چه اوس له چا آشنا شي نور ئې څو رنگه خطر شته
تر دې ژوند يو ښه دِى مړه پراته په گورستان كښ　　چه نه ئې دا مكرونه نه دا فعل نه دا شر شته
دروغ وَيَل هغه كا چه ئې وېره وِى يا طمع
خوشحال پدا اړ ندي حق به وايي څو ئې سَر شته

په دا سرو شونډو ئې نه ده وينځَه توره　　راشه خضر دَ حيوان په چشمه گوره
مخ دَ يار له خطه وخاته مستغني دَي　　دَ غني وِي هر اسباب له خپله كوره
چه ئې سيوره په ما وه لكه بادشاه وم　　همائي وه ستا دَ تورُو زلفو سيوره
ستا بارخو بله لمبه وربل دِ څه دَي　　لكه تور لوگي چه تول پاڅي له اوره
دَ خپل پله خاوري دِ بيَه په عنبر كړې　　درته چا وې چه په دا بهار ئې پلوره
په څو بل لوري ته گورې ځان نادان كړې　　چه په ما باندي غوغا شِي لور دَ لوره
ته په دا حسن دَ گل غُندي زيبا يې!　　كه زوولې يې له خپله پلاره موره
چه په خوله ئې نوم اخلي روخ ئې نه دَي　　عاشقي چه وېره كاندِي له پېغوره
زه له ميو توبه وكړم توبه گار شم　　دَ ساقي پياله مي بيا كا توبه نوره
چه ئې څوك په كوڅه پَل بږدِي هغه سر خوري　　په جوار باندِي ئې مه گرزه سر خورَ

---

[1] دا بدله په چاپي نسخو کي نسته.

[2] كړې څېرئ ترلى د هر چا په سر ميزر شته، دا مصراع په دو نسخو كښ دوه پوله ده په قلمى نسخه كښ تر ميزر لاندى محشى پرونى كښلى دى.

Downloaded from: ketabton.com



که ئې ناز وَي که خيال وَي ما به يوور       ولي ما سره ډېر کبر کا هرگوره
زور ئې واړه دَ خپل مخ[1] ورته ښکاره کړ       خوار عاشق ئې ځکه درست پرې يوست له زوره
چه معني ور سَرَه نه وِي وَيَل سپور وِي
خداي به نکا دَ خوشحال خبره سپوره

په ښېوه ښېوه رفتار کاندِي غزاله[2]       وايې يښې په مځکه نه کښېږدي له خياله
و غمزو وَته ئې حکم دَي چه وژنه       هم هغه چه مينه کا ځَما له خاله
دَ زړه حال ئې امانت پکښې ليده شِي       چه ئې تن په صافي صاف دَئ تر زلاله
له دوو سترگوُ خبر واخله چه ئې وژنې[3]       نور به څه پوښتې ځَما دَ زړه له حاله
که شيرين اشنا وفا در سره نکا
په جفا ئې هم خوشحال اوسه خوشحال

په دا ښهر گښ دي نه وينم څوک سياله[4]       خبر دار نه يَم دَ بل ښهر له حاله
په ښايست کښ دئ ارمان دَ صورت نشته       دريغه دريغه په خوي هم وی څه خوساله[5]
په دردمنو کښ نن زه يَم بې مانندە       په دلبروُ کښ نن ته ئي بې مثاله
په دا سپين تندِي دئ طعن په آفتاب شِي       په آبرو دي گرو وَړی له هلاله
نن به ته دا کبر نه کړې نور به څوک کا       چه په خلقُو دئ نارې دِئ دَ جماله
که تل جنگ و خرخښې کړې زه برې خوښ يم       ښايسته دَ جهان نه وِئ بې جنجاله
چه د حال پوښتنه نه کړې مرگ مي راغي       کله کله مي خبريږه له احواله
په پنځه وخته چه لاس په دعا هسك کړم       ستا دَ عمر دعا[6] کړم په ډېر ډېر کاله
دا بې وخته سپين وېښته نه وُ بلا وُ
چه دَ کښليو زړه ئې تور کړ له خوشحاله

په دا باغ کښ به دئ پاڼِي نه وِئ گله       که خبر شې دَ خزان له تطاوله
دا څو ورځي غنيمت گڼه په باغ کښ       چه په تا باندِي سينه وهِي بلبله
مرتبه دَ هغه باغ څه پاتو نه وِئ       چه خالي وِئ دَ بلبلوُ له غلغله
و هغې ښېښې ته نه غړېږِي سترگي       دَ ساقي څخه چه تشه شِي له مله
په دا پُل باندِي دَ خلقو گزر گوره       څوک پر ېوزي، ځَني پور ېوزِي تر پله
په درست عمر به ئې نه ووزي له يادو       چه ليدلي وِئ تا رُو دَ باز منگله

---

[1] ځَان.

[2] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

[3] چه مي وژنې.

[4] دا بدله هم په چاپي دېوان کښ نسته.

[5] محشي ورته کښلی دئ يعني ميانه.

[6] دعا گويم په ډېر کاله.

Downloaded from: ketabton.com



مقدر به په هیڅ رنګ مبدل نشِي    که په ځان باندِي تل لولې ځلور قله
عاشقان چه عاشقي کا غم به نه کا    دَ رقیب او دَ غماز او له چغله
څه کړم لاس و دست مي نشته قلندر یم    کڼه ما به دنیا وبازله کله
په پالنګ به خوب په څو بې غمه کاندِي    چه خبر وِئ دَ فلك له تزلزله
هسي یار لَرَم ښایست ئې تر دا قیاس کړه    چه دَ مښکوُ بوي ئې هیڅ دَئ له کاکله
دَ دلبروُ په ماڼي کښ هم مزه شته
بیچاره خوشحال ئې مري له تغافله

په راحت کښ په دولت کښ یارئ ډېري    په محنت کښ په زحمت کښ یاران چیري
نه به هر کله بهار نه به خزان وِي    دا د ستوریو[١] چاري ونیسه په تېري
که مي لاس لکه دریاب[٢]له درو تش وِي    ولي سَترګي مِي دریاب غُندِي دِي سېري
له یوې فتنې ئې ځان په دعا خلاص کړم    فلك بیا نَوِي فتنې کا را بر سېري
دَ دې دور په یارانُو باور نشته    په زمان ورته اغیار شِي یار دَ غوېري[٣]
چه به ما ورته کاته له جاهَ نکړه    له هغو خبرِي اَروم تېر و بېرَي
پروربښ ئې که په شهد و په شکر کړې    دَ خرما تر خوند به نه رسیږي بېري[٤]
دَ دستار دَ مرتبې به نه رسیږِي    که په لعلو مکمل کړې پائزېري
په ژوندون ئې دَ خوشحال دَ زړه دَ باسې
ستا کردې به ئې په ګور کښ نشِي هېري

په طلب کښ د سستي وینم درویښه    چه وتَلي يې د دې خونی له ویښه
نعمتونه رنګا رنګ دئ په هر لوري    په غوښتوني باندی نده جفا پیښه
څو طلب هونبره موندل دئ په دا دور    بلکه لا تر طلب بخره مومي ببښه
د عسلو خواږه کله هغه مومِي    چه حذر کا دَ مچۍ له بده نیښه
لا دَوخته دَ طبیب طلب بایده دئ    څو لا پایې په دنیا دَ زړه له ریښه
په هیڅ دین کښ ما وفا لیدلې نه دَه    خبر دار یم د هر چا له دین و کیښه
په هر غشي چه زخمي شوم بیا مي وکوت    هغه غشي وُ په تن ځما له کیښه
هیڅ پروا اندوه دَ بل د بدُو نکړم    خوْ[٥] دي پانځي بلا له ځانه خویښه

---

[١] دا د ستور، یوه چار ونیسه.

[٢] لکه صدف.

[٣] په بله نسخه کښ غېر راغلي دَي، غوېره او غوره سید راحت په یوه معني راوړي دَي یعني منتخب.

[٤] دَ هغه وني مېوه دَه چه په عربي ئې سدِ یا نبق او په پارسي ئې کنار بولي.

[٥] څو مي پانه څي بلا له ځانه خویښه.

Downloaded from: ketabton.com



په پیغام د بوسې[1] سود نشي خوشحاله
چه ځما[2] په خوله مین یې را نېژې شه

په هر لورې دَي فغان دَ مرگ له لاسه    په هر لور په هر مکان دَ مرگ له لاسهَ
دَ آدم صورت ئې مرگ لَرَه پیدا کړ    خرابی شوه په جهان د مرگ له لاسه
همگي پیغمبران که اولیاء وه    دُوي په مځکه شول نهان د مرگ له لاسه
عاقبت به شي بې شکه بی گمانه    دا وَدان کورُونه وران د مرگ له لاسه
راسه ته هم دَ توښې په سر انجام شه    کاروانونه شول روان دَ مرگ له لاسه
اې خوشحاله که په تن شاه جهان شې
هم به درومې په ارمان دَ مرگ له لاسه

په هره کوڅه گرزم که مي چا لیده رنگینه    گل مخه عنبر بویه هوسی چشمه مه جبینه
په خوله غنچه دهانه، په غاښونو در دندانه    په دواړو خوږو شونډُو تر شکرو لاشیرنه
په زنی لکه سیبه په غبغبو دلفریبه    په غاړه لکه زانې سبر قده تن سیمینه
په تور باڼه ناوکه په ابرو لینده بې شکه    په پوزه لکه لندي[3] چه را پاڅي له کمینه
گلگُوني ختي واړه مرصع مني په غاړه    ټېکه پر تندې اېښی په زلفینُو عنبرینه
په خوی خونی خون تېزه مهر چنه چنگ امېزه    بې باکه عاشق کشته بې پروا له دا دودینه
که زر خونُونه کاندې زړه ئې نشې لاندې باندې
لا نور ورپسې غواړې خوشحالېږي څو چه مرینه

پدنیا کښ نعمتونه رنگارنگ شته    دَ دیدن دَ نعمت کوم نعمت همسنگ[4] شته
عاشقی دِ هغه کا چه لېونی وئ    دَ هغو غرض پرې څه چه ئې فرهنگ شته
ما په عشق کښ دا همه واړه تر شا کړه    ته لا ښه یې چه دِ غم دَ نام و ننگ شته
ما وې زه به دَ زړه حال ورته عرضه کړم    یَو غماز ئې تر شیطان بتر تر څنگ شته
په آشتې کښ کشتن دَئ عاشق وژني    همېشه ژوندون هم دا دَئ چه ئې جنگ شته
خدایه ژر یو بل اورنگ لَره پیدا گړه    په جهان کښ ښاَدی نشته چه اورنگ[5] شته
په وار وار ئې دَ خوشحال خاطر صیقل کړ
ولي کړه[6] ته ئې لا پاتو څخو زنگ شته

---

[1] په پیغام د بوسې سود د خوشحال نشي.

[2] که ځما.

[3] د دی ټکی معنی مطلوبه ده.

[4] هم څنگ.

[5] یعنی اورنگ زیب چه پاچا وُ.

[6] ولی کښته ئې.

Downloaded from: ketabton.com



پروت یم ستا په ور کښې په خیرات مي یاد لَرَه    دانا ښاد خاطر مي په پوښتنه ښاد لَره
څو کړې ظلم جور په څو رنګه طور طور    وکړه فکر غور اندېښنه دَ داد لَره
خیال دماغ دِ ډېر دَیٔ تر حساب تر حده تېر دیٔ    مرګ قیامت دِ هېر دَی ښه دا هونبره یاد لَره
مرم په انتظار کښې نشي په زاري زار کښې    سخت ځما پکار کښې تر سندان فواد لَره
شرعَ شته کتاب شته دَ عذاب دَ خوي عذاب شته    ښه که څه ثواب شته ته دا خوي معتاد لَره
خداي وته څرګند دَیٔ چه د خپل خاطر پسند دیٔ    څه مهر پیوند ئې هونبره دا عناد لرِه
خوي خصلت چه ستا دیٔ واړه پټ ندي پیدا دي    مهر نازک دا دَیٔ ته ئې تل بنیاد لَره
ملك شته کښته پورته ګورم ستا دَ سترګو لور ته    مه درومه بل لور ته ځاي پدا سواد لَره
زلفي دِ زنجیر دِی پکښې ډېر زړونه اسیر دیٔ
څوک پدا تدبیر دِیٔ، چه خوشحال آزاد لَره

پدا کلي کښې څوک نه لرم نېکخواه    چه رشتیا وایَم هم دا لَرم ګناه
له ځوان مرده په خندا په هوس درومې    له نامرده جدا کېږې په آه آه
لکه سیوره ورِاندِی وروستو را سَره ځې    چه و هر لورِي ته ځَم سبا بېګاه
لکه لاس په شمار دَ زرو پول تورېږي    په دوستی ئې سرِی هم شِي روسیاه
زه په رغم دَ صوفي خراباتي یم    چه دَ مکر ذکر کا په خانقا
دَ زاهد پکار کښې څو رنګ اشتباه وِیٔ    دَ اوباش پکار کښې هیڅ نشته اشباه
که څوک زړه سوځِي په ما ځاي دَ زړه سوي دیٔ    که مي لاس وَیٔ زه به ولی وم اکراه
چه ئې لافی دَ پاکی کړې څه ناپاک شه    راشه ګوره چه څه حال لَرِي تباه
وایې سر په عاشقی کښې درته څه دَیٔ؟    درته وایم که باور کړې یو ګیاه
رعیت لکه عیال ساته خوشحاله
په یاغی باندِي مهم کاندِي بادشاه

په هر کار کښې مصلحت شته    خپل پرَدِي ته نصیحت شته
چه لر بر له مصلحت شې    کله خیر برکت شته
دَ سړِي هونبره ښادي دَه    چه په زړه کښې ئې همت شته
چه همت دَ سړِي نه وِیٔ    مهیا ورته نکبت شه
سر هاله په تنه ښه دیٔ    که دَ سر سرَه عزت شته
دَ سړِي چه عزت نه وِیٔ    دَ ژوندون ئې څه حالت شته
په صحیح غني هغه دَیٔ    دَ هر چا چه قناعت شته
دَ نېستی ئې اندوه مکړه    که په تن کښې دِ صحت شته
چه صحت دَ صورت نه وِیٔ    څه په کار که دِ دولت شته
دین دنیا دِ مبارک شه    که دانا سرَه صحبت شته
اوس یاري مکړه خوشحاله
دَ یارِی سرَه آفت شته

Downloaded from: ketabton.com



پخپل قسمت راضي شه، تل دَ بل قسمت مه غواړه — فراغت دِ مبارک شه که دِ ونېوه دا دواړه
دَ ژوندون پیوند تړَلي په یوه اومه سپنسي دئ — دَ جهان غمونه پرېږده نور به څه ژاړې ځان ژاړه
خپل دِئ که پرَدِئ دِئ قلم وڅکوه په واړُو — دور دَ فساد شو پخپل زوي و ورور مه ویاړه
هر چرته چه ګرزم ځنی هسِي چاري وینم — کار مدار په نن شو، دَ سبا اندېښنه ولاړه
ګوره کوم یو باد دَئ چه په درست جهان را والووت — زړه په چا ښه نشی لباسی شه خلق واړه
ما وې کلی مېشت دَی چه په کلي باندِې راغلم — تش کنډه پراته دِئ خالي مېنه دَه اوجاړه
هر چرته چه ګرزې په لاحول ترې تېرېږه — سل بلا په زړه کښ سل دانې تسپې په غاړه
ډېره سودا وشوه سل دعوې دَ سود په طمعه — وخت دَ مازدیګر شو دلَ دادکان ونغاړه
تل وایې خوشحاله چه دنیا وته به شا کړم
لا خو دا دنیا دَه مخامخ درته وَلاړه

بر بر راشه نور وزه دل افروزَه — ستا په وخت مي آسوده شي سترګي پوزه
ستا په وخت سترګي دَ باغ ګلَونه ګوري — پوزه هم کاندي دَ بوي خوښي اندوزه
غوږ لا هم ستا له طفیله حظ حاصل کا — مغني شي عندلیب په څو څو سوزه
په وصال دَ معشوقې عاشق فیروز شِي — دَ ګلزار په وخت بلبله وِئ فیروزه
خپل غوږُونه ورته څک[1] کړه کنُدي واروې — راز دَ میني دَ بلبلو له لوزه
د نوروز له فیضه بوټي خالي نه دي — فیض رسي هم تر سپاندِي هم تر ځوزه
که همه عمر دَ باغ ګلُونه ګورم — ځما خوا به پرې سړه نشِي هنوزه
دَ بهار هوا هر ګوره ښه هوا دَه — که آفتاب وریسې ته نه وي تموزه
په راتله ورلَرَه ډېره خوښي راوړی
په خوشحال باندِي دي قدر دَئ نوروزه

پلاو وخورې یَوه لپه — ننه پریوزې اندر غپهَ[١]
هیڅ خبر نه وي له ځانه — نه له راسته نه له چپه
نه درود وي نه دي ذکر — هندو هم به وي بې جپهَ[٢]
چه هوا وی درته ښه کا — زړه دي ځي په هغه هپهَ[٣]
په هر ځاي چه له چا کښېنې — یا د راز وي یا د ګپهَ
ته به ځان تر هر چا ښه کړی — که ښه کېږې په غرډپه[٤]
که پخپل فهم طبیب يې
د خوشحال تر فهم تپهَ[٥]

---

[١] غپ د سپې بړغ ته وایي، دلته نه ورسره جوړېږي ممکنه ده چه غپه وي یعنی غوطه، یا به خپ وي یعني پټ او مستور.

[٢] په هندي ذکر کول او خداي یادول.

[٣] خواهش او هوس.

[٤] په چاپي نسخه کښ (غروپ) کښلې دي، چه معنا ئی نه ده جوته، اما لکه په قلمي نسخه کښ چه غرډپ کښل سوې دي، معنا لري یعني غر او دپ چه ځان لوړ ګڼل او بر بر ویل دي.

[٥] په چاپي نسخه کښ رطب کښل سوي دي چه معنا ئې نسوه راته جوته اما د قلمي نسخو تپ لکه چه صحیح دي.

Downloaded from: ketabton.com



په رشتیا ویل غورېږي د زړه غوټه　　دروغجن خو دي لکه سپيَ د غُلو سوټه
په دریاب کښ خښته واچوي هیڅ نشي　　په ېو څو ځانڅکي خوره شِي اُومه لوټه
د هغې ښځې صحبت لکه دوږخ دَي　　چه مېړه وته تل کښېني په مخ نوټه[1]
پدا کار نادان هوښیار واړه پوهېږي　　د کابل خربوزه بِه ده تر پهوټه[2]
حڅوک خموُنه تَشَوي مستي ئې نه وي　　څوک دَ میو عربده کا په څو گوټه[3]
د هغه یاري په کار نده خوشحاله
چه له خپلي خولې وباسي وینا جهوټه[4]

په هره تنگه خوله کښ برابر ندي خواږه　　په ځنو کښ حلوا دِي څوک نبات لَري تاړه
سَمِي کږې ږېږې پخپل زړه لري خپل یار ته　　ځکه دِ دَ زلفو وېښته سَم وئَ هم کاږه
بخت دَئَ چه ئې اوس ستا له لبانو سرَه ښمه　　تا مي چه دَننه زړه په سره پېزوان ځاړه
زه دَ زړه بدخواه وم ما پرې وکړ پرهارونه　　څه لَره مي وَئَ دَ یار غمزو لَره لاړه
اور لرې په مخ کښ چه پټا مین کېدلم　　ما به پدا بله لمبه ننه زړه ځاړه
زلفی دِ تور مار دي زه ئې هسي وخوړلم　　مرَم راباندِي نه جَي دَ دم گریو هیڅ پاړه
مست یم مَي پرست یم زه خوشحال په خرابات کښ
له میو به وانوړم که مِي وژنی په وراړه

تا وې نورِي تر ما ښې دِي پسې دروړمه　　راته وایه تر تا ښه دَه بله کومه
چه مِي ستا وَ خرخشو ته نظر وَکړ　　دَ جهان په مخ به نه وئَ هسي سلومه[5]
دَ خاطر مرغه مي ستا په زلفو بند شو　　اوس به چرته ځي چه نښتي دَئَ په لومه
دا چه وایې دروړمه صبر کړه له ما نه　　بیا مي کومه بې صبري وه در معلومه
په عاشق باندي ئې تل ظلم و ستم وِي　　ستا دَ سترگُو وېره نشِي له مظلومه
زه لا اوس په زړه تنگي نوي عاشق یم　　په خندا خندا بورجل لَرَه را دروړمه
په خوشحال باندي که تل نارې سورې وِي
باز پروا کا دَ کارگانُو له هجومه؟

تا هنر دَ سرداری نه زده بهرامه　　سرداري دِ په خپل دور کړه بد نامه
هم تمامي خېلخانې لَرَه بلا شوې　　هم خپل ځان لَرَه بلا شوې بد فرجامه

---

[1] یعني په تربو تندي وا نارضایي، په بله قلمي نسخه کښ دا مسری داسي ده چه مېړه وته کښېني په نغر لوټ.

[2] محشي ورته لیکلي دِي چه یو ډول بې خونده خټکي دي مگر دا د هند مشهوره مېوه ده.

[3] یعني یوه هنده او یوه جرعه.

[4] یعني دروغ، دا کلمه هندي ده.

[5] ځرگند، نوموړی.

Downloaded from: ketabton.com



تا طاهر دَ کم عقلی په جرگه مړ کړ | اوس فارغ شوې دَ طاهر[۱] له انتقامه
تا خپل ځان لَرَه دَ مرگ رخنه پیدا کړه | خېلخانه دِ په بد خوي کړه بې آرامه
په دا هسي بد خويی بې بخت نه يې | چه لا نه يې دَ خوني هاتي تر زاله
مشر ورور دی په زندان کړ ته خاني کړې | دا خاني دِ شه په ځان پورې حرامه
چه خانی ته دِ هوس دئ زړه په زور کړ | لا ځايي وه ستا دَ زړه اندېښنه خامه

نور دِ نوم د ما دَ زويُو په شمار شمار مشه
د خوشحال خټك وينا پدا تمامه

تل په ځان کښېږدې تازه تازه نومونه | زه دِ پېژنم دَ زلفو په خمونه
نه ئې څوک ويني په سترگو نه په خون کښ | چه را رسي ستا له غمه دا غمونه
که مي ته دَ زړه له سوزه خبر نه يې | خبر دار مي پدا حال دي عالمونه
لکه ستا باڼه په شمار په حساب ندي | هسي ستا دَ سترگو ډېر دِي ستمونه
بيا مِي هسي دا غمزې په غشيو وله | لکه تل دِ په ما خوار کړل کرمونه
نه چه زه يواځې ناست يمه ويرژلَي | لور په لور دي ستا له لاسه ماتمونه
ستا دَ تورُي دَ گزار حاجت هيڅ نشته | په وکښل ئې د عالم خېژي دمونه
مگر څوک په غاړُو غرونو ژوندی گرزي | ستا سپروُ په ويڼُو وَلړل سمونه
چه ډېر ډېر به ئې کښېښول پرې پرهارونه | طبيبانُو څخه ورک شول مرهمونه
اوس دي غم لکه لوي غر دَي راته پاتُو | غر به نه اوړی دَ جا په اړمونه
يا دِ ستا دَ مخ ثنا خوشحال خټك کښ | يا دِ نه نيسی په گوتو قلمونه

چه خوشحال ئې په کاغذ يا په قلم کښ
په خاطر کښې هنوبره ندی المونه

تل چه ارته لمن څکوې په مځکه | غره توب لرې دَ مخ په خوبي ځکه
په بېسر دي رنکارنگه ټکي گوره | پدا شان به ښايسته نه وِي لوڅکه
چه دا هسي شېوه گره ځني زو وې | سَرِی نه وُ ښاپېرَي وُ ستا ادکه
دَ مستی له مخه دا پرېشان ويَل کړم | چه دئ مزَي دَ ژوندون بولم څو ټکه
زه به تا وَته نژدې شم تا به گورم | که د ما گنده نه کېږي ستا کرکه
په بوسه مي دَ لبانو سر فراز کړه | همېشه په زړه لَرَم دَ شربت سکه[۲]
لېونی دي د جمال نه يَم نور څه يم | چه پخپله خونه نه پرېږدم کځکه
لَون لَون شو لانونه[۳] دَ شاهانوُ | دَ هر در رالَرَه بس دئ څو کنډکه
سر بازم وصال دئ غواړم هغه زه يم | لکه څوک چه په بل لوري غواړي ورکه
دَ ښايست بخره ئې ورکړه د ترکانُو[٤] | محبت را پيدا کېږي له تاجکه

---

[۱] ظاهر.

[۲] محشي تنده ورته ليکلې ده په چاپي نسخه (څکه) ليکلي ده، يعني ذائقه.

[۳] محشي ورته طعامونه ليکلي دئ.

[٤] و ترکانو.

Downloaded from: ketabton.com



چه ئې توره په کار نه وِئ حبطه دَه　　که ئې روغه وِئ دَ سپينُو زرُو تکه[۱]
مګر تا څخه سامان دَ سلطنت دَئ:
چه په هوډ مې سپينه خوله غواړې ختِکه!

تور وربل دِ په سپين مخ را آشفته شه　　سمن زار دِ په سنبل کښ نهفته شه
عاشقانو دِ آرزو وکړه ليدن ته　　چه دَ کښبلِي مخ صفت دِ شنفته شه
څه خو سر له غرفې هسك کړه وئې ګوره　　لاله زار دِ په جوار کښ شګفته شه
تا چه زلفي پېچاپېچ سَره وَلول کړې　　په ګلونو کښ يو تور منګور خفته شه
هغه دُر دِ فخر کا که ئې تميز شته　　چه ئې پاسه دَ تېکی په تار سفته شه
ستا دېوال مګر دَ عشق په خښتو روغ دئ　　چه ئې شيخ تر سيوري کښېناست آشفته شه
ځکه هسي رنګه بوي لَري خوشحاله
دا غزل چه دَ بهار په وخت ګفته شه

په زړه مي هسي نهال يې اې له دوو سترګو غايبَه　　که بله نامه وايم نامه ستا راشي په ژبه
هر دم مي ډېره څله اضطراب شي ستا ديدن ته　　په تَږې باندي تل وي دَ اوبو مينه غالبه
تروه ترخه که نه وَي خوږو قدر به نه وُ　　سکه ځکه جدائي شوه آشنايي سره واجبه
يوه دَ بېلتانه رنځور ګرانه ده که نه وِي　　نور همه زحمت آسان دي که نس خوږي دِي که تبه
نا څاپه دوه مشتاق چه سَره وَويني په سترګو　　تر دا به بله نه وِي په جهان کښ عجائبه
په ډېر ضرور خوشحال دَ يار له مخه جدا کېږي
اروا کله راضي وِي چه بېلېږي له قالبه

په هغه جهان به خلاص وِي له عذابهَ　　که دلې ئې سريکار وِي له کتابه
واړه زه يم چه مي هسي شراب بد کړل　　ګنه کومه بدي غواړې له شرابه
د شيطان له چارو ليري ليري ګرزه　　يو درنګ مه اوسه بې چنګ بې ربابه
د ښه مخ په ننداره کي خيريت دَئ　　که ځما له لوريه چار نشي خرابه
چه دا هسي ارت ملك په خپل سر تنګ کړې　　په خلوت کښ دِ چه څه سود دَي شيخ و شابه
چه ئې سرې لمبې په ځان کړې قبولي　　د ښه بوي نفس پيدا شوله ګلابه
هم حېوان ئې هم سړی يې هم ملك يې　　که ته ښه په ځان خبر شې له حسابه
که خبر له حاله نشې درته وايم　　په بَل نام به باله نشې بې دوابه
که پخوا ئې خرابي ده چا ليدلې　　بيا به هم وِي د وجود مېنه خرابه
هر طناب ئې و دانا وَته معلوم دَي　　دا خېمه وَلاړه نه ده بې طنابه
دَ خوشحال ختِك په ژبه برکت شه
چه ويَل کا په پښتو له هَره بابه

ته چه هسي په غوغا درومې سيلابه　　ولي هسي په ساعت کښ شې بې آبه
آفرين دِ په همت دَ لوي درياب شِي　　چه په هيچري ئې چار نده کربابه

---

[۱] د قندهار په اصطلاح تېکی يعني غلاف.

Downloaded from: ketabton.com



چه په پورته د کاغذ وګړئ دورمي    که رشتيا ده دا دِ دورمي بې طنابه
د طوطي ژبه استاد غواړي د نطق    ګڼه دَی به لا بتر وُ تر غرابه
چه په مخ کښ دِ نابود شِي واړه ستوري    د اسمان په ستوريو وَ خېژه آفتابه
که لمبې ور باندِي بلي کا اېرې شِي    د ژوندون هنر به نه ځِي له سيمابه
له ياقوته دِ هاله سيالي شبَه[1] کا    که دَ اور په تاو کښ دا نشِي بې آبه
چه مرغونه وزر بيا مومي آلوزي    هيڅ مقصود تر سرَه نه ځي بې اسبابه
په ځوانی کښ اوده وُ په زوړ والي
د خوشحال سترګي بيداري شوې له خوابه

توره چه تېرېږی خو ګزار لَرَه کنه    زلفي چه وَلَول شِي خو خپل يار لَره کنه
ولي راته وايې چه په کښليو نظر مکړه    سترګی چه پيدا دِي خو ديدار لَره کنه
شيخ دِ نمونځ روژه کا زه به ډکي پيالې اخلم    هر سړَی پيدا دَئ خپل خپل کار لَره کنه
تا وې چه ځما دَ خولې بوسه لکه دارو دَه    غواړم دا دارو دَ زړه پرهار لَره کنه
ويني مې د زړه خورې مګر نور څه لَره ندي    زړه ځما پيدا دَي تا خونخوار لَره کنه
څه ژړا فرياد کړې دَ شهی دَ تورو زلفو    ته ورتلې پخپله دې تور مار لَره کنه
خود به ستا تر مخه دَ ګياه غُندِی څرګند شي    ګل دَ لاله راوړه خپل رخسار لَره کنه
مَی شته چنګ و نَي شته دَ خپل يار سرَه خوشحاله
خپل بياض په لاس کښ خو ګلزار لره کنه

تونګران په ملك و مال لَري تکيه    درویشان په ذوالجلال لَري تکيه
دَ عارف ژبه ئې بند ګړه له مقاله    عالمان په قيل و قال لَري تکيه
دَ عاشق سرَه چه هونبره استغنا کا    ښايسته پخپل جمال لَري تکيه
که تکيه دَه خو تکيه دَ يوه خدای دَه    چه په بل ئې کړې څه حال لَري تکيه
دا نابودي تکيې ګوره دَ وګړِي    چه په ستورِي چه په فال لَرِي تکيه
دَ دنيا تکيې ئې وليدې په سترګو
نور به چا وته خوشحال لَري تکيه

تر هر چا دَئ د ما يار ښه    شکر لب و شيرين بار ښه[2]
تر سنبولو ئې ښې زلفي    تر ګلونو ئې رخسار ښه
توري سترګي تورِي ورځي    تور ګېسو ئې تار په تار ښه
تنګه خوله ئې نېسته هسته    لکه خوله هسي ګفتار ښه
لکه دُر هسي غاښونه    لا تر درو سپين هموار ښه
تر وېښته ئې ملا نری    تن ئې لا تر سپېين چوتار ښه
قد ئې ښه تر سبر وني    لکه قد هسي رفتار ښه

---

[1] په چاپي نسخه کي لمړی توري زېر او دوهم توري زور لري، په قلمي نسخه کي محشي (مشکڼی) ورته کښلي دي، چه مصنوعي مرَی ځني مطلب دي.

[2] خداېه راکړه د ما يار ښه    شکر لب و شيرين کار ښه.

Downloaded from: ketabton.com



چه هر ځای وته ئې ګورم    سر تر پایه پریوار ښه
خدایه ماتې هغه خولې کړې    چه به وایي هندو بار ښه
هونبره کلي ډېر ښهرونه    پکښې نشته یَو نګار ښه
چه پکښې خواږه یاران دئ    پېښور تر هر دیار ښه
په موسم دَ ښو ګلونو[۱]    تر هر څه دَ میر ښکار ښه
ښه په هند کښ چنبا ګل دئ    تر دا ګل دَ وطن خار ښه
دَ سرای قدر نور چا نزده
په خوشحال دَي تر فرخار ښه

تا وژلی هم له خپله لاسه ښخ کړه    له دِ زړه باندي یخیږي زړه پرې یخ کړه
رقیبان دي لکه سپي دي په کوڅه کښ    چه انګن دِ پاکیزه شی واړه چخ کړه
دَ جنت مېوې[۲] مې نورُو ته بخښلي    کله کله ځما په خوله سېب دَ زنخ کړه
هغه واړه مهیا دی په هجران کښ    چه واعظ وَ ما ته شرحَ دَ دوږخ کړه
که پرواز دِ دَ شهباز دَ شاهین ندئ    دَ مطلوب په لوري پرونه دَ ملخ کړه
چه دَ قدر دَ وصال نه وُ خوشحاله
په فراق دِ ښو یارانو اوس آوخ کړه

ته چه دا حسن لرینه    ځکه هونبره کبر کړینه
تورِي سترګي په کجلو    په تنبولو شونډي سرینه
په مثال لکه شاهین یې    چه دَ زړُونو غوښی خورینه
که ته هر څو ښایسته یې    کبر مکړه وَ به مرینه
دَ خوشحال خاطر مفت ندي
فهم وکړه چه ئې وړینه

چه پلَو له مخه نه اخلې دلبره    مګر شپه دَ خوار عاشق شوه بې سحره
نه ئې زړه په ما نرمېږي نه ګروهېږي[۱]    خدایه څه مې سریکار شُو له کافره
نه مې خوب نه مې قرار نه مې آرام شته    همیشه را باندې تبه وِي شېبره[۱]
دَ وصال امید رمق دَي لَږ را پاته    او کنه بېلتانه وَوژلم اکبره!
په یوَه نفس کښ زر خطونه راوړي    په هر لور چه غورزَوَم دَ زړه کوتره
دَ معشوقي په پالنګ به هغه خېژي    چه له سَرَه نه بیرون کا دَ سر ویره
غلېواز چه هنر نه لَري آزاد دَي    باز په دواړُو پښو بندي دَي له هنره
څه وه څه شوه خبر نه یَم بیا به څه شي    اې یوه خدایه ځما په حال خبره
څه یَوَه نېزه څه دوه څه تر دا زیاتي    دَ غریق اوبه چه پاس واوړي تر سره
مګر خضر مي مدد شي دعا را کا    چه لاهو بېړۍ مې وَوزي له خطره

---

[۱] دا درې وروستني بیته له یوې قلمی نسخې څخه را نقل شوه، په نورو کښ نشته.

[۲] منې.

Downloaded from: ketabton.com



ځو ئې ځله هر ساعت شي هونبره ځله
دَ خوشحال سينه لګېږي له حجرهَ

چه دا هسي په پالنګ راغله نوخېزه — الوداع دَه دَ خوشحال ختِك پرهېزه
عقل لو عشق چه سَرَه دواړه په دعوه شي — بل مجال دَ عقل نشته بې ګرېزه
هم پخپله جنګ آغاز کا جنګيالیِ — هم پخبله صلح کاندیِ صلح آمېزه
په بازي بازي وژلي کُټِل نشي — په خندا خندا خونونه کا خونرېزه
زه د کښليوُ په دا کار پوري حيران يم — چه له چا نه زده کَوِي هونبره مکېزه
که له دله ئې شلوم شلوله نشِي — دَ دلبرُو ياري ځو ده دلاوېزه
غچول ئې هسي نه دِئ چه څه پرېږدي — تر الماس ئې دَ غمزې توره دَه تېزه
قند و ګل سَرَه دا هونبره لذت نکا — چه خوله ورکا دَ زورل سَرَه آمېزه
د معشوقي نوم عاشق په جهان خوز کا — د شيريني بازار تود دَئ له پروېزه
که مي بې له تا نه نوره ياري وکړه — راته ګوره را ځکوم حديث په بېزه
په کاته کاته زړه لا درته تاوتاو شِي — دَ لرګي لنبتي په غاښ کړي رېز مريزه
چه ئې سوز نه وئ له سازه — يا ئې سر له[١] سرو نازه
دَ ژوندون راحت ئې کوم دَئ — راته وَوايه همرازه!
غم می واړه تار په تار شِي — دَ هر تار له ښه آوازه
په هر ځُاي چه ښايسته وي — ترې سلام مي دَئ له نيازه
ځما لاس له کاره ووزِي — چه په کار کښ شې شهبازه
چه دَ کښليو ننداره کرَم
ورته پاتو شم خوله وازه

چه له عشقه بله چار ګنی افزونه — تر دا بله اندېښنه نشته زبونه
باور وَکړه چه د عشق په کاروبار کښ — که زيات نه يم کم هم نه يم تر مجنونه
ظاهري ګونه دَ زړه په حال ګواهي لي — که هيڅوک ندي خبر له اندرونه
ته ناترس به ګوته هم پرې لنده نکړې — که له دوو سترګو روان کړم دوه سيندونه
چه دَ زړه له تاوه وَوزِي غه خبره[١] — اثر وکاندي آخر په واړه زړونه
کل عالم دَ بېلتانه له لاسه زار کا — زه په ځو خبرو خوښ يم له بېلتونه
يو ئې قدر دَ وصال راته څرګند کړ — بل ئې سهل را ښکاره کړه نور غمونه
چه تا شان دَ ليلي کړِ زه پوهېدلم — چه به ستا له لاسه ځُاي کړم غاړي غرونه
چه يك لُخته دِ خوشحال له زړه نه وَيوست
در پوهېږم ډار دِ نکېږی له خونه

چه وفا ئې له چا نه مونده په مځکه — وَ اسمان وته روان شو عيسی (ص) ځکه
په زرګونُو راته لاف کړې اوس يو نشته — آشنايِي له هر چا ښه دَه بې ختِکه
دَ هغو له خولې کړې خبرِي اَورم — چه به ما وَرته کاته کوَل په کرکه

---

[١] هغه خبره چه د زړه له تاوه ووزی.

Downloaded from: ketabton.com



دَ راحت په وخت چه تَل تر تا ځاربېږي    په سختي کښ وېزاربېږي له ابکه[۱]
ما وې واړه په احسان ځما بنده دَئ    همگی ئې زیست روزگار وُ له کوتکه
دَ معني په سترگو گوره له دانا یې    په ظاهر جامه که ښه برېښي لټکه[۲]
مروت یاري ترې مه غواړه خوشحاله
هر سړَی چه اُوبه وَڅښي له اټکه

چه ئې تا غُندِي را درومي په پوښتنه    رنځوري دَه دَ هغه رنځور سودمنه
دَ بسیر موتي د لاس د سکندر کړ[۳]    ښوریده ئې اشارت په جار و تنه
تل په تا پسې غمجن یم هونبره نکړې    چه مي وَ پوښتې څه حال لرې غمجنه
که دِ سر له ما نه غوښت لتا می درېغ کړ    بیا هاله وایه وَ ما ته دروغجنه
زړه مي ستا په لاسو درکړ تا خراب کړ    هلك څه زده دَ زیبا طوطا ساتنه
خداي دي لاس دَ هغه چا په ته کښ پرې کا    چه په قصد به پرې کوِي دَ گلو وَنه
که یو ځَل ئې طماغه[٤] له سَرَه پرېوزي    چوز و باز ووته څوک ښئي وهینه
که دَ کښلیوُ وعده هر کله خلاف دَه    خداي دي تا دروغجن نکاندِي په ژمنه
وَ خوشحال ته خو هم دا وایه مطربه
چه ځار ځار کله به رایشې مینه!

چه نه لَرِي ننگونه    وئې مه وینې رنگونه
دا د ننگ دَپاره گرزم    پیدا هسي گړنگونه
صد رحمت را باندِي ښایي    پیدا هسي آهنگونه
په څو به ځَني درومې    چه دَ زړه لَرم زنگونه
مهدي له غاره ووزه    کښېږده پبنه په پلنگونه
نه دین شته نه آئین شته    شرم لاړ په فرسنگونه
مختورن[٥] ظالمان ډېر دِي    چه آخلي قلنگونه
دَ عدل توره واخله    ملك اسلام کړه په جنگونه
بیداره اوسه زرکی    شاهین[٦] گرزي په ځنگونه
خوشحاله فهم وکړه
چه پر بوزي خرسنگونه

---

[۱]یعني پلار.

[۲]یعني هغه توره چه په جنگ کښ کار نه کوی، پڅه ئي مخ اوښتې توره.

[۳]د بسیر لولو د لاس د سکندر شوه.

[٤]محشی ورته توپی لیکلې ده.

[٥]مختوري.

[٦]شهباز.

Downloaded from: ketabton.com



چه دا هسی ښاېسته ئي زيړه ګله ځکه تا په ځان شېدا کړمه بلبله
چه ئې طور ستا دَ تورُو زلفو واخيست ځکه بوي دَ مهر نه ځي له سنبله
دَ لبانُو بوسه بيا ورکړه مشتاق ته چه مستي ئې لا اثر وکي تر مله
چه په پټو سترګُو ناست ليدل دَ يار کړم خلق څه خبر له هسي رنګه شغله[1]
راشه خپل وژلي ګوره پخپل وَر کښ په غمزو په خرخښو په تغافله
چه دَ خلقُو له نظره ئې امان وئ همېشه وربانډي لولم څلور قله
لکه يار را سَرَه وُ په هغه شان دئ ښه چه بيا دئ مخ توري وشو چغله
لا به کله سر ځما په غېږ کښ کښېږدي چه دَ مښکُو بوي دئ درومُي له کاکله
څوک چه صبر ستا له مخه راته وايي ځما څه غرض له صبر و تحمله!
درست عالم دئ په خوشحال باندي غوغا کا
باز پروا کا[2] دَ کارګانُو له غلغله

چه ئې بخره ازلي راغله اصيله[3] دا فلك ئې همېشه ګرزي په سيله
چه عزيز ئې پخپل فضل و په کرم کړل چار به نشي د هغو چېري ذليله
چه پخپله ئې عطا په خلقُو نه کا دَ هر مال بخره به واخلي له بخيله
دَ حاتم په مسند ناست هغه زلمَی دئ چه دنيا ئې په هر چا باندي سبېله
دَ عارف په بخره علم لدُني دئ په الست ئې روزی شوی بې تحصيله
چه ئې واړه آمنا و صدقنا کړه دَ دانا وينا به نه ويي بې تاويله
دَ دې دور دروېشان خليفه بس دئ اوس خپل ځان لَرَه بل کار کړه عزازيله
که کامل دئ په جهان هغه کسان دي چه فارغ دي دَ دنيا له قال و قيله
عالمان دي ره زنان چه غواړي نغاړي عالم عالم لَرَه زده کړي څو دليله
دا جاهل شيخان شيخان نه دئ شيطان دئ چه فساد ئې پيدا کېږي له تهليله
که دَ ياره نه جدا وئ دوه درې لوېشتي و عاشق وَته ښکارېږي دوه درې ميله
زه هم ځکه په جهان کښ بې عديل يم په جمال مې معشوقه دَه بې عديله
چه آرام ئې دَ خپل يار په ليدوُ وشو
دَ خوشحال له دله څه غواړي تعجيله!

څه به ووايي خوشحاله له تکميله له کماله
د هغه مرغه څه نوم دئ چه په اور کښ لَري ځاله
هم بېچون هم بېچګون دئ هم بې مثله بې مثاله
هم بې سره هم بې پايه بې وزره هم بې باله
په يَوَه نفس آلوزي څو عنقا درومي څو کاله

---

[1] شخوله.

[2] باز پرواز کا.

[3] دا بدله په چاپی ديوانو کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



دَئ میوه د هغه باغ خوري　　چه ئې ونه نا نهاله
چه په دا مشکل خبر شې[۱]
ځان به خلاص کړې[۲] له جنجاله

چه په درست تومن اوڅارهَ۱　　نن هغه ده ځما یارهَ۱
لا جنوتې سر کنډي　　چه حجاب نه کا له پلارهَ
یو سورکی پیزوان په پوزه　　ور بلوتې یو څو تارهَ
مخ نسرینه مه جبینه　　سنبل مویه پري وارهَ
شکر لبه پر طربه　　هوسی سترګې ګل رخسارهَ
قد عر عره مو کمره　　سر تر پایَ قلم کارهَ
په زړه سنګه شوخه شرنګه　　جفا خویه زړه آزارهَ
زه ئې قتل په لیدل یم　　دا را نه ده پروا دارهَ
چه مې نوم ورته څوک اخلي　　و ښکنځولوُ ته تیارهَ
څه کړم کوم فکر علاج کړم　　دم واهه نشی له ډارهَ
د دې خوي خصلت دا هسي　　ځما دَه مینه بسیارهَ
دا یَو څه علامت وشو　　په ما خوار دَ خدای دَپارهَ
که پَټ نیاز ورځني غواړم　　په نیاز نه ده خبردارَه
که خپل زور باندي ښکاره کړم　　خیلخانه لَري خونخوارهَ
که ئې وغواړم په زرُو　　زر هم ډیر غواړي بې شمارَه
نه په زور شي نه په زر شي　　په جهان دي دا دوه کارهَ
دَ خوشحال تکیه په خدای دَه
بیا پتا دَه شیخ رحمکارهَ

چه مي ستا کوڅه مأوا شه　　غم ځما له زړه سوا شه
ستا کوڅه لکه بهښت ده　　په بهښت کښ مې زړه وا شه
زړه مي ستا دَ مخ په دور　　له چمنه بې پروا شه
هغه راز چه دَ خلوت وُ　　وَ هر چا وَته رسوا شه
عالم درد لَره دوا کا　　دَ یار درد ځما دوا شه
شانه ورو وهَه په زلفو　　پکښ زړه مې سر هوا شه
چه ته مهر باندې نکړې
خوشحال ځکه بېنوا شه

چه مې ولیده پخپل انګښ ولاړه۱　　ما په ټیکي سترګي بیا مونده بیا ولاړه
که ښه مخ وته کاته کَول ګناه دئ　　دا ګناه دي وئ دایم د ما په غاړه

---

[۱] محشي ورته لیکلي دي، چه مراد له دې هم مذکوره حقیقي زړه دئ.

[۲] خلاص کا.

Downloaded from: ketabton.com



یو څه بځن[۱] زړه ئې راکړ هسې وایم | چه د ما وَي دَ جهان دلبري واړه
زه جدا له یاره کوم خیر ناصحه! | په ژړا کښ راته وایه خیر غواړه
دَ ښه یار په جدایَی کښ گرم نه یې | که دِي دواړه لېمه ووزِي لا هم ژاړه
دَ طوطي خوراک شکرِي دِي خوشحاله ته
جگي جگي څه خو ورکړه دَ خولې لاړه

چه د زړه اخلاص دِ نه وِي له معبودهَ | لا عجب که ئې راضي کړې له سجودهَ
محرمانو اجازت موندلَي نه دَي | گنه ډېر به ئې خبر کړل له دې سودهَ
محبت غلام بادشاه بادشاه غلام کا | خبر واخله له ایازه له محمودهَ
خداي ځما تر فهم ښه[۲] د عشق هنر کړ | که دا جار ده نور عالم وته نابودهَ
تورو زاغو د گلونو قدر څه زده | له جماله ئې بلبله شوه خوشنودهَ
په سند به د همه زړونو مردود شې | که دِ چار شِي تر یوه پوري مردودهَ
تر مطلوبه پوري شرط دَ رسېدو دَي | که تمامه لار په وینو شې آلودهَ
خو یو بخت دِ ناسازي را سَره نکا | تل کینه کوه له ما سَرَه حسودهَ
کل مقصود دَ زړه هورې چه هغه یار وي | بخته را شه ته مي ور وړه تر مقصودهَ
ما خوشحال ئې سودا کړې نادیده دَه
که کالي په بهانه ځي بې نمودهَ

چه دَ دواړو سترگو ښېر در څخه شته | پرئې خوره له ځانه ښېر در څخه شته
آئنې وته نظر کړه او گل بوي کړه[۲] | چه خپل مخ دَ گل په څېر در څخه شته
که د زړه ځما په زړه دَئَ چه ئې ټول کړې | ټولَوَه ئې چه کمشېر[۳] در څخه شته
ډېر به ما غُندِي په عقل تېر و ښېر کړې | چه وربل دِ تېر و ښېر در څخه شته
تل دعا دربانِدي کا ځني خبرېږه | یو څو خوار له دله هېر در څخه شته
که جمال که ناز و خیال که کرشمې دِي | دا تر شمار تر حساب تېر در څخه شته
لَږ دَ مهر دَ وفا خویونه زده کړه | دَ جفا خویونه ډېر در څخه شته
عاشقان غریبان وژنه صرفه مکړه | دَ غمزې تېره شمشېر در څخه شته
کله ډک مهر دَ خولې په خوشحال وکړه
خو که تش مهر برسېر در څخه شته

چه دا هسي رنگ مانې کړې بې گناهَ | ویره نه کړې دَ عاشق دَ زړه له آهَ
چه په هر لورِي روانه په شیوه شې | در سره ځما دعا درومي همراهَ
چه دِ هونبره ډېر دماغ وته وَکورم | بل دِ سیال په جهان نشته بې بادشاهَ

---

[۱] په اصلي نسخه کښ بځن دي څه معني ئې نسو را ښکاره، د پښتو مرکې په لوي قاموس کي بخن په معني د رنگ لیکلي دي په قندهار کي هم دا کلمه سته مثلا واېي تور بخن، ژړ بخن وغېره، دلته هم ورسره جوئېږي یعني څرنگه زړ۰ ئې راکي.

[۲] نظر کړه گل بسو کړې.

[۳] د دې کلمې معنی حل غواړی.

Downloaded from: ketabton.com



معشوقه مي دَ عاشق غندنه نه کا  گل بورا وته ونه وې توره سیاهَ
یا په ما باندې مَیَنه کړې دلبره  یا مي مینه ځَني ما ته کړې اللّهَ
چا ته حال دَ زړه معلوم کړم خبر نه یم  یَو نېکخواه په جهان نشته بې بد خواهَ
رقیبان دي غوغا کا پروا مې نشي  شېر به کومه اندېښنه کا له روباه
په یوه ګزار ئې درست مقصود پوره شو
چه نګاه ئې په خوشحال وشو ناګاهَ

چه له هر چا طمعه پرې کړې سلطاني ده  که دِ زړه په خاموشي کښ سبحاني ده
دَ خاتم دَ سخاوت خبرى مکړه  لا پدا کښ هم دَ طمعي ښباني ده
په څو رنګه دَ یارئِ صفت کېږي  زباني یاري، ناني یاري، جاني ده
تر جاني یارانو هر څه صدقه کړه  هم پدا سبب پکار دنیا فاني ده
دَ دنیا په پرېشاني کښ جمعیت دَئَ  دَ دنیا په جمعیت کښ پرېشاني ده
چه له دوسته له دښمنه ښه سلوک کا  دَ هغو سَرِیَو ښه زندګاني ده
چه په کور کښ مي څه وُ تر واړو تېر شُوم  و خپل یار وَته مي هسي مهماني ده
په زرګونه کتابونه ملا لولي  الف بس که ئې غرض مسلماني ده
په نادان بادِندي هم رحم شته خوشحاله
معذرت د نادانانو، ناداني ده

چه دا هسي ئې اغازه عربده کړه  مګر تشه ئې له میو میکده کړه
عقل ډېره شعبده لَرى په میُو  ساقى تار پتار ئې هره شعبده کړه
ښه جمال لَره پیدا کړه ځما سترګى  له غه پسه ئې جمال مشاهده کړه
یَو ځَل بیا له زېبا مخه پَلَو واخله  دا په غم کښ پراته لا په غمزده کړه
ستا له غمه چه ډېر ډېر همېشه ژاړم  د واړو سترګو مي خجله نربده[1] کړه
دَ ویشتلو اه چه ولګي ښه ندئَ  لا دَ وخته ئې دَ زړه له حاله زده کړه
دَ قلم له سَرَه تور لوګي روان شو
چه خوشحال دَ دې غزل مسوده کړه

چه ئې میاشت کړه دَ اسمان دَ پاسه شقه  چه اَفتاب ئې را ښکاره کړ له شفقه
چه په سر باندې ئې ابر سایه بان وَه  چه ئې پاتو جبرئیل شوله ابلقه
چه خوږې ئې دَ خولې لاړې تر عسلو  چه همه علم ئې زده شو بې سبقه
چه جمال ئې ښایسته په ملاحت وُ  چه دَ مښکو بوي ئې هېڅ وُ تر عرقه
چه سایه ئې دَ وجود په مځکه نه وه  چه بره ورته ګویا شو له طبقه
چه ئې تار په تار دَ باد په مخ خواره[2] کړل  دَ تورات و دَ انجیل واړه ورقه

---

[1] "نربدا" یو رود دی په هند کښ.

[2] خپاره.

Downloaded from: ketabton.com



دواړه[۱] کوَن په طفيل دَ هغه دِي مرتب او مهيا په ډېر رونقه
چه د دوست دار دَ څلور يار دَ اهل بيت دئ په هغو دَ ښو گواهي وله مطلقه
دَ عربو[۲] ثنا هيڅ ورنه رَسېږي
دَ خوشحال ژبه مښود کاندي ناحقه

چه ئې خوب په پالنگ نه وُ بې د پرو له بالښتَه راشه گوره ننداره کړه تر سر لاندي اومه خښتهَ
چه فاني دنيا دني دَه بود ئې نشته ناهني[۳]ده ځکه دا ده اې نادانه د هوښيار تر فهم زشتَه
دا دنيا خارشتي بزه ده په ساتل ئې څه مزه ده شېون ئې وشړي له بزو نه چه ئې پوه شي له خارښتَه
چه هم تول ځي هم دلئ[٤] دا طوفان دَئ که ژلئ چه ئې ويږي[٥]موندي نشي، هي توبه له هسي کښتَه
ما ليدلې پدا چشمانو وراني مېني دَ شاهانو يکباره ورځني ولاړه چه ئې درسته دنيا غوښتَه
د لکونو پيدا غول[٦] کړه د جهان گنجونه ټول کړه نه به ته نه به ستا پښت وي، بيا سنجرشو يو څو پښتَه
د سيلاب په مخ دَ کور دَي دا دَنِي فکر دِ نور دي چا به نکړه هورته خونه چه به دا په سيلاب رغښَهَ[۷]
په دنيا کښ که شداد شې بيا به ته په بلا ياد شې که بهښت په دنيا روغ کړې څه دِ سود دَي له بهښتهَ
هغو[۸]يو وړله له ځانه دا فاني دنيا اې ځوانه! چه ئې تار په تار خوره کړه نه هغو چه ئې ونغښتَه
ما ئې وليدل کارونه طور طور رفتارونه: په ورتله په ستغ[۹] خَتَنه په تلَه کندِي غُندي رغښتَه
که کم عقل که کانا[۱۰] يې که هوښيار يې که دانا ئې!
د مير باز غُندي ورزغله د خوشحال غُندي ترې ترتښتَه

څو دَ ملك وارث و نه وهي سرونه هونبره چېري قرارېږِي سمي غرونه
يا به ستا په وره ناره وِي يا به ژاړِي يا دِ تا له لاسه وير دَ چا په ورونه
رخنه گر دَ ملك پرې ږده پخپل ملك کښ په حکمت په زر وزور، په لښکرُونه
څُو په تورو، په توبريو، په نېز وشي صد چندان شي په تدبير په هنرونه
ورور او زوی دَ ملك په کار کښ قتل کيږی نور په واړو باندِی جوړ شول محضرونه
بې دَ تېغ له آبه نوری اُوبه نشته چه جنگجوی سَرَه ساړه کا ټېرونه

---

[۱] چه کونين په طفيل.

[۲] چه عرب ئې و ثنا ته نه رسېږي.

[۳] تر دې کلمې لاندي محشي "نا هضم" کښلي دي.

[٤] درمن، د غلې کوټه.

[٥] وږيَ.

[٦] په مجهول واو لښکر او فوج.

[۷] چه په مخ د سيلاب رغښتَ.

[۸] هغه.

[۹] په غره کي نرئ او سخته لار.

[۱۰] محشي ناپوه ورته کښلي دئ.

Downloaded from: ketabton.com



دَ سردار دَ ریاست و نه په وینو    په لیږ شنو دَ اعداء کا ثمرونه
په میدان کښ توئي ښې دي دَ سر ویني    نه چه ډکه سینه وري له ځګرخونه[۱]
یا دَ مرد غُندی شمله دَ دستار پرېږده    یا په سر کړه لکه شځه مېزرونه
خدایه چا وته ئې کښم څوک به پرېږ پوه شي
ما وَېلي هر یَو بیت دَي دفترونه

څوک به څه ساتي په پوهه په پندونه    په وېښته سَرَه تړلي پیوندونه
په یَوه قفس کښ بند کارګه طوطا کړه    سَرَه ښېل به وی دَ هر یوه سندونه
یا کُشتي د زورَوَرُو سره مکړه    یا د دُوي غُندي پیدا کړه مروندونه
موږ پدا عقل روغ نه یُو لېوني یُو    معشوقه چه و عاشق وته غندونه
عاشقان دَ شاه دَ خولې یُو زر مو نشته    که په سر ئې لیدَل مومو سربښندونه
چه باور د په رشتیا خبره نکا    وَ هغو وَته به څه خوري سوګندونه
چه ناپوه سَرَه تېرېږی ډېر افسوس دي    دَ دانا سړی کیمیا غُندي ژوندونه
پخپل ښکار پسی به څرنګ باز اَلوزي    چه باز دار ئې پسې وا نکا بندونه
دَ شکرو خوند به هیڅ ورباندی نه وي    چه خبر وي دَ خبرو په خوندونه
تا دَ زلفو په زنځیر کښ خوشحال بند کړ
اَفرین د پدا هسي شان بندونه

څوک خبر دي له فتنو د دې جهانه    نوي نوي را پیدا شي له دورانه
ما و تا غُندي به څو باد وري یاد کا    که خبر واخلې له مځکي له اسمانه
چه له باده دمه ډک وه که ئې ګوري    باد ئې خاوره په ملکونو کړه پرېشانه
په شان شان مي دَ وجود نندارہ وکړه    بیا به هم شي څو رنګه په څو شانه
نه ئې زر نه جواهر شته یو تاوان دَئ    که به ښه کړې ځان ئې خلاص کړه له تاوانه
زمانه مي شوه په غاړه اې خوشحاله
که ئې ګورې نه لتانه نه له مانه

څه به وایم د دې نفس له اَزمیښتهَ    نفس اَدم دَي را یستلي له بهښتهَ
چه پکښې دَ دواړو کَونو مراد مومې    هغه چار د تر نظر لاندي کا زشتَه
د کیمیا د بوټي ګل کله مونده شي    چه د پېښو تلي ګلګون نشي په غوښتَه
د سړیو په عظمت پوري حیران یم    چه په ګور کښ توري خاوري هونبره نشتَه
بیا به څله څوک طلب دَ دنیا کاندي    چه ئې خلاص نه وي یو دم د کار له کښتَه
که تر سر لاندي بالښت کښېږدي د ِپرونو    عاقبت به تر سر لاندي کاندي خښتَه
د دنیا مینه په مثل د خارښت ده    هیڅوک نه وینم خالي له دې خارښتَه
د صحرا په کاڼي رخه[۲] د شیطان شوه    عیسي سر په مځکه کښېښو له بالښتَه
د زړه مینه په مثال لکه پټك ده    چه د ګوي څښتن وَهَله هورته رغښتَه

---

[۱] نه چه خوړین له عیبه غاړی ځګرنه، یا نغاړي ځګرونه.

[۲] حسد، کینه.

Downloaded from: ketabton.com



غم ئې واړه د آشنا دَ ښلتانه دَئ
د خوشحال څه سریکار شه له جوړښتَه

څه بلا ډېره ښه ئې د بهار دَ گلو وختهٔ[1] که ژر در پسې نه وي د خزان سیلۍ سختهَ
په وخت دښو گلونو د وساله باده نوشلي د زړه اندوه دِ واړه دا عشرت یو سي یکلختَه
په وخت د ښو گلونو په خلوت دَننه ناست یې را وزه نندارہ کړه ناسوتي شیخه بدبختَه
هر گل وته چه گورې گوښې گوښې ئې نگهت وي په رنگ سَره یَو ندِي نه یَو سَم دَ بل له رختَه
په سم دِئ که پهٔ غره دِئ د بهار خاص گلونه آخر به ئې رژون وِي د گلونو له درختَه
چه تعینَ[2] دا هاړ گرمه سیلۍ راشي په چمن کښ گلونه د لاله لکه بادشاه پرېوزي له تختَه
چه کښته پورته زانې مرغاوۍ تله راتله کا
خوشحال ختِك خوښ کړي په جهان کښ دا دوه وختَه

څه دَ بدُو ږغ وُ چه ماښام را باندي وه شه تندر وُ یا توپ وُ پرې مِي تخني تخني زړه شه
څه خوښي دَ ده وه، چه بیا ژر پسې اندوه وه چا وې چه په رنځ کښ معظم[3] په خوب اوده شه
دا ژوندون هیڅ نَدئ چه مي ساه وینی دا خلق زه په ځان پوهېږم اوس مي کار لکه دَ مړه شه
ما وې زړه می سنگ دَئ، چه په هیڅ به نرم نشِي راشه که ئې گورې په ژړا ژړا اُوبه شه
ما دَ معظم په لیدو مینه ماته نه کړه: څه دَ قضا رنځ وُ په هفته کښ څه وُ څه شه
رنگ ئې تر خوي ښه وُ، خوي ئې لا ښه وُ تر رنگه گل وُ دَ گلابو شگفته شه نور په تله شه
دریغه دریغه که ئې مرگ په بد لېده وئ څو به مي پرې ورکړل ولي مرگ مېلمه دَ ده شه
زور و ستم نه وُ، نه څه جنگ توري نېزې وې بل علاج ئې نه وُ، دَ ده مرگ دَ خدای په کړه شه
زه یواځِې نه یم ډېر عالم پسې کباب دَئ آه دَي پس کېږِی. روزي نه وُ روزي نه شه
ښه تاریخ ئې راغَی "بې بدل معظم"[4]
خوشحال د دَه نیکه دَئ، دَ نیکه ئې داغ په زړه شه

څه غم د نعمتونو چه اختر راغَي درویشه[5] په طمع په امید اوسه دَ هر غني له وېشه
یو گل مي په دا باغ کښ ناگهان په نظر کښېووت عجب ئې خوشبویي وَه تر هر گلوُنو بېشه
چه ما وکړه پوښتنه دغه گل له حقیقته ده کړي تحمل وُ د یوه اَغزي له نېشه
نافې چه له اوله خپل ځَگر وَکړ سرې ویني له ورَوسته ئې روانه خوشبویي شوله له رېشه[6]
په څو به دَ ویشتلیو له احواله نه خبرېږې چه هیڅکله دي نه ده چېري پښه په اغزي رېشه

[1] دا بدله په چاپي نسخو کي نسته.

[2] چه تعینه دا هاز گرمه سیلۍ شي په چمن کښ.

[3] معظم د خوشحال خان کوچنی لمسی وُ، چه دا بدله ئې د هغه په مرثیه کښ ویلې ده.

[4] کلمات دَ "بې بدل معظم" د ابجد په حساب (۱۰۹۸) راځِی، چه دغه نو د معظم د وفات سنه ده.

[5] دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

[6] له خوېشه.

Downloaded from: ketabton.com



له دو اويا مذهب سَرَه به ساز وکړي له دله
خوشحاله که خبر شې په تحقيق دَ عشق له کېشه

چه بنياد دَ عاشقِۍ چا کاوه     دا ئې څه پدا کار نه پوهېده
په جهان ئې يوه څه بلا پيدا کړه     يوه خدايه کور ئې وران کړې د هغه
دَ هغه جهان دوږخ په غوږو اروم     دا دوږخ مي پدا سترګو وليده
څوک ناحق دَ بېلتانه له لاسه ژاړي     آشنايي دَه چه تاختونه کا په زړه
دَ هلك له لاسه والوزي مرغۍِ     په ژړا ور پسې سرَه کا دوه لېمه
هغه وخت چه دَ زانګو او دَ وُنِي وُ     په مرغۍَ هيڅ نظر نه وُ دَ ده
څو لوئېږي آشنايۍ پرې ډېرېږِي     درومي درومي په اوږو کښ ښه وېښته
دَ وصال قدر غمجنو دَ فراق زده     دَ تشنه ژوندُون په څه دَئ په اُوبه
په حدونو سَرَه ولاړو اوس خوشحاله
په کوم لور نه سَرَه مُو مُو زه او ته!

ځما عشق په هغه شان دَئ لکه وه     ستا خاطر هغه سندان دَئ لکه وه
که ته هر څو بد قولی او بد عهدی کړې     قول عهد مي مهمان دئ لکه وه
خو خښې دِ لکه وې په هغه شان دِي     فتنه ګر دِ سور پېزوان دَئ لکه وه
دَ رقيب خبره مه نغوږه اې ياره     چه رقيب هغه شيطان دَئ لکه وه
دَ ښو په ناوکيو دِ غلبېل کړ     ښښانه مي درته ځان دَئ لکه وه
په خاطر باندِي مي داغ دَئ ستا له لاسه     ولي هسي بې درمان دَئ لکه وه
بل ګمان فکر خاطر لره در موږه     خوشحال ستا دَ بندګان دَئ لکه وه
چه دِ زړه هسِي پرې ناز کوهَ دلبره
په خوشحال دِ خاطر ګران دَئ لکه وه

څو را سَرَه خلقه جفا ډېره هغه کس کړه     خداي مي پدا خوي کښ په ده مينه يَو په لس کړه
زار دَ خوار عقشق دَئ دَ محبوبي څه پروا ده     زه وَ غم ته روغ يَم ته تل خانده تل هوس کړه
زړه ئې دَ کافر دَئ خو په خوله کلمه لولي     څه ئې راته ستايې ما ليدلې دَه نور بس کړه
ګرزِی په ګلونو کښ ګندګي ور پسې غواړي     څه ئې په جهان کښ بده بخره دَ مګس کړه
ښه چه را پيدا شوې دَ بهار زيريه ګله     تَل دِ يادَوَنه غندليب په هر نفس کړه
لېږ دِي روانونه سبا کېږي اې ساربانه!     پاڅه دَ شتر په غاړه پوري اوس جرس کړه
ځه هغه شهباز شه، چه دِ ځاي په سر درو دَئ     نه لکه دَ کلي کارګه ګرزه غم دَ نس کړه
بخت دَئ که طالع دَئ که دا خپله فقيري ده     خداي مي چه شرۍَ برابره دَ اطلس کړه
قدر دَ خپل ځان دَ عافيت ور څخه نه وُ     ځکه عاشقي هسي آغازه بوالهوس کړه
نورو حريفانو واړه ډکی پيالې نوش کړې
ښه چه دَ خوشحال پياله ئې ډکه په بکس[۱] کړه

---

[۱] سيد راحت زاخيلی ليکي: چه بکس په معنی د خورا لږ او نه څه دی.

Downloaded from: ketabton.com



ځو جفا را سَرَه دېره هغه کس کړه  خداي مي مينه په ده باندې يَو په لس کړه[1]
ښه چه راغلې دَ بهار زيريه گله!  اندېښنه دِ عندليب په هر نفس کړه
دَ گلزار په گل غرض نکا غُل غوارِي  په جهان ئې بده بخره دَ مگس کړه
که زه خوار دِ دَ گلونو لايق نه يَم  ستا له باغه عنايت را خار و خس کړه
درست عالم پدا خبره خبردار دَئَ  چه بلبله خپلي ژبي په قفس کړه
ته ئې شناخت، علم، ادب لَرَه پيدا کړه  نه چه گرزه بيهوده چاري عبس کړه
دَ ژوندون په قدر هيڅ خبردار نه وُ  عاشقى مي چه آغازه بوالهوس کړه
کله سول کله ژوندُون بخښل وَ ما ته  دَ عشق اوره په ما چاري دَ قفس کړه
دَ دنيا غمونه لږ ندي خوشحاله
نن دَ يار وَ مخ ته گوره واړه پس کړه[2]

چه په عشق کښ ئې و نورُو ته پېغور شه  اخ چه لاس په لاس په دَه پورِي دا تور شه
محتسب چه په اهداد وُ دَ مستانو  دَ رندانُو سَرَه ناست دَئَ باده خور شه
چه پرون ئې فاسقانُو سَرَه جنگ وُ  نن هغه تر فاسقانُو لا څه نور شه
چه غيبت ئې بداوه دَ بل تر زنانه[3]  راشه گوره په غيبت دَ پلارو مور شه
که دَ دِيرِي په وکښل ئې ورته وايم  نصيحت دَ نېکخواهانُو باندِي اور شه
گوره څو عالم به لاندِي کا تر چلو  نن چه دا درياب را وَخوت موج ئې زور شه
صنوبر چه هونبره دېره لوئي غوښته  ځکه هسي په باد ته په باد نسکور شه
چه ئې زړه تر کاڼى سخت هغه مي يار دَئَ  بدي بخري څه ځما کاڼى په کور شه
توري سترگ ئې بلا دِي عاشق گوره  په بلا باندِي ور درومِي کر و گور شه
دا دَ خپل عمر دليل وکړه خوشحاله
چه لاله په باغ کښ وَغوړېده خپور شه

چه گټل خورول بخښل کا ځوان هغه  چه توره[4] لَرِي دَ توري خان هغه
کان دَ لعل دَ ياقوت دَ گوهر څه دَي  چه احسان ترې پيدا کېږي کان هغه
چه ئې ته په گېډه وخورې حبطه شِي  دَ مجلس سَرَه چه خوږ شِي خوان هغه
که د مال دَئَ که دَ ملك دَئَ که د لېچو  چه ئې توان دَ چا پکار شي توان هغه
په تمامه شپه په ورځ په مياشته کال کښ  چه دَ خداي په يادو درومي آن هغه
چه دِ څوک دَ وړاندِی وروستو ځَي دا څه شِي  په تنها وجود چه شان دَي شان هغه
وَ نور چا وته وران مه وايه خوشحاله
چه په قول عهد وران شو وران هغه

---

[1] خدای می لا ورباندی مینه یو په لس کړه.

[2] هر څه بس کړه.

[3] تر زيانه.

[4] د دې کلمه معنى حل غواړی.

Downloaded from: ketabton.com



ځان چه پېژني که گورې ښه هغه          چه ناحق په ځان غره دَی څه هغه
واړه زړُونه فراغت وي په ښادي کښ          چه په غم کښ مردانه شي زړه هغه
سلامت لَره ئې نور عالم پیدا کړ          ملامت لَرَه چه روغ دَئ زه هغه
یا یاري یا اغیاري دَه که ئې گورې          په دا دوه کښ نه ته دا شوې نه هغه
چه تر تا نه وړاندې وروستو ځي مله ندي          چه په لار در سَرَه سَم ځي مله هغه
چه په عشق سَرَه ژوندې دئ هغه نه مري          چه بې عشقه ژوندې گرزي مړه هغه
چه دروغ تر خوله وَ باسي کله خوله دَه          چه رشتیا تر خوله وَباسي خوله هغه
هیڅ حجت له هیچا مه کوَه خوشحاله
هر چه تا وته څوک وایي ته هغه

څه لَرَه زړه وړې چه دَ زړه ساتل دي نه زده[1]          مست یم مستي کړمه گڼه هر هنر مي ښه زده
تل په اوښیو وینو همېشه ژړا آهونه          نور را خبر نشول یا مي سترگو یا مي زړه زده
ذکر فکر نمونځ روژه طاعت ور لَره بویه          شیخ ملا زاهد عابد صوفی په مېُو څه زده
کله دَ طوطیانو په گفتار کښ دا لهجه ده          راشه که ئې گورې زرکې تا کله دا تله زده
روغ عالم به چېرې دَ دردمن په حال خبرېږي          درد چه په چا تېر دَي په دردمنو هم هغه زده
څه زړونه ئې وړي ستا بارخو پرېشاني زلفو          ښه وه دا خبره چه یا غله زده یا ئې مله زده
ستا دا سور پېزوان چه فتنه گر دَي بې حسابه          څو رنگه فتنې چه دَ جهان دي واړه ده زده
چېرې به له دِله یَو دِک مهر را بر سبر کړې          تل دِ که دا هسې دلاسې تشي په خوله زده
څه پوښتې خوشحال دَ بېلتانه په اشتیاق کښ
سترې په منزل پوهېږي تږَي په اوبه زده

چه پیدا چېرې په ملك کښ یو حبیب شه          لکه خار ورته په څنگ کښ بل رقیب شه
محمد (ص) ته ابو جهل نصیحت کا          راشه گوره څوک رنځور شه څوک طبیب شه
دَ دانا پخپل وطن کښ قدر نه وي          دُر هاله قدر پیدا کړ چه غریب شه
په چمن کښ رنگارنگ گلونه ډېر دئ          دَ زړه داغ مي دَ لاله دَ زړه نصیب شه
که ئې رنگ و بوي و گل نه وَئ ورکړي          مبتلا به باندې ولي عندلیب شه
راشه تور و سپین دَ سترگو نندارہ گړه          هغه یار را سَرَه لا تر دا قریب شه
چه پرون را سَرَه یار وُ خبر نه یم          نن له ما نه بیا وېزار په کوم تقریب شه
تناوُنه ئې دَ زلفو دِی دا زړه مي          لکه ملك دَ یاغي لاندې تر تخریب شه
چه ئې پرېښوه یارې دَ لېونیُو
گمان مکړه چه خوشحال ختك لبيب شه

چه مي زړه پرې ښه کېده له واړُو بد شه          ښه خو دا چه اوس یواځې دا حد شه
که ژوندُون دَ خلقو دا دَئ گه لیده شي          ښه وَ ما ته مري خلق دَ لحد شه
دَ دنیا یاران مې ولیدَل په سترگو          هر سرَی ځما په سترگو لکه دد شه

---

[1] تا د زړه ساتنه نزده          مست یم می پرست یم گڼه.

Downloaded from: ketabton.com



نه حیا شته نه وفا نه خپلوي شته    خلق واړه په معني لکه مرتد شته
چه ئې نن کانده له ما سَرَه خپل قوم کا    مگر دا جور له قومه په احمد شه
تفحص دَ تور و سپین نشته په چا کښ    دَ همه عالم په سترگو کښ رمد شه
تور به چا ته یادَوَم چه رد گمراه دِئ    چه پیدا ځما له ځانه خلق رد شه
فرزندان چه مِي له گېډی نه پیدا دِئ    پوخ ځما له ناخلفونه کبد شه
په طالع په بخت دَ مال و ملك څښتن دِئ    بخت هغه دَئ چه په بخره دَ بخرد شه
له هغه بخته ځما توره بلا دَه:    چه له هَرَه نا همواره په مدد شه
چه دَ پلار له ځانه ښه زویه پیدا شي    ته به وایې چه ژوندون ئې مجدد شه
چه قابل ئې پیدا نشِی په اولاد کښ    که هزار زویه دَ پلار وِئ بې ولد شه
دَ بهار گلونه هیڅ دِي چه تېرېږِي    ښه هغه وَ ما ته گل دَئ چه سرمد شه
که په ذات کښ دَ خوشحال آل و اولاد شته    په صفات کښ لم یلد و لم یولد شه

یخ دَ نمو وَ تا وته نه دَرِی خوشحاله!
په دا څه که یَو ورَځِي منجمد شه

څو په باغ کښ لا یو گل دَ نو بهار شته    دَ بلبلو دَ طوطیانو پرې جیغار شته
نن دِ غم له ما نه ځان ساتي که ښه کا    چه په سېل دَ بهار را سَرَه یار شته
چه له یاره سَرَه مست دَ گلو کښت کړم    محتسب که را نیژدې شِي پایزار شته
شیخ ملا دِ ځما غم په بهار نه خوري    چه رباب و سرینده غُندِي غمخوار شته
نه به زه دَ میو جام کښېږدم له لاسه    نه ځما له پارسایِی سَرَه کار شته
ما وَ خپلی پارسایی ته رخصت ورکړ    په دا نورو پارسایانو مِي اوس ډار[1] شته
ساقي بیا ځما دَ ښهر خبر واخله!    لا یو څو په کوڅو پاتو پرهېزگار شته
گل و مل ساز و سرود ساقي سرې سترگي    [2]لا به ډېر عالم رسوا کا چه دا چار شته
چه په هَرَه پیاله عقل له ما زدویي    دَ ساقي منت را باندِي په بار بار شته
دَ گلونو په موسم کښ خوار هغه دَئ    چه ئې نه پیاله په لاس نه ئې نگار شته
نن هغه شاهِ جهان دَ زمانې دئ    چه دسته ئې دَ گلونو په دستار شته
چه نا اهل په غفلت وربندِي نه ځِي    ځکه وصل دَ هر گل په څنگ کښ خار شته
دَ بهار زېبا گلونه سوداگر دِئ    لخلخه به ځني پېرِي چه خریدار شته

نن خوشحال دَ زړه داد دَ عشرت ورکړ
دا څو ورَځِي غنیمت دِي څو گلزار شته

څو په باغ او په بوستان کښ لا لاله شته    دَ بلبلو دَ طوطیانُو پرې ناله شته
نن دِ غم له ما نه لېري لیري گرزِي    چه په وخت مي دَ بهار په لاس پیاله شته
که می یار په لاس باده واخلِي ساقي شِي    پرې مي ډار شِي چه ئې زهد صد ساله شته
را ئې وښیه چه ځم تر پښو ئې پرېوزم    که په دهر کښ څوک ما غُندِي واله شته
دَ بهار په زېبا گلو ډېر وېرېږم    چه باران شي دَ باران سَرَه ژاله شته

---

[1] وار.

[2] ساز و سرود د ساقی سترگی.

Downloaded from: ketabton.com



دَ بهار په سیل تل درومه خوشحاله
یو څو ورځِي چه دَ گلو پر کاله شته

چرگ دي خپل چرگ والي کا که ئې رضا دَه    چه له بازه بازي کا دَ ده قضا ده
هغه چاربه مخامخ په مخه ورشِي    چه دَ چا دَ هغې چارِي تقاضا ده
څوک به خوښ سَرَه پربنږدي په جهان کښ    دا دَ ځِایه دَ دې دهر اقتضا ده
تېره چار چه یادَوِي فایده ئې کومه    وَ دانا ته مضا واړه مامضا ده
دَ گمان لړي به تار په تار خپرې کا    دَ یقین اندېښنه بهَ تر بیضا[۱] ده
دَ خوشحال په ویل غوږ او فکر بویه
چه موندنه دَ خبرِی په امضا ده

خپل پرَدِي چه چا لینده په لاس آخیستهَ    هر یوه کړه ما تشه درسته درستَه
چه قضا د ما د چا په غشِي نه وه    د بادشاه لینده ئې هم کړه په ما سستَه
چه تعلیم ئې د سیفې[۲] له ما نه آخست    بیا هغو د ما د بدو وسیفي لوستَه
په زرگونه راته لاف کړې د یارئَ    په دولت کښ ئې د ما بلا آخستَه
اوس چه ورځي د نکبت راغلې یو نشته    چه ځما دپاره ووزي له بایستَه
که بادشاه له تخته پرېوزي نا آشنا شي    بادشاهي ده د دولت په تار آمستَه[۳]
د نکبت ورَځي په مثل د دانو دِي    ښایسته سرَي وباسِي له ښایستهَ
هنرونه ئې عیبونه شي خوشحاله
د سړي چه چار دَ بخت شِي سسته پُستَه

چه مي ولیده دَ زړه په سترگو خپل زړه    دَ خپل زړه غُندي مِی وَ نه لیده بل زړه
عاشقي دَ خداي بلا دَه عاشق مشې    څوک په سرو سکروَ ټویښي لَرِي تل زړه
په وَیل وَیل مي هیڅ تقصیر وَ نه کړ    که ستنېږي له دلبرُو په وَیل زړه
عاقبت به آفت سر لَرَه پیدا کا    چه جار وَزِي دَ بتانو په بورجل زړه
ور ئې واچَول دَ زلفو خنځَیرُونه    که هر گز آموخته نه وُ په ترل زړه
دَ خپل سر په مهر هم دا هسي نه وِئ[۴]    لکه خوښ شِي دَ دلبرُو په ښکنځَل زړه
ډېر ئې صبر شکیب وَکړ نه پایئږي    نور له تنه جدا کېږِي په نیوَل زړه
دَ خوشحال خټك فریاد له نورُو ندِي:
په دَه هونبره چاري وکړې واړه خپل زړه

---

[۱] محشی ورته کښلی دی چه مطلب لمر دی.

[۲] محشي ورته لیکلي دِي چه یوه دعا ده.

[۳] محشي ورته لیکلي دي "پېیلي"

[۴] د خپل پېر دعا هم هسی رنگه نه وی.

Downloaded from: ketabton.com



چه وایم هغه نکا دا ځما زویه گمراه — اغېزه هیڅ پرې نشي یا خو ما گڼی بدخواه
که کار په دیو نشي په شماره دي دَ غوییو — کمیي دَي دا دَ دیو که د ما دئ دا گناه
که ما دَ ځان بدخواه گڼي دا لا بله بلا ده — هیڅ پلار به په جهان بدخواه دَ زویه وِي آه آه
چه پلار دَ چا مزَري وئ مزر کتَي ورځني زېږي — د ما زویه وگوره دَ جیفې گیدړ روباه
څو ډېر دئ که قابل وَي دا به څه بلا ښه کارو — یو شیر دَ درگه ښه دَئ نه گیدړ پکښ پنجاه
د نورو نو څه اخلم د ټومي[1] بیوجه څو دي — یا عاق یا عاق ته روغ دي خو دَ وارړو مخ سیاه
دَ ما په نامه زرشول دَ بی بی په ذات زرنیخ شول — زرنیخ په نرخ دَ زرو کا قدرت لَرى آله
هر کار ئې په تقلید دئ تحقیق نلَري پذات کښ — نه نام نه ملگري شته[2] هونبره گنج هونبره سپاه

ارمان ارمان چه زوړ شوم یوَ قابل زویه مي نشته
چه زه خوشحال دعا کړم په سبا او په بېگاه

چه تا وَته نظر کړم نور مې هېر دِي ښایسته — په طور د مین یم گڼه[3] ډېر دِي ښایسته
هم ځان راته ښکاره کا هم مي ورک شِي ژر له سترگو — پدا کلي کښ واړه پري څېر دِي ښایسته
تلخي ئې دَ هجران بده بلا ده عاشق وژني — چه دا ئې را په یاد شِي څه گنډ هېر دِي ښایسته
یاران لَرى زرگونه دَ هر چا سَرَه ساز باز کا — په قول په وعده ځکه تېر ببر دِي ښایسته
تل جور تل جفا ستمونه په عاشق کا — په دا واړو کارونو کله سېر دِي ښایسته
دَ چین او دَ ماچین مي اروېدلي دِي په غوړو — په سترگو مي لیدلِي دَ بونېر دِي ښایسسته

ځوانی ولاړه خوشحاله راوړه زر که عاشقي کړې
یا زر دِي یا ځوانی چه ورته زېر دِي ښایسته

چه پرېوزی څوک له پانه مومیتایی ور لَره بویه — په کور کښ چه تیار شي روښنائي ور لَره بویه
چه کار دَ چا مشکل شِي تدبیر و بله کښېني — دا کار څه آسان ندي دانا ئې ور لَره بویه
په کاڼي کښ مرآت شته دَ کیمیا بوټي په غره کښ — طلب چه د دې کار کا بینائې ور لَره بویه
که لُور دَ اورنگزېب وِئ معشوقه په اصل لویه — دا کار ئې منظور ندیَ پارسائي ور لَره بویه
که هر څو ښایسته وِی معشوقه په هنر پسنده — دا کار ئې هم پکار دَی بخت ځائی وع لَره بویه
که څوک ښایسته غواړي په کوڅه کوڅه د گرزي — په هر ښهر په کلي گدائي ور لَره بویه

یَو زړه دَ خوشحال ندئ چه جهان پکښی لیده شِي
دَ هر چا زړه مرآت دَئ صفائي ور لَره بویه

حیران یَم نه پوهېږم چه له یاره مخ پوښل څه — اغیار وته په قهقه لا له ورایه خندېدَل څه
که نه ئې وِي په زړه کښ دَ عاشقه سَره مهر — سکه ده وته دا غنج و دا دلال او دا ښکنځل څه
هغه مي چه لیدلَي دَ خپل یار ښایسته مخ دئ — که حوري که پري وِي وَ بل مخ وته کتل څه

---

[1] د دی کلمې معنی حل غواړی.

[2] نه ملك گېری شته.

[3] که نه.

Downloaded from: ketabton.com



ښه ئې دِي ويلي چه زړه يو دَي يار دِ يو دئ    ښه ده دا خبره چه سر يَو او سودا سل څه
زار ژړا هغه کا چه د يار له مخه دور وِئ    وخت دَ يار دَ وصل کوک په کوک نارې وهَل څه
خوشحال دِ ښه چه مړ کړ ته په کوم توکي دلگير يې
تر سر دِ صدقه شم گنُدِي تا ته چا ويل څه

خپله پوهه به لَرم خپله لَره    وَ هر چا ته خپله پوهه دَه کره
که فاسق يم که فاجر يم دَ خپل ځان يم    دَ زاهد دَ عابد څه دِئ را سَرَه
ليونی که مسخره دَئ و عالم ته    عالم هم وي لېوني ته مسخره
په معني پاڼي گلونه دِي خبري    دَ سړِي کرده دَ وني ثمره
نن يوازِي يك تنها له ياره ښه يم    څوک د غيرو د وهم نه وِئ را کره
دَ نور چا غرض پرې نشته چه صراف وِئ    هم هغه زده په سَرَه په نا سَرَه
په ښوره مځکه کښ کله شِي گلونه    درته چا وې چه گلونه پرې کره
شاړي[1] تل په کُن پره گرزي[2] خوشحاله
مَرَنی ليندئ به ځِي په سر پره

خواړه عمر غُندي تلنه کوې ښه[3]    په مدت دَ ديدن ژمنه کوې ښه
په ناستې دِ رغېدن دَ بيمار وشي    په وَلاړي پښې پوښتنه کوې ښه
خوي دِ درست دَ ترهېدلي غرڅه واخيست    وراندِي ځې تر شا کتنه کوې ښه
دا دَ زړه ښهر مي ستا دَئ چه په سترگو    باندِي هر کله ختنه کوې ښه
په خوله ما سَرَه دروغ دروغ يارئ    وېزارِي دَ زړه دنَنه کوې ښه
هم په څو رنگه غموُنه باندِي کښېږدې    بيا گله له دې غمجنه کوې ښه
هم په څو رنگه عتاب کړې بيا پخپله    بورجل ځاي ته مي بلنهَ کوې ښه
په زمان کښ يو گلزار دَ وصل نهال کړې    بيا پخپل لاس ئې وکښنه کوې ښه
وصل هجر دِ دا دواړه پخپل لاس دِئ    چه مانه له خپل مينه کوې ښه
دَ خوشحال په زړه دِ کښېښول داغونه
پرې دَ مالگو دُوړوَنه کوې ښه

خوله مِي غوښته له نگارِی را ئې نکړه    دَ رقيب په خوله شوه آري را ئې نگړه
ما وې دروم‌م ستا له وره دعا راکړه    په فرياد او په چيغاري را ئې نگړه
صبوري له جفا کاره ياره غواړم    را ئې وکړې ځني چاري را ئې نگړه
په يوه جلوه له ورايه رغېدې نور    دا ځما سترگي بيماري را ئې نگړه
دَ يوې غمزې په طمعه ورته گوره    عمر تېر شو پدا لاري را ئې نگړه
په اميد وم چه يَوه پياله به را کا    هغه مستي شراب خواري را ئې نگړه

---

[1] شاړ يعنی سست او کاهل.

[2] درومی.

[3] دا بدله په نورو نسخو کښ نسته، له يوې قلمی څخه را نقل سوه.

Downloaded from: ketabton.com



وَېِ در به کړم بوسه دَ خوږو شونډُو    را نېژدې نېژدې شوه باري را ئې نګړه
ګلدسته ئې چه له باغه وه ويلې    که ئې ورکړه وريباري را ئې نکړه
هسِي نه چه ئې د زړه دلاسا نزده    دلاسا لَرِي تياري را ئې نکړه
زه خوشحال دَ يوه ښکلي په طلب وَم
دا فلك لَرِي بسياري را ئې نګړه

خاتمه که دَ سړِي په خيريت ده    تر صحت ئې چار بهتره دَ زحمت دَه
په زحمت کښ ئې نخوت له سَره وزي    رنځوري نافي دَ کبر دَ نخوت دَه
هر زحمت چه دَ سړی په وجود ورشي    معافي ئې دَ ګناه په روايت دَه
په يوه تبه چه لَړه په چا ورشِي    هغه هم د ګناهونو کفارت دَه
په هر چا باندِي چه ډېره تبه ورشي    په صحيح چه دغه چار دَ مغفرت دَه
هغه کس ولي دَ خداي دَي ګمان نشته    دَ هر چا چه صبوري په مصيبت دَه
غم ښادي چه وَ سړی وته رسيږي    همګِي واړه له ځايه په قسمت دَه
په ښادي کښي دي ئې شکر سړی کاندي    په غمونو کښ دَ صبر چار فرحت دَه
چه دا دوه چاري لَرِي حبيب اللّه دئ    په وَيل نده دا چار په عنايت دَه
وار په وار به په خوشحال باندِي ور دورمي
هَرَه چار چه دَ محنت يا دَ راحت دَه

دا تاو تاو زلفي ښکاره کړه تر نقابهَ[1]    چه ځار ځار ئې شم له هره پېچ و تابهَ
زه چه چېري تا ته سوال کړم ته ښکنځل کړې    نور به څه غواړم تر دا خاصه ځوابَه
د سمند سمونه سره په وينو درومې    ګوره بيا دِ د چا مېنه کړه خرابَه
تا به هسي بې صرفه قتلونه نه کړل    که دِ وېره شوَې له خونه له عذابَه
لکه څوک چه له تېرو تورو وېرېږي    هسي ډار کَوم زه هم ستا له عتابَه
چه د ښکلي زيبا مخ نظېر دِ غواړم    په نور څه مي نظر نشِي بې آفتابَه
که فتنې او خرخښې د ښکليو دود دي    نه چه هسي هونبره ډېري بې حسابَه
زه خوشحال که له تا خواست کړم مستحق يم
خوله زکوة راکړه د حسن له نصابَه

دا ځما زړګی پخپل زړګوټی[2] نَسه[3]    چه دي زړه دَئ ځما زړه هم هسي کَسَه[4]
دا دَ وړکيو خوي د څه ونيو په لاس[5] کښ    چه زر زر څه ورکوي بيا ئې را نَسه
زه به هيڅکله د تا له وره وانوړم    که هر څو وايې چه مه راځه ناغسه

---

[1] له نقابَ.

[2] زړګوټ کسه.

[3] دا بدله په جاپي ديوان کښ نسته.

[4] هسی نس.

[5] په لاسو.

Downloaded from: ketabton.com



که هر څو دَ شندی[1] گل څه ښه لیده شِي    روخ ئې ندي چه سیالي کا له نرگسه
چه ئې تل و غوا و غښلو[2] ته سورې دي    خداي دي واخله دَ بېدردُو مجالسه
هر دم دار ئې پخپل کار کښ دَئ خوښ کړي    که سړی دي که پېړی که کوس[3] وغسه
چه یو هم دَ زړه ساتوني پکښي نسته    توبه توبه دَ ختکو که اولسه
زه خوشحال چه په مزریو باندي تیغ[4] کړم
تا ته څه رنگه گیدړ شوم رترومي[5] کسه

دلربا پسره راشه    ای زېبا بشره راشه
چه دَ ښهر ښایسته دئ    تر هر جا بهتره راشه
سر تر پایه واړه ناز یې    ځما ناز پروره راشه
په خوږو خبرو شهده    په خندا شکره راشه
چه دي نه وینم هېڅ عیب    تمامي هنره راشه
توره شپه دي توري زلفي    په ښه مخ سحره راشه
د سما قمر بوسه کړم    د عنبرا قمره راشه
دَ راتلو لاري دي گورم    اې ځما دلبره راشه
څه به وایم چه بې تا مرم    اې په زړه خبره راشه
چه پسو تر و تازه ځې[6]    د چندن شجره راشه
چه دي نه ویني نور روند شي
دَ خوشحال بصره راشه

دَ یار غم به په تنها صورت زغممه    دا بیدرد عالم به نه را خبرومه
چه دا اوښې مې غمازئ دَ فراق دئ    زه ئې ځکه په گرېوان کښ تویَومه
همېشه ئې پدا فکر در مانده یم    چه دَ خوږ خاطر علاج په څه کومه
ملامت ئې دَ عاشق دَ سر بگړی دَه    دا بگړی له سَرَه چرته اچومه
دَ هجران دَ آتش لا لمبې تازه شي    څو دَ صبر اُوبه زه پرې پوړومه[7]
آشنائي له جدایَی سَرَه ښه ده    دَ مرهمو قدر داغ څخه گڼمه
له طبیبه خلق هیله دَ شفا کا    زه خسته دَ خپل طبیب له لاسه مرمه

---

[1] یوه ونه ده چه ترخه میوه لري په هندي ئې پکائن بولي.

[2] چه هم ئې تل د غوا د غښلو نه بیور دئ.

[3] د دې کلمې معني نسوه را ښکاره.

[4] تېځل یعني د آس تند توپ.

[5] عیناً ولیکل سوه.

[6] یې.

[7] په خوله او په نفس سَرَه اوبه څاڅکي څاڅکي پاشل.

Downloaded from: ketabton.com



یاره ته چه جدایي جدایي وایې
زه خوشحال دَ دې خبري توان لَرَمه؟

دَ اسمان په حکم څه فتنه بر پاي ده — نزده چا چه قراري ئې په کوم ځاي ده
بندیوان ئې اورنگ زېب لَرَه روان کړم — ننداره مي په هر ښهر په هر سراي ده
پښتانه مي چه حال وَوینې کباب شي — په لیده مي دَ هر جا ژړا هاي هاي ده
لوي هلك مي نندارو لَره را درومي — دَ هندو دَ مسلمان ناره واي واي ده
زه هر چا وته موسېږم ترې تېرېږم — چه دَ واړو اندېښنه راته نماي ده
نه یواځې په ما ظلم، ستم وشو — زمانه دا هسي تل کا پخپل راي ده
په هر ځاي مي په څوکی راځِي فوزونه — د بد به مي دَ مزري یا دَ هماي ده
په وَلاړ کښ هاتي شمار په یوه غره دئ — اوچه پرېوزِي په دوه غرونه ئې آواي ده
زړه مي درست سوري سوري لکه غلبېل شو — محرومي دَ لیدو بده غم افزاي ده
گنُدِي وِي چه بازي بیا را وَجار وزي — همگي عالم وَیل کا چه اوس باي ده
که په اور کښ دَ سرو زرو وَښې پرېوزي — عیب نشته پدا کار کښ ئې جلاي ده
نورِي واړه تکیئې تار په تار خپرې شوې
دَ خوشحال ختك تکیه په یَوَه خداي ده

دَ جهان خوښي همه دَ هغه کس ده — چه میشته ئې دَ محبوبي په جوس[۱] ده
دَ ښه مخ له نندارې چه نظر نیسي — که ئې گورې هم دغه هوا دَ نس ده
که سوگند راځني غواړې هم به وکړم — تر اول مي پتا مینه یَو په لس ده
ډېری میني آشنایی څه په کار ندي — یَوَه زړه لَره یوه آشنائي بس ده
چه دوه ښه خواږه مَین سَرَه دلگیر کا — دَ غمازُو وینا څه دَ سترگو خس ده
بې پروا بې فهمه مه راځه خوشحاله
په پالنگ مي ډېره وېره دَ عسس ده

دَ چمن په لوري وخوځه له کاخهَ — چه د گلو ننداره شِي انتساخه
گل چه ستا تر لاسه دراغي تازه شو — لاس دِ لا لَرِي شرف د گل تر ښاخه
غنچه گل ستا له خولې سَرَه سیالي کا — خوله ئې باد په طما چه کړله فراخه
د ښه مخ خوبي دِ ښه دَه لا تر گله — په زړه هم سختي لرې تر سنگلاخه
چه تر اور تر اوبو وزي هاله ور شِي — سور پېزوان د ستا د پوزي[۲] تر سوراخه
غه خبري چه بې ستا له مخه کېږي — له هغو خبرو ونیوَي صماخه
په بېمارو سترگو تل پهي[۳] کښېښوې شِي
د خوشحال په لېمو پېښه کښېږده گستاخه

---

[۱] محشی دې کلمې ته په قلمی نسخه کښ کوڅه او غولی لیکلی دی.

[۲] دَ شاه دَ پوزي.

[۳] پتی.

Downloaded from: ketabton.com



دَ ښایست په کار کښ نه لري څوک سیاله ‌ ‌ دَ یارۍ په کار کښ نه یې هونبره[1] ساله
هونبره کبر خیال چه ستا دَئَ دَ چا نه دئَ ‌ ‌ څو به زار کړم ستا له کبره ستا له خیاله
ستا په تش لیدو ځما دَ رنځ علاج شي ‌ ‌ کښه مرمه وَوېرېږه له وبا له
تا ویشتلَي یَم پخپل گزار پوهېږې ‌ ‌ چه دَ سترگو دِ گولی دي څو مثقاله
پرې د صبر پهي[2] بِدم واږه خسا[3] کېږي ‌ ‌ چه په زړه باندې مي داغ دَئَ ستا له خاله
جگي جگي مانې مه کوه پخولا شه ‌ ‌ خرخښو فتنو دئَ زه کړم بې مجاله
خرخښو فتنو دی مرگ وَته نېژدې کړم ‌ ‌ چه یَو دم را سرَه نه یې بې جنجاله
راته گوته ښوروې نا خواله وایې ‌ ‌ حال به وَوینې دَ مورِ دَ ځان زواله
دَ خانی دَ توري ځاي نشته په عشق کښ
معشوقې وته مریَي اوسه خوشحاله

دَ عشق بخره ازلي دَه په جنگ نده ‌ ‌ په کتاب په مسئلو په فرهنگ نده
په قسمت ئې له ازله دَه راوړې ‌ ‌ دا دَ سولو بخره اوس دَ پتنگ نده
خلقې ئې سرَه درغښی[4] ککر کړې ‌ ‌ لا دَ مستي دَ غمزې توره رنگ نده
تل دَ یار دَ صورت نخښې پکښې گوره ‌ ‌ له دذَنه آئینه دَ زړه رنگ نده
دا پیاله چه ما نوشلې دَه پرې مست یم ‌ ‌ دا پیاله مي دَ شرابو دَ بنگ نده
دَ اغیار سرَه یَو دَم ناستي ښه ندئ ‌ ‌ هیڅ خپلوي مي دَ زجاج او د سنگ نده
دَ گلونو په موسم کښ هغه خوار شول[5] ‌ ‌ چه گلرنگه معشوقه ئې تر څنگ نده
لېچي څه لَره غړې توره وکاږي ‌ ‌ که دَ خوارو دَ وژو په آهنگ نده
که زه نه یم لېونَی په آهو سترگو ‌ ‌ مسله مي دَ آهو پسِې لنگ نده
کله کله خوار خوشحال وَته نظر کړه
دَ عاشق نمنځنه هیڅ عیب و ننك نده

دَ مجاز عاشقي عین حقیقت ده ‌ ‌ وَ هغې ته زینه ښښې دَ صورت ده
تر ثرا تر ثریا که فهم وکړې ‌ ‌ په څلور کنجه غوغا دَ محبت ده
په جهان به هیڅوک نه وُ که عشق نه وِئ ‌ ‌ د بد به دَ عشق قائمه تر قیامت ده
چه په مینه کښ یو زړه او یو ابان وِئ ‌ ‌ تر هر چا دَ هغو چار په برکت ده
دا یوه وینا دَ زړه په غوږو واروې ‌ ‌ چه بهتره دَ اورنگ تر سلطنت ده
سر دِ درومي مال دِ درومي پت دِ نه ځي ‌ ‌ د سرِی د چارِی کل خوبي په پت ده
چه یَو ځله زړه دَ چا په مینه بند کړې ‌ ‌ په شلول ځني کمي دَ مرموت ده
چه د نیت غلطي لَري بلا به ورشي ‌ ‌ تر هر څه بده بلا غلطي دَ نیت ده

[1] محشي میانه ورته کښلي دئ.

[2] یعني د زخم پټی.

[3] یعني بد بوي او متعفن.

[4] د دې کلمې معنا حل غواړي.

[5] هغه گرم دی.

Downloaded from: ketabton.com



چه ئې خداي ورکا وَ چا شکر دِ کاندي    په جهان کښ لويه بخره دَ همت ده
په تېره الماس دَ پاسه قدم ږدي    يوه څه باريکه لار دَ شريعت ده
چه کږو ته نصيحت وايې خوشحاله
وايه څه فائده ستا دَ نصيحت ده

دَ سپېرو خاورو غوغا ده    چه پکښې غوزري هوا ده
و حباب وته وګوره    څه دِ نوره تمنا ده؟
ګمان نکړم چه به ستا شي    دا چه ته وايې ځما ده
چه به کانده فنا کېږي    کانده نده نن فنا ده
دَ هلکو لوبي ګوره!    سرشته دَ هر چا دا ده
ته لا طفل دَ اوښي يې    که دي ږيره کربلا ده
دا درکاه يوه بوډۍ[1]    ګه خندا که د ژړا ده
چه ئې يو ځله اړاند کا    دا هم لويه تماشا ده
راشه وګوره په سترګو    چه دَ چا وه اوس دَ چا ده
خو يو وهم خوب و خيال دَئ    کوم ژوندون کومه دنيا ده
دَ نور چا نده خوشحاله
ستا دَ خولې وينا هم ستا ده

د شرابو مستي زر شِي نيست و هستهَ    لا يزاله مستي نه درومي له مستهَ
چه مي نوم په جهان لاړ شو درندیَ    درندۍ کار به نه پرېږدم له دستَه
که بادشاه ئې په زندان کا غم ئې نه وِي    د آزادو آزادي دَه له الستَه
نه ياري شته نه خپلوي واړه غلول دي    چه خبر شوم د وګړي له بر بستَه
د ښادۍ په اميد اوسي په غم کښ    تل په شپه پسې را درومي ورځ پيوستَه
د مقصود ګوهر په لوي درياب کښ پرېووت    غواصان پکښ غوټې وَهِي په مرستَه
په ادراک له قعره نه ګوري ساحل ته    هغه کب چه وېره وَويني له شستَه
د عاشق خاطر او خيال لکه درياب دَي    چه څپه ئې کله لوړه کله پستَه
د خوشحال له زړه د يار محبت نه ځَي
لکه مينه د خپل بت له بت پرستَه

د سبا نسيمه! راشه[2] و ګلشن ته    د ګلونو انتظار دي شګفتن ته
زاهد څه خبر له عشقه چه عشق څه دَي؟    د ګلونو له حاله څه وايې زغن ته
زاهدان چه په پنځه وخته سجود کا    زه دا يم په سجده پروت يم و وثن ته
د ليدو په ننداره ئې نه مَړېږم    که هر څو په ځير ځير ګورم و ديدن ته

---

[1] دا ځائی یوه بوډۍ.

[2] زر راشه ګلشن ته.

Downloaded from: ketabton.com



ته خوبا، د شقایق په زړه کښ داغ ږدي　　چه په شین[1] شین درومې و چمن ته
قهر مهر دِ دورځیو په منځ وینم　　د جبین تخته دِ ښښې و لوستن ته
کله جنگ و خرحښې گړې کله مهر　　زه په زړه ساده حیران شم هونبره فن ته
که د ما په مرگ دِ زړه دَي دایم زه هم　　ستا جفا جور نزدې کړم و مردن ته
اوس دِ اور را باندې بل کړه په ستنه[2] شه　　چه لوگي دِ ننه نه وزي پیرهن ته
که تل ستا له لاسته توره د ستم وي
ما خوشحال قبوله[3] کړی و گردن ته

د خوبا له بې نیازئ سل اوخه　　چه ځما له کاره تښتي په فرسخه
د یارئ په کار و بار کښ فهم وکړه　　چه را نه شي د بدانو سینه یخه
ځان او زړه صبر آرام ئې له ما یووړل　　له ژوندونه خو هم دا څه وُ را څخه
که جهان په تا ښندم ته ئې قبول کړه　　دَ مېږي په لاس خو پښه ده له ملخه
هر چه نن د محبت په اور وریته شول　　ترو ئې کله پروا کېږي له دوږخه
ډېر بندي ئې د زلفینو په کمند شول　　کله وِي چه به دوي خلاص شي له دې پخه[4]
خوار خوشحال چه بکښ پرېووت وتي نشي
څه بلا یې دَ شهی چاه زنخه

دواړه شونډې کړه په بیارته　　دُر ریزي وکړه خپل یار ته
زه چه ستا و مخ ته گورم　　زړه مي نه کېږي گلزار ته
گل له شرمه خولې پرېږدي　　چه نظر کا ستا رخسار ته
که مي وار در باندي جوړ شي　　منتظر یم و خپل وار ته
گله دا درباندِ[5] ښایي　　چه ځیر ځیر گورې و خار ته
که وفا کا که جفا کا　　یار، دم مه وَهَه اغیار ته
آئینې وته نظر کړه　　که دِ مینه شي گلزار ته
زار وَ چا ته کړې خوشحاله
چه دِ نه گوري څوک زار ته

درته چا وې چه دَ یار سَرَه جفا کړه　　دَ اغیار سَرَه وفا، مهر خندا کړه
چه دَ پله خاوري دِ سترگو لَره غواړې　　دَ هغه سَرَه فتنې جنگ و غوغا کړه
هغه ته یې چه له ما دِ محبت کړ　　که غه هونبره مینه ما سَرَه نور چا کړه
که په اور مي کښینوې په اور به کښېنم　　چه دِ ځای په سترگو کړم راته دِ شا کړه

---

[1] تر دې کلمې لاندې محشي ناز او خیال کښلي دي.

[2] ستنه یعني واپس او تر شا.

[3] ما خوشحال ده قبول کړې.

[4] محشي زندئ تر لاندې کښلې دَه، مگر په بله قلمي نسخه کښ مخ لیکلي دي.

[5] ورباندِي.

Downloaded from: ketabton.com



دَ بادشاه دَ ګداي څه وُ دَ یاریِ      څه کړم خداي مي ستا په مخ مینه پیدا کړه
که ځما په مرګ دي زړه تېغ را واخله      دَ قصاب غُنډِي مِي بند په بند جدا کړه
زه خوشحال څه جیواری[۱] د سبګل نه یم[۲]
دَ دنیا خونه مي ستا په مخ ببډیا کړه

درسته شپه دئ په کوڅه کښ مرم له سوړه      لاس می مات شه که دِي نکړم روړبوړه[۳]
ته په څو بې غمه خاندې خوشحالی کړې      ځما غاړه په ژړا در پسې بوړه
ستا دَ خوي دَ زلفو کار سَره یو رنګ دَئ      سر هوا لویي دا هوببره سَمَه کوړه
حال دِي واړه وار په وار راته معلوم شو      تګه یاره په زړه تریخه په خوله خوږه
ځما یار چه میخوري کا په بدل ئې      ولي ما لره راځه د دردو روړه
پکښي زړه دَ خوار خوشحال دَئ چه خوږ[٤] نشي
ډمي ورو ورو دَ شهیَ زلفیني نموړه[٥]

د ماړه تر فهم هیڅ نده غنمینه      ولي وږي ته حلوا ده اوربشینه
په تونګو باندي اطلس لکه شړیَ وئ      په نادار باندِي سرِیه ده وربښمینه
وَ مجنون ته دَ لیلی خبري وایه      نه له علمه، له مذهبه، نه له دینه
هغه خداي چه دَ هجران غمونه را کړه      که دَ وصل ښادي را کا توان لرینه
خدایه کله به دیدن دَ آشنا را کړې      چه به زه پرې ماتَوم دَ زړګي مینه
یَو ځل بیا په حیات ولیدي په سترګو      بیا له پسه لکه مردن وِئ هم دي وینه
نمر په کوم لوري پرېوزي چرته خېژي
په خوشحال باندِي یوه شوه توره سپینه

دَ ګلونو قدر چا زده      یا بلبلي یا بورا زده
په جهان کښ به یَو یوَ وِئ      چه هنر ئې دَ کیمیا زده
چه وفا ور ځَني غواړې      بې وفا کله وفا زده
که جهان در خبر ندَئ      ما په تا زده تا پما زده
ته ښادي کړه زه به غم کړم      تا خندا زده ما ژړا زده
رنګ دِ ښه دَي خوي دي بد دَئ
زه خوشحال یم ما رشتیا زده

---

[۱] د دې مسریَ معني حل غواړي.

[۲] د دې مسریَ معنی حل غواړی. په بله نسخه کښ دا بیت په دې ډول دی:

خوشحال نه د یوالیا نه قمار باز دی      د دنیا خونه ئې بیا تالا تالا کړه

[۳] که ونکړم روړ پطړم پي دې بدله کښ دَ سوړ، روړ، پوړ، روړ، نموړ، معناوي تحقیق غواړي.

[٤] چه خور نشي.

[٥] محشي ورته کښلي دي: یعني ړمنځوه.

Downloaded from: ketabton.com



دَ صبا باده گذر په چمن بیا کړه | په چمن کښ رنګارنګ ګلونه وا کړه
زه دِ توان دَ خرخښو لرلَی نشمَ[۱] | که دِ زړه ځما په مرګ دَئ دا ادا کړه
بې نیاز څه خبر له نازه چه ناز څه دَئ | ستا دَ سترګو بلا واخلَم ناز پما کړه
زه له خپله بخته چا وَته فریاد کړم | چه پرُون ئې راته مخ وُ نن ئې شا کړه
خوله مي ډکه شوه په شهدو په شکرو | چه سحر مي ستا دَ لام و بې[۲] ثنا کړه
عاشقي که سرا سر واړه بلا دَه | ما په ځان دَ زړه قبوله دا بلا کړه

زه خوشحال کم زوري نه یم چه به ډار کړم
په ښکاره ناري وهم چه خوله ئې را کړه

دَ دانا په ځان بلا شوه خپله پوهَ | چه هر ګز ئې خالي نه وِي له اندوهَ
چه فلك وَ چا ته عیش و عشرت ورکا | هونبره ډېر ورباندې کښېږدي څو ستوهَ
کله ونه دَ خزان په وخت لغړه | کله بیا خوبي دَ پاڼیُو پرې انبوه
په ناحق ئې په میدان په سَمَه غواړې | چه دَ غرونو غرڅه نه ګرزِي بې کوه
چه مي ولیدې څو خولې هونبره خبرې | را څرګند شول واړه دو اویا ګروه

پخپل زوي او ورور باور نشته خوشحاله
غافل مشه دا جهان له مکره دروهَ

درسته شپه دِ په کوڅه کښ مرم له سوړه | لاس مي مات شه که دِ نکړم روړه بوړه
ته په څو بې غمه خاندې خوشحالي کړې | ځما غاړه په ژړا در پسې بوړه
هم مي بې حسابه پوري کړه په سترګو | دَ رنجور غُندِي مِي بیا له سترګو توړه
ستا دَ خوي دَ زلفو کار سَرَه یو رنګ دئ | سر هوا لوئې دا هونبره سَمَه کوږه
حال دي واړه وار په وار راته معلوم شو | تګه یاره په زړه تریخه په خوله خوږه
ځما یار چه میخوري کا په بدل ئې | ولي ما لَره راځه دَ درُدو روږه

پکښې زړه دَ خوشحال دَي چه خوږ نِشي
ډمي ورو ورو دَ شهی زلفیني نموږه

دَ ناکس له آشنایی توبه توبه | دَ شونټی[۳] له روڼایی توبه توبه
چه پردې ئې په الماس جراحان پرېکا | له دې هسي ښڼایی توبه توبه
چه وَ لَور ئې په زرګونو جن بدرنګه | له دې هسي کتخدایی[٤] توبه توبه
چه په جهل و حماقت دانا ځان بولي | دَ احمق له دانایی توبه توبه

---

[۱] د خرخښو لرم چه کړې ئې.

[۲] ل او ب: لب.

[۳] یو راز لرګی دی، چه د څراغ پر ځای ئې د روڼا دپاره لګوی عموماً د لرګو څراغ ته هم شونټی وائی.

[٤] که خدایی.

Downloaded from: ketabton.com



دَ سفله دِي دَ سيفه دِي واړه توکي    له خودی خودستايی توبه توبه
که هزار رنګه شيخي، زهد، تقوا کا    دَ جاهل له پارسايی توبه توبه
چه عمل ورسرَه نشته تش وَيل کا
دَ خوشحال له ګويايی توبه توبه

درخو[1] خود په اَدم خان باندِي شيدا وه    تر دا منځ دَ ميروګي ژبه بلا وه
چه په منځ کښ دلال نه وِئ وصال نه وِئ    په مجنون باندِي مَيَنه که ليلا وه
پخپل يار پسيِ ژړا ننه په زړه کښ    دَ عالم سرَه په زور ځما خندا وه
چه غوټی ئې شګفته کړه په چمن کښ    که دِ زده دا چاره واړه دَ صبا وه
چه ئې ګل دَ بهار ستا وَ مخ ته ونيو    ستا دَ مخ خوبي تر ګلو لا زيبا وه
هونبره رنځ محنت اَفت ځني پيدا شو    څو ځما دَ خوار خاطر مينه په تا وه
دا نن شپه چه په ما تيره شوه بې ياره    ته به وايې په دوږخ کښ مي مأوا وه
نن خپل بخت را سرَه درسته مخامخ کړه    چه پرُون راته يګلُخته شا په شا وه
ما وې زه يم چه پياله لَرم په لاس کښ    ولي دا پياله په لاس کښ دَ هر چا وه
بس چه بيا ئې ستا جمال په نظر کښيوت
دَ خوشحال خټك د زړه ځله[2] همدا وه

دَ يوه بادشاه په حکم شوم اګاه    امر نهی مي قبول دِي دَ بادشاه
يا مهدي يې يا عيسی چه را ښکاره شوې    په جهان دي غلغله وشوه ناګاه
دَ مهدي او دَ عيسی دَ وړاندي څه دئ    هم د جال هم دَ دجال واړه سپاه
خير آباد لَره دِ را يشي لښکره    چه احوال دَ غليمانو شِي تباه
چه خيبر لَره ما بولې قضا کيږي    ډير کارُونه په دا ملك دَ خير خواه
دريا خان درويزه واړه په حضور دي    ګويا زه هم په حضور يم دَ درګاه
خواه ناخواه که امر دا دَئ چه را درومه    دا بنده به در روان شِي خواه نا خواه
دارنده دَ عريضې ځما دَ لوريه
زباني خبري هم لَرِي همراه!

د سپي غُل د دروغجن په خوله کښ تل کړه    په رشتيا خبرُو خوله دَ سرِي کښبُل کړه
هر عمل چه سرِی کا مصمر به نشِي    درته چا وې چه لوګي مکړه اوربل کړه
ګه پوهيږې چه دَ بل جهان حساب شته    ته پدا جهان نظر پخپل عمل کړه
ستا د خولې چينه حنظل دَه هم عسل ده    وَ هر چا ته تويَونه دَ عسل کړه
چه دَ دين دنيا کارونه درته پيښ شي    دَ دنيا تر کاره کار دَ دين اول کړه
چه دَ مښکو دَ نافې شميم را خپور شي    را څرګندي توري زلفي تور وربل کړه
ساقي وخت دَ نو بهار دَئ شراب راوړه    دَ شرابو سرَه نقل دَ خولې مل کړه

---

[1] درخو او اَدم خان په پښتنو يوسف زو کښ دوه مينان وه چه په عصر ګښ د مغولي اکبر پاچا تېر سوی دی، ميروئې ريبار وُ.

[2] هيله.

Downloaded from: ketabton.com



نن خلل دَنَي اومَي مکړه زاهده چه موسم دَ بهار تېر شي بيا خلل کړه
چه يَو دم دَ عشق له اوره خالي نه وئ خدايه څه دِ دَ عاشق ټټر منقل کړه
ستا دَ مخ په دَور زه جهانگير شاه يم راته ښکښېنه کرشمې د نور محل کړه
ستا دا توري سترگي خو توري بلا دئ درته چا وې چه ئې توري په کجل کړه
که هزار ځله شيخي کوې خوشحاله
چه ښه کښلي در نيژدې نور ئې کښل کړه

د ښايست سرَه سل نوري چاري بويه چه عاشق په ځان مَين کاندې مهرويه
تل دَ مښکو بوي روان په بستر نه وئ درېغه درېغه دَ مهرويو گفتگويه
عاشق يو لکه لېوه په شمال پائي بل په غټي سترگو خوب کا لکه سويه
په سبا پسی ئې مرم نه سبا کېږي دَ هجران شپه ئې پما سوه تر کال لويه
ځما دواړه سترگي جوي ته سبر قد يې سبرونه جدا ښه نده له جويه
اوس دَ جونو هوس مه کَوَه خوشحاله
پښتنې جونه ترهېږي له دوه مويه

دَ ليلې دا مخ څو ډېره زيبائی ده دَ مجنون ور پسې هونبره رسوائی ده
که مي سل هنره کړل تر سرَه نشول يوه څرنگه نابوده آشنائي ده
چه د سترگو ئې تقوا سره مېرڅي ده په ناحقه مي نېولې پارسائی ده
چه ئې سيوره په ما وه لکه بادشاه وم ستا دَ تورو زلفو سيوره همائی ده
په وار وار را څخه يووړل عاشقيه که هر څو را څخه پوهه دانائی ده
چه نه مهر نه تپاک نه پکښې شناخت شته تر دا هسئې وصل به جدائی ده
دَ خپل يار په مخ اوس ندي مين شوي
د خوشحال په زړه کښې دا مينه ځائي ده

د دنيا دَ سود دَپاره کوڼ او کوره څه خو شرم مروت وته وگوره
په درست عمر هغه ځاي ورپسې غواړې چه دِ پرېوزی له پلوه چرته توره
په زړگي باندې د توره سوی داغ شي چه دِ توره يا پيسه وزي له کوره
د لوي غره گنډې پتا باندې پريوزي چه دَ کوره دِ ډوډې وزي نان کوره
دَ دنيا مينه پتا باندې درياب شوه ته پدا درياب کښې ډوب لاړې هر گوره
که پدا درياب کښې هر څو لا نبوزن يې عاقبت به پکښې بيا پرېوزې له زوره
که هر څو پخپل حرص کړې دنيا ټوله دا به واړه دَ اجل سيلی کا خپوره
گورستان لَره به هسی شان مفلس ځې لکه وَزووې اول له خپلی موره
چه ئې خوښه عقيده دَ قلندر شوه
خداي به نکا دَ خوشحال عقيده نوره

دَ دلبرُو په ستايَنه ما پخه کړه خپله ينه
ناترسي دَ ديو گوره چه په حال نکا پوښتنه

Downloaded from: ketabton.com



زه به ولي هسي خوار وم    که دَ حال وَي گوېږنه[1]
تل ئې خيال دَ تورو زلفو    شندي کا په زړه دننَه
چه جمال ئې را په ياد شِي    لاله گل ته کړم کَتَنه
دَ زړه سود دَ ده دَ قد کړم    په شمشاد په سبروَنه
نه سلام شته نه پيغام شته    نه ئې پيك شته نه ئې ژمنه
په ارمان ئې ورځ و شپه مرم    يوه نه لرَم نيازمنه
سپينه ږيره نده غم ده    ډېره مه کړه لَټَونه
چه نه زر وِی نه ځوانی وِی    عاشقي ده دروغژنه
پدا هونبره ډېره مينه    يوه نه لَرَم ميَنه
چه خوشحال نده موندلې
دغه دَي دغه غوښتنه

دَ جهان په مخ به ډېر وِي ښه مخونه    ولي زړه مي ستا وَ مخ ته وکړ خونه
کله کله مي له حاله خبر واخله    که دِ چېرى اندېښنه کېږِي له خونه
دَ فراق په شپه سور کټ په ما سور اور شِي    يَو زمان مي باندِي نه لگى اړخونه
په ښو مي زړه وَ سترگو ته را گاڼِي    لکه مست لَرَه کباب ځَي په سيخونه
نو بهار ئې په راتَللو شگفته شي    دَ لاله تر گلو ښه لَري بارخونه
څو غمزې ښېږې فتنې جلوې مانې کړِې    هونبره کېږِي په خوارانو شواخونه
که دا سرې شونډِي د لعل غاښ دِ گوهر دئ    شرارې دِي ستا په غاښو کښ ميخونه
توري زلفي دِ په لېچو باندِي زانگِي    ښاماران دِي دَ چندڼُو په ښاخونه
چه ئې يو زمان له سترگو جدا کېږي
دَ خوشحال په مخ دَ اوښيو ځَي ورخونه

دَ جهان په مخ به نه وِي هسَي تا غُندي دلبرهَ    پريرويه، عنبر بويه، سنبل مويه، سمنبرهَ
گلعزاره زلفي ماره شهسواره خوش رفتاره    باده نوشه ميفروشه قصب پوشه مو کمرهَ
دلنوازه سر فرازه عشوه سازه لعبت بازه    خود پسنده سر بلنده شکر خنده لب شکرهَ
طربناکه گرېوان چاکه تَل بېباکه تش تپاکه    خود آرايه خود نمايه خود ستايه خوش هنرهَ
غزلخوانه خوش الحانه دُر دندانه لب خندانه
عنبر خاله پُر خياله تل خوشحاله د زړه غورهَ

دا ښه گل چه ئې کمي دَ جمال نشته    دَ وفا ئې حيف دا دَئ چه حال نشته
که وفا بقا ئې هم وَئ څه به ښه وُ    دَ ښايست ئې پدا دور څوک سيال نشته
عالم زړه په هيڅ خورسند کا چه وصال وئ    دَ هر چا بخره هجران دَئ وصال نشته
چه ئې وصف دَ جمال کاندِي تر سره    هر چا زده دَ واصفانو مجال نشته
منو نه منو نه ظلم جور پکښي پروت دئ    دَ ناترس خاطر ئې مهر مثقال نشته
دَ غمزې په تيغ عالم وژنی غم نکا    ته به وايې چه ثواب دَئ وبال نشته

[1] گروېږنه.

Downloaded from: ketabton.com



لکه ډک په ښو ګلونو په هر کال وُ          دَ دې باغ هغه ګلونه سږ کال نشته
راته څه وايې چه يار پتا مين دَئ          مختصر به درته وايم څه حال نشته

ما خوشحال وَته په زوره نارې وکړې
چا وَ ما ته ځواب راکړ خوشحال نشته

دا غليم سرَه به نکا مکر دروه          مګر ډېر تر بلا تېر په عقل پوه
بد خوئی به دَ خپلوانُو سرَه حؤک کا          چه پخپله پخپل ځان پسندي اندوه
ما چه وليدَل اتلس زره قومه          دَ خپل ذات سرَه الفت کا هر ګروه
دَ محنت په وخت يَو مل را سرَه نشته          دَ راحت په وخت زرګونه وُو انبوه
په خوښيه کښ زاړه لکه زلمي شي          ځوان زلمی تر زاړه لا کاندِي ستوه
دَ ګزار په ځاي اوس نه وينم هوسيه          په ځواني مِي له کبلي ليده په کروه
غر به هم لکه وېښته هسِي نرَی کا
که غمونه دَ خوشحال کښېږدي په کوه

دم به نه وَهي له خپله زورَ زرَه          که[1] دي وَ ويني يار وار وي کورَ کرهَ
چه وَتا وَته نيژدي شِي هغه تور شِي          په ستنه راځنِي ګرزه تورَ ترهَ
يو يو هور[2] دي چه شاهين ځني آلوزي          مشګيرک لکړ مکړ له هوره هرهَ
دَ صبا په ياد نشاط وِي دَ ګلونُو          که جنبش کا دَ بلبل له شور و شرهَ
پېښکښي غواړِي دَ اوښيو مرغلرِي          دا ګوهر په دواړُو سترګو وودهٔ[3] ورَهٔ[1]
د خوشحال شعر حلوا دَئ دَ شکرو
ستا په دا حلوا څه کار غُل خوره خرهَ

دواړه زلفي ئې پرېشاني په څوشانه          په جبين خورې ورې په لب خندانه
له مستَی ئې سر تور ګرېوان شلېدلي          صراحي په لاس نيولې غزلخوانه
په خمار ئې سترګي سرې و بله اُوښتي          نيمي شپې را باندې راغله ناګهانه
سپينه خوله ئې ځما غوږ وته نېژدې کړه          په نرمي ئې دا وينا کړه را بيانه
زه خورې زلفيني ستا په پالنګ راغلم          ته تر اوسه لا اوده يې ځما ځانه
هر عاشق لَرَه چه هسي شاه ور درومي          نور ئې کومه آرزو وِي له جهانه
څو پيالې ئې پياپي وَ ما نه راکړې          دَ توبې پرده ئې واخيسته له ميانه
چه له هسي رنګه حاله خبر نشوې          شيخه ځکه ځما چار دَه په تا ګرانه
عشق راغلَي دَ توبې په ماتَول دي          هيڅ بدی را باندِی مه وايه نادانه
که خوشحال غُندِي دِ يار باده پرست وَي

---

[1] که ئې ووينې.

[2] محشي ځاله ورته ليکلې ده.

[3] يعني اوروه.

Downloaded from: ketabton.com



تا به هم کړه دَ توبې خونه ويرانه

ذرې ته چه هسې برېښې منوره که پوهېږې دا برېښبا دِ ده له نمره
وايې لار دَ ختو نشته وَ اسمان ته زه به لار درته پيدا کړم بې هنره
دَ عشق شور که دَ عاشق دَ زړه قضا دَي له دې شوره خالي مشې څما سرَه
هم دَ خلقو ملامت هم ستا ناسازي دا به شوې چه يار مې ته نيوې په غوره
راز ئې ولې ښکاروه ښه چه په دار شُو دَ منصور سزا تر دا وه لا بتره
وير مې دا دئ چه له کښلو به جدا شم څه له خپله سرَه نه دَه څما ويره
زه به غوږ دَ ناصحانوُ په پند نه کړم که ئې اروې دا وينا ده مختصره
وايې وَمرَه چه دې زه له غمه خلاص شم حُما دا دعوه لنډېږې تر محشره
دَ خوشحال ژړا په دا دَه نور څه نه ده
چه په مهر ورته نه خاندې دلبره

راشه که ئې اروې دا خبره ده نادره: چه وَواته له سترګو هغه ووزې له خاطره
مرم چه جدا کېږې ته مې روح يې که پوهېږې مه درومه لمانه راته تل اوسه حاضره
بخت مې مَرَور شې چه په نورو دِ نظر شې بخت راته ناظر شې چه وَ ما ته شې ناظره
هر حسن دِ ډېر دَئ دَ ليلا تر حسن تېر دئ زه چه دِ مجنون کړم په چشمانو ئې ساحره
ډېرې دې نګارې هوسې سترګې پرې وارې تا غُندې به نه وئ شوخه شنګه دلاوره
شونډې دِ ياقوت دې غاښ دې دُر دَ زړونو قوت دئ درسته دِ دا تنګه خوله حقه دَ جواهرو
لام و بې ئې څېښه چه ښه کښلې شې در پېښه تل شکر وَکاږه چه شکرې خورې شاکره
ډېر دَ ملك شاهان دې چه دَ کښليو غلامان دې تا دا قدرت ورکړ وَ دلبروُ ته قادره
تل له ډېره خياله څو پېښې کړې له خوشحاله
هم روغه، هم جنګ کړې، مهر جنه هم قاهره

راته نيسي جانانه، دَ شرابو پيمانه دَ شرابو پيمانه، راته نيسې جانانه
معني په چغانه، راشه بيا کښېږده لښدئ راشه بيا کښېږده ليندئ، معني په چغانه
کور دَی دا که بتخانه، بکښې ټولې جونه ناستې پکښې ټولې جونه ناستې، کور دَئ دا که بتخانه
پاس په سر د آشيانه، تور کارګه قمر تر لاندې تور کارګه قمر تر لاندې، پاس په سر د آشيانه
ګوره جوړ دام ودانه، زلف و خال د هغې مستې زلف و خال دَ هغې مستې، ګوره جوړ دام و دانه
په ګيسو کښېږده شانه، چه دَ مښکو بوې لا ډېر شې چه دَ مښکو بوې لا ډېر شې، په کيسو کښېږده شانه
عشق مجنون کا فرزانه، شك ګمان نشته پدا کښ شك ګمان نشته پدا کښ، عشق مجنون کا فرزانه
ته عاقل زه ديوانه، څه مو روخ دَ ملګريه[۱] څه مو روخ دَ ملګريه، ته عاقل زه ديوانه
دا غزل دَئ رندانه ما خوشحال ختك ويلي
ما خوشحال ختك ويلي، دا غزل دئ رندانه

---

[۱] ته عاقل زه ديوانه څه مهرخ د ملګريه.

Downloaded from: ketabton.com



رنگینه کالي اغوستي را ښکاره شه ناګهانه — راته وګوره وَخانده خوشحالي مي کړه پر یوانه
خداي دِ تا له وړیو سترګو نه وژغوري دلربایه — چه تېکه په جبین کښېږدې او سینګار وکړې څو شانه
هغه دم چه تور ګیسو پخپل صورت باندې خپاره کړې — خوشبوئي دَخاصه مښکو په درست غولی شي پرېشانه
ځان و زړه مي هم چاپېر ور سَرَه درومي اې نګاري — چه ګهي په شین شین په انګڼ کښ شي روانه
دین و زړه صبر و آرام را حئي ولاړل اوس پوهېږم — چه یَو ځان دَي راته پاتو دا به هم یوسي له مانه
دَ یاری دَ آشنایي دودونه هېڅ له تا پېټ ندي[1]
ولي څو کړم په خوشحال باندي خاوند کړَلې نادانه

زړه مي بیا واله مجنون شه ښه چه شه — پخپل یار پسې مفتون شه ښه چه شه
هغه غم چه په مثقال په شیرشاهي وُ — اوس تر منو نو لا افزون شه ښه چه شه
بې دَ یار د مخ له خیاله بل فکرت مي — له خاطره نه بېرون شه ښه چه شه
دَ وصال په وخت مي قد لکه الف وُ — په هجران کښ لکه نون شه ښه چه شه
لکه قدر دَ وصال را څخه نه وُ — چه په بخره مي بېلتون شه ښه چه شه
په هوا په اشتیاق ئې دَ سرو شونډو — که مي وینې درست لړمون شه ښه چه شه
زړه هر ګور په غیرو چارو مبتلا وُ — چه له غیرو چارو ستون شه ښه چه شه
زه ئې درست له هره حاله نه خبر کړم — چه دَ هند پلار مي یون شه ښه چه شه
هیڅ مکتب له یوه فیضه خالی ندئ — چه می ځای دَ سر زنګون شه ښه چه شه
عاشقان په عشق کښ هر کله زبون وئ — که مي زړه په عشق زبون شه ښه چه شه
چه ئې توره دَ غمزې راته په لاس کړه — که مي آس ورته هارون شه ښه چه شه
چه ئې پښه دَ دلبرۍ په رکاب کړه
دَ خوشحال زړه ئې شګون شه ښه چه شه

زړه را پسې سر شو راته وایي چه وئېږه — وایه وایه وایه له وَیلو مه درېږه
تش شه له خروشه، څو په تا کېږي له جوشه — ژاړه ژاړه ژاړه په سبا بېګا نخولېږه
ظلم جور ستا دئ چه په نر ناحق پما دئ — مکړه مکړه مکړه له آزاره وَ وېرېږه
سوی لوغړن یم، تل په آه و په شیون یم — وسوم وسوم وسوم درومه اور در وَلګېږه
اوس خو بې پروا یې که زه وَمرم بیا به وایې — مرمه مرمه مرمه څو لا پایم وَ پوهېږه
څه وایم چه څه کړې، سراسر واړه ښه نکړې — جګي جګي جګي په رشتیا مي مه قهرېږه
تل دي تېرېده دي ښه له هر چا سَره ښه دي — ښه کړه ښه کړه ښه کړه دَ جېکخواه خبري نغوېږه
کبر لوئي مکړه چه دعا ګټې هغه کړه — وینه وینه وینه ولي مهر کړه تېرېږه
رېږدي غاړي غرُونه دَ خوشحال په فریادونه
واروه واروه واروه راشه څه خو وکروهېږه

زړه می یووړ[2] یو خورد ساله — ښایسته پري مثاله
په دوو زلفُو عنبر پاشه — دواړه ورځَیي ئې هلاله

---

[1] دودونه پېټ ندي له تانه.

[2] زړه مي یووي خورد سال.

Downloaded from: ketabton.com



توري سترگي ئې تور زاغ دئ		را پيدا دَ باز له ځاله
گلعذار ئې لاله گل دئ		غاښ ئې دُر شونډې ئې لاله
تر ښه قد و تر قامت ئې		سبر هم بې اعتداله
تر وَيل ئې نه رسېږي		دلربا شيرين مقاله
تر يانه پورى پوچى[1]		دَ خطا دَ ملك غزاله
دَ خوشحال معشوقه دا ده
خوله ئې ميم زلفي ئې داله

زه يو يار غواړم زيبا ښه		سر تر پايه دلربا ښه
ښايسته په شپږ جهته		هر اندام جدا جدا ښه
څو دَ ښهر ښايسته دي		دَئ په حسن تر هر چا ښه
تن ئې ښه دَ گل تر پاڼيو		تمامي قدر و بالا ښه
دواړه زلفي عنبر پاشي		گلغدار تر لاله لا ښه
توري سترگي توري ورځي		تور باڼه اوږده والا ښه
تنگه خوله حقه دَ لعلو		غاښ ئې دُر قيمت بها ښه
گبينه ئې سر دَ ژبي		دواړه لب ئې تر حلوا ښه
گلرېزي کا په خبرُو		تر شکرو په خندا ښه
څړه نيازو څړه ناز وئ		په جفا ښه په وفا ښه
که مي وژنې تېغ را واخلي		دَ ده تېغ لگي په ما ښه
که هوا ده دَ ښه مخ ده		نشته ښه تر دا هوا ښه
هر چه دا هوا ئې نه وِئ		هغه ندئ په دنيا ښه
دا غزل چه خوشحال ووې
څوک به ووائي تر دا ښه

زمانه راته په څو پرته په څو وه		زه ئې واخيستم خوني مزري درَو وه
وداني ئې په ډېر غم په ځگرخون وه		ويراني ئې راشه گوره په څه دَو وه
دَ بېدردُو ياري ما غنم گڼله		چه مي وليدله سر تر پايه جَو وه
تندر تل په مناره باندي پرېوزي		دَ خسوف بلا دَ مياشتي په پرتَو وه
حق نا حق ئې وچ لانده وبله کښېښول		ظالمي دَ اورنگزيب پره د لَو وه
هغه تور هندو بچه به چرته غواړم		چه ځما دَ زړه متاع باندي گرَو وه
دَ زړه نوي ښه ياران وُ خداي جدا کړه
دَ خوشحال دَ زړه دمه په هغه نَو وه

زه خبر ور ځني نشوم بهار تېر شه		د گلونو لَون واړه په بل پېر شه
حيف دا چه دَ گلونو عمر لږ دَئ		په جهان کښ دَ اغزيو عمر ډېر شه

---

[1] بوڅي.

Downloaded from: ketabton.com



دَ بهار بلبلي نه راځِي په سيل[١]   مگر زړه ئې دَ بهار له سيله سېر شه
هغه گل چه دَ حمل وُ په جوزا کښ   ځاي ئې پاسه په سوات يا په بونېر شه
خوږ ژوندون جدا له ښه شيرينه ياره   په ما خوار باندِي يا زهر يا گنډهېر شه
هونبره غم دَ بېلتانه لَړِي په زړه کښ
دَ خوشحال له دله گښت دَ بهار هېر شه

زه هم چېرى فرزانه يم لا تر اوسه   تَل بيخوده ديوانه وَم، ديوانه يم لا تر اوسه
جدايي نشته وصال دَئ ځَني[٢] بعد هم خيال دئ   له هغه چه[٣] همخانه وم، همخانه يم لا تر اوسه
چه راغلي په جهان يم خبر شوي پخپل ځَان يَم   دَ رازُونو خزانه وم، خزانه يَم لا تر اوسه
په عالم ځَما خبري، خلق کا په نيژدې ليري   په وگړي افسانه وم، افسانه يَم لا تر اوسه
چه د مخ پلو ئې واشو، يِو مشال وُ چه نما شو   هغه دم پرې پروانه وم، پروانه يَم لا تر اوسه
ناوکی ئې د مژکان دِي چه بلا د ما د ځَان دي   ورته عمر نښانه وَم، نښانه يَم لا تر اوسه
چه ئې ځَان سَره آشنا کړم له هر چا ئې شا په شا کړم   له عالمه بېگانه وم، بېگانه يَم لا تر اوسه
هغه بحر چه محيط دَئ په افراط او په تفريط دئ   دغه بحر در دانه وم، در دانه يَم لا تر اوسه
هغه شان له خپله ياره بې وکيله بې ريباره
زه خوشحال چه يگانه وم، يگانه يم لا تر اوسه

ساقيا آتش مزاجه   له صفا مينا زجاجه
دَ شرابو پياله راکړه   د همه زحمت علاجه
نه يَوَه پياله دَ ميُو   نه د درست جهان خراجه
زه او مَي اې محتسبه   که مي خو نه سِي تاراجه
ور گدا دَ ميخانې شه   که شاهي غواړې له تاجه
د رندانو بازار تود وِي   دَ شرابو له رواجه
صومعې ته تله له ديره   ياره کار دَي بې منهاجه
دَ ساقي پياله را واخله   بکښ ډېر دَي ابتهاجه
ساقي هر کله دِ وينم   مه جبينه، مخ سراجه
دَ بلورو پياله ډکه
د خوشحال دَه احتياجه

ستا په دا غ راغلَم له موره   خداي مِي مکړه د غمه[٤] نوره
کم خدمت يَم په خدمت کښ   ځَان لازم وينم هر گورَه
که زه هر څو کم خدمت يَم   ته خپل شرم وته گوره

---

[١] د بهار په سيل نه راځی بلبلی.

[٢] ځَني بعد و هم خيال دئ.

[٣] چا.

[٤] تغمه.

Downloaded from: ketabton.com



خانه زاد بندي کمین یَم    هم بې توانه هم بې زوره
توان او زور مي واړه ته یې    بې تا نه پېږم[1] په توره
بد غلیم راته په ځو[1] دي    له غلیمه مې وَژغوره
ته شفیع دَ قیامت یې
خوشحال وساته له اورهَ

ستا دَ زړه سختي مي سر تر پایه ولیدله    سنګ به سینه ووړ کړي ستا له هسې سنګه دله
څه خورا ښکاره شوه په خیل دَ سترګو ولاړه    ما وې دَ اسمان برېښنا وه نه مي بېژندله
نوره دنیا نشته چه څه وه را څخه خلقه!    وار په وار مې واړه په دلبرُو وَښندله
ناز که کرشمې دي که غمزې فتنې جلوې دئ    اوس مي په دا کار کښ سَرَه درست وپسندله
ګل چه شګفته شِي عندلیب باندي نارې کا    نشته یَوَه کښلې چه پرې وبولم[2] بدله
یاد مې هغه وخت دئ چه په شپه به سَرَه ناست وُو    شمعي به ژړا کړه، صراحي به خندېدله
اور چه په ځان بل کړي پخپل ځان باندې لګېږي    اوس مې دا خبره په زړه ښه وَلګېدله
تل ګونه وَهلې، هر زمان ساړه آهونه    ما چه عاشقي کړه خود په ما به دا کېدله
سرې لمبې ئې بلې دَ خوشحال ختك په زړه کړې
سرې ختي اَغُوستي په دا لاري تېرېدله

ستا په سترګو کښ فتنې کاندې خوابونه    تورې زلفې دي هم ډېر لَرې تابونه
که ته زر حجا به ونیسې په مخ کښ    را ښکاره وِي ستا جمال تر حجابونه
دَ جنت حوري که وَګوري ستا مخ ته    نور به واچوَي له شرمه نقابونه
که شعلې دِ را ښکاره شِي له جماله    لور په لور به سر څرګند کا آفتانونه
زه چه ستا دَ بېلتانه په لمبو وَسوم    نور مې څه دِی دَ دوږخ په عذابونه
ستا دَ خیال مېلمه مي ناست دَئ په کوګل کښ    تل مي خورې دَ زړه دَ غوښو کبابونه
تا وې ما وَتا ته ډېر ځله خوله درکړه    دَ یارئ په کار کښ هم شي حسابونه
زه وَ تا ته دعا کړم ته ښکنځل کړې    هم لتا ښائیِ دا هسِي ځوابونه
ته چه حال دَ خپل عاشق غواړې په شرح
بویه دا چه خوشحال وکښې کتابونه

ستا دَ راغلو منت ډېر لَرم نسیمه    چه ګلوُنه غوړوې ځما په سیمه
و صبا وَته ئې هیڅ بېځایه نه دئ    چه خبر شوم دَ ګلُونوله تسلیمه
دَ بلبلوُ بې خودي بې ځایه نده    چه مستېږی دَ ګلونُو له شمیمه
بیم دَ هجر دَ چا سَرَه جار وَزي    هیڅ عاشق به خالي نه وِئ له دې بیمه
ګل بلبل سَرَه ښه وصل لَري دریغه    که دا چارَ همېشه وئ مستقیمه
که وصل دَ خپل یار که هجران وئ    سرښته دَ عاشقی دَه دا قدیمه
دَ بهار په وخت چه کښت دَ ګلزار نکا    هغه څوک به اندېښنه لَرَي سقیمه

---

[1] په چاپي نسخه کښ څو لیکلي دي، په بله نسخه کښ پځو دي چه معني ئې حل طلبه ده.

[2] ولولم.

Downloaded from: ketabton.com



په بلبلوُ د گل بوي لکه وصال دئ    که ئې رنگ په سترګو ويني نديمه
هر ورق ئې معرفت دَ ګردګار دَئ    و هر ګل وته کاته وَکړه حکيمه
کله هر لوري ته ګل دَ بهار ګورې    کله نه وينې يو ګل پخپله سيمه
يَو مي يار دوهم ګلزار ساز و ساقي شته    نن مي کومه انديښنه له غين و ميمه[1]
دَ ګلزار په اشتياق دَئ په خزان کښ
په خوشحال باندي کرم وکړه کريمه

سترګی دِ مستان دِي ځما زړه ښيښه مهينه    پړوکی پړوکی مه شه چه ئې کنج په کنج وهېنه
سپېڼ سبا دِ ګوره دَ ټېکي په شفق بند کړ    جګي جګي رايي واخله له جبينه
کنبلي دي که ګورې چه مخ پټ کله څرګند کا    ګل دَ بهار ندِي را زېږي له زمينه
واړه به سبب دَ بد اصلانُو دَ هنر وِئ    هر آفت چه ګورې چه را پاڅِي له کمينه
مست په بهار راغلې په سرود دِ ګوتي کښېښوې    څو به لا وبا سې ډېر دِ وياسته له دينه
چرته لوئېدلې نوم دِ خپور په جهان نه وُ    غوغا وشوه په ښهر چه ئې کوزه کړې له زينه
تل جام دَئ د شرابُو ستا په لاس توبه په شونډو    دَ خلقو لړمون شين دَي که پوهېږې ستا له شينه[2]
حيات لايزال به دِ حاصل شي که باور کړې    دَ زړه ليدوني[3] دواړه که روشن کړې له ياسينه
دَ عشق[4] دَ محبت دَ ناوي مهر ماسوا دَئ    اول ئې درته وايم چه ئې ورکړې له کابېنه
هر څو ئې که پټه، په ټټر کښ وِي ساتلې    څه بده بلا ده نه پُټېږی دَ زړه مينه
کله منت اخلِي دَ يوې ګېډِي دَپاره    هر چه همت ناک دِي که په کور لړِی جوينه
زانِي بتي ګوره چه په هر لوري غوغا کا    هيڅ درنه پوهېږم چه په چوته يې شاهينه
هر چه دانايان دي په امان امان تېرېږي    هي توبه له دوره الامان له دې آئينه
نوم به دِ هر ګز په ژبه وانخلي په عمر:
دا يارِي دوستي چه ستا خوشحال ته شوه مبينه

سپېنه ږيره دَ مردانو کد خدايي دَه    دَ غاښونو پريوتَنه رسوايي ده
دَ سرِی چه غاښ په ځاي وِئ ږېره سپينه    پدا هيڅ زوړوالي ندئ برنايی ده
دَ خضاب ځواني دَ چا ده دَ احمق ده    تر دا کله ږېره ښه په ښه نايي ده
زوړ سړی دِ دَ زوړوالي اندوه نکا    که په ځاي ئې دَ چشمانو بينايي ده
زاړه مرد لَره ليده دَ دلبر څه دئ    په معنی دَ خوږو زړونو موميايي ده
شيخ به کله عاشقي له لاسه پرېښوه    لاس و دست ئې نه رسېږي پارسايي ده
که خوشحال له عمر ولاړ تر اَويا تېر شو    لا په زړه کښ ئې دَ کښليو آشنايي ده
توری ږيرِی سره وصله ناداني ده    سپينی ږېري سره وصله دانائي ده
شيخ به ولي نندارہ دَ کښليو نکا    چه دَ ده دَ زړه دَ خوږو موميائې دَه

---

[1] غين و ميم يعني غم.

[2] محشی ورته کښلی دی يعنی ستا له شين خاله.

[3] يعنی د زړه سترګی.

[4] د زړه د محبت.

Downloaded from: ketabton.com



زوږ خوشحال چه دَ دلبرو دیدن غواړي
دَ دلبرو په وصال کښ روڼائي[۱] ده

سر دَ سره بیا جنون را باندي زور شه — یا دَ میني لېونَی شوم خوي مي نور شه
که هر څو پندار کَوي پروا پرې نکړم — دا هنر مي و عالم وَته پېغور شه
دَ ساقی دَ میو هسي شان اثر دئ — په خمار کښ مي دستار له سره خپور شه
حریفانو په هاي هاي باندي ناري کړې — چه ساقي دَ میو داد کړ جام نسکور شه
هو دا کار دَ ازمیښت ندئ نور څه دئ — چه څما بلا څما دَ سترګو تور شه
که ګداي له لوږي مرئ علاج ئې نشته — چه د دور د خواجه روزګار په پور شه
په خاطر باندیي مي ډېر داغونه جوړ وه — ولي ستا له لاسه داغ باندي انګور شه
خوب خندا دِ له خاطره فراموش کا — دَ هغو چه دَ ویشتلی په چم کور شه
هر کالی چه د رضا پکښي مونده شِي
دَ خوشحال خاطر مي ښهر دَ لاهور شه

ښایسته نه دئ بلا دئ آشنایی ئې دَه له غمه[۲] — آشنایی ئې دَه له غمه زه ناريږ وهم عالمه
زه ناريږ وهم عالمه، عشق یَو یم دَئ په موجونه — عشق یَو یم دئ په موجونه. الحذر له هسي یمه
الحذر له هسي یمه، چه عالم پکښي فنا دي — چه عالم پکښي فنا دئ، دا دریاب روغ دَی له دمه
دا دریاب روغ دَئ له دمه چه ساحل ئې لیده نشي — چه ساحل ئې لیده نشِي ډېر غرقاب دئ تر قلزمه
ډېر غرقاب دئ تر قلزمه، نه زیارتېږی نه کمېږي — نه زیاتېږي نه کمېږي، تر ابده تر قدمه
تر ابده تر قدمه، چه شنا کا پدا یم کښ — چه شنا کا پدا یم کښ، چه دعواي لَرَی محکمه
چه دعواي لَرَي محکمه، هغه دُر وریېسې غواړي — هغه دُر وریېسې غواړي، چه بهار لَرِي اعظمه
چه بها لَرِي اعظمه، هغه دُر ئې ښه جمال دي — هغه دُر ئې ښه جمال دي، چه خوبی ده باندِي تمه
چه خوبی ده باندي تمه، په جمال ئې زلفي مار دي — په جمال ئې زلفي مار دي، خبر دار ئې یم له سمه
خبر دار ئې یم له سمه، په څو قسم تور ماران دي — په څو قسم تورماران دي، څوک دَدم دِي څوک بې دمه
څوک دَ دم دي څوک بې دمه، هغه مار خوشحال خوړلي
هغه مار خوشحال خوړلي، چه ژوندی دَئ تر دې دمه

ښڅه بویه هوسناکه، خنده رویه، مهرجنه — پاکیزه په زیست روزګار کښ په ښه بوي باندي مینه
دَ صحبت په رموز پوهه، زړه ئې خلاص له مکره دروهه — کم خوراکه خوش پوشاکه، همیشه ناسته دننه
په وصال دَ یار خوشحاله، یار ئې خوښ له قیل و قاله — چه له یاره نه جدا شِي، هم غمجنه هم خیرنه
له نېکانو همنشینه له بدانو په زړه خوړینه — له موروالي ئې توبه کا که ئې مور وِئ دروغجنه
دَ مېلمه پکار حاضره، په پخوالی بهادره — حق دَ چاري په څاي راوړي، په رنځور باندِي پوښتنه
پاکیزه ئې د کور صحن، نه په غولي کښ نور لحن — پر ستاري ترې خوشنودي، ښه دَ هر چا په ساتنه[۳]

---

[۱] برنایی.

[۲] په دې بدله کښ صنعت د ردالعجز علی الصدر مراعات سوي دئ.

[۳] ستَنَه.

Downloaded from: ketabton.com



که دا هسي څوک پیدا شي دَ خوشحال په لاسو راشیي
هیڅ تقصیر به ئې ونکا دَ یارۍِ په پالَنه

قربان دي تر نامه شم محمدَ (ص) پیغمبره — اول ثنا دَ خداي ښایي بیا ستا ثنا ده غورَه
ادم که دِ پدر دَئَ په معني کښ ستا پسر دئَ — تر واړُو مرسلانوُ مقدمَ مؤخره
دَ نوح نجات له تا وُ دَ طوفان له امواجونو — گلزار په خلیل اور شو ستا له رویه اې سروره
چه خلاص شو له کشتنه اسمعیل مَړي قربان کړ[1] — چاړه دَ ده له حلقه ستا اروا کره لَره بره
موسی په کوهِ طور دَ تجلي طاقت را نه وړ — تا ولیده دَ سر په سترگوُ خپل مولا بهتره
موسی ته څرگند نه وُ عِسی ته ښکاره نشو — په قاب او په قوسین په هغه اسرار خبره
ستا صفت به خوشحال څو کاندِي په ژبه
انه وانت المولا و افضل تره

نجومي چه قدم نږدي بې نجومه — موت و فوت و ناکامي مومي له کومه
چه گړي گړي دَ ورځو شپو تېرېږي — یکښي راشِي په چا ښکه په چا شومه
ځان به خلاص نکا دَ بد ساعت له شره — نجومي ئې که خبر دَئَ له علومه
ښېك و بد ئې په قبضه کښ دَ قضا دئَ — بېهوده خبري مه پېمه ور درومه
مقدر به په هیڅ رنگ مبدل نشي — هر سړی لَرَه ورځي بخره مقسومه
که په پوهه افلاطون دَ زمانې شِي — دقیقه به دَ قدر نکړي مفهومه
گډُي[1] چرگ تر زمکه لاندې اُوبه ویني — ولی نه وینی په زمکه باندِی لومه
په تمځری نن دَ گانده حال معلوم دئَ — ولي بند شِي دَ هلکوُ په کړکومه[2]
ورځ و شپې سَرَه همه ندي یکساني — نن یوه ده کانده بله شي معلومه
وَ سړي ته وار په وار هغه رسېږي — چه دَ ده په پېشاني باندِي مرقومه
په خوشحال یوه هغه دَه بله دا شوه
بیا به گوره په قسمت پېښه شي کومه؟

که اغزي وي ستا له لاسه — تر گلونو دي دَ پاسه
د زړگوتي سر مي ته یې — که یاران لَرَم بې قیاسه
چه به بل تر تا را تېر کړم — دا ویي دَ زړه و باسه
که دَ نورُو سَرَه خاندم — جهان نه دَي بې لباسه
له ماڼیه به دِ ومرم — څه خو مخ را وجار باسه
که څوک تا غندي ښکارېږي — څربښت ښِل دَي تر اماسه
تر هغه به نادان څوک وي — چه خرښه گڼي تر آسه
دَ اغیارُو سَرَه خانده
په خوشحال تندر پرېباسه

---

[1] ملا چرگ.

[2] یو راز دام دی.

Downloaded from: ketabton.com



که په هند کښ نشته سپینه  هوسی سترگه مه جبینه
خدایه ته وَ ماته راکړې  يَوَه سبزه نمکینه
به دوو زلفو عنبر پاشه  په دوو شونډو شکرینه
چه هر ځاي وَته ئې گورم  ښایسته کښلې مهینه
هوسناکه ښېوه گره  شوخه شنگه زړه سنگینه[۱]
دَ یارى په علم پوهه  سخندانه نکته چینه
ورځ و شپه کا ځني چاري
په خوشحال دَ کُښلي مینه

که هیڅ نه وائ چه ویل راشي له یاره  ټول دَ یار مهر په لاس راکړه ریباره
سره لاله په هغه محَکه شگفته شِي  چه خولې دِ باندِي اوري[۱] له رخسارهَ
دَ غمزې په تیغ مِي وژني زه دعا کړم  چه ځما په خون ئې مه نیسې دا دارهَ
چا وې خپل نتلي کښ چه ئې په یاد وِي  بخته وخت دَي چه ئې ونه وزم له شمارهَ
یوه شنه پاڼې خپل بخت په لاس را نکړه  خلق څو گلوُنه وړِي له دِې گلزارَه
په آرزو آرزو کښ هسي لېونی شِي  چه خبر شوم دَ عاشق سړي له کارَه
که ئی درست په سیند کښ ډوب کړې هم به سېځي  چه شېځل ئې په نصیب شوله روزگارهَ
په وژو دَ عاشقانوُ هسي ځغلِي  نیم بسمل ئې په حُاى پرېښوم له تلوارهَ
چه ئې ستا په کوي کښ ځاي ونیو نور موړ شوُ
د خوشحال خاطر له باغه له بهارَه

که گذر په خیر آب آباد وَکړې نسیمه  یا دي گشت وشي دَ سراي دَ سیند په سیمه
په وار وار سلام ځما ورته عرضه کړه  ور سَرَه ځما دَ لوریه څو تسلیمه
اباسیند وته ناره وَکړه په زوره  وَ لنډی ته وینا وَوایه حلیمه
کندي وي چه بیا مي ستاسِي جام نصیب شي  په گنگا جمنا به نه وُ له قدیمه
که دَ هند له هوا زار کړم څو به زار کړم  دَ اُوبو بلا ئې لابده عظیمه
که دَ نهر اَوبه څښې گلمې پرې باسي  هم دَ هر کوهی اوبه ندي بې بیمه
چه سړې اوبه دَ غره نشته په هند کښ  ترى توبه که واړه ډک دَي له نعیمه
تل به هیڅوک ناامید په جهان نه وِئ  په کریابو کرم کېږِي له کریمه
دَ ویشتلي وَ صحت ته امید وشي  دَ پرهار ئې چه کمي وشِي له ریمه
خدایه زړه مي په وصال دَ هغو خوښ کړه  دا چه اوس ورحئي لېري دَي دوه نیمه
عاقلان به هیڅ انکار ور باندي نکا  هر افعال چه صادر کېږِي له حکیمه
همیشه به په هند نه اوسې خوشحاله
عاقبت به عاصي ووزي له جحیمه

که مردي دي په دستار ده په منډوسه  سکه مردي دي مبارک برېتونه پوسه

---

[۱] دلنشینه.

Downloaded from: ketabton.com



کشکی زه دَ نا مردانُو په شمار وَي      چه فارغ وَي له ارمانه له افسوسه
د لوهړِ گلونه ښه دِي تر نلگوس      ولي بيا چېري لوهړ چېرِي نلگوسه
چه ظاهر باطن ئې دواړه حبطه وئ      منافق سړی بتر گڼَه تر کوسه
په دروغ په نا راستی کښ ډېر غم دئ      دَ رشتيا روزکار کوه بې غمه اوسه
چه به هر کله جفا کړې وفا هم کړه      دَ اغزيو سَرَه گل لَرِي پلوسه[1]
په جهان کښ بد خويي واړه دوږخ دَه
د خوشحال له دله خوي دَ بدو يوسه

ستا له خويه نه مِي خوړينه دَه اينه      ځَکه هسي وهم کاڼِي په سينه
که دِ زړه دَئ چه مي مينه در ښکاره شي      راشه وَنيسه وَ مخ ته آينه
چه دِ زه دَ وَر ملنگ شوم خز به څه کړم      راته توره شړئ بس دَه پشيمينه
کله کله راته گوره ستا نوکر يم      راته بس ده هم دا هونبره مهينه
خزينه دَ سرو مهرانو دَ شاهانو      ستا دَ راز لَرم په زړه کښ خزينه
وايې ته کله په مخ ځما مېنَ شوې      ستا په مخ باندِي مين يم ديرينه
چه ځما سَرَه ئې ستا دَپاره کاندِي      خوښ يم ستا دَ رقيبانو په کينه
ماتېدل ئې هيڅ دشوار ندئ که گورې      چه وَ کاڼِی ته بېژدې شی آبگينه
دَ بادشاه په تخت و تاج پوري خندا کا      دَ درويش بوريا، ټوپیَ، پشمينه
انگوري ترخه شراب ور لَره بويه      ميخواران له گبينه لرِی گينه
ورځ هغه ښه دَه چه ته پکښې خوشحال شې
که شنبه که سه شنبه که آدينه

ښه ښه بخ بخ دلداره      وفا جويه غمگساره
چه کنم چه چاره سازم      چه دِ زړه[1] کړم را کناره
به که گويم از فراقت      چه مِی زړه شو پاره پاره
نکند بدل سرايت      که زاري کومَ بی شماره
تو چه سنگلدل نکاري      چه مِي ستا وَکړه ننداره
به عاشق بې سروبا      ستم مکړه ستمگاره
به نگاه گاه گاهی      مهر کړه دَ خدای دَ پاره
اې نگار من حذر کن      دَ ويشتليُو له آزارهَ
نرود ز درگه تو!
که خوشحال شړې سل واره

لا منت لَرَم پدا هم له اسمانه      ننداره دَ ابا سيند له مير کلانه
په تيراه په سوات په خوړه ور په ورشوم      بيا مي کوم لوري ته ته بيايې اسمانه
لکه گوي هسي په حکم دَ چوگان يم      درست وجود پرهار پرهار يم له چوگانه
سر نوشت مي له ازله مگر دا وُ      زه به څه لَره ماڼه کوَم له چانه

---

[1] يوه د غره اغزنه ونه ده.

Downloaded from: ketabton.com



قديمي دَ پښتنو جهل خرتوب وَ اوس په طمعَ په حرص درومي له ميانه
که رشتيا وايم شير شاه دا هسي نه وُ لکه موږ يو نه پيدا له کوهستانه
پښتانه چه بې ننگي کا څوک ئې څه کا گورستان لَرَه به درومو له ارمانه
دَ ختکو دَ نفاق له ناپوهیَ يا چه غم لرَم له خپله خاندانه
چا وته وايم څو به کښم څه هونبره ندیٔ چه تمام شِي له مذکوره له بيانه
دا داغُونه چه خوشحال لَري په زړه کښ
رغېدل به ئې په تا کېږي سبحانه!

که غواړم نه يې مومم هسي تا غُندي مهوشه خنده رويه سنبل مويه گلعذاره پياله کشه
سمن بره قد عرعره مو کمره لب شکره آهو چشمه څره خشمه مهرجنه منقشه
دلنوازه سرفرازه چشم بازه عشوه سازه تيز نظره غمزه گره په دوو زلفو مشوشه
سر بلنده خود پسنده[۱] خود نمايه دلربايه د عاشق دَ ځان بلا په رنگ زيبا په خوي آتشه
طربناکه تل بيباکه گريوان چاکه تش تاپاکه[۲] زړه ئې سخت لکه آهن په مخ يوه آينه بې غشه
د زلفينو سر ئې تاو لکه نخوش د ماهي گېر شو
کله وي چه خوشحال خلاص شي له دې هسي رنگ نخوشه

که دا ستا سترگي دا وچار باسم ځان ته له ښادیَ به نور شا کړم و جهان ته
يو زمان مي که دا ستا ليدل نصيب شِي نور به سترگي پورته نه کړم گلستان ته
طبيبان دِ خپل دارو ور څخه کښېږدي تا ويشتلي مينه نه کا و درمان ته
کفرستان د شاه د تورو زلفو گوره چه په څه رنگه تاوېږي و ايمان ته
چه په ما باندي تېرېږي ستا په عشق کښ خداي دِ هسي حال پېښ نکا مسلمان ته
په جورا[۳] بورا به هم نکا وتنه عاشقان کله خالي دِي و سهمان ته
اول ښه شهپر پيدا دَ الوتو کړه بيا له پسه الواته کړه و اسمان ته
په فراق د ښو يارانو چه ډېر ژاړم دواړه سترگي مي پېغور کا و باران ته
چه پخپله افغاني ژبه نادان دَي په تورکي خبري څه وايې افغان ته
ما ئې دواړه شونډي بيا موندې په کور کښ نور دِ لعلو لره درومي بدخشان ته
هغه شونډي چه ځايي بې پاڼو سرې دِي هغه شونډي څه حاجت لري و پان ته
له خوشحاله ئې بهرام غُندي پيدا کړ
دم واهه نشي څوک څه وائي يزدان ته

ساقی بيا دَ ميو مهر کړه چه عيد شه دَ رندانو دَ ښاديو وخت جديد شه
په هر لوري يو آفتاب دَي ځلېدلي ښاپېرک ئې له جماله نه کور ديد شه
په هر څه کښ ننداره دَ هغه مخ کړم چه له ډېري پيدايیِ ناپديد شه

---

[۱] هنر منده شکر خنده.

[۲] تپاکه.

[۳] دا بيت عيباً وليکل سو، په ټولو نسخو کي دغسي دي، اما معني ئې نسوه راته ښکاره.

Downloaded from: ketabton.com



هم هغه دي همېشه ژوندُون موندلي　　چه دَ مستي دَ غمزې په تېغ شهيد شه
زمانه په خلقو هسي ازمېښت کا　　چه يوسف دَ قبطيانو زر خريد شه
واړه نخښی ئې په زړه وينم حضوري　　که اشنا په ليري حد له ما بعيد شه
هر چه ستا دَور دَ سپيو په حساب وئ　　په جهان کښ هم هغه سړی سعيد شه
خط و خال په ښه جمال باندي يو دود دئ　　نه چه حسن دَ خوبا پدا مزيد شه
چه دِ نوم دَ خوار خوشحال په ژبه واخيست
په درست عمر کښ خو نن ورباندي عيد شه

سپين نمری[1] اغوستي په ښو سرې کوښې نو خطه[2]　　څه رنګه را درومي لکه تکه سپينه بطه
سل دئ سره کښېږني واړه يَو تر بل بهتري　　خداي ړوکه به زه کوم تا په واړو کښ غلطه
بخت غُندِي نا ګاهه څما خوار کړه سيده شو　　راغله دِ په قصد وُ که دا راغلې بې نمطه
وايم[3] چه که واړه زاري زه راوړم خپل کور ته　　څوک چه چا ته زار کا دَ دلبرُو له سخطه
راشه سر مي پرې کړه لا به ښه شم په وفا کښ　　خود په دا پوهېږې قلم لا ښه شِي له قطه
ډېر په درياب کې شي واړه مې کا دَ وتلو　　څوک پکښې لاهو شِي څني وريشي تر شطه
لوړي لنډي نورو ده خوشحال ده غوره کړې
نه لوړه نه لنډه په قد ښه روغه وسطه

سترګي ستا غړَوِي زړه　　سترګي ستا پټوِي زړه
چه دا خوله خوځوِي دَی دَئ　　ژبه ستا ويَوِي زړه
چه څه کار په لاسو پېښې کړې　　دا هم ستا ښورَوي زړه
اوريده په دواړو غوږو　　هم پتا آروَوِي زړه
چه نېکي کړې يا بدي کړې　　واړه تا سندوي زړه
چه خندا کړې يا ژړا کړې　　خندَوِي ژړوِي زړه
دواړه کَونه لکه تن دي　　کار دَ تن جوړَوِي زړه
زړه بې چون و بېچګون دئ　　څوک دا غوښه کڼی زړه
دَ خوشحال په زړه کښ يو دَئ
څوک ئې څه لټَوِي زړه

ستا له خاله مي يو داغ دَئ په سينه　　چه همېش را سَرَه يار دَئ ديرينه
تا چه واغوښتې دَ خيال جامې رنګيني　　بله ستا په ډَول نشته رنګينه
يو ګلزار پکښې ناګاهه شګفته شي　　چه په مخ دِ مخامخ شِي آئينه

[1] يعنی کالي او لباس.

[2] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

[3] وايمه چه واړه زاري ما راوړي خپل کورته.

Downloaded from: ketabton.com



بې پدا چه ښایسته وُو وته ګوري    په بل څيز مي له چا نه کېږي کينه
ساقي نن له لاسه څه خو باده پرېږده    چه په سر کښ مي خمار دَئ دوشينه
دَ بادشاه دَ سره تاج ئې مخی ندی    دَ درېوش دَ سر ټوپی پشمينه
زه په عشق کښ مستثنا لکه مجنون يم    چه مي نشته په دېر قرن قرينه
دا څه راز د ميني ندئ په کوګل کښ    دا مي ينبې دَه په زړه کښ ګنجينه
مَی خوریَ لَره شنبه خوښَوِي خلق
وَ خوشحال ته څه شنبه څه آدينه

سا په غم کښ مي آرام له زړه بيرون شه    دَ غرڅه غُندي مي خوب په ځګر خون شه
همېشه په غاړي غرُونه سرګردان يم    پدا دور مي درست دِوَل دَ مجنون شه
عاشقي سرِی رسوا کا هاله وَمري    ښه هغه چه مړ په تبه په طاعون شه
ګوره څو عالم به لاندِي کا تر چلو[1]    چه روان مي تر دا دوو سترګو جيحون شه
هډيره ئې دَ شهيد په څنګ کښ بويه    هر سرِی چه مړ په توره دَ بيلتون شه
په ګلونو به ئې ږغ کاندِي بلبلي    دا ګلزار چه په بياض ځما زرغون شه
چه درست کال ئې بيا بيا وايم لا يو راز دئ    دا يو راز تر دفترونو نه افزون نشه
په زر ژبه ئې ستايه واړه يو راز دئ    عبارت که مختلف شه يو مضمون شه
عشق خوشحال وته يو هسِي سبق ورکړ:
چه ئې زړه د قال و قيل له درسه ستون شه

شپه دَ بېلتانه ده پهر پهر کال پما شه    بانګ دَی دَ چرکانو په هزار هيله سبا شه
رايشي ګلزار ته وار په وار ننداره کاندي    وار په وار پرې تېر شي اوس که ګورې وار ځما شه
پېغام راوړي دَ وصل عجب ښه راځِي په مهر    هد هد دَ يار له لوريه نن پما باد صبا شه
په وخت دَ مشغولا دَ ګلو کله آواز کاندي    چه درومي له ګلزاره په چيغار چيغار طوطا شه
په درست عمر ئې مهر د سکوت په خوله وهلي    ځما دَ زړه طوطي دَئ چه نن ګورمه ګويا شه
رنګ چه باندِي پرېوزي آئينه دَ زړه تبی شي
زړه دَ خوشحال ګوره له هر زنګه مصفا شه

شيرازي که ښه خوراک وُ واروه تېر شه    ملوکي که ښه پوښاک وُ واوره تېر شه
که خپلوي دَ زن فرزند وه حال ئې دا دئ    که له خلقه زېست و ژواک وُ واوره تېر شه
که منصب وُ که خالي که سرداري وه    که په لاس ملك و املاک وُ واوره تېر شه
فرش فروش نقش و نګار دَ محلونو    که بستر مي عطرناک وُ واوره تېر شه
چه له ښکاره به په خيال راتلم وَ کور ته    سور به تل ځما فتراک وُ واوره تېر شه
خپل پردي نېکان بدان له هره لوريه    په دربار مي په بلغاک وُ واوره تېر شه
تار په تار دَ اکوړ خېلو کړی ولاړې    پدا ږغ مي ځان هلاک وُ واوره تېر شه
اوس ئې روخ دَ ملنګیَ دَ دوهې دَئ
دَ خوشحال چه سراي او تاک وُ واوره تېر شه

---

[1] تر څلو.

Downloaded from: ketabton.com



شل کارُونه پرېږده نندارهٔ ئې دَ جمال کړه — دواړه کسي واخله په سپين مخ باندي ئې خال کړه
کښېنه په انګڼ کښ مخامخ چه ورته ګورم — تور لونګين د واړه چنډڼ هار په سينه تال کړه
راغلې و بازار ته درست وجود کړه لکه کسي — ګوره که ړوند نه ئې نندارهٔ ئې دَ کمال کړه
تله دِي تېرېده دئ ښه له هر چا سرَه ښه دي — ونه دَ نېکی په دا باغ کښ نو نهال کړه
واړه ورکَول دَ جهان ګوره عاريت دئ — غم دَ بېلتانه ځما زړګيه په وصال کړه
بې دَ يار له ميني چه به کور دَ دنيا جوړ کا — واروه درته وايم خداي ئې ميني په زوال کړه
ته هغه رستم يې چه شاهان دِ طلبګار دي — چا درته تلقين کړ چه خدمت دَ پيرزال کړه
الف دِ دَي سريښي ستا په ميم چه درته ګوري — په دواړه لوريه زړه وړي په مخ دواړه زلفي دال کړه
نور خلق پخښو دي چه پرې بار نشته دَ ميني
بار لَري دَ ميني ناز و نياز په خوار خوشحال کړه

عيب جوي سرَه مي هونبره دَه کينه — و به نه نيسم وَ مخ ته آئينه
خداي دِ ما ببېغمه نکا په دنيا کښ — زه او غم سرَه ياران يو ديرينه
ساقي ځو خمار شکنی پيالې راکړه — چه په سر کښ مي خمار دَئ دوشينه
دا يم زه ورپسې سر يم که ئې مومم — په دوران کښ مونده نشي خزينه
نن ئې مکړه تفحص وايه چه نن دَئ — که ئې بيا مومې په قرن قرينه
لاله ځايه چه خوشحال په جهان راغي
دَ لاله غُندي ئې داغ دَئ په سينه

فراق څه رنګ را اُوړده کړه پما نن شپه — دَ جوزا شپه ئې ېلدا شي په غمجن شپه
په فراق کښ مي په سترګو خوب حرام شه — په هيچا باندي ورمشه دَ لېچن شپه
چه رېبار ورته پيغام دَ وصال راوړي — په هوس هوس تېرېږي په مَيَن شپه
دَ فراق په شپه اميد دَ وصال څه دَئ — که ئې ګورې په معني کښ ورکه ستن شپه
دَ دوهې ملنګ هم تېره کړه دوهې ته — که تېرېږی په تونګرو په برستن شپه
روغ عالم بې غمه خوب کا خبر ندئ — چه په څه غذاب تېرېږي په دردمن شپه
وَ وصال وته هجران دَئ ورنيولَي — ښخه شوې وه دَ ورځَي په لمن شپه
ورځ ئې ما ليدلې نه ده په درست عمر — خداي به نکا سپين سبا دَ دروغجن شپه
دا نن شپه چه په خوشاحل دَ فراق راغله
ور دِ نشِي هسِي سخته په دښمن شپه

که مي يَو ځله رسد وشي تر سيندهَ — نور دِ مه وينم په تورو سترګو هندهَ
نه به سترګي د سری په چا خوږې شِي — نه ئې ما ته په اوبو شِي دَ جا تندهَ
دَ پېپلو پاني خوره په غره کي اوسه — نه چه پان د هندوستان خورې ځما جندهَ[1]
په هغه بازار به څو سود و سودا کړې — چه کارګه پکښ قدري دَي تر شهندهَ
اې وروستيَ عقله دريغه که پخوا وَي — ما به ولي پخپل ځان کړه هونبره شندهَ

---

[1] يعني ځما ګله.

Downloaded from: ketabton.com



هر چه وشول هغه واړه در بخښلي
اوس خوشحاله په لاس مه نیسه ناپسندهَ

که عالم وته دلخواهه[۱] بادشاهي شوه — عاشقي وَ ما ته لا عالي جاهي شوه
دَ تقوا په کار و بار ډېر خبردار یم — ولي څه کړم چه نصیب مي گمراهي شوه
شاهدانو ته دَ خضر عمر غواړم — حیف دا دَئ چه دَ عمر کوتاهي شوه
چه له ځایه ئې گناه لَره پیدا کړم — که نظر وکړې ځما بېگناهي شوه
یار مي ولیده له ورایه شکر دا دئ — چه قبوله مي دعا سحرگاهي شوه
لکه ستا کسي په خوارُو برابر شي — دَ طالع تر روڼا ښه دا سیاهي شوه
زه دَ یار په جفا هیڅ اَهُونه نکړم — راته غم دَ رقیبانو بد خواهي شوه
ستا دَ سرو شونډُو په دَور مي حلال شول — ښه چه اوس روا دَ میو مناهي شوه
سربازي یا دَ پتنگ یا دَ عاشق ده — یا قسمت دَ مجاهد یا دَ سپاهي شوه
بخته دا ځله ئې راوله تر غاړِي — چه ببړئ مي پدریاب کښ تباهي شوه

که خبر له حاله نه وَئ څه به ښه وُ
و خوشحال ته غم دا خپله آکاهي شوه

که په زړه کښی دِ د یار مینه ځایی ده — سکه ناحقه دِ له غېرو آشنایي ده
مخ ئې کله دَ یوسف غُندي زیبا دئ — دَ یوسف تر مخ ئې زیاته زېبایي ده
چه ئې رائ دَ خپل خاطر وِي هم هغه کا — په دلبرو مسلمه خود رایي ده
که دِ زړه وي چه دا خوږ خاطر مي روغ کړي — دَ لبانُو مچه راکړه مومیایي ده
زه او ستا دَ دوارُو شونډو مَي هغو زده — چه ئې نن په لاس نیولې پارسایي ده
دَ معشوقي په ترخه کښ ډېر خواږه دِئ — چه ئې گورې نېکنامی ئې رسوایي ده
چه په خلقو کښ دوږخ دوږخ یادېږی — بل دوږخ په جهان نشته جدایي ده
په پېغور په تور په زور به ځني نه ځي — دَ هر چا چه خپله بخره شیدایي ده

دَ افسون دَ سحر کار دا هسي نه وِئ
دَ خوشحال په زړه کښ دا مینه ځایي ده

که یو ځله مخ ښکاره کا له نقابَه — د ښایست نامه به واخلي له آفتابَه
لاله گل به ئې له مخه خوبي پور کا — په زلفینو به سنبل کاندِي بې تابَه
خلق څه لَرَه تهمت په زمانه ږدي — په[۲] چشمانو ئې دنیا کړله خرابَه
د خمار په علامت ئې سترگي سرې دي — که چا بې وخته بیداره کړله له خوابَه
د خاطر ویني ئې نوش په ځاي د مېو — بیا ئې نقل هم د زړونو له کبابَه
خاصه مرگ د معشوقې د مقتولانو — چه جنت لره به درومي بې حسابَه
ځما زړه قبله نما شو نه جار وزي — و بل لور ته ستا د ورځیو له محرابَه

په وعده ئې زړه خوشحال مکړه خوشحاله

---

[۱] بهتره.

[۲] چه.

Downloaded from: ketabton.com



د وفا طمع څوک نکا له حبابَه

که دیدن شوَي بې نصیبه   ما به ولیدې حبیبه
په پرهار مي اور بلېږي   دارو مه سېځه طبیبه
زه د یار یم یار ځما دي   تر منځ څه غواړې رقیبه
لېونی به لېونتوب کا   بې پروا دِي له ادیبه
و عاشق وته ناصحه   څه ویَل کړې بې تقریبه
تر فرهادَ تر مجنونه
په خوشحال پېښه عجیبه

که ناګاهه را ښکاره شِي هغه خوبه   زړه به یوسِي له عاقله له مجذوبه
رقیبان به سر نګون له غمه پرېوزي   که په راې کښ د خپل ډېر درومي محبوبه
هر زمان په نوی نوی غم اخته شوم   چه تل تل نوې شېوه کا دل آشوبه
د یوسف د مېني لاف واړه عالم کا   ولي بل پسې ړوند نشو بې یعقوبه
که لا څه درته د سر و مال وجود وي   په دا فکر به ور نشې تر مطلوبه
ته ئې تل په سر دعا کوه خوشحاله
که دِ نوم په ژبه نه اخلي محبوبه

که نیولې زرکه باز پرېږدي له چنګه[1]   زه هم له لاسه پرېږدم شوخ و شنګه
ور په ور کلي په کلي پسې ګرزه   دروېزه که دَ دیدن مومې ملنګه
ګل که هر څو ښایسته دَئ پدا باغ کښ   که ئې وینې بیا اغزي لَړي له څنګه
چه دِ توان رسي په لوي دریاب کښ ګرزه   په ببله کښ دي زوال وینم نهنګه
عاقبت به ککرئ ورباندِي کښېږدې   تر څراغ چه کېنې وښَي ګرزې پتنګه!
پند ګویان چه عاشقانُو ته پند وائيِ   دَ هوښیار په پوهه سر وَهِي له سنګه
تر سهار مِې د یاره سَرَه ناز وُ   درسته شپه راته کوتاهه شوه تر درنګه
هغه یار که په پالنګ را سَرَه نشته   دا هم شکر چه ئې بوي ځَي له پالنګه
چه ئې زړه دَ معشوقې په مینه مست شي   دَ هغه سړیُو څه له نام و ننګه؟
لېونی به لېونی نه وُ عالمه   که ئې بخره وَئ له عقل و له فرهنګه
که لیلې و نور عالم ته کښلې نه وه   پدا څه، چه وَ مجنون ته وه خو شرنګه
دَ عمزې په تېغ ئې خوړ ښه یې خوشحاله!
مَرَنَي په روغ صورت نه ځَي له جنګه!

مرد هغه چه زړه ئې ویښ سترګي په خوبه[2]   پخپل سپي[2] ئی ګمان شي د لېونتوبهَ
درویشان دي دعا کا زه ئی په ځان کړم   که د زړه نه مي روان شي دا زهوبه

---

[1] دا بدله په چاپي نسخو کښ نده راغلې.

[2] دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



په مخ ډېره ښایسته ئې نوم دي څه دئ    د عاشق د ځان بلا فتنه آشوبَه
که په توره ئې ځواب ورکړی مردي ده    که وجود دي څوک آزار کاندي په چوبَه
په هغه لاري چه پل ږدې هسي وایم    که بانو کړم د هغې لاري جاروبَه
که هر دم ورته ژړا کړم فایده نشته    سنګین زړه به ئې په چا نشي نروبَه
د دنیا سختی تل نه وي غم مکړه    په حلوا ګندي بدل شي دا اتوبَه[1]
که په تور د عاشقی بندیخناه شي    د عاشق له دله نه ځي تلا توبَه[2]
که مي لاس وربانديي بر شې هېر مې ندي    ډېر سرونه به چت پت کړم په میخ چوبَه

ستا په تش دیدن مي هسي زړه خوشحاله شي
لکه تږی په اوبه شي ښه خروبَه

که رشتیني محبت لرې مه ناړه    په یوه ناره ښېل شوي یار وژاړه
دَ رسا ویشتلی کله توان دَ ږغ وئ    په فراق کښ نارې مه وهه له باړه[3]
په معني کښ جدائي نشته وصال دئ    دَ آشنا په غم کښ خوښ اوسه تل ویاړه
په هجران کښ هغه هسي شان وصال شته    لکه څوک له خپله یاره لاس تر غاړه
دا دیدن لکه په پټو سترګو کېږي    دا دیدن له وازو سترګو نه مه غواړه
لیلا پلار کره په سل پردو کښ ناسته    مخامخ وه وَ مجنون وته وَلاړه
پسله مرګه هم جدا نه وِئ رشتیني    په یوه لحد کښ ورشي سرَه دواړه
دَ رشتیني میني ډار د زوال مکړه[4]    چه رشتیني عشق لَري سلام په واړه

دَ یار غم دِ دَ خوشحال له دِله نه ځي
دَ فاني دنیا خوښي که لاړه لاړه

که ملیح یې دَ زړه مینه په ملیح کړه    که قبیح یې دروِمه چاری دَ قبیح کړه
دَ بهار ګلونه ډېر دِی واړه ګوره    چه دِ زړه وِئ هغه ګل پکښې ترجیح کړه
که دِ زړه دَئ چه دَ مخ ثنا ئې وایې    دَ بلبلی غُندي خپل زبان فصیح کړه
مسیحا دَ رنځ وَ هر لوري ته ډېر دِئ    دَ خپل رنځ دوا دَ وخته په مسیح کړه
له ازله ئې رند رند زاهد زاهد کړ[5]    زه به ډکی پیالې اخلم ته تسبیح کړه
په حسد په رخه څه ځما پروا دَه    چه دِ پټه کینه کړه اوس ئې صریح کړه
زه که بد یم هم دَ یار دَ سترګو تور یم    و هر چا وَته ځما دَ عیب تشریح کړه

---

[3] یعني نفس.

[1] لیټی، اړوب، ړوز، د مېده اوړو هغه لېټی چې په اوبو کښ نرمه پخه شي.

[2] جوش او خروش.

[3] یعنی دَ ګولی خراش او زخم.

[4] نشته.

[5] له ازله ئې زه رند ته ئې زاهد کړې.

Downloaded from: ketabton.com



دَ توبې دریاب ئې تا لَره پیدا کړ  دَ گناه له تور یو ځان لکه صبیح کړه[۱]

دا دَ سر په سترګو مه ګوره خوشحاله ته
که دَ زړه سترګي لرې ښه ئې صحیح کړه

که نیمګړې پیاله را کړې ساقي تا زده  همګي مدار په نیت دَئ باقی تا زده
دَ شرابو په مستي بې خوده ولاړې  که له سره نه دِ پرېوزي تاقی[۲] تا زده
دَ بابا په رضا ځه جنت به مُومې  روایت مي درته وکړ عاقي تا زده
زه دئ وخوروم په مار دَ تورو زلفو[۳]  حال مي خود وینې په سترګو راقي تا زده
دَ خوشحال غُندِي همېش په ځان ناچاق یم
ته چه تل په صورت چاق یې چاقي تا زده

که هوښیار دئ که نادان دئ که سادکه غله  هیڅوک نه وینم دَ خپلي لاري صله
یو په غم شریك یار نه وینم په ملك کښ  خلق تشي تسلې کاندِي په خوله
دَ مېړیو غُندِي یُون دَئ و دانو ته  چه و ما وته عالم کا تله راتله
چه امید دَ مېړي نه وِي وَ دانو ته  وَ هغه لورِي ته نکاندِي هیڅ تله
خپل ویشتلې غرځه مه پرېږده خوشحاله
ځاي په ځاي ئې ویني توئِي دِئ په پله

ګم ګشته او ګم ګشته سَرَه رفیق شه  ګم ګشتن دَ دواړو تنو په تحقیق شه
دَ شرابو جام په لاس شاهد بازي کا  شیخ دَ ښهر عبادت پرېښ زندیق شه
یو ئې اصل سَرَه دوه اویا مذهبه  خدایه څه بني آدم فریق فریق شه
عشق څه هسي آسان ندئ هونبره خلقه  په بلخیو کښ خو یَو سرِی شفیق شه
دَ اسمان دَ ستوریو هم و بله فرق دئ  ځکه غوره په یارانو کښ صدیق شه
چه توفیق ورسره مل شه کار آسان دئ  کل مدار دَ واړو خلقُو په توفیق شه
آزاده به له چا طمعه امید نکا  چه به طمعه له چا کا کله عقیق شه
دَ غلیم مهر په هیڅا باندِي نه وئ  یو فساد وربانديِ کاندي چه شفیق شه
وَ خپل بخت وَته تسلیم کړه چه غلیم دئ  همګي دَ غم په بحر کښ غریق شه
نور که سل پیالې آخلي دَئ دي سل ځښي
چه خوشحال دَ باده نوشو په طریق شه

ګوره دَ یار مخ ته بیا لېمه پرې ولوه  زړونه دَ بد رنګو رقیبانو ویلَوه
دا دَئ هغه مخ چه په هجران کښ پسې ته مرې  اوس ئې په وصال کښ دواړه لوریه کښلوه

---

[۱] په توریو تور یې ځان صبیح کړه.

[۲] طاقی.

[۳] زه ئې وخورم په مار.

Downloaded from: ketabton.com



لويه پښښکښي دَه په وصال کښ درته وايم ‌ ‌ ‌ دُر ئې په لَمن کښ ورته گوره تلَوَه
زه دَ بېلتانه په حال خبر نه وم خبر شوم ‌ ‌ ‌ خداي له خپله ياره نه هيڅ يار مه بېلَوه
تندر دَ رقيب په کور پرېوزی قهقه خانده ‌ ‌ ‌ سپينه آئينه دَ ششت[1] خپل يار ته ځَلوه
يو ځَله چه زړه دَ چا په مهر مينه بند کړې ‌ ‌ ‌ شرط دَ يارئ دا دَئ زړه بل ځَاي مه نښلوه
کړي دِي دَ زړونو ستا دَ مخ په لور رواني ‌ ‌ ‌ واړه ملك بوستان دَئ په هر ځَاي ئې ملَوه

درسته دِله خپلو نمريو وَ ايستم خوشحاله
يو دَ غاړي هار مي دَ گلونو مه شلوه

لکه زه يم پيدا شوَي پدا مينه ‌ ‌ ‌ دَ نور چا به هسِي نه وِئ پيدا مينه
دَ قصاب چاړه په غوښو هسي نکا ‌ ‌ ‌ لکه کا د ما په زړه دَ اشنا مينه
درست عالم را باندِي غاو کا زه حيران يم ‌ ‌ ‌ چه له زړه به په څو ليري کړم ستا مينه
په يوه تن کښ دا دواړه توکه نه وئ ‌ ‌ ‌ هم دَ حسن استغنا هم دَ چا مينه
نه به بوي دَ مښکو پټ شي په نافه کښ ‌ ‌ ‌ نه به پاتو شي مخفي دَ شيدا مينه
ما په سحر په جادو تقصير وَنکړ ‌ ‌ ‌ دَ ناترس خاطر ئې نشي په چا مينه
په ژړا مي به دوه سترگي وچي نکړې ‌ ‌ ‌ که پما شوې دَ خپل يار په ژړا مينه

لور په لور ئې په همه عالم رسوا کړ
کشکه نه وَئ دَ خوشحال دا رسوا مينه

لکه[2] ستا دَ زلفو تاب شته ‌ ‌ ‌ په سنبلو کښ هم تاب شته
لکه ستا دَ خولو بوی دَئ ‌ ‌ ‌ هسي هم په ملك گلاب شته
ستا دَ مخ ترې خال به بِه وِئ ‌ ‌ ‌ په خطا که مشك ناب شته
لکه زړه ځما ستا شوندِي ‌ ‌ ‌ نه کباب شته نه شراب شته
که و نمر ته خاته گران دِئ ‌ ‌ ‌ دَ زلفيينو ئې طناب شته
چه کاته دِ په حساب شول ‌ ‌ ‌ دَ يارئِ هم حساب شته
کښلي ډېر وه ما ته يار کړې ‌ ‌ ‌ تل دَ گلو انتخاب شته
کل پما شهد شکر دِئ ‌ ‌ ‌ که دِ قهر يا عتاب شته
مجنون مړ ندئ ژوندی دَئ ‌ ‌ ‌ چه لا ما غُندِي خراب شته
دَ هجران په شپه مرگ غواړم ‌ ‌ ‌ ځما سترگو ستاسی خواب شته
چېری نه په بل مرگ وَمرم ‌ ‌ ‌ دَ غمزو دی هم شتاب شته
چه مي وژني کوز به کورم ‌ ‌ ‌ له اشنا سترگو حجاب شته
ما خپل خون ورته پل کړَي ‌ ‌ ‌ که د ما د مرگ غذاب شته
دَ چا مَي مي په کار ندئ ‌ ‌ ‌ چه مي خپل لبِ لباب شته
دروغجن يم که دا شعر ‌ ‌ ‌ دَ ميرزا په درست کتاب شته

دا غزل چه خوشحال وَوې
نن ئې چا څخه ځَواب شته

---

[1] يو راز پسول دی، چه هنداره پکښي وی. په يوه نسخه کښ شست هم راغلی دی، چه مطلب گوتې ده.

[2] د لکه پر ځَای کله ښه ورسره لگېږی.

Downloaded from: ketabton.com



له حاله ئې خبر شه که شته شته که نشته نشته — قلاش و قلندر شه که شته شته که نشته نشته
که لَړه دَه که ډېره واړه ونیسه په تېره — په خوي دَ پیغمبر شه که شته شته که نشته نشته
دَ عمر څه اندوه کړې څه اندوه دَئ که ځان پوه کړې — ژوندَی تر گوره ورشه شه که شته شته که نشته نشته
بادشاه دَ بحرو برېې، که قانع په خشك و تر یې — دَ دهر سکندر شه که شته شته که نشته نشته
که دُر دِئ که گوهر دئ که گلوُنه که شجر دِئ — دَواړُو بې خبر شه که شته شته که نشته نشته
بې وخته غواړې بد کړې بیهوده رخه حسد کړې — به صبر تونگر شه که شته شته که نشته نشته
مه ژاړه مه پرې وياړه غم ښادي پرېږده دا واړه — واقف پدا سير شه که شته شته که نشته نشته
بلا دِئ چه ټولېږی په هیچا نه پا تو کېږي — فارغ له سیم و زر شه که شته شته که نشته نشته
له یاره مهر غواړې که ئې نه مومې نور ژاړې — دَ یار په رضا سر شه که شته شته که نشته نشته
که وصل که هجران دئ دواړه ما وته یکسان دئ — آرام پخپل مقر شه که شته شته که نشته نشته
څو سعیَ څو طلب کړې اندیښنې په روز و شب کړې — په واړه برابر شه که شته شته که نشته نشته
لږ عمر ډېر غمونه په زړه هونبره ستمُونه — قانع په خشك و تر شه که شته شته که نشته نشته

پخپل هنر نظر کړه څو ژوندَی یې خپل هنر کړه
خوشحاله شیر نر شه که شته شته که نشته نشته

لکه مخ ځما د َیار دَئ نمر خو هسي وي کنه — لکه زه په عشق کښ زیر یم زیر خو هسي وئ کنه
دَ عالم ډېري خبري لور پَلور توري لښکري — زړه مې نه خوځې له ځایه غر خو هسي وئ کنه
بې دَ عشق له شور و شره چه هر گز ځما سَره — نه ځې نور څه هر څه درومي سر خو هسي وئ کنه
چه ئې رېبم عمل لا کا چه ئې ورک کړم ځان پیدا کا — ورَځ و شپه دا هسي کر کړم کر خو هسي وئ کنه
تا وې دروهه نوم می زبر کړه بل سبق له زړه بدر کړه — تل مي ته یې په خاطر کښ زبر خو هسي وئ کنه
و هغه ته مي سر کوز دَئ چه معلوم ورته رموز دئ — په خبره نه پوهېږي خر خو هسي وئ کنه
پدا باغ کښ یَوَه ونه تل تازه تره برخنه — چه ئې اُوړَي ژمَي بر خورم بر خو هسي وئ کنه
چه آزاد مریي ور درومې خپل مراد ور ځني مومي — په هیچا ندئ ترلَي ور خو هسي وئ کنه

په یوه زمان تر یاره ورشي راشي څو گزاره
دَ خوشحال خاطر تېز پردَي پر خو هسي وِئ کنه

لا یزاله پادشاهي که چا موندله — کیخسرو به وَ خسرو ته نه سپارله
جام دَ میو را پلاس کړه ساقي گوره — په هر لوري دا ځما دَ غم کرَله
په امان امان یوه لا تېره نه وئ — په زمان زمان ښکاره کا فلك بله
ډېر په باد ولاړَل د تا غُنديِ باد وړي — ته ئې وروستو دُم کره یې ځما دله
جام و ساز ساقي بهار واړه اسباب شته — صراحي ولي خالي وینم له مُله

په جهان دَ نیکو نوم بویه خوشحاله
چه یادگار به وِئ تر تلو هم تر تله

لور ٹه لور مي په جهان گرېوان پاره شه — کور په کور مي دَ رندیه کار ښکاره شه
چه مي پټه په لستوني کښ نوشله — دَ هغې پیالې جهان په ننداره شه

Downloaded from: ketabton.com



دا څه زړه ندئ چه اوس مهر پما کا    راته نرم هغه سخت سنګ خاره شه
چه دَ عمر څه مایه تر واړُو تېر شوم    دَ خوښۍ ملك ځما په اجاره شه
اوس به کوم ارمان کوم سوبه مي وشوه    چه رقیب دَ یار له وره آواره شه
دَ هغه قدر لرم ترې به ځارېږم    چه په غم کښ چاره جوي دَ بېچاره شه
اوده بخت وته مي دېري نارې وکړې    وېښ له خوبه په وروستی نري ناره شه
جدائي ورځني مرګ دَئ سړَی وَ مري    دَ بتانو وصل عمر دوباره شه
که خپل ځان هوښاره وِی هوښیار به نشِي
اوس خوشحال دَ لیونیوُ شماره شه

له تا نه چه جدا شم په ناکام په ورځ و شپه    نه خوب نه مي خوراک دَئ نه آرام په ورځ و شپه
بل خیال فکر ئې نه وي بې د یار له رویه مویه    دَ زړه په حال خبر یم زه مدام په رځ و شپه
دَ مخ ثنا ئې وایم دَ زلفینو ئې صفت کړم    په خوله که په خامه وِئ صبح و شام په ورځ و شپه
یَو ښه نظر چه وکا، سرمایه مي دَ ژوندون شِي    کافي دَي خلوتي ته یَو بادام په ورځ و شپه
دَ مښکو دَ کافورو خوشبوئي به تر قربان کړم    که ستا له لوریه راشِي یَو پیغام په ورځ و شپه
دَ مښکو ګل قندي به ئې خوشحال ترې صدقه کا
که ته مي سر فراز کړې په دشنام په ورځ و شپه

ما پټ درله[1] کوګل کښ همېشه اسرار دَ زړه    آخر ئې خوناب وکړ په هر لور پرهار دَ زړه
له پښې اغزي مشکل دَئ په حکمت له تلي خېژي    دانا طبیب بایده دَئ چه وَکاږي خار دَ زړه
دَ نورُو تونګري که دَ دنیا په سیم وزر شي    پدا به تونګر نشي بې دیدنه خوار دَ زړه
دَ شونډُو دارو ورکړه که ئې ته په روغول یې    په سترګو ئې علاج کړې، خو به مري بیمار دَ زړه
که ښه دَئ هغه زړه دَئ چه مین په هیچا ندئ    چه یَو ځله مَین شِي نور تر تلو زار دَ زړه
غمجن په ډار دَ هجر خوښ دَ وصل په امید کښ    په اور او په اوبو کښ کړ خداي څه روزګار دَ زړه
دَ یار مهر تر ما راغي د ما مهر تر یاره    رشتیا ده دا خبره چه دَ زړه ده لار دَ زړه
چه خپل اختیار ئې تړول دَ خپل اشنا په لاسو ورکړ    رحمت ئې پدا کار شه خو هم دا دَئ کار دَ زړه
خوشحال خسته به اوس دَ خاطر راز وَ چا ته وايي
چه ولاړ ورته ئې شا کړه دماغي ښه یار دَ زړه

ما د شیخ او د ملا حکایت نزده    ما بې میه نیه بل روایت نزده
چه ئې نوم دَ عاشقانو په شماره شو    دا هم ښه که بوالهوس محبت نزده
ته چه هسي په چمن کښ چمان کېږې    سبره تا ځما دَ یار په قامت نزده
عام عالم وته پخپله ځان نادان کړم    هسي مه وایه چه ما کنایت نزده
دَ درویش په زړه کښ درست کتاب مرقوم دئ    که په خوله ئې دَ عربو لغت نزده
وایې تا سره مي نیت دَئ دَ یاریه    هسِي هېښ یم ګڼه ما په تش نیت نزده
نادان یار به صدقه تر هوښیار یار کړم    نادان یار دَ آشنایی قیمت نزده
عاقلانو ځخه ځو رنګه حکمت دَئ    لیونیو یو دَ عقل لو حکمت نزده

---

[1] در په کوګل.

Downloaded from: ketabton.com



وَ عاشق ته نصیحت مکړه ناصحه!   خود پوهېږي چه عاشق نصیحت نزده
دَ خدمت له نتیجې نه چه محروم شوم   زه لایق نه یم که تا عنایت نزده
چه بې سته مېلمه کېږي هغه زه یم   له آشنا مي دَ هندو غُندِي ست نزده
زاهدان چه نمونځ روژه کا جنت غواړي
ما خوشحال دَ مزدورئ طاعت نزده

ما په ننګ دَ پښتانه ځوانان قربان کړه   بیا مي غوره غوره جمعَ ښه ځوانان کړه
دَ سرِي دَلاسه مړه وَئ څه به ښه وُ   لېوني کوټه سپی مړه ګوره شېران کړه
هونبره کوټې کوټې کوټې ارمانونه   هر نفس ځي په ارمان ارمان ارمان کړه
په یوه ساعت ښادي په بل غمونه   په لحظه لحظه تېرېږي د اسمان کړه
چه په شپه را سَرَه ټول ووُ په زرګونه   په سبا ئې له ما واړه ځان په ځان کړه
ځني مړه ځني ژوندي له ما جدا شول   زه جدا په غاړه غرنو په ارمان کړه
چه شاهان ځوانان مي ومړل هاله مرد یم   که دَ هر یَوه مي ساري سل ډمان کړه
یو مهلت دَ عمر بل مدد دَ بخت وئ   په دښمن باندِي مي وشوې پدا شان کړه
لوي ئې قتل، هلك بند، ښهرونه سوي   مال اُلجه بندیان دِ کال واړه جهان کړه
چه نو ښهر مي واهه کوهاټ مي پرېښ   لا هاله ځما دا کړه وُ دَ نادان کړه
چه بد اصل سَرَه ښه کا کله ښه کا   دَ موزي سَرَه څه سود دَي دَ احسان کړه
ښه خو دا په خوشحال وشوه بیا تر کاله
ګوره څه رنګه ښکاره شی دَ سجان کړه

ما د نیت خبره ووې و ناکس ته[1]   نور څه نه په نن ئې ووې و عسس ته
خوږې شونډې به ئې نه مومې وَهَه ئې   سر په دواړه لاسه وایه و مګس ته
دَي پخپله د خپل ځان په سوختن دَي   د ګداز له حاله څه وائې ققنس ته
زه چه نن دا رنګینه خبرې وایم   پرې پوهېږم چه به پاتو شې بیا پس ته
و طوطینو ته مي پرېښوې خبرې   دا مرداره جیفه پاتو شوه کرګس ته
یا ئې رنګ یا ئې آواز د ځان بلا شي   څوک چه اَچوِي مرغونه و قفس ته
ګله نور عیب دِ نشته عیب دِ دا دَي   چه په وازه سترګو ګورې و هوخس ته
د غفا[2] د کال بهار ګوره خوشحاله
چه د مړو به ئې هوا وشِي هوس ته

مه وَی هسی کلی چه دَ چرګو کولې خورینه   شل خمبې۳ په کور کښ د نېستی له غمه مرینه
بل فکر ئې هېر دَی خو په غم دَ زرو پول دئ   نر ښځې ئې واړه خو ټنګې ټنګې لرېنه
ډېر ئې ملکان دي پکښې ښه ملك هغه دئ   هر چه بې ننګي کا دَ چا بډِی رشوت خورینه

---

[1] دا بدله په نورو نسخو کي نسته، له یوې قلمي نسخې څخه نقل سوه.

[2] غفا د ابجد په حساب ۱۰۸۱هـ کېږي.

[3] خمبه: انار خانه، د غنمو د ساتلو کوټه.

Downloaded from: ketabton.com



کښېني په مسجد کښ دَ سودونو کا خبري　　یا دَ خور دَ لُور دَ وَلوَرونو وَیل کرینه
لس کالونه تېر کا په یوه جامه خېرنه　　کوز وجود برمنډ په سر څیره کښېږدي زرینه
خاندي پروا نکا شرم نلَري د تېښتي　　ډېري بې شرمۍ دَ ژوندون دَپاره وړینه
جنګ لَرَه چه ورشي نور څه هیڅ نکا بې تېښتي　　جوړ چار وسله تبنتي سکه ورور ته نه دَرینه
هیچیری د شولو دَ سری برکت نه وئ　　شل شي شول شي شوم شي چه همېش شولي کرینه
نوم دَ ودانۍ ویران ښهر دیَ خوشحاله
لا تري ویران مشه ورځ په ورځ دَه کهترینه

ناز، نخري، مهر خندا. فتني، جنګونه　　دَ خپل یار سرَه هم تا زده دا رنګونه
کله کله خواپخوا غاړه غړئ　　کله تبنته په دوو پښو په غورزنګونه
چه ځما سرَه ئې ناسته په پالنګ وه　　اوس له ما په چرته لاړ په فرسنګونه
په لیدو پسې کچکول واخلي ملنګ شي　　مینه کا دا هسي چاری آهنګونه
په نصیب دَ روغو زړُونو فراغت دئ　　په قسمت دَ خوړو زړونو لهنګونه
عاشقي به هغه کاندي چه تر شا کا　　زیست، روزګار، شرم، پېغور، وېره ننګونه
چه بوسې دَ جفا جویو دَ خولې اخلي　　ګنُدي اخلي دَ یاغیانو قلنګونه
څوک مایوس څوک په امید دَ یار دَ وصل　　څوک پراته غاړه غړي په پالنګونه
په لیدو به ئې دَ ګور مړي سر هسك کا　　که پرې دورمي دَ پایلو په ژرنګونه
که پستې پستې خبري دراز نکا　　دَ جنت دَ حورو مه وینم رنګونه
زه خوشحال دَ آهو چشم میني سر کړم
دَ غرڅه غُندي په هسي ګرنګونه

نن په سترګو ورځیو له ما خوار زهد تقوا وړه　　ناز و غمزې وکړه عقل و صبر مي سبا وړه
شیخ ملا قاضي مفتي صوفي سرَه یو ځاي دي　　پا څه ښېوه وکړه یو یو څېز می له هر چا وړه[1]
جور دَ اغزي وړي چه وَ ګل وته هوس کا　　یار که ښایسته وي ته ئې هم جور و جفا وړه
دَور دَ اورنګ دَئ دَ ریا زاهدان ډېر دئ　　پېټه په لستوڼي دَ شرابو ډک مینا وړه
تل چه عاشقان دي پسې تعیین رقیبان دئ　　ته چه عاشقي کړې دَ وګړي شور غوغا وړه
مال دَئ که می ملك دئ څو لا مړ نه یم ژوندي یم　　هر چه ستا په خوا دئ هغه واړه لا پخوا وړه
ډېري دي نګاري ښایسته پري رخساري　　نورو لره نور څه ته ځما زړه په تنها وړه
شونډي د حلوا دي عاشقان دَ حلوا وړي　　ښه په وړیو څه په پَلو پېټه دا حلوا وړه
تا ویل خوشحاله یو کالی به له تا غواړم
زړه دَي نور څه ندئ ښه در کړي مې وَتا وړه

نن ئې بیا دَ دلبرئ خنجر تر ملا شه　　ښه چه سر ئې لا اوله په بارسا شه
ښه چه ژر د مختورئ وشو رقیبه!　　هغه یار چه مَرور وُ بیا پخولا شه
ما وې بخت به یو ښه یار را کا وَ ما ته　　چه دَ درست جهان ناترس وُ یار د ما شه
ګل پدا سبب ارزان دورمي په بَیَه　　چه ئې ډېره بقا نشته بېوفا شه

---

[1] یو څه څزه له هر چا وړه.

Downloaded from: ketabton.com



په بلبلو باندي زېږي دَ بهار کا    چه نرگس په هسي سخته څِله وا شه
راشه گل وَته نظر وکړه اَغزي ته    گل په هونبره زيباييه يار دَ چا شه؟
دَ فراق شپه ئې چه هونبره اوږده نه وه
په خوشحال باندِي هزار ځَله[۱] سبا شه

نشته بانگ دَ مؤذن په درست تيراه    مگر واورې بانگ دَ چرگ په سحر گاه
که اورکزي ئې سراسر واړه گمراه دئ    آفريدى دئ تر گمراهو لا گمراه
دَ اسلام ارکان احکام حلال حرام شته    آفريدي اورکزئ ندي پرې آگاه
نه ئې نمونځ دَ جنازو نه ئې امام شته    نه زکوة نه سرسايه نه دَ زړه تراه
ښه هغه چه مستقيم په شريعت وِئ    بد هغه دئ چه په شرعه وِئ تباه
دَ دنيا چارِي همه واړه فاني دئ    که باقي دَئ خو يو نوم دَئ دَ اللّه
چه يکلخُته دَ دنيا په کار کښ غرق وئ    له هغه غافله زويه نه آه آه
په اوبو سره گندگى له تنه درومي    په توبه په استغفار سَرَه گناه
موحد دَ تصوف دَ رسالو دَئ    مسئله دَ شريعت کښې گناه
کله کله چېږي وَ وايي دا هونبره    ځَني ځَني لآ اِلهَ اِلا اللّه
چه گناه همېشه کا توبه ئې نه وِئ
له هغه قومه خوشحال غواړي پناه

نامرد مل دَ چا مل مشه    سر په بد نائي کل مشه
پى غوړي واړه مردار کا    دَ خپل کور پيشو غل مشه
يَو چه دوه ورته ښکارېږي    څوک په سترگوُ احوال مشه
چه يا سېب يا بهي کېږي    بصل مشه حنظل مشه
دَ غوټى غندي موسېږه    دَ ابرو تر منځ خل مشه
په ويَل که ډېر افضل يې
له خوشحاله افضل مشه

نسته هسي مينه د يارانو خاص الخاصه    چه يو ځَبله ځَارېږي په جهان کښ له اخلاصه
يو راز دَي پدا کار کښ که ته ښه فهم پرې وکړې    چه شمعَ سر جنبانه پروانه ورته رقاصه
له مرگ مي څه غم کړې چه دَ عشق په شريعت کښ    قاتل په شرعه خلاص دَئ له ديته له قصاصه
له لاس مي رقيبان په تېره توره سَرَه پرې کا    لَمن به دِ لا هم ځَما له لاسه نشِي خلاصه
زاهد به په عشرت ځَما له بزمه نه خبرېږي    دَ عامُو څه مجال دَئ چه خبرېږي له خواصه
چه وگورم و تا ته همگي په درُو پرُ يې
څه خېژي اې خوشحاله له محيطه هم غواصه

نصيحت دَئ که ئې اروې درته وايي بېچاره    نفس به ډېر څه درته وايي پسې مشې آواره
روحاني بخره دَ چا دَه چه ئې مينه په درويش وِي    نفساني بخره دَ چا دَه، چه جاهل وِئ هيچکاره

---

[۱] هيله.

Downloaded from: ketabton.com



چه وَهل خوړل خورول کا، هغه باز دَئ یا شاهین دَئ  چه ئې سوړي لَره وړینه، یا مېږَی دَئ یا فاره
علم تا بیایي په پورته، جهل تا بیایي په کښته  یا عیسی لَره ور درومه، یا قارون ته ځان سپاره
چه ئې علم فضل نه وِئ چه په تخت دَ پادشاه کښېنِي  یا یو یَږ دَئ یا لېوه دَئ، یا ئې ګاو و خر شماره
بېوفا دروغجن مشه، نا سپاس حق ناشناس هم  ره زني کړه بنګ شراب خوره څرخ وهَه په دو تاره
دَ نباتو حلوا مه خوره چه منت ور سره مل وِئ  خپل کشکاب دَ خپل محنت خوره په سر راوړه پشتاره
که وعده په قیامت وِئ، هوس مکوه وَ پورته  څو توانېږې ښځه مکړه که په مخ وِئ ستاره
په هوا په هوس تللم، لا تر اوسه هسي زغلم  وا ویلا دَ نفس له لاسه ګرېوان چا ته کړم پاره
څوک نېکخواه په جهان نه وه چه ئې ما ته هدایت کړي  چه خبر په قباحت شوم، پکښې ډُوب یم یکباره
لوی دریاب دَی توره شپه ده پکښې ځي ځما بېړیه  خدایه خضر را ښکاره کړه چه لاس را کاندي ښکاره
هنر هم پخپل مقدار شته، دانش هم شته پخپل قدر
که یَو بخت ور سَرَه مل وِئ دَ خوشحال کړه ننداره

نه د ما د زړه لربر دِئ ښایسته  همېشه مي دَ زړه سر دِئ ښایسته
خپل ژوندون دَ ده دَ مخ دَپاره غواړم  له دننه مي خبر دِئ ښایسته
بت پرست دَ یوه بت یم نه دَواړو  که بتان مي دَ آذر دِئ ښایسته
زه به مخ دَ یار مخَي نکړم دَواړُو  که ګلُونه سراسر دِئ ښایسته
زه له ډېري ځلي یو پرېږدم بل ګورم  سَرَه یَو تر بل بهتر دِئ ښایسته
خال و خط به ئې دما له زړه ولاړ نشي  که بیرون مي تر بصر دِئ ښایسته
په وار وار ترې لعل و در دِي را توئېږي  ستا ویل لکه سره زر دِئ ښایسته
په خطا که په ختن که په کشمیر شته  نه چه دا مي تر دلبر دِئ ښایسته
که هر څو دَ ځوانی عشق لَرِې خوشحاله
دَ زړو، نه مکدر دِئ ښایسته[1]

نه ئې ملك نه ئې لښکر نه ئې ګنجونه  تر خانانو دماغي دي کښلي جونه
که خانان په زر په زرو په توره ناز کا  کښلِي مخ لَرِي ښېوې غنزې غنجونه
یا دَ کښلیو دَ زړه راي دَئ چه مي وکوت  یا دَ لوي دریاب په څو رنګه موجونه
څوک به روغ سلامت پرې نږدي په ملك کښې  بیا ئې باندِي کړل تاختونو ته سرجونه
په رقیب شه، په غماز شه، په بد خواه شه  چه به کښلیو لَرَه ځِي هغه رنځونه
بل سر مه ځه په دلبرُو کښې ئې غواړه  اُوه ستوري دَ اسمان د وولس برجونه
زه نامي په دا خبره نه پوهېږم  چه عالم ئې راته کا په مخرجونه
په چا داد په لپه نمنځ کوې فلکه  په چا لونې په اوړیو په چجونه
دَ خوشحال خاطر ښپښه دئ مات دِ نشِي
ستا دَ سترګو مستي وري په څو کنجونه

نن دِ دور دَ خوبیه دَي دماغ ګړه  یا دَ یار په زړه مرهم ږده یا ئې داغ ګړه
په خندا خندا راځه غاړه غړي شه  د خپل یار خاطر له غمه نه فراغ کړه

---

[1] د زړونو په ګذر دِي ښایسته.

ستا دَ زلفو په تور تم کښ مِي زړه ورک شه — چه ئې بیا مومم ښکاره دَ مخ څراغ کړه
دَ مخ خال دِ تور کارګه دَئ ځما زړه وړي — دَ بازونو دَ شاهینو ښکار په زاغ کړه
دَ خلوت په مخ کښ ناست زاهدان ښه دِئ — ساقي زه چه زاهد نه یم ګښت دَ باغ کړه
ساقي لور په لور ګلزار دَئ چه لیده شِي — له توبې نه کړه توبه په لاس اياغ کړه
ګوره کوم لوري ته لاړ دَي مونده نشي
دَ خوشحال دَ زړه پیدا چرته سراغ کړه

نیمي شپې مي په پالنګ راغله دلبره — پریرویه، عنبر بویه، سمنبره
رنګینه جامې اغوستي زرنګاري — سره درسته تجلي وه پا تر سره
په سپین والي دَ مخ سپین لکه مؤمنه — په تور والي دَ طُرې لکه کافره
سر یې تور، ښیښه په لاس، باده څښلې — دَ مستیَ پخپل ځان نه و خبره
دَ پائلو دَ څرِيَ[1] ئې شرنګهار شو — زه له خوبه را پرتاب شوم ډیر په ویره
ما وې ګوره ښاپیریَ وه، که حوره[1] — چه دا هسِي شان په ما شوه برابره
توري ورځې یې لینده بانه یې غشي — غاښ ئې در قیمت بها په لب شکره
په خندا خندا ئې دا وَوې وَ ما ته — چي و َما وَته نظر کړه بې بصره
ته ما نه پیژنې، زه هغه خوبا یَم — بله نشته په خوبی تر ما بهتره
عاشقان ځما دَ خولې په کلِي ډیر دي — بختوَر ئې، چه مي وَنیوې په غوره
څو بوسې ئې دَ لبانوُ و ما راکړې — حقیقي پیاله ئی راکړه له احمره
درسته شپه مُو سره راز په پالنګ وکړ — دَ وصال خوښي ئې لا نه وه تر سره
چه آواز دَ مؤذن دَ اذان وَ شو — په سحر له ما نه ولاړه ناز پروره
چي په ډیر ارمان محبوبه ځِني درومي — کشکي شپه دَ خوار عاشق وَي بې سحره
چه له هسِي محبوبا خوشحال جدا شو
دَ آتش لمبې ئې درومِي له بستره

نشته هسي سر چه به خالي وي له دماغه[1] — کوم دَي هغه زړه چه به روغ پاتو دِي بې داغه
چرته پسې درومم په کوم لورِي به ئې مومم — ورکه مونده نشِي بې رهبره بې سراغه[1]
مست یم مي پرست یم همېشه اياغ په دست یم — یو ساعت چه ځِي راباندِي غم دَي بې اياغه
باغ دئ د هغه دَئ په هر چا چه دِ پېرځو دئ — زه په ارمان تل وَ یوه ګل یَم ستا له باغه
ګل دَ عندلیب دَئ په قسمت دَئ په نصیب دَئ — درومه درومه درومه په جیفه ګرزه کلاغه
تل هوا هوس کړه، تر اوله یَو په لس کړه — ستا له غمه څه دئ که زه لاړم له فراغه
ورَځ وَرباندِي شپه دَه په تورتم کښ ئې میشته دَه
کله به لیده شې د خوشحال دَ زړه څراغه!

وچ لرګي وبله کښېږده — اور پرې پوری کړه نور پرېږده
په تېرو تېرو اَغزیو — تا ته چا وَیل چه پښې ږده
پکښې ظلم ډېر ستم شِي — له بیداده ښهر لېږده

---

[1] دا بدله په چاپي دیوان کي نسته.

Downloaded from: ketabton.com



دَ خزان سیلی راغلې لکه پاڼي هسي رېږده
تل هلکان دَ خپلو اوښیو دَ گرېوان په اوښي بلبېږده
په اعوذُ په لاحول سر آخله له سر وېږده
اوس پیري راغله خوشحاله
دَ ځوانۍ چاري پرېږده

وخت دَ نو بهار دَئ، زه جدا له خپله یاره — دریغه، دریغه، دریغه، چه بې یاره ځې بهاره
ژاړي غاړي غرُونه په احوال دَ عاشقانو — سیل د واوره ندَي چه را درومي له کهساره
اور دَ خوږو زړو دي[۱] چي دَ غره په ونو بَل شو — شنې دېوزي خېژي له نښتره، له چناره
غواړې چه احوال دَ فراق جنو، در معلوم شي — گوره هغه زاڼَي چه جدا ځَي له قطاره
دا څه معلومېږي چه جهان دَ ماتم ځاي دئ — شنې جامې اَغوستي دَ طوطیانوُ له چیغاره
نوري نارې نشته، خو نارې د بېلتانه دِي — راشه که ئې اروې دَ رباب له هره تاره
رنځ مي نه کمیږي، په زمان، زمان زیاتېږي — زر راځه طبیبه گښه مرَم دَ خداي دَپاره!
مرگ دَ رقیبانو بل[۱] ژوندُون د حبیبانوُ — خدای ړو په هنگام د وصل کېږي دا دوه کاره
څه شو که لا دم وَهي په شمار دَئ دَ ژوندیو — رنځ چه لا دوا شِي، طمع پری کړه له بیماره
پاتو سرِي نشول، چه دا گرزي ددو دام دئ — ځکه ویره نشِي دَ دردمنوُ له آزاره
هسِي خوار و زار شوم زه خوشحال په عاشقی کښ
خپل دِئ که پرَدی دِئ راته نه گورِي له عاره

وړاندي وروستو دوه عدمه — پدا منځ کښی یَو دوه دمه
خو هم دا ئې چه لیده شې — که څه نور څه یې آدمه
چه دا دوه دمه دِ نه وِي — په حساب تر جیفه کمه
ستا غفلت وته حیرت یم — پخپل ځان باندِی ستمه
دَ حرص په وزر گرزې — هم په غرونُو هم په سمه
که بادشاه دَ درست جهان شې — چار دِ تېره شِي تر جمه
بادشاهی به دي خلاص نکا — چه اجل درشِي له همه
څو روزگار هونبره ئې فکر — څو دنیا هونبره ئې غمه
په زړه یو درم یو داغ دي — دوه داغُونه دوه درمه
څو عالم سرَه گډېږي — غم به مومي له عالمه
چه وَ هر څه ته ئې شا کړه — په هغو دَه مسلمه
چه نه څه اَروې نه وینې — زړه دِ خلاص دَي له المه
ته هم ډېر ښه یې خوشحاله
ولي ځار دِ تر قلمه

ودره چه څه خو په یارئِ شې خبره — گورُو[۱] به چه څه شبوه په لاس واخلې دلبره
لا دِ[۱] څه تر اوسه هغه قدر ندي لیدلَي — ځکه دَ خپل قدر په لافو سر یې صنوبَره[۱]

[۱] گوره.

Downloaded from: ketabton.com



ځاي دَ چپ و راست چه د گافور دَ پاسه ندي — ته ئې څه سيالي له توروُ زلفو کړې عنبره
څوک چه نظر وَکا هغه ښه کښلي دلبر ته — ځي له ډېري ميني دَ يوسف سوره کازبره
ته ئې چه دَ مخ سَرَه نن شپه برابري کړې — شمعي! دا دعوه تر سبا يوسه برابره
مينه هسِي څيز دَه چه په چا باندِي مين شوې — ولي وينځه نه وِي تر بې بې شِي په تا بره[۱]
لارِي دِي بې شماره زر کوځې دي تر معشوقی — څو به پکښې درومې قدر مه بِده بې رهبره
مه پرېږده له لاسه کار و بار دَ عاشقَی — چار دَ عاشقی تر هر څه دَه معتبرَه
هَرَه شپه چه درومې په خوشحال باندي دوږخ دَه
شپه د جدايیَ که رسېږې پيغامبره[۱]

هر عاشق چه بهره مومي له حضوره — په هغه باندِي سلام له ما مهجوره
ښه دِ قدر دَ وصال دَ ساعت زده کا — وَ ناظر ته تل جلوه نکا منظوره
اوس د ديو جونو وينځو په ځاي نده — درخانیِ آدم خانَ کړه مشهوره
چه پدا هسي جمال ورځني زووې — بوره مور دِ ښاپېريه وه که حوره
يار به چا په يوه درنگ له لاسه پرېښ — جدائيِ له ياره نشِي بې ضروره
صبر تا لمانه درست په کاته يووړ — بيا وَ ما وَته وَيل کړې نا صبوره
زه لا هسی په يارئ کښ غوڅ نه يم — چه لَمن به دِ پرېږدم په تېره توره
لکه باد چه لوي نښتر وُلی په مځکه — هسي رنگ ور پسې ولوشتم بيخ پوره
دَ ښه يار ديدن دَ دراړو سترگو نور دئ — خداي دِ نکا دَ هيچا سترگي بې نوره
که اسمان او مځکه خوله وبله ووړې
دَ خوشحال خاطر به نه وِي بې سروره

هغه کار لکه په تور وه[۱] — ما ليده چه په سپين نور وه
چا به مښك په کافور ورکړه — ولي بيه نه وه زور وه
تل په شپه بازار خپرېږي — په روڼا گوره چه خپور وه
يا يو خوب وُ چه ليده شو — يا يَو خيال خالي بيور وه
چه ځگر خوري دَ خپل زويه — عجب ښه مهر دَ مور[۲] وه
اوه غله[۳] پرې حواله وه — څه ناتار شه يو څه په کور وه
لږ ئې راکړه ډېر ئې يووړل — پوروړی ئې سود خور وه
ما ته وَليدې خوشحاله
چه دِ څو نبره زور و شور وه

هر سړی پخپل کنگاش پوهېږي ښه — پخپل زيست او په معاش پوهېږي ښه
بزرگر د کر د کيلی هنر ښه زده — بازرگان پخپل قماش پوهېږي ښه

---

[۱] محشی ورته کښلی دی، چه مطلب له تور او سپينه تور او سپين وېښته يعنی ځلمی توب او زوړتيا ده.

[۲] محشی ليکی چه مطلب ځنی مځکه ده.

[۳] يعنی اوه ستوري.

Downloaded from: ketabton.com



ټولول به ئې هغه کا چه ممسك وِئ　　په بازَنه ئې قلاش پوهېږي ښه
څوک دِ هیڅ ورته د مێ خبره نکا　　عاشقان پخپل تلاش پوهېږي ښه
دَ شرابو صفت څه کوې نور چا ته　　پدا کار رند و اوباش پوهېږي ښه
دَ عسلو په حلوا ماړه ناپوه دئ　　گرسنه په نان و آش پوهېږي ښه
قلمزن حساب کتاب هندسه رقوم زده　　شمشېرزن پجنگ پر خاش پوهېږي ښه
وَ خوشحال ته وايي خلق ښه پوهېږې
ظن دَ خير دَئ دَي کاش پوهېږی ښه

هر چه ستا دَ زړه رضا واړه هغه کړه　　څو چه زړه دَ چا خوږېږي هغه مکړه
که د کسب و د روزکار نه یې نه مرد شته　　دَ نامرده پوړئ مه خوره ځان خفه کړه
یار هغه چه دَ تنگڅې په وخت پکار شې　　چه دعوا کا دَ یارئ حال ئې زده کړه
چه تنگڅه درباندي درشي که مېړه یې　　په تنگڅه کښ دَ خواریه ځان ور مکړه
په خواري کښ زیست روزگار تر مرگ بتر دئ　　یا دَ بل کېږه یا خپله گېږه بڅه[1] کړه
له ځوانمرده هونبره غواړه چه د زیست شي　　دَ نامرد خونه همه واړه الجه کړه
غلېواز دَ بل منگولي وته گوري　　لکه باز ليري نېژدې خپله غوټه کړه
که دعوه دَ مړنتوب لرې په زړه کښ　　آس دوند تلاښ په غشي په لينده کړه
یو هر بیت ئې دَ حلوا خوړه نمړئ ده
که مشتاق یې دَ خوشحال ويل مزه کړه

هر آفت چه په درست عمر را دو څاروه　　چه مي خير کړ درست ځما دَ ژبي کار وه
چه وداني چاري وراني په ساعت کا　　چه مي وليده په چارو کښ تلوار وه
دَ هر چا ياري مي وليده په سترگو　　هم هغه راته بلا شه چه مي يار وه
نا همواري به هر گز ورپېښي نشي　　که پخپله اندېښنه سړی هموار وه
صبرناکو سَرَه جور فلك نکا　　دَ فلك جور له چا چه سبکسار وه
پدا باغ کښ مي ډېر گل تر نظر تېر دی　　دَ هر گل تر څنگ ما وليده چه خار وه
زړه په طمعه دَ وفا بې وفا کړه　　پخپل ځان باندي پخپله ستمکار وه
که هر څو باندې مرهم ږدي نه رغېږي
دَ خوشحال په زړه دا څه دَ غم پرهار وه

هر گز به توبه نکړم دَ ښه دَ ننداړو زه　　شيخان پيران دِ واروِي دا يم وايم په ناروه زه
که ما دَ عشق خبره په ايما تر دا پخوا کړه　　ښکاره به ئې اوس وايم په رباب په دو تارو زه
که نور عالم گلونه په دستور اوړي خپل گور ته　　راوړم دَ يار له باغه هَرَه ورَځ په پشتارو زه
زاهد وائي و ما ته راشه کښېږه تسبيحات کړه　　يَوه مي ده نيولې نه يم هيڅ پدا شمارو زه
گداي غُندي جار وزم سينه سوي په طلب کښ　　که ډېر لَرم په کور کښ هر قماش په انبارو زه
پرهار ئې دَ ښو دَ غشي لا بده بلا دَه　　وتَلي يم دَ غشو دَ نېزو له پرهارو زه
خوشحال غُندي که سود لَري که زيان ځما قبول دَئ

---

[1] سيد راحت دا کلمه په معنا دَ قرباني او خونريزی را وړې ده.

Downloaded from: ketabton.com



عادت یم دَ غمونو دَ اندوه په اجارو زه

هم خداي غواړې نادانه هم فاني دنیا نابودهَ
په څو به دِ روزي شِي فکر وکړه دا دوه سوده
چه سر په مځکه کښېږدې زړه دِ ډوب په اندېښنو شِي
په خداړو که خبر يې د خاصانو له سجوده
په زړه د کعبې مينه د کڼبې په لور روان شِي
يو غول دَي په بيانان کښ بل[1]سر سر کا بې مقصوده
يو وهم دَي که څه دَي، چه په خلقو باندِي پېښ شو
دنيا دنيا هيڅ نشته که نمود که نه نموده
سيلاب دَ پاسه راسي په غورځَي په کښته درومي
موجوده د سېلاب دَ اوبو هم ده نا موجوده
اياکَ نعُبدُ لولې په سبع مثاني کښ
د زړه دِ څو هوا دِي، هغه واړه دِي معبوده
په صافه ائينه کښ هر چه وويني په سترګو
په لاس اخيسته نشِي آئينه په رنګ آلوده
په څو رنګه کنجونه په هر لوري په جهان کښ
ته باد په لاس شناځ[2]شوې حبطه په هيڅ خوشنوده
خوشحاله ځواني ولاړه په پېرئَ کښ اوس مېّ کړه
حاصل چه په ژوندون دي هغه چارو[3] ګڼه زوده

هيڅ خبره نه وه چه به ما تر خولې يسته
ستا دَ خولې تشبېه مي غوټی ولي راوسته
ستا دَ خوږو شونډو چه ساړه شي بيارته ګرزي
ځکه مګس سر وَهِي دا هسِي دود سته
زه او ته پدا دور تر واړونه افزون يو
څه حيران مجنون وُ څه ليلا خواره خسته
ستا دَ تورُو زلفو ځنځيرونه دئ په پښو کښ
نه شم چرته تلَلي درته پروت يم پا بسته
هر زمان ستا خيال دَئ چه ځما په سترګو ګرزي
ويښ يم که اوده يم که وَلاړ که نشسته
ګل اوسې په حسن اما ګل مشې په عمر
راغله سر فراز شوم ستا له باغه ګلدسته
واړه هغه حسن لطافت دَئ ستا په مخ کښ
چا چه دَ يوسف (رض) قصه و ما ته وَلوسته
ګله سبروَنه هسي سَمَه ده په قد کښ
چا نامه دَ سبر ستا وَ قد ته آخسته
ورَځِي دِ ليندہ دئ تور بانه دِ تېره غشي
وله صرفه مکړه چه دِ ډکه ده درسته
تا ويل و ما ته څو دېر غم غواړې له ما نه
ستا په غم خوشحال يم څو را درومي پيوسته
زړه لرې دَ کاڼي په خوشحال باندِي پوست نشو
څه شو که د خولې خبره کړې چېري پسته

هر تشنه چه دَ وحدت په سيند سيراب شه
نور همه جهان و ده وته سراب شه
چه په زړه ئې دَ وحدت ډيوه شوه بله
تجلي به ئې له مخه ځِي آفتاب شه
چه دَ عشق دَ نافې بوي پرې لګيدلي
درست صورت ئې سر تر پايه مشکناب شه
هر چه ولېږ له هستيه و نيستی ته
فراغت دَ دواړُو ګونو دَ غذاب شه
چه توروه ترخه قبول لکه درياب کا
هم هغه دَ قيمتي درُو مآب شه
چه لمبه ئې دَ آتش کړه په ځان تېره
له غه پسه دَ ګلابو ګل ګلاب شه
که په زړه کښ ئې سختي وه لکه پونډه
هم هغه دَ زمانې دَ اور په تاب شه

---

[1] تل سر سر کا.

[2] شناځ هغه ژي بولي، چه له بادَه ډک کي، او لامبو په کوي لکه د لامبو کڼو.

[3] هغه چار ګڼه ته زودَ.

Downloaded from: ketabton.com



چه دَ ډېرو اندېښنو نه ئې زړه ورکړ    په مثال لکه خسرِي دَ درياب شه
دَ شرابو خوښي هيڅ نه وِئ بې نقله    نقل څه دِئ معرفت عمر شراب شه
دَ کمال کسب پايه دَ سعادت ده    هغه ښه چه دَ کمال په اکتساب شه
ته هم زړه مراد وغواړه له عالِمه    چه په علم ئې عمل وکړ کامياب شه
چه دوستي دَ محمد (ص) لرې په زړه کښ    مينه دار ئې په اولاد او په اصحاب شه
چه له شرعي يَو قدم درومِي بې روخه    وگو شمال وته تيار لکه رباب شه
په هغه مِي زېرَى وکړ چه دفتر ئې    واړه ېک خاصه په کښلو دا ثواب شه
په حيات صورت به وگڼِي ځان خاورِي
چه خوشحال غُندي خبر پخپل حساب شه

هر سړى چه په لاس ونيسي غلطه    زمانه ورته پيدا کا ډېر سخطه
محبت محنت په خط کښ سَرَه يَو شِي    محبت سره جدا شِي له نقطه
مه يکلُخته مړني شه مه غوولي    په دنيا کښ هره چار ښه دَه وسطه
مصلحت ئې په هر قط کښ دَ خوبى دَئ    کاتبان چه قلم نه پرېږدِي بې قطه
د مرزي منگل گاوزي غواړي غويري[1]    د شاهين حمله په زاڼي دَه په بطه
بې ښه مخه به دئ قدر و قيمت نه وِي    د ښه مخ قدر ښه زده کړه خال و خطه
چه مدد ئې مهتر خضر دَئ خوشحاله
د هغه ببړىِ ورسِي تر شطه

هو پدا قائل يم کښلي ډېر دِي لور پلور شته    خداي ږو که دَ حسن سپاره تا غُندِي يَو سپور شه
تا وې چه غم مکړه يوه ورځ به دِ غم وخورم    څه لَره به غم خورم چه مي تا غُندِي غمخور شته
ستا په سر سوگند خورم ته ځما و سر ته لوړې    ښه مهر دِ دا دَئ که لا ښه مهر دِ نور شته
اې چه راته وايې عاشقي شرم پېغور ده    واړه مي قبول دِ که مي شرم که پېغور شته
خلق مى چه بولى ستا له مخه و گلزار ته    بل بهار به څه کړم چه مِي يو بهار په کور شته
حکم امر ستا دَئ که مي بولې يا شړې مي:
څه به درته وايم دَ خوشحال بنده څه زور شته

يا ځما دَ بېنايىِ نظر نشته    يا پدا نېژدې ملکونو دلبر نشته
که اختر نه وِي دَ يار سَرَه اختر دئ    بې مَينَة که اختر دَئ اختر نشته
شپينه خوله که را کَوِي په ځان اړ يم    معشوقې له ما نه زر غواړِي زر نشته
په اول وصلت[2] دَ عشق په توره لاړ شو    دَ عاشق سړى په تن پوري سر نشته
که غوټې پسې وَهې په لاس به در شِي    چا وې دا چه په درياب کښ گوهر نشته
نور توروه ترخه که خورې گندِى پيدا شي    و طوطي ته هسِي وايه شکر نشته

---

[1] د مرزي منگل کاوز غواړي يا غويره.

[2] وهلت.

Downloaded from: ketabton.com



ستا غزا لَره به زه خپسر[۱] کافر کړم — څه ارمان کړې چه څوک وژنم کافر نشته
په شامت ئې د ماتري[۲] غر نړېږي — لا پدا دَ افريديو بصر نشته
دَ شمال ښَيَنَه کا په جنوب درومي — دَ ښکاري سړي په ژمنه[۳] باور نشته
که دَ جنگ پکار کښ ډېر دِي حکمتونه — څو صابر نشې زلميه ظفر نشته
څه عجب بادشاهي لکه خورشيد کړم — يك تنها په جهان گرزم لښکر نشته
نن د َواړو دلبرانو غوره ته يې — که دِ يَو لونگ په پوزه زيور نشته
دَ عنبرو بوي اَلوزي ستا په کوي کښ — واړه ستا دَ زلفو بوي دَئ عنبر نشته
په څو غره په غره دَ باز غُندِي پرواز کا
بيا به وايې دَ خوشحال خټك پر نشته

يار مي بيا دَ رقيب يار شُو دريغه دريغه — په خبرُو دَ اغيار شُو دريغه دريغه
يو څو ورَځي ئې په زړه کښ مهر ځاي وُ — بيا بې مهره ستمگار شو دريغه دريغه
هغه گل چه مي ساته دَ زړه په وينُو — مل دَ هر خس و هر خار شو دريغه دريغه
و قصدمنو ته کاته ځما په قصد کا — دَ وژو مى روادار شو دريغه دريغه
بې له تا مي دَ ځگر ويني خوراک شوې — تېر مي عمر په دا کار شو دريغه دريغه
پسرلَي[٤] چه تل بلبلو پر چيغار کړ — دَ خزان له لاسه خوار شو دريغه دريغه
بيچاره خوشحال په طمعه دَ وصال وُ
دَ هجران په غم گرفتار شو دريغه دريغه

يار مي غوښت چه مِي اندوه يوسي له دله — نه چه کا دَ ما په زړه دَ غم کرله
زړه مِي وسپاره وَ تا ته چه ساته ئې — نه چه ته ئې سَرَه وَ سرويه[٥] په بله
يَو پيغام ئې دَ وصال را لَرَه راوړ — دَ جهان خوښِي ئې ما وَته بخښله
له اوله عشقبازي راته بازي وَه — اوس همه راته را پېښه شوه مشکله
خدايه تا په ښايسته وو مبتلا کړم — چه له غمه ئې خالي نه يم هيڅکله
که همه دنيا ځما په لاس و دست وَئ — ما به کُل دَ يار په زلفُو وَښندله
دَ هجران دَ تورِي هسِي شان گزار دئ — چه پرهار ئې بل ځاي نه کېږِي بې دله
که دَ مستي دَ غمزې دَ تېغ مشتاق بې — لُمړي خپله خون بها کړه ورته پله
که مي دا ځله صورت له غمه خلاص شِي — نور توبه له عاشقى له حاصله
ما په هيچا محصل نه وُ گمارلي — تا وَ ما ته خپل خاطر را کړ پخپله
که ياري دي دَ خوشحال سَرَه هم دا دَه

---

[۱] محشی ورته کښلی دی يعنی صورت او ځان.

[۲] د يوه غره نوم دی.

[۳] يا ځمنه يا زمنه يعنی وعده.

[٤] غه بهار.

[٥] يعني په شدت سره موښل او سولول.

Downloaded from: ketabton.com



## ستا یاري ئې[۱] سر تر پایه وَ لیدله

یوه بده زمانه شوه دریغه دریغه — دَ هر چا مي دَ خاطر مینه آمیغه[۲]
مهر، مینه، محبت له زړونو لاړ شو — سینې ډکی شوې همه له مکره ریغه[۳]
چه ئې ځاي په دواړُو سترگو باندي زه کړم — هم هغه مي هلاکت غواړِي بې تېغه
چه دَ دې دور فتنو وَته وَگورم — ولي کاڼي تیږي نه ووري له مېغه
د زړه[٤] راز له بېدردانُو نه پټ ښه دئ — که له درده دي سینه شي سَرَه هېغه[٥]
په نوبت به د هر چا تر ځَگر خېژي — د قضا نېزه و هر چا وته نېغه
که په تن شاه جهان دَ زمانې شې — هم دئ نه وینم خلاصی دَ مرگ له تېغه
که بازوان[٦] ئې پسې ورو کاندِي بندونه — دَ کرغول[۷] ئې علاج کوم دَئ بې کرېغه[۸]
فهم وکړه که خود بین او خود نما شې — زمانه به دي پایمال کاندِي تر زېغه[۹]
زورَور چه په لاس ونسِي ناسازي — هي توبه دَ زورورُو له بلمېغه[۱۰]
دا په خم ختلې غوا که هر څو لویشې — سیم وزر به ئې حاصل نکړې له لوېغه[۱۱]
تا به چېري هونبره کبر هونبره خیال کړ — که دِ وئ رنگ زیبا په صورت سېغه[۱۲]

چه دِ ښه له خویه بویه خبر دار شوم
له خوشحال سَرَه یاری کړې په دروېغه[۱۳]

یار ځما کَرَه دنَنه — زه ئې سر یم په غوښتنه
عجب حال راباندِي پېښ دَئ — درومه هېڅ مکړه پوښتنه
دَ وصال لپه اوبه وَمري — اور چه ولگي په ینه

---

۱ مي.

۲ دا کلمه حل طلبه ده.

۳ محشي ورته لیکلی دئ فریب.

٤ د زړه داغ.

٥ دا کلمه حل طلبه ده.

٦ که بازدار.

۷ دا کلمه حل طلبه ده، په چاپي نسخه کښ گرغول دئ، په یوه بله نسخه کښ داسي دئ: د کرغولي علاج څه دَي بې کوریغه.

۸ دې کلمې ته په یوه قلمي نسخه کښ محشي تېښته لیکلې ده.

۹ دا کلمه حل طلبه ده.

۱۰ دا کلمه هم حل طلبه ده.

۱۱ دا کلمه په دوو قلمي نسخو کښ تویغ لیکلي ده، په یوه نسخه کښ محشي ورته کښلي دئ لوېشل.

۱۲ دا کلمه هم حل غواړي.

۱۳ لکه په عربي په پښتو کښ هم په شعري ضرورت سره اماله راځي، دروېغه اما له د درواغ ده.

Downloaded from: ketabton.com



که په رنګ کښ زیړ لیده شې　　ګنګونه یې کرکمنه
کوم ماتم در باندې پېښ دَئ　　دَ اختر په ورځ خیرنه
خوشحال تل په غم کښ ښه دَئ
غم دِ نه ځِی له غمجنه!

یار مي کبرجن شو څه به وواېې و ما ته[1]　　درومه صبوري کړه نور به څه وایم و تا ته
صبر به هر ګز له هسي یاره وکړې[2] نشي　　درومه سکه دعا کړه چه دِ مینه شِي ترې ماته
تل دعا زاري کړم لا مي مینه پرې زیاتېږي　　ژاړه ژاړه ګُندي غوږ کا ستا ژړا ته
تل په ورتې ورتې[3] ژاړم لا ئې زړه په ما ښه کېږي　　لا په ورتې ورتې ژاړه چه ئې لا شِي خوښي زیاته
خوښ به لا هاله شِي که زه ومرم په ژړا کښ　　وَمره چه دا مرګ دِ لا بهتر دي تر حیاته
زه په مرګ راضي یم رقیبان به خوارایخ کا　　مخ دَ رقیب تور شه، ګوره ته دَ یار رضا ته
ښه په مرګ راضي خوشحال یوه خبره وایم
یار که مخامخ په وخت دَ مرګ کښېني وَ ما ته

یو قرین هسِي پیدا نشو را څخه　　چه دِ ما په زړه ئې نکړه منګل ښخه[4]
چه احوال دَ هر یَوَه راته معلوم شو　　هر یَوَه ته مي تیار کړل یو څو چخه
آشنایی دَ نا اهل عالم نه دئ　　په هر لوري تېرې تورِي دِي نا څخه[5]
که په دو کښ چېري لړه بدري[6] وخورم　　له چا بله وینا وانروم بې اخه
دَ هر چا سَرَه چه کښېني ورته رام شِي　　نور و غاړي ته تیار کا لومه پخه[7]
کوټه سګ دَ زمانې هر ګوره ډېر شول　　لکه پزانګ[8] د زاوه ونیسه کړخه
چه رقیب ئې خوار زار په نظر کښېوت
دَ خوشحال خو هم په دا شوه سینه یخه

---

[1] لمړي مصراعونه پوښتني او دوهم ځوابونه دي.

[2] وکړه نشي.

[3] په ورته ژاړم.

[4] ښخَ یا شخَ دواړه لګېږي.

[5] محشي نېزه ورته کښلې ده.

[6] یعني غلطي او خطا وتل.

[7] محشي زندی ورته ګښلې ده.

[8] دا مسرئ په دوو قلمي نسخو کښ دغسي دَه، عیناً ولیکله سوه، په بله نسخه کي (واوه) لیکلي دي.

Downloaded from: ketabton.com



# ی

آدم خېلی افرېدۍ دِي سرې او سپيني    پکښي نشته ښايسته. په رنگ رنگيني
غټِي سترگي لوی بانه، فراخي ورځِي    شکر لبي، گل رخساري، مه جبيني
تنگِي خولې لکه غوټۍ، هوار غاښُونه    سر ئې گرد په تورُو زلفو عنبريني
په وجود کښ لکه ها[1] له وېښتو خلاصي    پېښې کمکی غُنډِي پنډۍ، پهن سرېني
ترنځی[2] کېدي، سينه وري، ملا نرۍِ    قد ئې سم لکه الف، په تن سيميني
که دَ باز غُندی مې ِ گښت په غروُنو کېږي    ښکار مي ِ هم شوَي ښايسته زرکي ثميني
باز که چوز وِي که کرج[3] طلب دَ ښکار کا    لا تر چوز وِي دَ کرج غوټې مهيني
يا اُوبه دَ لنډي سيند يا دَ بارې دِي    چه په خوله مِي تر شربت لگي سيريني
دَ ما تري غاښي نېغ درومي اسمان ته    په خاته خاته لنډېږي باندِي سپيني
آدم خېلُو سَرَه زه په تيراه راغلم    نور رخصت ورکړَي خوږ په زړه خوږيني
مينه واړه کار دَ اور لَرِي خوشحاله
که لمبه ئې پټوې لوگي ئې ويني

ارتينې په عقل کمي    خود بخود دَ صورت غمي
ته دَ ديو سَرَه سَم يې    دُوي له تا سَرَه ناسمي
زر نېکۍ ور سَرَه وکړه    په يَوه ذره برهمي
درته زهر شي تا وژني    چه ئې ته گټې مرهمي
دَ وفا په خوي کښ ندئ    هميشه جفا شيمي
دَ آدم په صورت روغي    په معني کښ نا آدمي
تا به گرم په لږ گناه کا    دوي په لوي گناه نا گرمي
څو ئې کج وړې هونبره کجي    څو ئې درد وړې هونبره خمي[4]
په هر کار کښ ديگر گوني    په خوله رامي په زړه رمي
پاسه تن ئې ښايسته دئ    په درون لکه ارقمي
نور څه مه وايه خوشحاله
تر وجود ښې دِي عدمي

آشنائي دِ را ښکاره شوه بې وفا يې    چه ځما سَرَه آشنا دَ بل آشنا يې
وَ بل باغ وته به سترگي گړې نکړې    چه ځما دَ باغ بلبله يا طوطا يې
لا به کله ځاي ځما په سترگو وکړې    ته مَيَن د ما دَ دوو سترگو توتيا يې

---

[1] ړنگری چه چاغی او لوئی نه وی.

[2] يعنی هگی.

[3] محشی ورته کرېزی ليکلی دی.

[4] څو ئې گنج وړې هونبره کجی    څو ئې درد وړې هونبره زخمی، يا څو ئې خيال وړې هونبره خمی.

Downloaded from: ketabton.com



زه جدا له تا په سوز و په گداز يم　　ته په گښت دَ گلستان په لاس مينا يې
په ليدلو دِ خوښی در سَرَه راوړې　　لکه تللي ياغي باز راغلَی بيا يې
دَ اميد غوټې مي واړه شگفته شي　　چه دِ ووينم په ما لکه صبا يې
ستا په مينه پوري سل کا نخوالُونه　　دَ خوشحال دِ له په چا باندِی شيدا يې
مسلمان به درته څوک وايي خوشحاله
دَ هوا ځينار[۱] په غاړه يو ترسا يې

اَئنې وته نظر کړه شېوه گري　　خود به ستا د حسن وکاندي خبري
دَ رِندو سترگو حاجت دَ رنځور نشته　　په بد رنگي ناوي څه بولې سندري
مرجونا[۲] په مې پرده دَئَ پدا نه دَئَ　　چه ئې راوړې مرعچچي مرغلري
چه نه مهر نه تپاک نه پکښ شناخت وي　　له هغو بې درد وتښته لري لري
چه ميوه ئې د کابل خوړلې نه وِي　　د هغو تر فهم وڅکي دِي کُر گُري[۳]
پټه مينه دَ سري ننه لړمون خوري　　د وښو تر لمبې بد وِي اور د سَري
زه که غره په غره جار وزم عيب کوم دي　　تل مزري گرزي په لوړِي په ژوري
په ختا ختن دَ مښکو قدر نشته　　نه په هند کښ څه قيمت لَري شکري
حق باطل سَرَه ښلېږي را بر سېر کړه　　مځکي څو به دَ قارون خزانې نغري
چه دَ ننگ توره دِ واخيسته خوشحاله
درومه سوات ته څه خټک څه ئې لښکري

افغان بچه شوخي! هر گز په عاشق باندي　　لطفي نکني رحمي، دا هم که څوک کاندي
يك لحظه بيا بنشين، ما خوښ په ښه خندا کړه　　قربان سرت گردم، چه نوُر و وَته خاندي
گل لاف لطافت زر چه ته په چمن راغلې　　ازغايت خجلت شد، سر گشته ستا دَ وړاندي
دکان شکر يعني ستا ښه خوږه خولگی　　افشان شکر يعني گاهي چه ته وخاندي
کبك دري و عنبر، دا دواړه حبطه شي　　گاهي که تو بخرامي، دوه زلفي آوېزاندي
خوشحال دلش شيرې ستا سترگي لکه شوي
ايواي که شد شېرې تر لکه شوي لاندي

اي دلبر لاهوري　　بالله که برخ اوري
خوبان جهان پيشت　　چون پيش مهي ستوري
پرواى شکر دارد　　آنرا که تو مي زوري
خواهی که کنی شادم　　يکخنده بدين لوريي
غمهاى تو بر جانم　　چون ابر اسد اوري
عالم بتو می بينم　　در ديدهٔ من توري

---

[۱] د زبار مغنن دی.

[۲] دا بيت عيباً وکښل سو، په يوه قلمي نسخه کښ پرده ليکل سوې ده.

[۳] په قلمي نسخو کښ په کاف او راء ليکل سوي، مگر په چاپي نسخه کښ گُرگرِ دي. اما په خيال کُر صحيح دي ولي چه کور د غره بدخونده انگور دي او د دې کلمې املا په يوه قلمي نسخه کښ کور ده. گرگرد غره بله مېوه هم ده.

Downloaded from: ketabton.com



مي جنگی و می خندی    اینهاست ز خمسوري
سوداي رخ خوبت    اندر دل من ښوري
در کويتو چون روهي
صد شيفت سر توري

ازلي بخره چه چا راوړه له خدايي    نوريدل به ئې په چا شی راته وايي
چه دِ زړه راضی دَ چا په آزار نه وِئ    ته پخپله بخره خوښ اوسه همايي
دا ئې واړه دَ فراقه نه فرياد دئ    چه په څو رنگه نارې اَروې له نايي
که په اصل دَ سيد بادشاه زاده وِئ[1]    چه هنر ور څخه نه وِئ مه ئې ستايي
که هر څو دِ زور قوت تر هر چا ډېر شي    دَ خدايي دعوه ککړه که خدايي
يو ساعت چه په طاعت تېر کړې دا ښه دئ    دَ دنيا له کر و فره هوي و هايي
کله گل غُندي نماي کله بلبل شې    څوک به نه وِي لکه ته يې خود نمايي
بله بخره به په زور له چا وانخلِي
دَ خوشحال بخره چه توره ده له ځاېي

اوس خو کار د وار د پار دئ    که د زويه که د پلار دَئ
يا د ما زويه دا شان دئ    يا د هر چا دا روزکار دَئ
نه په حق نه په ادب دئ    خبر نه يم دا څه کار دَئ
چه پخپل اولاد نازېږي    هغه کس کله هوښيار دَئ
دَ اولاد په کار خبر شوم    اولاد واړه لَړم مار دَئ
ديرش مي زويه په شماره دئ    دَ نمسيو مي څه شمار دَئ
لوی هلك واړه خبر دِئ    هر يَو جنگ وته تيار دَئ
اورنگ شاه وته نظر کړه    چه يو څه خوني خونخوار دَئ
ورونه پلار ئې وبله کښېښول    بادشاهی کا شهريار دَئ
چه ژوندَی گرزې خوشحاله
لا منت دَ گردگار دَئ

اور ئې ولگي په خونه چه عاشق شي    کور ئې خپور لکه د قيس او دَ وامق شِي
يَوه زړه لَره يوه مينه کافي ده    څوک چه ډېري ميني کا دَ غم لايق شِي
د مجنون له حاله څه وايم چه څه دئ    په ژونديو کښ به کوم تر ما فائق شِي
ډېر عالم دَ ميني لاف وهي په ژبه    مرد هغه چه په دا لافو کښ صادق شِي
چه ئې لار دَ خولې يَوه دَ زړه وِي بله    يوه خدايه مخ دِ تور دَ منافق شِي
دَ راحت په وخت هزار ياران وِئ    دَ محنت په وخت کښ يَو يو موافق شِي
دَ نيمگړو طبيبانو ادراک نشته
دَ خوشحال دَ رنځ علاج به په حاذق شِي

---

[1] که په اصل دئ سيد يا شاهزاده وی.

Downloaded from: ketabton.com



اَه که یَو ځله مي یار راشي په دست کښي　لکه لوی ماهي دَ خوار صیاد په شست کښي
چه په هر زمان ئې ونیسي وَ مخ ته　دَ گلابو گل پیدا شي ستا په شست کښي
ناز غمزې شیوې چه تا زده نور چا نزده　سر یې نن دَ دلبری په بند و بست کښي
دا خوبی به دَ گلزار تر تلو نه وئ　ساقي ستا کومه خوبي دَه په نشست کښي
ساقي جام دَ میو مه پرېږده له لاسه　څو دَ عقل څه ذره وئ لا په مست کښي
دانایان فکرونه کا ور نه رسېږي　دَ دلبرو تنگي خولې په نېست و هست کښي
په بلند همت کښ پورته پورته درومي　کښته گښته ځي سری په همت پست کښي
په طلب به ئې خوشحال تقصیر و نه کا
په مدد دَ طالع راځی په دست کښي

اې چه لافي دَ زنځور دَ رغېدو کړې　دَ خپل کلي رنځور روغ کړه ما به سو کړې[۱]
نور به ستا په رضا ځم توبه وکښلې　خو که دا ځما گناه تر پښو کړې
یوه ورځ به په مرگي سَره جدا شو　یاره تل دَ بېلتانه خبري څو کړې
تور بانه راته ځښي په دا پوهېږم　یوه ورځ مي به په دا تېرو نېزو کړې
د تیراه اوبه دي دِ وڅښې خوي دِ نور شو　آفریدي غُندي خبری دَ الجو کړې
چه په زړه ئې گرزوم په تا معلوم دئ　توریتي[۲] غُندي وَیل تېوله دَ زړو کړې
ستا په خوي[۳] مي وېره شي ظالمان ځوان مري　له آزاده وېره وکړه ظلم څو کړې
که دَ غشی په ویشته سره خوږېږې　زه چه ستا په تیر زخمي[٤] شم ما بخښو کړې
وایې تا وته به وَکړم اوس ښکنځلې　لا به کله دا نبات په ما پېرځو کړې
دَ طوطا خبرې هم دا هسې نه وې　په بند بند و مشغولا وَیل ورو ورو کړې
ستا په ډېر ماني به حال دَ خوشحال څه شي
چه په لږ ماڼي ئې ډېر په اندېښنو کړې

برایه مي زړه خبري ستا دَ ناز وې　له خوښی به ئې یوه وینا باز باز وې
دَ هجران له دوکه مرم هغه مي وژني　چه به ما او تا جدا له غیرو راز وې
دوه په دوه به سَرَه ناست وُو تر صباحه　دَ یَوه راز مو انجام دَ بل آغاز وې
همگی په مثال شهد یا شکر وو　چه به تا راته ترخه ترخه ناساز وې
ستا له زلفو عقل سترگو ته فریاد کا　کله چا دَ غلو خبري په غماز وې
چه له یاره ئې بېلتون په ډېر ارمان وُ
دا غزل خوشحال په وخت دَ بانگ نماز وې

---

[۱] یعني ما به ژوبل او زخمي کوې د قندهار په محاوره ئې مصدر (ښکرېیل) دي.

[۲] دا کلمه دَ سید راحت په لغاتو کي داسي املا ده، ترویتي یعني نجومي ماخود له رویت یعني نجوم.

[۳] په مرگ.

[٤] زخمي شوم.

Downloaded from: ketabton.com



بیا د عشق دریاب را وخوت چلي چلي — عاشقان پکښ لاهو شول بلي بلي
که د سر ملاحظه نکړيِ[1] غواص شيِ — مرغَلرِی په دریاب کښ تلي تلي
دَ پتنگ محبت لا پسيِ زیاتیږی — چه دَ اور لمبيِ لیدیِ شيِ بلي بلي
ناگهان ئيِ مخ ښکاره کړ بیا ئيِ پټ کړ — په خندا ئيِ دا ویَل چه جلي جلي[2]
ما ويِ چرته به وئَ کان د خوږوُ قندو — شاه وَ لب ته اشاره کړه دلي دلي
د عشق بخره عطایي لکه ایمان ده — مونده نشيِ په کوښښ په ځَلي ځَلي
چه دئَ خوله له ما غوښته و تا ميِ درکړه — دا چه بیا له ما مانيِ کړيِ ولي ولي
همیشه پسيِ جار وزه شها غواړه — که دِ پښيِ دَ طلب نه دِئَ شلي شلي
زه خوشحال به بل دَیار برابر نکړم
په جهان که کښلي ډیر شيِ ډلي ډلي

بیا له کومه لوریه هسی را پیدا شويِ — چه ځَما زهد و تقوی لَره بلا شويِ
ستا نظر لکه تور باز زړه ميِ تارو دئَ — په تور باز دَ تور تارو غوښيِ روا شويِ
په بار بار دِ دَ خندا منت را باندِی — چه په ما دی نظر وشو پخندا شويِ
په فراق دی ځَما دواړه سترگيِ گوره — ورئَ و شپه لکه څڅواکی په ژړا شويِ
هغه شونډيِ چه درود و تسبیحات ويِ — راشه وگوره دَ میُو دَ مېنا شويِ
وَ هر چا وَته دِ مخ دَ لاله گل دَئَ — که ځَما تر سترگو دا رنگه زیبا شويِ
په باطن کښ دئَ دَ زړه په سترگو وینِي
په ظاهر که له خوشحاله نه جدا شويِ

بیا وَ ما وَته غمزيِ نگاري وکړيِ — دَ جلاد تر تیغ ئيِ لا خونخواري وکړيِ
چا ئيِ شمار دَ زلفو هیڅ نکړ تر سره — دَ تار تار ئيِ عاشقانو شماري وکړيِ
چه دلبري لَرَه دروميِ یوه لار ده — مشتاقانوُ پسيِ ډیري لاريِ وکړيِ
په نري آواز کانه ديِ نه خبریږي — ځَکه ما هونبره په زورو ناري وکړيِ
څوک چه سترگيِ غَرَويِ تر هغه واړوُ — ما په پټوُ سترگوُ ښيِ نندارِي وکړيِ
څوک خبر ورځَني ندي خو ما هم زده — چه ئيِ ما په دوو رخسارُو چاري[1] وکړيِ
ته چه ډیري آشنایِی کړيِ خوشحاله
په هر لورِي دِي د غم اجاري وکړيِ

بيِ یاریه دِ دا خوار مري یاره وه ئيِ — رقیبان پدا خواریږي خاره وه ئيِ
تا ويِ مخ به در ښکاره کړم صبر وکړه — نور مي توان دَ صبر نشته ښکاره وه ئيِ
زر فتنيِ را سَرَه کړيِ زه ئيِ آخلم — که یَو خَل چیري غلط شوم شماره وه ئيِ
تر جمال ئيِ ډیر پتنگ غُندي ځَاریږي — ستا دَ حسن کمي نشته ځَاره وه ئيِ
چیری نه چه سلامت له پريِ ووزي — یو عجیب غاری غوڅه دي څاره وه ئيِ
منتونه دِ دَ خوليِ را باندِي بار دئَ — ستا تر سپینه خوله ځَاریږم باره وه ئيِ

---

[1] که د سر ملاحظه کړيِ غواص مشه.

[2] یعني سوځه سوځه.

Downloaded from: ketabton.com



وَ هر چا وته مرهم شه ورته خانده
گناهگار خو یَو خوشحال دَئ خواره وه ئې

بې ښایسته دَ هیڅ مخ نندارهٔ نشي — چه گل پرېوزي محبت له خاره نشي
دَ هجران دشوار دشوار تر هر دشوار دئ — د چا چا دِ په هجران دشواره نشيي
اندرون خاطر مي درشت پاره پاره شو — اوله خولې نه مي فرياد له ډاره نشي
دَ دې هسي رنگه رنځ علاج هم دا دَئ — چه زگېر وَئ مي په طبيب اظهاره نشي
دَ خاطر علاج مى ژر وکړه طبيبه! — چه مي زړه پاره دَ خداي دپاره نشي
دَ هجران له دوکه وايم چه نارې کړم — ولې څو کړم چه زبون شوم ناره نشي
ما پخپل صورت دا کار دَي ازمېلي — له هر څه نه صبر شى له ياره نشي
په وَيل کښ فهم وکړه اې خوشحاله
چه دَ يار دَ میني راز دِ ښکاره نشي

بې دَ يار له مخه نه وينم په کسي — دواړه کسي ملك دَ نمر په شغلو کسي
زړه مي ستا په زلفو بند شو تا کباب کړ — څوک شهباز هم دَ کباب دَ پاره نيسي
خداي دي ستا دَ غاښو شونډُو امان وکا — لال و دُر په نظر مات کا بد حرصي
ما له خپلو شونډُو مه شړه بل لور ته — دَ حلوا له خوا نه نه درومي لوغسي
ستا دَ مخ په مينه سوځم لولپه شوم — دَ آتش لمبه هيڅ نه پرېږدِي د سَسې
که ئې چېږي دَ قدم خاوري مونده شي
خوار خوشحال به ئې رنځور[1] لَره را نيسي

باد ئې لاس په پلَو کښېږدي سَرَه رېږدي — گل ئې مخ وَته نظر کا خولې پرېږدي
لاله ورايه رنگ و بوى ورته پېښکښ کا — چه په سيل دَ بهار دَ گلو پښې ږدي
څو مي ستا مَروَند دَ سر سروبرِدَي نشي — سر به هيڅ کله کښېنږدم په سر ويږدي
هغه کس چه مي داغ يښَى په خاطر دَئ — هم هغه به ښا مرهم ور باندي کښېږدي
څو خپل زړه نيسم دَ زلفو له سودا نه — راشي بيا دوري درازي راته بلېږدي
دَ خوشحال خاطر په مثل کاروان سراي دَئ
اندېښني پرې کاروانُونه ملي لېږدي

بېهوده ئې دَ دستار په شمله خيال دَئ — چه په وخت ئې دَ مرديه حال بل حال دَئ
مرتبې دَ هر چا نَدئ سَرَه سَمې — دَ خره بار دَ فيل په شا باندې مثقال دَئ
څوک جرعه دَ ميو نه لَري په جام کښ — دَ چا جام دَ صافو ميو مالامال دَئ
دا گلشن دِ همېشه تر و تازه دئ — چه ئې خېز دَ ښو گلونو کال په کال دَئ
په خوزه مېوه دَ وني قدر شناخت دَئ — دَ سړي قدر د نيکو په خصال دَئ
په ناحق به گرم ماڼه له هيچا نکا — دَ بدانو غليم واړه خپل افعال دَئ
که جنت لَره څوک بيايي يا دوږخ ته — بله نه وينم په منځ کښ خپل اعمال دَئ
کشکه پاته شي تر تلو دا وَ ما ته — په دنيا مي دَ هر چا سَرَه جنجال دَئ

---

[1] رنځو.

Downloaded from: ketabton.com



چه دَ پلار او دَ نیکه هنر ئې نه وئ　　هغه زویه پیدا شوي غیر سیال دَئ
ته چه لافي دَ مردانو دَ میدان کړې　　په میدان دِ کوم راوړي استقلال دَئ
دَ شهباز تر ځایه کله بانښې رسي　　که راوړي ئې له ځایه پرو و بال دَئ
که همه خلق ئې سر شي په غندنه
بېچاره خوشحال پخپل هنر خوشحال دَئ

بدبختان دَ مور په نس کښ بدبختان دئ　　چه دَ مور له نسه پرېوزي هغه شان دئ
په دنیا کښ زیست روزګار په بدبختي کا　　بل جهان لَرَه بد بخت شقي روان دئ
حمیده چاري چه کا پکښ ناخوښ دئ　　څو چه شی په ذمیمه کښ دل شادان دئ
چه هوا ئې دَ خپل نفس په هغه لور ځي　　پیروي ئې په هر کار کښ دَ شیطان دئ
که قدم چېري ثابت کښېږدي په لارِ　　په دوهم قدم بیا ژر په زړه پښېمان دئ
کتابونه دَ اسمان دَ مځکي لولي　　په عمل ئې فرق دَ مځکي دَ اسمان دئ
په باطن ئې زړه ګمان سرَه لَرلَي　　په ظاهر وَیل په ژبه مسلمان دئ
په خبرو کښ ئې فیض مونده نشي　　مذبذب په قول، عهد په پیمان دئ
په طاعت په عبادت کښ که بلعم[1] شي　　په آخر دَ نس په نغته[2] بې ایمان دئ
زه خوشحال خټك بنده دَ هغه چا یم
چه ئې رو دَ زړه دَ خولې سرَه یکسان دئ

بخت دولت دا واړه توکي فلکي دي　　نه پذات نه په ښایست په زیرکي دي
دم به نه وَهي په دم وَهل کښ زیان دئ　　نندارِه دِ دَ جهان کا چه ذکي دي
غم اندوه شدت هغه وړي خپل زړه ته　　چه په کار دَ مشیت په زړه شکي دي
په یوه نسب کښ نېك و بد پیدا شي　　محمد (ص) و بو لهب دواړه مکي دي
چه په عقل پوهه کم دِی تر هلکو　　نن هغه دَ دنیا مال لَری لکی دي
دَ مردانو قدر ورک شو بلا دا شوه　　چه په هر چا پوري ږېري غیڼکي دي
چه دَ پلار په خوي پیدا دئ هغه زویه　　چه دَ مور په خوی پیدا شول کوسکي دي
څوک په غم دَ نام و ننګ په جهان راغله　　څوک په فکر دَ طباخ د شحنکي دي[3]
هیچا ما سرَه یاری نکړه تر سرَه　　خټك واړه پوز پرې کړي بوڅکي دي
نه ئې بوي شته نه ئې رنګ شته نه ئې خوند شته حاسدان مي دَ سپلمُی خټکي دي
په زمان زمان ئې څرخ وي وَ بل لور ته　　اندېښني دَ زړه په مثل توتکي دي
کله یو سر کله بل سر لکه[4] کوډه　　تدبیروُنه دَ هلکو مړدکي دي
رنګا رنګ ویل د خداي لَره خوشحاله
دا وَیل دِ لکه غشي ناوکي دي

---

[1] وایي چه بلعم باعور ډېر عالم یهودي و، چه آخر په هوا دَ نفس په مخالفت دَ حضرت موسی کافر سو.

[2] نغوته.

[3] څوک په فکر دَ طبق د ښانکي دِی.

[4] کله.

Downloaded from: ketabton.com



بیا ئې واغوست سپین کمیس پټې پټې ... باندې زلفي څنډوي لټې لټې
څوک به ستا سَرَه څه نرد کا دَ خوبیه ... چه په هره منصوبه ګټې ګټې
وايې څوک به زړه د ما له لاسه خلاص کا ... درېغه څه خبري کړې کټې کټې
عاشقان به دِ له وره نه وانوړي ... که هر څو ئې لکه سپی رټې رټې
چه نري نري سپېنسِې غرم دَ شعر ... په بیاض باندي ئې بړدم اټې اټې
دواړه شونډې مي عسل دِي اې خوشحاله
په څه دود ئې په حرص څټې څټې

په خاطر باندي مي نه وئ پروتي لړي[1] ... څو خاطر مې لټوئ[2] هونبره مې کړي[3]
په بل رنګ مي به زړګي باندي سوړ نشي ... رقيبان شول دَ نوکونو تر منځ شپږي
و هر چا وته چه وګورم فریاد کا ... یو زه نه یم د جهان دِئ سبنې خوړي
دا دوه توګه و هوښیار وَته یو راز دئ ... د نامرد سرِي برېتونه برېت د مړي
په جهان به هیڅوک نه وِی چه آزاد وِی ... ځنی عشق اندوه بنده کړه ځنی لوړي
چه احمق سَرَه یاري کړې خبردار شه ... یوه ورځ به په تا وکا کار دَ یږي
چه بې علمه تصوف وايي باور کړه ... دا مي واړه[4] بوس دانې سَره آغږي
هیڅ مذکور ور سره نه بویه نه ښه دَی ... په نادان دي دَ دانش خبري زوړي
چه دي لاس په ګیرړ نه رسي خوشحاله
و مزریُو وته څه لاسُونه مړي

په څه شان ئې دواړه زلفي کج په کج کړې ... یکباره ئی دَ عالم مېنی په چچ[5] کړې
توري زلفي ئې زنجیر مخ ئې کعبه دَئ ... دا زنجیر په لاسو وَنیسه که حج کړې
که یَو دم دئ دا زنجیر په لاسو کښېوزي ... همېشه به دَ خپل زړه په حال فرج کړې
بیا هاله دَ یګانګئ له حاله لاف کړه ... که دَ غیر اندېښنې له زړه خرج کړې
زه تر نام و ننګ تېر شوم ستا دَ پاره ... ته به څو ځما دَ کار دَپاره بجْ کړې
قند و ګل چه یادَوم مقصود مي دا دَئ ... څو بوسې که له ښکنځا سَرَه مزج کړې
ما خوشحال له خپله ځان نه خاطر موړ کړ
چه دا هسې دَ غمزې په تېغ حرج کړې

په ځوانانو پوري پیچمې[6] کا ولاړې ... ته په شپینه بېره خوله ور ځني غواړې
دَ ځوانی هوس مکوه چه زوړ شوې ... اوس له تا نه ځوانِی چاري ولاړې

---

[1] په خاطر باندي مي پروتي ندي لړي.

[2] پټوي.

[3] ئې کړي.

[4] یعني کورونه ئې ور غلبیل کړه. دا د پښتو محاوره ده.

[5] یعني ښته او ګوابنل.

[6] یعني ریشخند.

Downloaded from: ketabton.com



تېر ساعت به د ِ دَ عمر بیا رانشِي     ورَځ و شپه که په زار زار ورپسې ژاړې
که ئې بیا له مځکې اَخلِي سود ئې کوم دَئ     چه له خولې په مځکه پرېوزي دَ چا لاړې
د خوشحال ویل په زړه دَ اروېدو دِئ
چا ته نه کاندي……………………

په هَره زمانه تر لیلا کښلې پیدا کېږي     مجنون ور لَره بويه چه په مخ ئې شیدا کېږي
په رنګ په هنر نده نه دا کار په سحر و دم دئ     يو سِر دي دَ زړه مینه چه په چا هویدا کېږي
چه څوک په مهر مینه سَرَه خپل پیوند محکم کا     که سل توري را واخلِي[1] سَرَه چېرې جدا کېږي
یا حسن دَئ یا عشق دَئ دَ دنیا پدا بازار کښ     په ناز او په نیاز سَره دا دواړه سودا کېږي
خوله ونغاړه ناصحه چه و ما ته نصیحت کړې     ښه مخ وته مه ګوره وایه دا به په ما کېږي
په سر ترِلي ندئ نه اندوه دَ دوږخ کاندي     دا کار چه عقشقان کا وایه کله په چا کېږي
به رب د ما سوګند دَي واړه ګل په ما اغزي شي     چه بې له زیبا مخه مې ګلګښت په صحرا کېږي
خپل زړه مي لوي مفتي دئ روایت ورځني غواړم     چه صبر کړم له یاره وائِي کله روا کېږي
یاري چه تازه وکړې صبر فهم پکښې بویه     په ورو ورو نوي یار په هنرونو اشنا کېږي
انبار انبار پراته دِئ عاشقانو ته غمونه     پېغور دَ عاشق دا دئ چه ئې غم وَته شا کېږي
که ناز کا که خیالونه واړه وړه دَ دلبرانو
خوشحال چه مین شوې که ئې نوري بلا کېږي

په څه دود ئې ځاي نېولَي ستا تر څنګ دئ     دَ رقیب خبره مه منه بدرنګ دئ
زه چه ډېر ډېر ستا له ډېره جوره ژاړم     تر دوو چشمو مي چشمه بحر د ګنګ دئ
ښاپیریه د ِ په هورته هورته ګرزي     نن په دا لوري دَ شاه د باهو شرنګ دئ
لاس ئې مه پرېږده له لاسه خوله ئې واخله     پرېوتلی په یاغی راجا قلنګ دئ
په زړه مهر محبت په خوله ښکنځل کا     څه عجب زیبا دَ دوو مینو جنګ دئ
لکه سپی دَ خپل څښتن جور و جفا وړي     خوار عاشق تر معشوقه پوري بې ننګ دئ
په رو رو باندي قدم کښېږده خوشحاله
خداي دي بل دَ جا خطا نکا ګړنګ دئ

په زړه سخت بې مهره یار یې     جفا کار و دل آزار یې
که هر څو په کوکو ژاړم     ته لا خوښ ځما په کار یې
تا ویشتلي یم فریاد کړم     که خبر په خپل ګزار یې
زه مرهم کړم له تا طمعه     ته مي مالګه دَ پرهار ئې
زه به تل ژاړم و تا ته     که ته خوښ ځما په زار یې
زړه د ِ وسپاري و غم ته     دَ هغو چه ته دلدار یې
څوک به څه وائِي و ما ته     ته یو څرنګه نګار یې
چه پخپله عاشق وژنې     هم ئې ویر کړې په چیغار یې
کوم ګناه دي عاشق کړَې     چه ئې خیره په ناتار یې
کله درد کله دوا شې     کله خار کله ګلزار یې

---

[1] سل توري ور واخلې.

Downloaded from: ketabton.com



په خوشحال دِ غم نازل کړ
چه اغیار سرَه کنار یې

په کاته کاته مي سترګي په خاته شي — چه خبر دِ دَ راتلو را باندي وشي
ته خو اوس له ما نه ولاړې مروَر شوې — دا ځما یاري دِ هم ګندي په زړه شي
ګوره تا را باندي کومي کوډي وکړې — که په ښو در ځني درومم زړه مي نه شي
چه دیدن دَ مَین وکړمه تازه شم — لکه کښت چه په باران سرَه اوبه شي
دَ ښه یار بېلتون دَ ستوني پرېکوَل دي — په یرغ به ستوني چېري پرېکاوه شي
په ارمان د هغه وخت یَم دریغه دریغه — که دَ زني سبب ئې بیا د ما په خوله شي
دَ خپل یار د جدایی هسي کار دَئ — لکه ساه چه له وجوده په واته شي
بخته هونبره مدد بیا را سرَه وکړه — چه په غېږ کښ مي بیا تللي یار اوده شي
دَ خوشحال سلام په واړو ښو یارانو
ګوندي بیا مي په لیدو و سرَه زړه ښه شي

په ښه مخ به څو تابان یې — ښه تر میاشتي دَ اسمان یې
که پرون وې زړه او سترګي — راشه نن ځان دَ جهان یې
لکه سیوره په پښو پروت یم — زړه هورې چه ته روان یې
خداې په ښه جمال یوسف کړې — په ګروړونو هم ارزان یې
که دِ دوه کونه قیمت شي — په دوه کونه رایکان یې
دواړه شونډي دي یاقوت دي — مرغلری په دندان یې[1]
په رشتیا وَیل بد مه وړه
خوشحال ستا دَي ته دَ ځان یې

په وار وار دِ د خندا منت را باندي — چه له ورایه را ښکاره شې راته خاندي
چه ئې زړه تر کاڼي سخت دَي پر مین شوم — لاس دِ نشِي دَ سرِي تر کاڼي لاندي
چه بل مخ وته نظر کړم د هِداد شم — توري زلفي ئې دُرې دِي اَوېزاندي
چه ئې توره د غمزو راته تېره کړه — اوس خو بهَ شهیدي دَه ستا دَوراندي
رنګ و بوي دِ د خپل ځان هسي پیدا کا — که په رنګ د یاسمین دَي ګل دَ سپاندي
زه به څه لره له نوره خلقه زار کړم — په ما واړه چاري زړه دي چه ئې کاندي
اوس خوشحال ختِك خپل یار په غېږ کښ ونیو
رقیبان دِ سترګي اړوِي نغلاندي[1]

پښتانه که آدم زاد دي — په خویونو کښ هناد دي
نه حکمت لَري نه عقل — خوښ هر ګوره په فساد دي
نه دَ پلار په وَیل کار کا — نه په نغته دَ استاد دي
چه په دیو ګښ یو ښه وي — دَ هغه دَ سر جلاد دي

---

[1] په خبرو دُرافشان یې.

Downloaded from: ketabton.com



يو دَ بل په کمي ناست دي　ځکه تل په بلا ياد دي
اول زه دا نور له پسه　څو شته واړه دَ هيداد دي
په نفاق ئې واړه ورک کړل　که شجاع دِ که جواد دي
نه ئې قدر شته نه پدل　ډېر تر مور او تر جراد دي
دا لا شکر کړه خوشحاله
چه بنده نه دِي آزاد دي

په گرد کوي توگشتن مراد ځم دئ　بود که روی بينم که کعبه ما دئ
من اين جمال ترا خود مثال کي يابم　که خود جمال تو از ماه و مهر پيدا دئ
منم که غير ترا در جهان نمی بينم　خلاف نيست خبردار حق تعلی دئ
نمی شوم متحمل بروز وعده وصل　بيا بيا که دلم خوار زار بې تا دئ
جدا زروی تو چونم بگويم ای مه من[۱]　چناجچه تشنه وَ اوبو ته نا شکيبا دئ
گمان مبر که بگردد ز عشق تو خوشحال
چرا که بررخ خوب تو ډېر شيدا دئ

په نيکي به له بدانو نه خلاص نشې　بويه دا چه لکه دُوي وِي هسي ته شې
دَ غنمو په لذت به نه پوهېږي　دَ هر چا چه زيست روزگار وِي په اوربشې
دَ غليم سترگي به ټاگڼی خسرِي　که په زړه کښ ورته کسي دَ لېمه شې
دَ بد خواه د بد خواهيه خلاصي نشته　که اسمان ته الواته وکړې مرغه شې
په پاکی کښ به دِ گډی کا ميتاځې　په صفت کښ که بد ذات سر اوبه شې
دروغجن به دِ بيا ليري کا دَ زړه نه　که هر څو ئې په رشتيا پورِي په زړه شې
د بد گويو له ويلو خلاصي نشي　په پاکي که تر فرښتو نه ورته ښه شې
آفتونه په گډون کښ دِي خوشحاله
ښه خو دا چه که دا يم غرڅه دَ غره شې

په ښايست کښ دي څوک نشته دَ سپالِی　که دِ څه خو مهر هم وي نتيالِی
ورځ په ورځ دي دَ خوبی گل غوړېږي　ته لا اوس دا نوي بوټي په زالِی
په پسا له به مينه کا چه رنگ ئې نه وِي　ته گلرنگه څه محتاجه د پسالِی[۲]
ستا دَ مخ سپاهيان همه توري پرې باسي　ولي دوه سترگي دِ لا دِي جنگيالی
زه چه ستا دَ وَر په تورو خاورو پروت يم　راته خس دي دَ بخملو نهالِی
دَ پايلو په آواز سَرَه دِ وېښ شِی　چه پرې درومې تصويرونه د قالی
ته خو اوس دَ زهد لاف کوې زاهده　که ئې وَوينې زړه تينگ کې مرد هالی[۳]
زه به نيت درباندي وهارم باور کړه　که دِ ځای دي د هاتی په انبالی

---

[۱] به آرزويتو چو نم.

[۲] پساله يې.

[۳] هاله يې.

Downloaded from: ketabton.com



خداي دِ امن دَ خوشحال دَ سترگو وکړه
په خندا خندا چه ځي په خوشحالی

په دانا مي دَ ناپوه دیدن الم دَئ　　د ناپوهو د صحبت نتیجه غم دئ
چه دانا مي دَ نادان سَرَه گډون کا　　دا ئې واړه پخپل ځان باندي ستم دئ
بد سړَی که په ظاهر سړَی لیده شي　　په باطن کښ نور څه ندئ مار لړم دئ
دَ بدانو په صحبت کښی دین دینا ځي　　شك پدا خبره مه وکړه قسم دئ
د ناپوه سَرَه په جشن حاضر مشې　　دَ دانا سَرَه قبول کړه که ماتم دئ
که بې عقل تر یوسف ښایسته روغ وي
دَ خوشحال خټك په پوهه یو صنم دئ

پدا قول دَ درست خلقو اتفاق دئ　　گُله ستا خو څو ورځي طمطراق دئ
که دَ رنگ خوبي ئې ستا یې بود ئې نشته　　په جهان کښ که باقي دئ خو اخلاق دئ
هسي یار دِ غوري خداي را کړ په غېږ کښ　　چه په نونس توکه دئ په حسن طاق دئ
لکه تږي و اوبو ته په تلوار دئ　　خسته هسي دا خپل یار د مخ مشتاق دئ
سلامت دِ ارزاني وِي په شیخانو　　ملامت ئې بخره کړي د عشاق دئ
چه یَو ور په سړی وترړي بل وا کا　　رزق به هر چا ته رسېږي خداي رزاق دئ
گه ئې سر له تنه درومي نور به نشي
دا خوشحال چه دَ خپل یار سَرَه میثاق دئ

په ورو ورو څه خو خبر شوم ستا له میني　　لکه اور لیدلي نه لوگي ئې ویني
پردېسي حیران برېشان له خلقه تشي　　دا پتا پسې جوگي شوم که مي وینې
چه په تا پسې ژړا کَوم دَ اوښیو　　عاقبت به دا ژړا وکړم په ویني
چه هغه ساعت په یاد کړم لولپه شم　　چه به تا راته خبري کړې شیریني
څوک به تا غُندي پیدا په جهان نه وئ　　هوسی سترگي، عنبر موئي، مخ نسریني
هغه وخت را څخه ولاړ چه مي به کنبل کړې　　دواړه ستا میگوني شونډې شکریني
که خمتا واغوندې لا ښه شې تر نورُو　　که څو رنگي جامې واغوندې ورېښمیني
ته مي پاس د زړه په سر باندِي میشته یې　　نوري واړه یو سر بل سر دلنشیني
ستا په خوي پوري حیران یم خوي دِ څه دئ　　په ثنا را سَرَه جنگ کړې نازنیني
لکه زه پتا مجنون دا هونبره نه وُ　　نه فرهاد هسي مَیَن وُ په شیریني
عشق تنها څه په لیده دَ سترگو ندئ　　لا دَ خولو په صفت هم کاینې خوړیني
دَ خوشحال د زړه دَ خوني لکه څراغ ئې
لا به کله را ښکاره شې مه جبیني!

په دریاب کښ چه جهاز بیائي نا خداي دئ　　چه ساتي ئې دو بَوي ئې هغه خداي دئ
بادشاهي ئې په نصیب او په قسمت وئ　　چه سایه دَ چا په سر کاندي هماي دئ
څوک چه طمعه له چا کا په حقیقت کښ　　که بادشاه دَ درست جهان شي لا گداي دئ
درته چا وې چه پرې مه پرانزده غوټیه　　تأمل دَ هر سرې گره کشاي دئ

Downloaded from: ketabton.com



یا د ښو زویو سندري وې د زړو[1]     یا د توري په میدان کښ هوي و های دئ
د هغه دَ غلطۍ اندوه نه وئ     چه رفیق ئې په سفر کښ رهنمای دئ
وچ ککړ ټټر داغداغ په منځ کښ هیڅ نه     چه ناري دَ جداییه وهي نای دئ
خوي خصلت وته ئې هم نظر دَ کړو دئ     که جمال ئې په څو رنګه دلربای دئ
په هزار ژبه ئې ستایه بلبله     ګل پخپله دَ خپل حسن خودستای دئ
که باغونه که راغونه که څه نور څه
چه دِ زړه پکښي خوشحال شو هغه ځای دئ

په هر ځای چه قدمونه په خرام ږدي     سل منته پدا مځکه په هر ګام ږدي
زه به چېري آزادي ور ځني مومم     چه دلبره راته تل دَ زلفو دام ږدي
که تر نوم او تر ننګ تېر شوم غم ئې نشته     عاشق هر کله قدم په ننګ و نام ږدي
نه بهار شته نه ساقي شته، نه مینا شته     اوس به څوک ځما په لاس دَ میو جام ږدي
څُوک ئې نه پسندي پما هسي بدنام شوم     دَ نیکۍ نام چه څوک په ما بد نام ږدي
په صحیح سالك هغه دئ پدا لار کښ     چه قدم دَ ترقۍ په مقام ږدي
زه د کښلیو په پښو سر ږدم که نور خلق     خپل سرونه دَ پیرانو په اقدام ږدي
ستا دَ خیال فکر نه درومي له دله     په زړګوټي مي داغونه صبح و شام ږدي
راشه ګوره دَ خوشحال دَ خاطر ویني
په بیاض باندي چه هر حرف د کلام ږدي

په ناحق په ما منت کاندي وګړي     ما دا هسي منت ندئ دَ جا وړَي
زه له ځایه دماغي په جهان راغلم     ما دا هسي دماغ اوس ندئ را وړَي
که درست باغ دَ میو ډک و ما ته کښېږدې     تر همت پوري مي څه دئ یو خسړي
په یوه ښېلك[2] ئې نن تر هر چا به کړم     بل ئې هم دئ په سبا راته نومړي
هغه کوم سبق د ناز او د نیاز دَئ     چه و ما ئې په ایځي[3] ندئ را کړي
په خوږه خندا دَ خضر عمر را کا     په ماڼي سَرَه مي بیا کا لکه مړي
یو څه بند مي دَ غماز په غاړه پرېووت     لا تر اوسه ګرزوم دَ غاړي پړي
له اصلي فولاده هاله تېغ رغېږِي     په وار وار چه ځني لاړ شی اوسپن خړي
دَ جهان په واړو ونو نظر وکړه     هَرَه ونه خپل خپل خوند لَري خپل زړي
زه د یار غمونو درست په زړه رنځور کړم     لا مي نه دئ دَ زړه حال و چا ته سپړي
دَ تازیانو په میدان باندي غوټې دئ     کوټه هم ورپسې زغلي لبغړي
چه و چا وته شمار یا ئې بیان کړم     هونبره غریو مي له فراقه ندئ نغړي
هغه مخ ئې پخپل کور په پالنګ ښا موند
چه خوشحال وُ په طلب ور پسې سترِي

---

[1] یا د ښځو ئې سندري. یا د ښوزوېو سندري د زووو دِي.

[2] محشی ورته غشی لیکلی دي.

[3] ایځګی.

Downloaded from: ketabton.com



په سینه کښ مي اوده مینه پهر جا کې[1] ځما ستا محبت گوره کیسي لا کې
دَ رقیب وینا ئې یاده شوه که څه شوه سپینه خوله ئې په خندا راوړه پهر باکې
په بازي بازي وژلي کټل نشي ځکه ما په مسخرو وژنې بیجا کې
زه خوشحال چه لا له ورایه ور ښکاره شوم
په خندا خندا ئې وې چه اَو میرا بیرا کې

په دا کلی کښ ډېر کښلي چونې چونې خلق دِي وکښلي
ما په دواړو کښ یو یار کړ نور مي شمار کړل لکه کښلي
هغه هم هسي بد خوي دَئ چه په زور را سره نښلي
که د ده له چارو وایم را ئې هېڅ ندي برېښلي
ولي څه کړم پرې مَین شوم چه څه کا واړه بخښلي
خو مَین په هیچا مشې په بلا دی مین لښلي
گاه کباب په جدائي کښ گاه په وصل زړه وکښلي
عاشقان دِي سینه سوي له اندوه سَرَه اَخښلي
په خمار هغه پوهېږي چه شراب ئې دِي نوښلي
په دنیا کښ به هر چا وِئ په ارمان لاسونه مښلي
چه و ما وته ئې فاش کړل څه رازَونه دِي پوښلي
دَ خوشحال غُندي په عشق کښ
نشته نور په رنگ ځېښلي

پښتانه په عقل پوهه څه ناکس دي کوټه سپي د قصابانو د جوس[2] دي
بادشاهي ئې د مغل په زرو بایله د مغل د منصبونو په هوس دي
اوښ له باره پخپل کور کښ ورغلي په اولجه د اوښ دَ غاړي د جرس دي
دَ نفرین لایق په نام سره بنی دئ له اوله که دا نور ورپسی پس دي
بې ننگان دَ بې ننگِی کار و بار کا ننگیلالي د ننگ پکار کښ هر نفس دي
سر ئې هوري قندهار بل ئې د مغار دي
تر دا منځ همه میشته واړه عبس دي

په هر کسب کښ چه یې حبیب الله بې که له خدایه له رسوله نه آکاه بې
په محشر به له تا عدل ایمان غواړي که په تخت دَ پاسه ناست دَ ملك بادشاه یې
نفسه تا دا هسي زه مذبذ بین کړم هم توبه هم گناهونه څه گمراه یې
نور څوک څه لَره بد خواه گڼې ناپوهه چه پخپله دِ خپل خوي، دَ ځان بدخواه یې
زمانه به دِ بد رنگ کا غره شمه که هر څو پخپل جمال کښلي تر ماه ئې
په خاته کښ ئې هیچېری ثقل نشته تل چه پورته کښته کېږي یوه ساه یې
که پخپل گمان کښ ځان و تا ته کوه دئ و قضا وته پمثل لکه کاه یې

---

[1] د دې بدلی د پای کلمې هندی دی چه ذواللسانین صنعت پکښی مراعات شوی دی.

[2] محشی ورته کښلی دی: غولی او انگڼ.

Downloaded from: ketabton.com



دَ خوشحال وېسا په سخت ساعت په تا ده
اې چه ته دَ درمانده وُو پشت پناه يې

په دا څه که دَ بنگښ راته ډنگ ډنگ دئ — زه هم ښه یم د ما هم برغو[1] تر څنگ دئ
عقل زور دَ غوريه خېل تر بنگښ زيات دئ — غوريه خېل را سَرَه هم وَلاړ په ننگ دئ
د بنگښ نه هونبره زور وینم نه توره — دا په کوم توکي له ما سَرَه په جنگ دئ
غوريه خېل که په ناکام ور سَرَه زيست کا — په رضا ورته بنگښ نيولى تنگ دئ
غوريه خېل او بنگښ دواړه مغلي دي — همېشه ورته مغل وهلي لنگ دئ
که زه گورې[2] دُرد آشام ورسره شمار یم — خوار هغه چه ئې لما سَرَه آهنگ دئ
هر ملخي دَ سر بازيه هنر څه زده — چه پدا هنر کښ سر ښندي پتنگ دئ
لا تر اوسه ئې ماغزه په قرار ندي — چا چه ما سَرَه وهلي سر په سنگ دئ
د کينډيو[3] په ځگو کښ ئې گولى دئ — که ليدلَي چا د ما دَ ښکار تفنگ دئ
لا په خوب کښ په لرزه پرېوزي له کټه — چه د چا تر غوږ د ما د توري شرنگ دئ
که پدا دَرومي گورې هغه زه یم — چه مي داغ په خاطر يښَي د اورنگ دئ
درست جهان مي و مغل وته خېبر کړ — ځاي په ځاي ئې پښتانه وَته قلنگ دئ
ځني څه لوئي دعوې لَرم په زړه کښ — ولي څه کړم چه پښتون واړه بې ننگ دئ
خو طالع را سَرَه هسِي مدد نکا — گنېه تېر مي تر فريدونه فرهنگ دئ[4]

د خوشحال دَ زړه د حال ننداره وکړه
که په تخت دَ پاسه کښېني هم ملنگ دئ

تا په دوو سترگو مکحولي — چه ئې واړوې ملولي
په حيرانو عاشقانو — سل بلاوې کړې نزولي
نه ئې شمار نه ئې حساب شته — خلقې دِ کړې مقتولي
راز مي هيچا ښکاره نکړ — ځما اوښی دِی پدولي
نه په سر یم نه په مال یم — نه په ملك یم نه په پولي
پوه په نام و په ننگ نه یم — په فروغي په اصولي
چه دَ عشق الا بلا دِي — همگي مي دِي قبولي
لاف مي ستا دَ پالنگ وکړ — که رسېږم تر مقبولي
هيڅوک نشته چه پرې پوه شِي — ښې خبري دِي معقولي
چارى واړه په قسمت شي — نه په ځَلي نه په ځَولي

بخت په کور ورکړه خوشحاله[5]
تار په تار زلفي مختولي

---

[1] د دې کلمې معنى حل غواړی.

[2] که زه گورې درد آشامو سره مل یم.

[3] دا کلمه حل غواړی.

[4] گنېه تېر مى تر شېر شاه بادشاه فرهنگ دی.

[5] بخت به کور درکړی.

Downloaded from: ketabton.com



ته په څو دَ دنیا میني مبدل کړې  فکر نه رسي هورې پسې جدل کړې
هره ورځ دَ دې فاني دنیا دَپاره  زر فتنې الا بلا دغا دغل کړې
که دِي خپله مدعا پکښې درستېږي  بې صرفه به اور دَ پلار په خونه بل کړې
که کافر درته دَ سود خبري وکا  دَ خپل سود دَپاره ځان د کافر مل کړې
که دِي سل چاري دَ زړه واړه پوره شي  په حرص به دوه سو نورو ته تګل[١] کړې
چه دَ عمر بقا نشته واړه هیڅ دئ  که ګنجُونه دَ قارون په کور کښ تل کړې
چه په دواړُو سترګو ړوند په غوږو کوڼ شوې  لال په خوله غفلت په لاسو پښو هم شل کړې
په پنځه کښ دي دَ ځان رستګاري دَه  ته پدا کښ هم په څو رنګه خلل کړې
که څلور دِئ که پنځه که شپږ اُوه دِئ  له اصلي چارُو ئې واړه معطل کړې
ښې خوږي چاریي دَ دین درته ترخې شوي  نفس ترخې چارِي وَ تا وته عسل کړې
عاقبت به دئ دَ ګور په خاورُو خوب وِئ  چه ئې اوس په نهالي او په بخمل کړې[١]
ستا پخوا هم دَ دنیا طالبان نور وُ  چه[١] ئې مېنې تار په تار خورې اجل کړې
بهشت ځاي دَ پرهېزګارُو دَئ خوشحاله
ته بهشت وَته هوس په کوم عمل کړيې؟

ته چه سترګي تورو‌ې خود به پوهېږې  لونګین چه ښورو‌ې خود به پوهېږې
سر تر پایه جامې واغوندې ګلګوني  ځان چه هسي جوړَوې خود به پوهېږې
تور سنبل دَ باد وَ مخ وَته وَلاړي  چه په ګل ئې خورو‌ې خود به پوهېږې
په ورځ سل ځله آشتي کړې هم جنګونه  هر دم خوي چه نورو‌ې خود به پوهېږې
هم په لاس د میوه جام را کړې چه نوش کړه  بیا مې جام نسکورو‌ې خود به پوهېږې
خپله څه دَ درست جهان فتنې نازُونه  چه عاشق ته پورو‌ې خود به پوهېږې
مګر لږ دِی دَ خوشحال دَ زړه غمونه
باندِي نور تنډورو‌ې خود به پوهېږې

توري سترکي ستا دِي اې زیبا نګاري مستيِ  تور نرکس شهلا دِي اې زیبا نګاري مستيِ
تا چه بوسه را کړه زه پرې بې حسابه مست شوم  شونډي دِ صهبا دي اې زیبا نګاري مستيِ
ما چه ستا دا ښه کنبلي بارخو په سترګو ځېر کړه  ګل د لاله دا دِي اې زیبا نګاري مستيِ
خوله[١] به دِ آخلِي چه پر ستا دَ خاطر مینه  ډېر په تا شیدا دِي اې زیبا نګاري مستيِ
هر چه ستا له ظلمه و نور چا وته فریاد کا  واړه بې وفا دِي اې زیبا نګاري مستيِ
خوب کاندي بې غمه یا ئې چېري قراري شيِ؟  څوک چه بې له تا دِي اې زیبا نګاري مستُيِ
چارې په ما وکړې وائي چاري ځما ندي  ستا نَدِي د چا دِي اې زیبا نګاري مستيِ
تا ووې خوشحال ته نوري لا تر ما زیبا شته
څوک تر تا زیبا دِي اې زیبا نګاري مستيِ

---

[١] خوله به دِ هغه خوري.

Downloaded from: ketabton.com



ته چه هسې حکم ناز کړې په وګړي　　په تا څه دَ چا پوره دَ چا نیمګړي
دَ دریاب سَرَه دریاب وي یو څو وخته　　بیا په هر لوری پراته وي اوبو وړي
چه ئې څو په پورته لوړي لوړي وَړِي　　د هغو مانې وګوره چه لوړي
لکه ته یې بېهوده یاوه باد وړي　　جهان څو دا هسې یاد لَري باد وړي
طمطراق دَ جهان کل واړه عبث دئ　　هوښیارانو وته کم دَي تر خسړي
دا چه تا وته ژوندی دئ ژوندي ندئ　　دا وَ ما وته ښکارېږي لکه مړي
چه خوړې مېوې لري خوشبوي ګلونه　　پخپل باغ کښ دي کښېښووې هغه زړي
په آواز سَرَه سری بندیخانه دئ　　د ښاروي علاج په ترکېږي په پړي
جنتي دوږخي پټ ندئ ښکاره دئ　　خپل عمل دِي په نوم نوم واړه نومړي

زلزله په جهان ګډه شوه خوشحاله
دَ اسمان له شدتونو کنډي رغړي

ته چه خیال په زر زري جامو کړې غچي[1]　　د اسمان ستوري بهي نشي په دا تچي
که بادشاه دَ مملکت شِې په تخت کښېني　　چه به تل په جهان نه وِي دا په پچي
ځان چه کم ګڼې تر بله هغه لوي شِې　　دَ سلیمان ګُتې پدا راغله په خچي
ځما ستا په خوله به مرګ کا توري خاوري　　که ته هر کله حلوا خوري زه خمچي
وداني دَ درست جهان په محبت شِې　　راشه ګوره محبت دَ مچ دَ مچي

زه خوشحال که خپل مین په ژړا مومم
په ژړا به پسې نه کړم سترګي وَچي

ته هغه لیلی یې چه دِ تل په بخره ناز دئ　　زه هغه مجنون یم چه مي تل سر پسې نیاز دئ
ما وې خو یو زه یم نن شهره په عاشقي کښ　　لا تر ما د نور وګړي لاړ لیري آواز دئ
زه تر عشق ځارېږم تر هغو چه عاشقان دئ　　واړه عشق پکار دئ حقیقت دئ که مجاز دئ
رایشی له کومه ځای په څو وکا په زړه کښ　　هېڅ پرې نه پوهېږم عشق یو څه سوز و ګداز دئ
هې دَ خداي دَپاره تفحص را پسې مکړه　　پلار ته وایه نشي عشق یو هسې مخفی راز دئ
توري توري زلفي کبود خال لکه کوتره　　راشه که ئې ګورې پرې بندي یو څه شهباز دئ
سکښي د زړه ولي چه په شونډو کښ موسېږی　　تېغ ئې دَ غمزې دا ځله لا څه تېره ساز دئ

هر څوک یو یو بت لَري خپل بت وته سجود کا
بت دَ خوشحال ته یې تل ئې تا وته نماز دئ

تمامه شپه دَ ژمي په هي هي پما تېرېږي　　چه ته د ما طبیب ئې رنځ به لا ځما زیاتېږي
دا سحر دَئ که مینه که څه لا بله بلا ده　　که هر څو ئې له دِله هېرَوم نه را هېرېږي
خپل زړه وته نظر کړم پدا هونبره محبت کښ　　یَو هسې مستسقي شو چه په بحرنه اوبېږي[2]
یوسف د زمانې دئ درست جهان په روشندلي　　دا یو جهان لا پرېږده چه په دوه جهان پېرېږي
دنیا لکه حلوا دَه، ښه شیرینه مزه ناکه　　حریص ئې لکه مچ دئ باندِي غورزي نه مړېږي

---

[1] په دې بیت کښ دَ غچ او تچ معني جوته نسوه، سید راحت لیکلي چه غُچي یو تکیه کلام دي چه په اصل کښ (خو چه) وُ، دا بیت حل طلب دي.

[2] نه سرېږی.

Downloaded from: ketabton.com



چه ننګ کا ننګیالی دئ ورته ښني دي وه کاره    یا کام دَ ننګ حاصل کا یا دَ دوي مینه سپېرېږی
که مښك[1] وُ که ګوهر وُ همګي ولاړل خوشحاله
و ځان وته وګوره چه اوس څه عمر تېرېږي

توري سترکي ستا دئ بیا په تورو رنجو کړې    دوه توري بلا دئ پرې مي وژنې بابا مرې
وخاندې و ما ته شونډې بوڅې په ناخوال کړې    دا فتنې ښېږې دِ بیا له کومه دِې راوړې
زر دِ که په وَر مري په هیجا دِ زړه سوي نشي    زړه لرې دَ کاڼي بیا خپل ځان بولې ښه زړې
هیڅ در نه پوهېږم که رشتیا وایې که پېڅمي    ما وته دِ خوله دَه په خندا خندا نومړې
پټي پروتي ښې دِي څه به دم وهم و چا ته    ما څه هونبره ندئ ستا فتنې ناسازي وړې
ما وې چه ځما ده موزي یووړه سیه چشمه    څه شو کوټه نېسي دَ پرې هوسیه سترې
ته پدا خیالونو په ښېوو غمزو موجونه    سیند دَ اباسیند سوې چه څو څو ښېړۍ نغړې
څه لَره خوشحاله تا دَ زړه کیسې ښکاره کړې؟
ستا دَ ظلم ندي ما و چا ته کیسې سپړې!

تر هر چا نه د رشتینو کار اول دئ    خدای پخپله دَ رشتینو سَرَه مل دئ
په معنې قلپه روپي زه مخ ئې تور شه    هر سړی چه په یاری کښ په زړه غل دئ
دَ بد بویو بد بوئي به پټه نشي    که په سل پردو ئې ونغاړې بصل دئ
که دَ زړه سترګي دِ شته ننداره وکړه    دَ جهان په واړو چارو کښ خلل دئ
ابا سیند وَته نظر کړه وَدرېږه    ستا دَ عمر دَ اوبو غُندي چل چل دئ
که دَ خولې وَیل دِ ښه دئ پدا څه شې    چه ښکاره دِ و عالم وته عمل دئ
نه به زور پرېږدي نه ځوان نه نن زوولي    چه ناڅاپه ناتارُونه کا اجل دئ
بد کردار به نیك ګردار نشي خوشحاله
دَ شیطان لښکروُ لاندي کړ قبل[2] دئ

تا یاری له ما نه پرې کړه که پښېمان ئې    بیا را درومه هغه زړه یې هغه ځان یې
همېشه د ما دَ باغ زرغون طوطا وې    اوس خبر نه یم طوطا دَ کوم بوستان یې
زاړه هم کله ځوانان وه وار ئې تېر شو    په زړو پوري خندا مکړه که ځوان یې
یو جهان دا د ظاهر بل د باطن دئ    راته ووایه دَ کوم یَوه جهان یې
که طامع په سریر پاس کښېنې ګدای دئ    که وَاَز وَته دِ شا کړله سلطان یې
په بل ځاي مي پېرځو نه یې دَ یار غمه    ته د ما د زړه د مات کودي[3] ریحان یې
غم الم به دِ وَ نه رسیي وَ زړه ته    که دَ خپلي ژبي هر کله پاسبان یې
ته جوهر دَ لویی نه لرې خوشحاله
د کم شناختو په بازار هسي ارزان یې

---

[1] محشی ورته لیکلی دی چه مطلب له مشك وا ګوهره تور وېښته او غاښونه دی.

[2] محشی حصار ورته ښلی دی.

[3] دا کلمه عیناً ولیکه سوه تصحیح او حل طلبه ده.

Downloaded from: ketabton.com



تا چه دانا سازي چاري دي را کړي　　لا دِ خوار سره نده بابا مړي
چه مي هسي شان په خوارو سترګو ګورې　　ما دِ دا ناسازي نه دئ چا ته سپړي
ته پدا حسن دَ ګل غُندِي پيدا يې　　بورې[۱] مور که ښاپېرئِ يې را وړې
راته وايې صبوري در څخه څه شوه　　تا په تورو سترګو نده له ما وړې
بيا په کوم توکي دا هسي بې قولي کړې　　تا وَ ما ته سپينه خوله نده نومړې
دَ تقوا سپاهيان چه ستا په کوڅه تېر شي　　دَ عمزې په تېغ ئې کښېنوي پڅړي
دَ خوښئِ مفرح را عنايت کړه　　تا دَ غم ګولئِ ډېري دِئ را نغړي
ګوره کوم به دِ په بخت په طالع مومي　　خلقې دِئ په طلب در پسې سترِي
په پله پله در پسی ځم دَ پرېښو نه يې　　ځايګهي ويشتلي درومي له بغړي[۲]
چه مَيَن شوې درست دَ يار په رضا درومه
اوس که خپله رضا کړې خوشحاله پرې[۳]

تر دا دوو سترګو مي اوښي بهېدلې　　په فراق کښ تر لَمنی څڅېدلې
ستا دَ وصل اش رمق دَی راته پاتُو　　وايې څه رنګه بې ما نه پائېدلې
ستا په غم کښ مي دَ زړه نندارِه وکړه　　بکښي واړه سرې لمبې وې بلېدلې
دا هم بخت چه په بالښت دَ خسته راغلې　　وی دي اوس په زکندن ئې خندېدلې
زه نه ګرم نه ملامت نه مِي حؤک يار کړ　　ته په کوم توکي دا هسِي قهرېدلې
ځاي په ځاي درته بلبلُو مېشته وکړه　　لا دئ اوس دَ باغ غوټئِ غوړېدلې
اوس دِ يار په غېږ کښ ونيوه هوس کړه　　چه ئې ډېر په بېلتانه کښ رنځېدلې[۴]
ځکه تل دَ باد له لاسه خوري څپړي　　چه له قد سَرَه دِ سرو سمبېدلې
اوس ئې جور و جفا وړه دا دئ سزا دَه　　فکر وکړه چه په چا مين کېدلې
دَ رقېب ګونه چه نده شوه لېده دئ　　چه وَ ما ته په تولی کښ موسېدلې
په زړه ياد لَره دا اور چه دئ را بل کړ　　يَو تر شا نظر دئ نه کړ تېرېدلې
بې دَ يار له مينی واړه لکه باد دئ　　چه په زړه مي ډېري ميني ګرزېدلې
چه په تلل شوې له خوشحاله لکه عمر[۵]
که ئې ډېره بلا کړه نه درېدلې

تورو زلفو دِ په غوړو دِئ خولې ښئي　　په څو تار په تار پرېشاني سَرَه نښي[۶]
دا ځما دَ پرېشانيه نه څه وائې　　که ئې لا نوري اوړدې دِي درته بلښي

---

[۱] بلی.

[۲] د دې کلمې معنی حل غواړی.

[۳] مخفف دی د پریي یعنی ملامت هستی.

[۴] پخسېدل.

[۵] لکه عمر له خوشحاله.

[۶] تشی.

Downloaded from: ketabton.com



نندارچي چه ورته گوري کټ کوټ کېږي    دَ مخ نخښي دِ بلا دِي کوښي گوښي
تر لبانو دِ خجل آبحيات دئ    په باڼه په سترگو سهم و تېر کښي[۱]
چه مين شي قبلوي مکر دروهونه    په ياري مي قبول کړي که بنگښي[۲]
زه خوشحال دِ دَ بدئ نېکي گواهي لم
دَ ښايست مخي دِ نشته په خوي وشي[۳]

ته چه دا دماغ لرې    څوک به څه فراغ لرې
توره شپه دِ د دواړه زلفي    پکښي مخ څراغ لرې
دا د خال دَ ورځيو ندئ    دا دَ زړونو داغ لرې
واړه باغ دَی په گلونو    يو څه کښلي باغ لرې
که ساعت دئ ساعت دا دئ    چه په لاس اياغ لرې
چه طوطی دِ دَئ په لاس کښ    څه نظر په زاغ لرې
بيا و کوم لوري ته ورک شو
دَ خوشحال سراغ لرې

ته چه دا ښکلې چهره لَرې نگاري    ځکه تا په عاشقانو وَکړې چاري
چه دِ لاري دَ ديدن راباندي بند کړې    د ما اوښي په گرېوان ځِي لاري لاري
چه گهي گهي دِ وَوَينم له ورايه    دا لا هم بې بخته نه يم شکر باري
هره ورَځ تازه مانَي تازه جنگونه    تَل دِ ما ته تېرې تورِي دِي تياري
که دِ غاښ و شونډِي گورم دُر مرجان دي    که دِ مخ وته نظر کړم مه رخساري
دريغه نور نور سحرگر په ملك پيدا شوي    چه دا ستا سحر ئې مات کړَي سحر کاري
خو په ما باندِي چه راشِي ځان نادان کا    گڼه نشته نوري تا غُندِي هوښياري
په کوڅه ئې باد گدر نکا خوشحاله
ته له کومه ساز وې ورته ريباري

ته چه سر تر دېوال هسك کړې سړی گوري    د کس تا ونخښي دِ نشته تر وا نوري
که دِ زړه د غينې په عشق نه وِي بايللَي    په واده په وير څه هر لوري ته ښوري
پرده پوښي په ضرور وزي لمانځه ته    سترگي وازي په بازار گرزِي سر توري
يا ئې نيت د کاسيرئ[٤] يا د مېړه وِي    هره کنُډه چه لاس سره کا سترگي توري
په هغې باندي گواهي دَ بدئ وله    چه ئې گنبت په نورُو خونو خپل وَر پوري
د مېړه په رِېره نه خاندِي نور څه کا    چه دَ بل سَرَه خبري کا خمسوري[٥]
دَ خوشحال وَيل به بې مضمونه نه وِي

---

[۱] تير کښ يې.

[۲] بنگښ يې.

[۳] وش ئې.

[٤] فاحشگي يا قحبه والی.

[٥] آسان، آزاد، بې باک.

Downloaded from: ketabton.com



چېري نه چه ئې مزاقو سرَه شموري

ترمکې تر مدينې ولاړې حاجي      لا دَ نفس له خويه هيڅ نه يې ناجي
صفائي دَ زړه په کار ده نه دَ ږېري      څو په ږېره گرزوې شانه عاجي
صوفي لافي دَ سلوک کا هم دا لافي      سراسر گنه دَ ده بې منهاجي
په ملا توره تياره شوه چه حق پوش شو      که په لاس ئې فتاواي وِئ سراجي
علم څه دئ په معني کښ گبينه دئ      کاسه هم ور لَره بويه خراجي
دا تاراج لکه شيخان کاندي په مکر      افريدي ندي دا هسي تاراجي
دا ئې سحر دَ بابل د مځکي راوړ      چه درست اوښ په کُت کښ ومانده حاجي
نور به وساتم خپل رخت پخپل صندوق کښ      پدا ملك دَه دَ ښه رخت بې رواجي
نه جيحون دَئ نه سيحون دئ لا افزون دئ      دَ خبرو دريابونه مواجي
که صاحب په لاري پلی نفر سپور ځي      خو هم بيا صاحب صاحب پاجي پاجي
له اوله تر آخره په جهان کښ      دَ سيد غُندي حؤک نشته معراجي

زه خوشحال ختك په حب دَ اهل بيتو
خارجي او رافضي کړم اخراجي

تور وربل به ئې وَ چا وَته غوړېږي      په وصال به ئې دَ جا ټټر سرېږي
دَ شونډانو له بوسې به ئې بس نکړم      په خوږو نباتو کله څوک مړېږي
نور به کومه آرزوي لَري په زړه کښ      چه ئې سترگي کښلي مخ وَته غړېږي
عاشقان تر تورُو خاورو لاندي نه مري      پدا سپين وېښته به څرنگه زړېږي
بيا به توري بلا لا توري بلا کا      چه ئې تور رانجه وَ سترگو ته اوړېزي
دَ ښو ناوک ئې نه دري تر زغرو      څوک به هسي ناوکيو ته برېږي
دَ فراق غمجن په مرگ تر ژوندون خوښ دئ      چه په غم کښ په آه آه سَرَه سرېږي
دَ جهان عمارتونو ته نظر کړه:      ځني نوي نوي شي ځني نړېږي
ما وې نن دَ زمانې ژبه ورزه يم      يوه کس وته د ما ژبه اړېږي

د دې باغ گلونه لړ ندئ خوشحاله
تازه تر تر تازه ترو نور غوړېږي

تازي سپی چه په نمرۍ مومې وېريا دئ      سپين و سره باندي ښنده که په بهار دئ
په کوټه باندي دا دواړه حبطه دئ      چه د تش په غولی گرزي هم بلا دئ
که ئې ته په منت مومې دا يې مخله      که دَ چا په باغ کښ بوټی د کيميا دئ
بخت چه کوږ شي يوه تن ندئ راوړي      چه د خداي باندي پېرځو دئ د هر چا دئ
دَ اسمان پېرې دائم نه وئ يکساني      که ئې څرخ دئ نن پتا کانده په ما دئ
يوه ورځ به ئې دا رنگ زيبائی نه وی      راشه گوره چه گل څه رنگه زيبا دی

دَ هر چا ياران دا هسي بې وفا دئ
که خو يار دَ خوشحال هسي بې وفا دئ

Downloaded from: ketabton.com



ته دِ تل اوسې پدا شهر یاری کښې — که زه عمر تېروَم پدا خواري کښې
غم دَ یار دَ جفا هیڅ را سَرَه نشته — خداي دي ما بې پته نکا په یاري کښې
هغه یار دي خداي له هرَه رنځه ژغوري — زه که پروت یم همېشه په بیماری کښې
په زاري زاري به ما په ځان مَیَن کړ — که ئې مینه زیاتېدلای په زاری کښې
لکه باز دَ زړه په وینو آموخته شو — بل به نه وِئ هسې ترُک په خونخواري کښې
دَ رېبار منت ئې ډېر را باندِي بار دئ — چه مي یار مونده دَ ده په رېباري کښې
خداي په ما باندي نادان کړ بخت مي تور دئ — که وېښته چوي په ډېره هوښیاري کښې
نا قرار دَ خوشحال زړه همېشه ښه دئ
یو زمان دِ نه وِي بند په قراري کښې

جهان شرم نام و ننگ دئ — که دا نه وِي جهان ړنگ دئ
چه وفا ور ښځه نشته — گل به څه کړې چه خو شرنگ دئ
چه ئې عشق تر سَرَه کړي — نور حڅوک نشته خو پتنگ دئ
د ښایست کمی ئې نشته — ولي یار می په زړه سنگ دئ
ترښکندځلو ئې ځارېږم — بیا ئې چا سَرَه دا جنگ دی
په ښاغلیو جهان آرت — په غوولیو باندِي تنگ دئ
ښه چه راغللې په غېږ کښ — بیا مي لېري دَ زړه زنگ دئ
چه خوشحال باندي ناستې کا
دا پوزَي ندئ اورنك دئ

چه پخپل عیب بینا شي — سړی هاله درست دانا شي
ناداني ئې پټه نده — چه له ځانه ئې ثنا شي
دَ بلا اندوه به نه کا — چه له خداي سَرَه اشنا شي
په دنیا به دین حاصل کا — چه خبر په لَن تنا شي
په جهان باور پیدا کا — چه رشتینې ئې وینا شی
چه غني په قناعت شو — له هر چا ئې استغنا شي
ابدي ژوندُون به خپل کا
چه خوشحال غُندي فنا شي

چه توفیق ورکَوي رب العالمین دئ — له آزاده په ستنه اوسه درست دین دئ
په هر لور چه غورزوي سړی هوا ده — دَ هوا فرس وَ هر لوري ته زین دئ
څوک چه خوښ نه وي له ځانه هیڅوک نشته — هر سړی خپسر دانا گټي یقین دئ
په بهبود دَ خپلي چاري هر څوک مټ کا — پخپل زړه کښ هر تنگ خرڅ بالا نشین دئ
دَ دستار دَ سیوري رنگ واړه یکرنگ دئ — که دستار په سر یا سوریا تور و سپین دئ
حبشي که په ځان نوم د کافور کښېږدي — سر تر پایه و هر چا وَته مبین دئ
ازمېښت دَ دهرو گوره خوشحاله
چه ملك دَ شیاطین سَرَه قرین دئ

Downloaded from: ketabton.com



چه خون په غاړه کېږي له دې کاره څه خو غم دئ    یاران ځما په کور کښ زه په کور کښ یم ستم دئ
چه هونبره ښه مخونه پدا خاورو کښ په گور دئ    چه د یو لَره درومم گور و ما وته ارم دئ
پیري داغله زبون شوم که څه نور څه علالت شو    چه زه کړم هغه نشِي هغه ملك هغه عالم دئ
که ښه وایم وَ چا ته هم ئې بد نیسِي په زړه کښ    یا بخت دي دَ مغلو یا ځما څه عقل کم دئ
نه بخت دي دَ مغلو نه زه هيڅ په عقل کم یم    دا کل واړه پېري ده چه مي کار برهم درهم دئ
مغلو ته چه گورم هغه هسي مغل نشته    د تورو وار ئې تېر شو اوس ورپاتو یو قلم دئ
پښتون په زرو نیسي په فریب په ټېټالونو    په ما ئې اثر نشي لا په ما دَ خداي کرم دئ
نه مچ یم نه کارگه یم چه په کړو مرو کرزم    یا باز یم یا شاهین یم پخپل ښکار می زړه خرم دئ
که ما غُندي نور هم وَئ پدا کار به ډېر خوشحال یم    چه ما غندي څوک نشته ځکه پروت را باندِي غم دئ
ایمل خان دریا خان دواړه په ښه رنگ تېر شول په ننگ کښ
دَ دواړُو په فراق کښ ځما تل آه و ماتم دئ

چه تا گورم حیران شم چه ته څه رنگه بشر یې    زووَلي یې له حوري که سرِی پرِې پیکر یې
د ماء و طین له میانه څوک دا هسي پیدا ندئ    پدا حسن جمال تر میاشت و نمره لا بهتر یې
چه شونډو ته دِ گورم تر یاقوتو لا تېرَي کا    چه زلفوو ته دي گورم په عنبرُ معنبر یې
که هو څو دَ لاله گلُونه ښه دِي په چمن کښ    په دواړو اننگیو داغ دَ واړو دَ ځگر یې
که خوار دِي هغه خوار دِي چه محرم دي له دیدار دي    که سخ دَي د هغو دَي چه ئې ته نورالبصر یې
که آه نالش مي وَکړِ مسلمان نه یم کافر یم    را واخله تېره توره که مشتاق دَ ما دَ سر یې
په حسن په ښایست کښ دِ څوک سیال په جهان نشته    که دا عیب دِ نه وَی چه په زړه لکه حجر یې
زه ستا له ډېره غمه همېشه په آه واوه یم    په څو په آسایش بې غمه پروت پخپل بستر یې
خوشحال وته دِ ووې چه بې ما به په څو پایې
په څو به ژوندَی پایم ته مي خود په حال خبر یې

چه دا هسي بې نیازي کوې دا ښه کړې    زه به نور یاران پیدا کړم ته به څه کړې
دَ بل ځراغ غُندي په شپه دَ هجران راشه    چه په راغله مي روښان د واړه لېمه کړې
خوله ما نه نوره مکړه دَ زړه مینه    نور مي کل واړه منلي دِئ چه څه کړې
د ما زړه ورځَني صبر وُ چه گنگ دئ    نن ځما طوطا یو څو خبري وکړې
په ژوندون له ما نه مه ځه دَ یار غمه!    ته به سم د ما له ساهي سرَه تله کړې
گوره بیا دِي څه په زړه کوم مي گناه دئ    چه لیدو لَره دِ درشم ځان اُوده کړې
دَ غمزې توره دې ماته شه په ما کښ    غم می دا دَئ پس له ما به نور پر مره کړې
وایې ستا په عیادت د ما رضا ده    مگر ومرم هاله سر د ما په وره کړې
چه تر خولې د بېلتانه دَ وېل وباسی
د خوشحال ختك روزگار په اور اوبه کړې

چه دَ پلار په نصیحت نکا ږغري    دَ هغه زویه دانه شه په مري
دَ پرُون ورځَي به نن حلاوت نه وئ    که ئې گورې ورځ په ورځ ده کهتري
لکه موږ دَ بابا زویه وُو په نغته    اوس په دا دور له چا طمعه لَري
که له پلاره زویي مومي په راي درومي    گڼه نکا زیست روزگار دَ پسپري

Downloaded from: ketabton.com



نور ئې واړه سربښتې برهم درهم شوې     خو په ځاي دَه سربښته د نوکري
دا هم هيڅ حق دَ نمك ته نظر نكا     په نايافت كښ بهانه غواړي نري
اوس په سپينه ږيره زر غواړه خوشحاله
كه په زړه لري دعوې دَ سر دري

چه په خيال په زر زري جامو كښ درومي     كه نظر په خوار وكړې ثواب به مُومي
بكښې ځرنگه هوښيار مرغونه بند دئ     ستا دَ ورځيو خال دانه دي زلفي لومي
ستا دَ شونډُو سره به ولي هسي نه وي     چه پرې هر كله دَ زړونو ويني شومي[1]
زه به تا غلطه نكړم په ټولی كښ     كه هر څو دَ خلقو[2] جونه شِې هجومي
دَ مجنون مينه يواځُې په ليلي دَه     تر نظر پوري ئې نوري دي معدومي
ناز نخرې ښېوې غمزې فتنې خيالُونه     پدا كار به وِي تا غُندِي څوک سلومي
دَ ښايست سَرَه هزار كارُونه نور دئ     چه ئې ته لرې، نه نوري بروسي شومي
چه رضا ئې په جفا وي نور مي ستايي     دَ دلبرُو خرخښې دِئ را معلومي
و خوشحال ته چه دَ نورُو نوم آخلي
بې له تا[3] به مينه ما ته شِي په كومي؟

چه په سب دَ ابوبكر د عمر دئ     كه په خوله كلمه لولي هم كافر دئ
دَ هغو په مرگ ثواب گټلَي بويه     چه بدگوي دَ ذي النورين دَ حيدر دئ
رافضي خارجي دواړه باور وكړه     تر سگانو تر كوسانو[4] لا بتر دئ
تر مهدی پوری يوولس دِی يا دوولس     چه همه زويه نمسی دَ پيغمبر دئ
همه واړه امامان وه دَ خپل دور     همه واړه دَ دنيا دَ دين سرور دئ
له اوله تر آخره كه گروهېږي     دَ بي بي اولاد مي واړه نور بصر دئ[5]
چه دوستي ئې دَ سيد نه وِئ په زړه كښ     دَ هغو سرِيو تل خاوري په سر وئ
تر هلال او تر بلال (رض) ئې صدقه شم     لا رانجه مي دَ پله خاوري دَ بوذر (رض) دئ
په سرو زرو كښ كمي دَ قدر نشته     صحابي دَ پيغمبر واړه سره زر دئ
زه خوشحال خټك هغه سني مذهب يم
چه ياران را باندِي واړه برابر دِئ

چه په سپينه ږيره كا ځواني نكاري     پخپل ځان باندِي به و كا ځني جارِي
كه په خوله دَ زاړه يار تر سر جارېږي     په زړه ندی ځواني هيڅ دَ زاړه يارِي
نيك و بد پدا جهان كښ پيدا كېږي     نيك و بدي دَ زاړه نه دئ وېزارِي
خو ښه ځوان د ځواني ښځَي په غرض دئ     كه بادشاه وِي دَ زاړه نه وِي آزارِي

---

[1] د زړه ويني پشومي.

[2] د خلقو خونه.

[3] بې له تا ئې مينه.

[4] دې كلمې ته محشی د خربشوی ترجمه ليكلې ده.

[5] د بتول اولاد دی واړه تور بصر دی.

Downloaded from: ketabton.com



پـه کم ذات پـه اصیل هیڅ ندِئ راغلي　　ښځې واړه دَ ښه کار دِي طلبګارِي
زوړ دِ ځواني ښځې نکا که ئې کاندي　　فکر بويه چه له ښه ځایه دي بارِي
له ښه ځایه له ښه کوره ستر پوښي　　په حیا په شرم ننګ وِي خبردارِي
چه په پلار نیکه دَ ننګ و ناموس نه وِي　　هغه ښځې قباحت ته دِي تیارِي
اوس پخپلو زَړو خوښ اوسه خوشحاله
دا د دَور ځواني مکړه ناپکارِي

چه خداي په بت مین کړم که دا عیب دَي هم وِي دي　　سجود که دوثن کړم که دا عیب دَي هم وِئ دي
عالم وائي عاشق شوې زه سوګند خورمه چه کله　　درست خلق دروغجن کړم  که دا عیب دَي هم وِئ دي
که نور خلق خپل زیست کا زه سر تور مسله لنګه　　په ملك ګرزم دیدن کړم که دا عیب دَي هم وِئ دي
کافر یم که ئې وباسم هغه ساعت له ژبې　　ستا نوم چه زکندن کړم که دا عیب دَي هم وِئ دي
که ستا کوڅه جنت سَره څوک سَمه راته کښیږدي　　کوڅه به دِ وطن کړم که دا عیب دَي هم وِئ دي
تحسین لره بل نه لرم چه هونبره ډېره مدحَ　　د خپل شعر سخن کړم که دا عیب دَي هم وِئ دي
چه ځوان وم دا یم زوړ شوم په رشتیا رشتیا خبره　　عالم د ځان دښمن کړم که دا عیب دَي هم وِئ دي
شیخان او زاهدان واړه پټ پسې شا ویل کا　　په مخ ئې منبرهن کړم که دا عیب دَي هم وِئ دي
که نور په صهبا مست دِي زه خوشحال په خرابات کښ
مستي ئې په دیدن کړم که دا عیب دَي هم وِئ دي

چه مي ولېیدې دا ستا سترګي خونخواري　　چه تر اوسه لا ژوندَي یَم شُکر باري
په یارئ به دِ هېښ وِي چه غلط شِي　　چه څلور پیسې لَرِي دَ هغه یاري
ما یَوه دَ زړه په غوره دهَ نیولې　　که هر څو په جهان ډېري شِي نګاري
وې[1] ئې څو لرې ګِلې ځما زړه کښ　　تر حساب و تر کتاب تېري بېشماري
دَ مېړي چه وزر نه وِي هونبره ښه وي　　قباحت دَي تجاوز له خپلي چاري
اوس به ولي په غلا غلا دَ میني کار کړم　　چه په حال مي خلقې شوې خبر داري
په خاطر به دِ قراره قراري وِي　　که دا خپلي سترګي ونیسې قراري
بې اثره به دا اوښي پاته نشِي　　چه مِي ورځ او شپه په مخ ځِي لاري لاري
نه یواځِي دَ لاله په زړه کښ داغ دي　　په دا باغ کښ سینې ډېري دِي داغداري
په خوشحال ئې عندلیب غُندِي اور بَل کړ
چه پلَو له مخه واخیست ګل رخساري

چه صحبت د ملوکانو سره کاندي　　بويه دا چه  ویل نه کا لاندي باندي
په رشتیا وَیل دِ هسي باوري شِي　　چه پیدا کا خپل عزت د ده دَ وړاندِي
که ئې دواړه پښې تېاکي په خدمت شِي　　د خدمت منت د نه[2] کا په ده باندِي
حاسدان به ئې زوال د دولت غواړي　　همېشه دِ لوګوي[3] و ځان ته سپاندِي

---

[1] وایي څو لرې.

[2] وَنَکا.

[3] یعني دُودَوِي.

Downloaded from: ketabton.com



د غضب په وخت دِ ليري ځني گرزي　　د خوښي په وخت دِ عيش ور سَره کاندي
چه نادان ته نصيحت وايې خوشحاله
دا دِ واړه ناداني دَه په ځان خاندي

چه نظر دِ په اغيار هورې دلې وئ　　ځما اوښي په بارخو ولې ولې وئ
ته چه هسي ښايسته يې گرم خو نه يم　　که مي تل در پسې هسي وا ويلې وئ
چهري نه چه څه دِ ورسي خاطر ته　　که له چا سَرَه مي تشي تسلې وئ
يو ځل بيا سر توره مسته را ښکاره شه　　چه گيسو دِ په سپين مخ شملې شملې وئ
ته به وايې دَ گلاب په گل شبنم دئ　　چه بارخو دِ د نماستې په وخت خولې وئ
دَ رقيب له ويرى بل لوري ته سترکي　　او دَ زړه مي ستا وَ مخ وته حملې وئ
په عاشق باندِي دَ پلار نصيحت اور دئ　　اوس به چهري د دې نور خلق په خولې ويرئ
چه له سترگو مى[1] غرېږى غنم رنگه　　جدائې ئې لکه قحط دَ غلې وئ
د ناپوهي خوبا ټول مهر په يار شي　　دَ هوښياري په سر څو تېري ماملې وئ
زه خوشحال به دِ وانوړم له ليدنه
په دربار دِ که هر څو پروتي کلې وئ

چه دانا نه کړې گردش دَ زمانې　　نور به زده نه کړې دانش د زمانې
زر پيرې لَري دَ سترگو په ځنبل کښ　　خبر دار شه په روش د زمانې
په يوه زمان دِ شاه بيا دِ گداي کا　　څه باور په نوازش د زمانې
په خزان کښ دَ بوستان په ونو راشه　　څه وُ څه شو بيا پوشش د زمانې
کله مځکه سپېره ډاگ کله گلوُنه　　څه اميد په آرايش د زمانې
د سفله غُندي ئې ورکړل را نيول دئ　　غره مشه په بخشش د زمانې
د حلوا سَرَه ئې زهر هلاهل دئ　　که لذت لَرى خورش د زمانې
پت اميد دِ پلار دَ زويه سَرَه پرېکا　　څوک دِ نه غواړي سازش دَ زمانې
شاه جهان بادشاه دَ چا په بند بندي دئ　　راشه گوره آزمايش د زمانې
حقيقت ئې سر تر پايه را معلوم شو　　راته مکړه ستايش د زمانې
زر علته زر فساده زر عيبونه　　پيدا کېږي په کاوش د زمانې
چه ئې شا کړه دَ دنيا وَ آسايش ته　　هم هغه کا آسايش د زمانې
چه دا هسي ئې گردې دَ زړه پياد وئ
لا خوشحال لري خواهش د زمانې

چه دا هسي ورَځي غوټه کړې خبري　　بد خواهان به زړه را يخ کا شېوه گري
يا ځما تر فهم ښه شوې، عاشق ړوُند دَي　　يا څوک نشته په ښايست تر تا نادري
ستا تر شونډُو تر غاښونو به ئې ځار کړم　　که ياقوت دِي که سره لال که مرغلري
دا څه جام دَ ميو نه دَي چه ئې ته څښې　　دا مي ويني دَ عاشق دِي چه ئې نغري
هغه کار لکه دوه تورُو سترگو وکا　　هسي کار نشې په توره[2] په لښکري

---

[1] ئې.

[2] په تورو په لښکرِ.

Downloaded from: ketabton.com



دوه قدمه بېلتون هم له ياره مرگ دَي        څوک په څو[۱] پايي ژوندَي له ياره لري
دَ بنو ناوک ئې ښـوَي درومي تر زړونو        دَ ترکانو غَشي ښوَي درومي تر زغري
دواړه شونډي يي د خوشحال خټك په خوله کړه
د طوطيانَو ور کوَي خلق شکري

چه مې زړه پسې مېښ مېښ شي        صبر و هوښ پسې لېښ لېښ شي
د هغو شونډو شربت به        يا نصيب چه کله چيښ شي
په پرهار مي ظلم کېږي        چه توبري ځَني وکيښ شي
په خزان کښ نوري وني        توان لري چه سبر سريښ شي
زه ئې ناسته په پالنگ يم
که خوشحال له خوبه ويښ شي

چه ژوندی دي غم دئ نکاندي د لوړي        شنه طوطي لَرَه شکري نه دِئ لړي
په شکروُ په نباتو ئې[۲] سود نشِي        چه په چا [۲]شوې ستا دَ خولې خبرې زوړي
په لحظه لحظه دي ووينم قهر قهر        په ځايي خصلت دا هسي خوړې[۲] خوړي
ستا په لبو[۲] به لباب شم په دا خوښ يم        که هر څو مي دَ اوره غُندي اَغړي
دا چه اوس درته حاضر دئ ښه ئې گوره        په هجران به ئې آخر لاسُونه مړي
عقل و هوښ ئې و سرِي وته پيدا کړ        دا چيچل داړل دَ پړانگ دئ يا د يړي
دا بېدرد که په ظاهر سړي ليده شِي
وَ خوشحال ته مج مېړي دئ ماشي سپړي

چه ما کړی په جهان کښ رڼا سترکي۲        بې له تا مي خوړې نشوې په چا سترگي
که ستا[۳] له مخه وگورم بل مخ ته        په قطع دئ ړندې شِي ځما سترگي
ښکاري چه غرځه وُلي ورته گوري        ته يو سر بل سر مکړه له ما سترگي
هر گور[٤] مي له هيبته وار خطا شې        چه[٥] واړوې دَ ما ته شهلا سترگي
خوشحال غريب په در درته وَلاړ دئ
ته هم کله و ما ته کړه وا سترگي

---

[۱] به څو.

[۲] سترگه مفرد او جمع ئې په اوسنی املا سترگي په معروفه يا راځي، مگر چه په اصلي نسخو کښ د گاف په زېر وُ نو موږ پر خپل حال په دغه رديف کښ پرېښو.

[۳] که زه ستا.

[٤] هر گوره له هيبته.

[٥] چه ته واړوې.

Downloaded from: ketabton.com



چه مزري خپلي منګلي نه کا کښلي    هونبره نه وِئ ځربي غوښي ورته تلي
مرجوښا[1] دَ دُر مرجان هاله اُلجه کا    چه قبول کاندِي دَ بحر خوني ګلي
عاشقان چه تر سر تېر شِي هاله کُښل کا    دَ دلبرُو پستې خولې لکه بخملي
باز چه والوزي له ځَالي هاله ګورِي    دَ کبکانُو ښايسته سترګي کجلي
چه دَ اور بځرى باد سَره رفيق شِي    بيا هاله کا په ملکونو لمبې بلي
چه سيلاب دَ غره دَ سَرَه نه روان شِي    بيا هاله بيا يې په مخ ډېري خځَلي[2]
په تحصيل پسې ئې ځَکه[3] کوښښ بويه    که قسمت به دَ چا زيات نشي په ځَلي
خبر هنر له لاسه مه پرېږده خوشحاله
خوره خوره وه وه واړه غصې خورولي[4]

چه و باز ئې   ورکوَلې تېريې نوکی    تر ټټو به ئې يستې دَ زرکي څوکي
دا باښې نظر دَ چتیٰ[5] په لکیَ    د شهباز نظر د ميور[6] په څوڼکي
دَ کارګه توره مشُوکه دَ ګندګی دَه    قند لايق دَئ دَ طوطي دَ سرې مشوکي
د ګلرنګو ناز په هر کله دَ وړو دَئ    بيهوده بې ځَايه ناز کا رنګ املوکي
يا به سر دَ خپل ورمېږ په وينو رنګ کړم    يا به کُښل کړم دغه ستا شونډی ملوکي
آفرين دِ په دا تورُو شهلا سترګُو    چه ئې کښلي دَ کشمير کړلې مملوکي
لا به کله هغه ګل په چمن راشِي    دَ نرګس ګلُونه ګورِي سترګي بوکي
دَ هجران له غمه هيڅ سرَی خلاص ندئ    څوک په ورو ورو ژړا ژاړِي څوک په کوکي
چه توبه دَ مُلو کا، په وخت دَ ګُلو    پرې ښايي که دَ هغو په ږيره توکي
يا د ښو زلميُو ږغ دَي په ميدان کښ    يا دَ ښو دلبرُو ځَي په جهان کوکي
دَ زاړه خوشحال ځَوانی په بوسه نکا
پښتنې جونه بخيلي بد سلوکي

چه يَوه مي دَه نېولې    په رشتيه مي ده نيولې
لکه يو يو مرد ئې نيسي    هم هغه مي ده نيولې
څوک دِ هيڅ ملامت نکا    عجب ښه مي ده نيولې
اوس به نه درومي له ما نه    چه له زړه مي ده نيولې
په هيڅ رنګ به پرېښوه نشي    چه تر پښه مي ده نيولې
ګُندي وِي را باندِي راشِي    سر پره مي ده نيولې

---

[1] يعني غواص.

[2] يعني خس او خاشاک.

[3] ځله.

[4] دا مصراع حل تلبه ده، په نسخو کښ ئې املا مختلفه ده مثلاً (خوره، خوره دواړه غصې خورولي يا خوره خوره وه وهه واړه غصې خورولي.

[5] د شتی په.

[6] يعني طاوس.

Downloaded from: ketabton.com



که ئې نه وينم په سترګو ښايسته مي ده نيولې
ګُندي سَمَه شِي عالمه که کړه مي ده نيولې
د خوږو هيله خوشحال کړم
چه ترخه مي ده نيولې

چه يو ګړَي په جمعَ زړه ښه مخ وته وګورِي
که درسته دنيا ستا شِي هم څه نده دا تر پورِي
دا خوي ځما قديم دَي چه[1] ما اوس ندَي راوړي
چه بې له زيبا مخه راته خس وې چاري نوري
دَ خلقو تهمت يَو سر دَ هجران غمونه بَل سر
هم ته مي به له هسي رنګه سختي بلا ژغورِي
دا اور چه په ما بَل دَي دَ خپل يار له جدايی
نه ګرم نه ملامت يَم که تل ويني ژاړم توري
آشنا ته وايه نشِي نا آشنا به څه خبرېږي
دا راز چه له ما نه دَي اروېدلي خپلي سپوري[2]
ناوک ئې د مژګانو دَ ابرو په کمان جوړ کړ
ما نه زده د چا تر زړه به ووزي پوري ووري
ښه باز دِ دَ خوشحال خټك خاطر په لاسو کښېووت
په قدر ئې خبر شه چېري نه په لړ ئې پلورِي

چه ئې هسي لايعقل ولاړم په شومي
دا پياله دَ چا دَ لاسه دَه څه نومي
خدايه څه دِ يو باد وَرَي زړګي را کړ
چه همېش دَ عشق دَ باد په مخ کښ درومي
پدا هم لا رقيبان کا په ما رخه
چه مي زړه دَ يار په ياد وُ راحت مومي
ما لا حرف نه وُ له ياره بدل کړي
دَ سحر خروس دِ وويشت شي په کومي
بيلتانه دَ ما په قصد چاړه تېره کړه
د قصاب دلسوزي نشي په ورغومي
واړه دوک مي دَ اشنا دَ بېلتانه دئ
په دروغه سر ترِم بهانه د دومي[3]
چه ئې بې له ده بل خيال نشته په زړه کښ
دَ خوشحال دلبره کومه ده څه نومي؟

چي دَ عشق په ګرانه لار کښ ډېر خطر دئ
هر قدم چه پکښ اخلم ډار دَ سر دئ
که سينه مي سَرَه چاک کړې و به وينې
چه مي ستا له غمه وينی درست ځګر دئ
ستا دَ مهر باران نه اوري چه شين شي
ما په زړه کرلَي ستا دَ ميني کَر دئ
ستا په راز به ژبه هم نکړم خبره
تَل تر ژبی رسېدلَی راز سمو دئ
زه له عشقه خبر نه يم چه عشق څه دئ
هونبره اَروم چه له حسنه ئې اثر دئ
چه ئې عشق تر سره کړي هغه کم دئ
پدا کار کښ لاف وهلي يوه هر دئ
صبر مه غواړه له ما د عشق په کار کښ
جو دانه صبر پر ما باندي لوي غر دئ
عاشقي لا زه ته نه وو چه پيدا وه
نه چه ما وتا ګډ کړي دا هنر دئ
خو ځما طالع ښه ندئ يار جفا کا
ګټه کوم يو په وفا تر ما بهتر دئ
د عشق غم له خلقه پټ لَره خوشحاله
څه ئې پټ کړم چه جهان ځني خبر دئ

---

[1] څه.

[2] مور.

[3] يعنی زکام او يخ وهل.

Downloaded from: ketabton.com



چه پیدا شوه جدائي　　کشکه نه وَی اشنائي
دَ بلبلي بخره نول ده　　د گل بخره زېبائي
تا چه شان د لیلې واخیست　　که مجنون شم را ښائي
د لیلې دَپاره سر شو　　خوار مجنون په گدائي
چه عاشق شو قبلوی دې　　پېغور رُونه رسوائي
ستا په در دوهان[۱] وهلي　　درته ناست یم دوائي
که پل بل لوری ته واخلم　　ته مي بوله هر ځائي
چه به زه بې تا نه پایم　　بې چیجي لوښې پائي
چه ئې ولیدې په سترگو
خوشحال ځکه تا ستائي

چه ئې درې څیزه حاصل وئ　　دَ هغه خوښ به تل وئ
اول خپل صورت ښاغلي　　بیا ئې ښه صورت واصل وئ
غه دریم وایم چه کوم دئ　　دَ دنیا دولت ئې خپل وئ
چه پدا کښ ئې یو نه وئ　　پرېشاني به ئې په دل وئ
چه ئې یو وِئ پدا درې کښ　　غم به تل باندي نازل وئ
هر چه درې واړه ئې نشته　　که چا مړ کړ هم د گل وئ
دَ خوشحال ویل معقول دِي
پرې به خوښ شي چه عاقل وئ

چه بندي د یار دَ زلفو په کمند دئ　　بهانه ئې د خلاصَی دغه بند دئ
سر مي یار وَته پېښکښ کړ لا شرمېږم　　دَ نادارو عذر پټ ندئ څرگند دئ
نه شکري دئ نه قندي نه نبات دئ　　دَ شهی د شونډو لا گوښي بل خوند دئ
څه صفت دَ هسی حسن په غزل کړم　　چه په نونس بابه کل شکل پسند دئ
څه به غم د مال و ملك د دین و دل کړم　　چه لا ستا له غمه روغ گرزم انند دئ
یَوه زړه لَره یوه اشنائِی بس ده　　نور به دېري یاری نه کَوم سوگند دئ
پخپل زړه مي به دا هسي شندي نکړې　　کله هم دَ عاشقِی کار پسند دئ
د خوشحال ختك دِ ستا په سر شوگند وئ
که ئې بې تا په نور څه زړه خورسند دئ

چوهړي دَ خپلي خوني په بوي خوښ وئ　　ولي بوي ئې په چمیار باندِي آتش وئ
نور وگړی دَ چمیار له خوني تښتي　　په چمیار دَ خپلي خوني بوي دلکش وئ
هسي رنگه دَ هر چاري تفاوت دئ　　یو تر بل پوري مطعون او مشوش وئ
دَ دهقان فهم په پاله[۲] یا په یوم دئ
دَ سپاهي نظر په توره په تیر کش وئ

---

[۱] دو نهہ.

[۲] یعنی دَ یوی تښ.

Downloaded from: ketabton.com



چه دلبره دلربا ده هغه ته یې　　چه خود رایه خود ستا ده هغه ته یې
چه دَ کبر دَ فتنو دَ خرخښو ئې　　په همه عالم غوغا ده هغه ته یې
چه مشتاق دِ دَ خندا دَیْ هغه زه یم　　چه دِ تل وَ ما ته شا ده هغه ته یې
په جهان که ښاېسته وه بې حسابه　　چه په واړو دی خندا ده هغه ته یې
دَ پسرلي گلُونه څه دِي چه ئې ستایم　　تر گلونو چه زېبا ده هغه ته یې
ستا د مخ مي په څراغ نشته وتَنه　　چه دَ توري شپې روڼا ده هغه ته یې
خپل عاشق سَره وعده نکړې تر سَره　　چه په عهد بې وفا دَه هغه ته یې

که هر څو دِي دَ خوشحال معشوقې ډېري
چه ورتېره تر هر چا ده هغه ته یې

چه ایرو غُندِي ئې پروت په دربار نه وِئَ　　دَ هغو به وَ اسمان وَته لار نه وِئَ
عندلیب چه په گل رایشي ناري کا　　وائی دا چه یَوه ورځ به گلزار نه وئَ
دَ زړه چاک مي به په هیڅ سَره ور نشي　　څو گنډلي ستا دَ زلفو په تار نه وِئَ
ستا د زلفو نوم به نور په خوله وانخلم　　دَ هوښیار پاړو تور مار سَرَه کار نه وئَ
تر هندوي مه شه کم دَ یار په پت کښ　　چه ئې هیڅ له بله اوره نه ډار نه وِئَ
په ما هر زمان اختر دَئَ چه یار وینم　　بې اختره به هاله شم چه یار نه وِئَ
په کوم ځاي مي به مرهم کښېږدي طبیبه!　　چه دَ یار دَ غشي نخښه پرهار نه وِئَ
په هغه دَ عاشقِی نوم حرام دَئَ　　چه په یار پسې ئې درست صورت خوار نه وِئَ

هیڅ مانه له یاره مه کوَه خوشحاله
دَ دنیا ساعت به تل په قرار نه وِئَ

چه په زلفو عنبر ساده هغه ته یې　　چه په شونډُو شکر خاده هغه ته یې
چه نازک ئې دئ اندام دَ گل تر پاڼي　　په قد ښه تر عرعر لا ده هغه ته یې
که هر څو شِي په جهان محبوبي ډېري　　چه خوشرنگه تر هر چا ده هغه ته یې
له عذابه له وبا له دِ ترس نشِي　　چه پدا دور ترسا ده هغه ته یې
چه اثر مي دَ ژړا وربانديِ نشي　　چه پدا زړه حجر آسا ده هغه ته یې
چه تمامه شپه دِ خوب په ما حرام کړ　　چه دَ ستر سحر بلا ده هغه ته یې

چه له میني ستا په سر لوړي خوشحال دئ
چه دَ ده دَ سر قضا ده هغه ته یې

چه ئې عمر دَ ځارویو سَرَه تېر وئَ　　زیست روزگار دَ هغو هم په هغه څېر وئَ
چه سلطان غُندي رانده شي څوک ئې څه کا　　که هر څو ور څخه علم هنر ډېر وئَ
ځوانان واړه برابر ندي په وزن　　ځني من، ځني نیم من ځني نیم سېر وئَ
که په زړه باندِي پراته دِئ زر غمونه　　چه مي یار په نظر کښېوزي واړه هېر وئَ
دَ شکر و تر حلوا به ئې لا ښه خورم　　که دَ یار له لاسه زهر یا گنډ هېر وئَ
دَ ښه مخ په نندارِه به لکه روغ ځم　　که په تن مي پرهارُونه دَ شمشېر وئَ
هر عاشق دِ عاشقی ته هوس نکا　　دَ عشق لاف دِ هغه ځوان کاندِي چه شېر وئَ

Downloaded from: ketabton.com



دریغه بیا را سَرَه ژر غاړه غړي شوي    چه فليل په زلفو پوري دَ اجمېر وئ
دَ خوشحال خټك خو كښلي مخ په كار دئ
كه د سوات كه دَ پکلي كه دَ بنېر وئ

چه په زړه ئې ستا دَ غم غشي سيده شي    قراري به ئې له دله رمېده شي
همېشه به ئې سريښي په زنگون وئ    په فكرت به ستا دَ زلفو خمېده شي
توري سترگي توري ورځې سَرَه زيب كا    بيا په تېره چه و سمه پر كښيده شي
په ټټو باندِي ئې خط دَ وېښتو ندئ    دا ئې سيوري دَ ځړی ده چه ليده شي
ستا خوبي ځما په پوهه ډېر تېري كا    دَ يوسف خوبي كه هر څو اروېده شي
په بڼو باندِي مي پښې په احتياط ږده    چېري نه چه مي بانه پرې خليده شي
ځان و زړه مي هغه لور وَته پرواز كا    هغه ځاي چه ښه دلبره شنيده شي
زه پدا سبب په دوو سترگو مَيَن يم    چه چهره دَ ښو يارانو پرې ليده شي
له قسمته زياتي مه غواړه ناپوهه!    و هر چا ته خپله بخره رسيده شي
لاس په لاس ئې گرزوي هنر آموزي    چه ښكاره دَ هنرمندي كښيده شي
په ژړا مي به و نه غلوې خوشحاله
كه دئ سرې ويني رواني تر ديده شي

چه ښېرې وَ ما ته وكړې ژونده وې مي    چه مي ياد كړې په ښكنځلُو نهاله وې مي
دا چه وايې راته ځير گوره چه موړ شې    كه تمام عمر دئ گورم مړه وې مي
غمازانو اَغزي توي دَ غمازئ كړل    چه دَ دوي په وينا غوږ كړې پرې څكوې مي
ما خپل زړه وَته وَيل چه اې بد خويه    څه په هر صورت مَين شې سوېږه وې مي
وئې عمر مي پدا بد خوئي تېر شو    څه دا اوس راته ويل كړې اړه وي مي
كه مي سر په عشق كښ دورمي هم دِ لاړ شي    خپل وژلی راته شمارې وېره وې مي
كه دَ زهرو پياله راكړې هم به وايم    خداي دِ خير وَ تا دركا ژونده وې مي
چه گهي په مخه رايشې كنكس[۱] خورې    يو تر شا نظر وَنكړې ځوره وې مي
كشكه زه درباندِي نه وَی مَين سوي    تا ناداني مينه نه زده پخه وې مي
ما خوشحال څخه په ذات دورنگي نشته
دَ زړه حال مي در معلوم دَئ ويه وې مي

چه دورمې په انگڼ كښ درست انگڼ سَرَه يو گل شي    د مښكو بوي را پاڅي چه دِ تار په تار كاكل شي
چه سترگي كړې ور پورته په نرگس شي بلا سازه    چه زلفي كړې نمودي حبطه واړه سنبل شي
دَ ملا دَ وېښته فرق به دِ هيڅ يَو سَرَه و نكا    كه واړه دانايان می په دا فكر تأمل شي
عالم وايی و ماته له ښه مخه صبر وكړه    حيران يم له ښه مخه په څو صبر و تحمل شي
دَ خوشحال خاطر ئې هسي ځني يووړ تورو سترگو
كله صيد دَ شاهينو تر مښكو تر منگل شي

---

[۱]دا كلمه عيناً وليكله سوه، راحت زاخيلی كنگوسی په معنی د پټه خوله والی او خاموشی او سر گوشی را وړی دی.

Downloaded from: ketabton.com



چا به راکړ په پالنګ دا هسي کښلې    که مي نه وَئ په ازل په قسمت کښلې
شیخ دَ حورو صفت کا زه دَ دلبرَو    دا ځما هغه دَ ده دعوا پرېښلې
عاشقان ئې صد هزار دئ په هر لوري    سر ګښته حیران پرېشان ګونه ځېښلې
په دربار ئې سنا سي شه ورته کښته    تار په تار دَ سر وېښته ایرې موښلې
که هر څو دَ خلقو جونه ښایسته دئ    ما یَوه ده غوره چونې پکښې وکښلې
لا به کله ننداره دَ هغه مخ کړم    چه مي ګډه دَ خاطر ده پسې لښلې
دَ هغې پیالې مستي لَرم په سر کښ    چه پرون مي دَ ساقي له لاسه څښلې
نه د منښکو پټېدنه نه دَ عشق شته    په اذل ئې نه دئ دا پردې پوښلی
چه مي تل دَ مخ ثنا وایې خوشحاله!
په صله مي سپینه خوله درته بخښلې

چه ګلرنګه معشوقه لَرِي په کور کښ    دَ صحرا سیل دِ وسېځی په اور کښ
په هجران کښ مي ژړا هغه خندا شوه    چه مي یار سرَه خندا وه په بیور کښ
لکه لوند خرڅوړي تا وکړې نم ئې نه وئ    بېلتانه هسي پخوړ[1] کړم پخپل زور کښ
دَ عشق ښور دِ دَ عاشق له دله نه ځي    په جهان ئې فیروزی دَه پدا ښور کښ
په هر ځاي چه دَ رندانو مجالس وئ    تر قیامته به یادېږم په څلور کښ
شور و شر به دَ رانجا[2] په جهان نه وُ    که د هېر صورت پیدا نه وَئ په شور کښ
که خبر به دَ دُرخاني د مخ نه وئ    آدم خان به ځني څه غوښتل په کور کښ
پښتني جونه دِ زلفی باد ته نیسي    چه شمال ئې بوي راوړي په رنتهبور کښ
دَ عاشق له نام و ننګه سرَه څه دئ    څه مي غم که آشنا مومم په پېغور کښ
دَ خوشحال دَ زړه مي ښه ننداره وکړه
سمندر غُندي بازي کا په بل اور کښ

چه له ورایه را څرګنده مسته شاشي    دَ جمال ئې په څو رنګه تماشا شي
چه پلَو په مخ کښ وَنیسي ماښام کا    چه پلَو له مخه لیري کا سبا شي
دَ جمال خوبي ئې زیاته دَه تر نمره    چه دیدن وته ئې غټ ګورې په چا شي
تر یانه پوری ئې ګوډه سي کوتره    تر وَیل پوري ئې ګنګ ګویا طوطا شي
حبشي زلفي ئې پاس په سینه زانګي    یماني بارخو ئې ګل غُندي نما شي
مرګ می سل ځله قبول بېلتون دِ نه وئ    دَ دې هسی یار بېلتون تر مرګ بلا شي
په مانې ئې مرده شو یو کرَه عید وئ    په خندا ئې جوهري لرَه ژړا شي
توري خاوري دَ رقیب په سر کا توئي    چه ګله له منځه وباسې پخولا شي
چه په نه لیدو ئې نه ومرې خوشحاله
ځکه هسې دا جهان بلا په تا شي

چه محبت په ځان قبول کا نور راحت شي    چه عارف دَ مصیبت شي عافیت شي
که فلك ئې دَ مزری په خوله کښ ورکا    خداي دئ نکا چه عارف پکښ غارت شي

---

[1] ښتېځلی او په تکلیف اخته.

[2] رانجا او هېر په هند کښ دوه مینان وه چه په هندی کښ ئې قصه مشهوره ده.

Downloaded from: ketabton.com



لکه باد کله ئې مخ کله ئې شا دَه    بیهوده غرور دَ هر چا په دولت شي
یو لاله په غوړیده بل رژېده کا    شگفتن دَ باغ د گلو په نوبت شِي
دَ یوه مانۍ شي سر دَ بل نړېږي    په جهان کښ نوی نوی عمارت شي
وا ویلا ژړا ناره ساړه آهونه    خو هم دا په ورځ و شپه په هر ساعت شي
دا همه چاری دَ ده دِیَ چه را کېږي    یَوه خدایه کور دِ وران دَ محبت شي
هغه شان لکه په توروُ اوس په سپین دئ
د خوشحال مجاز به کله حقیقت شي

چه راغلی په حیله دَیَ    عقل ځکه عقیله[١] دئ
که مثال ئې له ما غواړې    عشق مزري عقل نیله دئ
آشنائي ئې دا جمال ده    چه مین په جمیله دئ
پرواز نه پرې پرپري کا    اور څو بل په فتیله دئ
خوار مجنون دَ عشق په کار کښ سپك په قام په قبیله دئ
هم خالق ته هم مخلوق ته    واړه کار په وسیله دئ
دَ خبري په میدان کښ
نن خوشحال ختك قبله دئ

چه ښکاره په آرایش کښ شگفته شي    صلوات ئې په جمال باندِي گفته شي
آشفته کاندي روزگار دَ پرهېز گارو    چه ئې زلفی په عذار و آشفته شي
چه ئې نه وینم زه هسي ځلبلاند شم    لکه گل له عندلیبه نهفته شي
چه دَ غوړو دُر ئې نه وینم په سترگو    دُر گوهر مي په هر هر باڼه سفته شي
دَ وصال په وخت هم خوب دَ عاشق نه وئ    ترو بې وخته په هجران په سوخته شي
ښه خو دا چه ئې برقع په مخ پرَته ده    او که نه پرې به وگړَي الپته شي
زړه مي وائې چه ورتلي په درئې اېل کړَي    په هر ځاي چه ښه محبوبه شنفته شي
وَ خوشحال ته د دې باغ غنچه ښکاره وه
چه به دا رنگه گلونه شگفته شي!

چه ادب لَرِي سرَی سرَی هاله شي    بې ادب سرَی سرَی کله باله شي
څه پتونه ئې په شمار په حساب ندئ    که په چا د آشنایي پت پاله شي
چه همت دَ سړی څو قدر ئې هونبره    دَ تمیز په تله هر سړَی تاله شي
دولتمن سړَی هغه بللَي بویه    چه له سینده ئې جدا دَ چا واله شي
هر سړی چه دولتمن شي که دانا وئ    په هر کار کښ دې نظر پخپل کاله شي
که دَ توري کار دَ ځوان دَیَ یا د نور څه    مصلحت دَیَ دَ هغه چه په زاله شي
دولتمن دِ په هنر په علم مېَ کا    که هر څو ښایسته مخ وِئ بیا پساله شي
څوک دنیا وته مریونه دي خوشحاله
شاه زلمیو ته دَ لوبو چنغاله[٢] شي

---

[١] یعنی پښېتر، هغه شی چه د اوښ پښه په تړی.

[٢] چنغاله هغه نجلی بولی، چه مېره ئې معلوم سوی او نامزده شوې وِی، اما واده ئې نه وی سوی.

Downloaded from: ketabton.com



چه ړانده وته اسمان ښئیي یا ستوري     وایه ړُوند به ئې په کومه سترګو ګوري
روڼا ورځ په ښاپېرک باندِي تور تم شوه     روښنایي دَ نمر ښکارېږي په هر لوري
که ځښتن ورته زورل[۱] کا یا ښکنځل کا     مریی هم په زړه کښ هسي ځښتن زوري
بیا به شنې په پاڼیو نشي وچي ونې     که باران د ښېکال په شېبو ووري
زور قوت دَ هر چا سم برابر ندئ     څوک له ځایه زوروَر شول څوک کمزوري
راشه نن دِ د نخاس نندارِه وکړه     یو کالَي په بها پېري بل ئې پلوري
چا دَ سر دَ پاسه سور مندیل تړلي     ځني هسي خوار حیران ګرزي سر توري
دَ چا حکم دَ چا لاس درباندِي نشته     پخپل بخت پخپل قسمت پریوزې غوري
په تلوار په اضطراپ چه صبر نه کا
دَ خوشحال خاطر سیماب شو سَرَه ښوري

چه مي خپل مَین نیولَی تر آغوش دئ     دَ جهان هوس مي واړه فراموش دئ
ساقي زه څه هوښیار نه یم باده راکړه     لېونتوب دَ لېونیو پرده پوش دئ
چه پرُون ئې اهانت دَ مي خور وکړ     نن هغه دَ میو ډک سبو په دوش دئ
ساقي ترس دَ محتسب دَ دُرې نشته     چه بابا ئې دَ مجلس سَرَه مي نوش دئ
هدایه وقایه څه لولې وَ ما ته     چه ځما دَ ناي و نَې په آواز ګوش دئ
دا ګلګون شراب دَ کومي میخانې دي     چه صوفي ئې په جوعه سَرَه مدهوش دئ
دَ بهار په وخت به څه له میو اَوړم     چه سرود دَ مغني په نوشانوش دئ
بیا به دا ګلوُنه نه وِئ میخوري کړه     دَ بلبلو په آواز کښ دا سروش دئ
ډېر دَ باد سپاره په خیال تر ما تېرېږي     همېشه پدا بازار کښ پوشا پوش دئ
چه په ډېر ارمان دَ یار له مخه بېل شو
دَ خوشحال په بخره هر کله خروش دئ

چه لرې پخپله خونه کښ خوشخویَ     دَ جنت هوا به هم کړې درې شويَ
دین دنیا ئې دواړه کښېوتل په لاس کښ     چه په کور کښ ده خوشخویَ هم خوش رويَ
دَ بلبلو غوغا تل په هغه ګل وِئ     چه صفت ئې شِي له رنګه هم له بويَ
زه دلې له غمه مرم چه جدا کېږې     په شانه سَرَه د شاه دَ زلفو مريَ
چرته وېر چرته سندري په جهان کښي     که ئې ګورې دهر نه دَئ بې هاي هویي
ګلدستې دِ دَ بهار را لَره راوړې     پیکه ښه راغلې په وخت دَ یار له سويَ
په جنت کښ پراته چېري چرته دروِمي
چه خوشحال شړي عالم د ېیر له کويَ

چه په آن و آن په مځکه په اسمان دئ     په غمونو په ښادیو کښ انسان دئ[۱]
دا یوه ځمڅه دَ ځان وینی بلا شوې     چه سړی سَرَه ئې غم په هو زمان دئ
دَ نامرد دَ مرد پدا تفاوت وشو     په نامرد شرم آسان دی په مرد ګران دئ
کشکه ته پدا دنیا همېشه پائې!     په احتیاط احتیاط کښی ډېر خلق طوفان دئ

---

[۱] زورې کا.

Downloaded from: ketabton.com



که دَ ځان که دَ ایمان بد خواه می ډېر دی　　ما په خدای باندې سپارلی ځان ایمان دئ
ببکیالی چه دَ اخلاص توره په لاس کا　　ډېر لښکر ئې تر همت پوری کاروان دئ
له اوله تر آخره څو روزکار شته　　چه عالم باندې غوغا کا دا جهان دئ
په ښادی سرَه شریك دی اولسونه
غم یواځې دَ خوشحال خټك دَ ځان دئ

چه وربل دي په سپین مخ آشفته کېږي　　په ماښام کښ رونا ورځ نهفته کېږي
که د مخ ښایست ئې دا دئ چه لیده شي　　لا به ما غُندي پرې ډېر الپته کېږي
په بڼو ئې اوښې ندئ آوېزاندي　　همګي دُرو ګوهر دئ سفته کېږی
یو ئې رنګ یو ئې نګهت یو ئې وِی پاڼې　　پدا باغ کښ عجب ګل شګفته کېږي
په ژړا مي به پوهېږې خوب و نه کا　　هغه څوک چه په ګیسو ئې خفته کېږي
دَ خوشحال دَ خولې خبري خوشي ندئ
دا همه دَ یَوه حاله ګفته کېږي

چه مور پلار ځني آزار شِي هغه عاق دئ　　دَ عاق زویه ځاي دوږخ په اتفاق دئ
هغه مور او پلار به خلاص نه وِئ له غمه　　چه فرزند ځني زوولي بد اخلاق دئ
هغه زویه به آخر په خواري خوار شي　　چه ښکاره ئې دَ خپل پلار سره نفاق دئ
دَ اورنګ بادشاه په دور رسم دا شو　　چه هر زویه دَ خپل پلار دَ سر مشتاق دئ
نن هغه قطب آفاق ګڼې خپل خپسر　　چه ګواه ئې دَ عاقوالِي درست آفاق دئ
ناخلف زویه په ګور خلف د غواړِي　　هر پدر چه دَ پسر په اشتیاق دئ
دا ځما همه ګله ده دَ ټټوانو　　را ئې وَښیه چه کوم پکښې تفچاق دئ
دَ ټټوانو نه همه ټټوګي زېږي　　که الغېر[1] ئې دَ عرب یا دَ عراق دئ
دَ هغه اسلام اسلام ندي خوشحاله
چه بهتر ورځنی ګبر په میثاق دئ

چه دَ خولې ویَل ئې نور دَ زړه ئې نور وِئ　　دَ هغه به مخ په دواړه لوریه تور وِئ
دَ ناپوه سرَه راضي نه یم په باغ کښ　　دَ دانا سرَه قبول لَرم که اور وِئ
که په لاس کښ ئې ډک جام کښېږدې څه سود دئ　　دَ هغه چه له ازله جام نسکور وِئ
نالایق زویه د خداي دَ چا لوي نه کا　　چه په ځان دَ ده له خویه پلار او مور وِئ
ښه لایق زویه مور پلار په ښکې یاد کا　　نالایق دَ پلار آزار دَ مور پېغور وِئ
یو لایق زویه دَ پلار کرهَ لوی ښه دئ　　نالایق په څه شمار که درې څلور وِئ
دَ غوولي زویه شور وِی پخپل کور کښ　　دَ ښاغلی په جهان کښ شر و شور وِئ
که هر څو دَ سرې ډېر زویه پیدا شِي　　بیا په واړُو کښ خو یو زویه انځور وِئ
هغه زویه خو په ګور ښه دَئ خوشحاله
چه بهرام غُندي یواځې دَ خپل کور وِئ

---

[1] په ځني نسخو کښ د دې کلمې املا (ایغر) ده.

Downloaded from: ketabton.com



چه دا هسي سحر ګري سترګي ستا دئ — په ناحقه دَ تقوا لافي ځما دئ
ښښتنې جونه مي ولېدې په سترګو — څوک چه ټُرکي دَ خطا ستائي خطا دئ
ښاپېریه که هر څو ستائي وګړي — ستا تر حسنه تر جمال په شمار د چا دئ
تا چه وَویني مَین در باندي نشي — هغه زړونه غندي کاڼي دَ بېدیا دئ
واعظان چه یادَوي دَ جنت حوري — ما پدا سترګو لیدل په دنیا دئ
یا به ستا زلفیني ونیسم په لاس کښ — یا به سر درباندِي بایلم دوه وینا دئ
دَ ناموس خبري مکوه خوشحال ته
عاشقان له نام و ننګه بې پروا دئ

چه مي کړي هر آثام دئ — که په خوله که په اندام دئ
اوس له واړو توبه ګار یم — په اخلاص مي دا کلام دئ
تر کرم را باندِي وکړ — ستا کرم په هر چا عام دئ
په دوه سترګي مي منلي — چه دَ شرع هر احکام دئ
واړه امر مي قبول دئ — ترې توبه چه نهی نام دئ
استقلال دَ توبې راکړ — دَ شیطان دَ بلا دام دئ
ما ساته دَ ده له شره — نفس مي مدعي خود کام دئ
په توبه کښ ثبات راکړه — لکه حکم دَ اسلام دئ
پخپل لاف به هیڅ ونګړم — که زه لافی کړم لاف خام دئ
چه توفیق له تا نه وِئ — دَ زاهد زهد حرام دئ
په هغه لاري مي بیایه — چه پرې یښَي نبي ګام دئ
نور به څه کرم ډېر خواستونه — دا یَو ما لَره تمام دئ
چه ثابت وَلاړ په دین دَئ
دَ خوشحال باندي سلام دئ

چه په زړه ئې ګرزوې وړې وړې[1] — یَوه ورځ مي به له وره وشړې
چه په تا پوري ئې زړه نه وِئ ترلي — په هغه پوري زړه څه لَرَه ترې
که مي وړمي ساړه ډېر وِئ قبلوه ئې — مړې ایرې دَ نغري څه لَره لړې
چه ځَیر ځَیر ئې مخ ته ګورم نه مړېږم — دا ځما سترګي به کله شي مړې
ستا خوږې شونډي نبات دي رقیب مچ دي — ښه خو دا چه ئې له شونډُو وَشړې
څو ځَوانان دِ پخپل ځَان دِ کښېنولي — لا به څو در باندِي کښېنوې زړې
یاره ته چه له اغیار سَرَه خندا کړې
دَ خوشحال په لړمانه درومي چړې

چه د بخت د تالو سپین دئ تور به نشي — چه شیرین دئ له ازله شور به نشي
هر چه غوړ دَ محبت لَري په زړه کښ — که پرې زر کالونه تېر شي سپور به نشي
د دې نورو بازارونو خپرېدل شته — یو بازار دَ محبت دَئ خپور به نشي
خو چه وَزېږِی له موره چه بدذات وی — په وروری ئې غلط مشه ورور به نشي

---

[1] دا بدله له یوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه، په نورو کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



چه له یاره سرَه کښېنم رقیبان مې      تل په بد نظر کاته کا کور به نشي
څوک چه زور سرَه ښکاره کا وزیانېږي      که پخپله بوسه را کا زور به نشي
هسې نه چه زور مي نشته زړه دَ ګورم      نه پخپله مهر وکړه زور به نشي
و هر چا وته رسېږي خپله بخره      چه ئې پلي په ازل کړ سپور به نشي
لاس په لاس سودا بهتره تر هر څه ده      مسافر په لار ولاړ یم پور به نشی
که هزار ځله حکمت هنر تدبیر کا
دَ خوشحال په باب چه شوِي نور به نشي

چه په حسن په ښایست دِي زورَوَرِي      دَ هغو وائي بدلي یا سندري
رغېده ئې ستا دَ خولې په دلاسا دئ      دَ رنځورُو دارو ندئ له تا لیري
ما چه ستا دَ خوږو شونډو و لذت بیا موند      نه مي شهد په غرض دِئ نه شکري
عقل خپل فوزونه تار په تار خپاره کا      چه پرې رايشي دَ عشق خوني لښکري[1]
دَ ښو په تیر ئې بیا سرَه پاش پاش کا      که خپل زړه وته پوښم دَ صبر زغري
تریانه دِ دَ خطا آهو خجل شي      چه په شین شین یون کړې ښېوه ګرې
یو نظر په درست صورت علامت وکا      په مثال لکه بڅرى وچى سرې
تر خوږه خندا دِ ځار شم راته خانده      چه پرېوان کړې په ما لعل و مرغلري
چه څوک بې عشقه څه وائې باور وکړه
لکه باد دِي په خوشحال هغه خبري

چه دَ خپل عقل وَیل کا هغه کله خردمند دئ      چه پوښتنه مصلحت کا هغه هم دَ عقل بند دئ
چه مې فهم فکر وکړ پدا خپله دانائي کښ      بل نادان را ښکاره نشو که نادان دَئ خود پسند دئ
تر مشرقه تر مغربه چا دا هونبره جهان وَغوښت      عقل علم هم دا هسې په جهان کښ چند در چند دئ
ګډ شه وغواړه باغونه په هزار رنګه مېوې خوره      راشه راشه راته وایه سَم دَ واړو لذت خوند دئ؟
لعل الماس دي په جهان کښ دُر مرجان شته دي مشکښي      واړه هیڅ پوشیده نه دي دَ هر چا قدر څرګند دئ
هر سړی چه محنت نکا هغه کله راحت مومي      راشه راشه رنځ قبول کړه که ته ګنج غواړې ښه پند دئ
که ته راشې له اسمانه جبرئیل شې پدا څه شي      خوف رجا راوړه اې ځانه کاردَ توري یا دَ شخوند دئ
څوک چه حکم ریاست کا سیاست دِ کا په شرع      اوس لا بلکه خلق بد شه په توره عمل هم سند دئ
پېر به ښه ښه زویه راوړي دا نه پلاره څلور میندي[2]
نن په واړه پښتانه کښ یو خوشحال لایق فرزند دئ

چه امید پدا ایام لي      دا امید ئې نا تمام لي
عافیت غغوښتل له دهره      دَ سبا هیله له شام لي
کل امید خامی تکیئې دئ      څوک به څه تکیه په خام لي
په سراب دَ تږي خوی دئ      دَ اوبو ګواهي مدام لي
زه له غمه جار باسم      دئ را وړاندي شي سلام لي
په هیبت دي ناست و خېز کا      چه مزري څخه مقام لي

---

[1] چه پرې رایشی تنها دَ عشق لښکرې.

[2] نه پلاره او څلور میندی، نه اسمانه او څلور عنصر دی.

Downloaded from: ketabton.com



دغه خون په خپله غاړه    چه دَ بیم په ځاي آرام لي
دَ خوشحال بلا هغه شو
چه سوګند دَ ده په نام لي

چه پخوا مي په خاطر نه وې لیدلي[1]    فلك ډېري ننداري را وښیلې
وار په وار مې واړه ولیده اغیار وه    چه همېش ئې دَ یارئ لافي وَهلې
په بخښښ ئې نر ناحقه غلطي کړې    وار په وار به جهان واخلي واړه خپلي
چه خبر له ځانه نه وه ما خبر کړه    له هغوئ څو خبرئ واروېدلې
نه هغه شته نه په خوله کښي هغه غاښ شته    چه به ما په اننګیو وه چیچلې
چه په خوله مي کښلول پرې نازېدلم    دَ هغو دَ خولې مي واروېدلې ښکنځلي
چه ئې نن وکړ په چا کانده په تا شي    ویړیاندي چاري واړه دئ په تللی
چه همېش به په تسلیم راته وَلاړ وه    دَ هغو مي څو ناسازئ دئ زخغملي
دَ جهان ګلونه واړه بې وفا دئ    بیهوده وربانديِ میني کا بلبلي
کشکه زه یو خر غڅکي وَئ سړی نه وئ    هونبره چاري سړیتوب را ونمایلې
دوه رفیق دِي دَ یوه په وَیل ږغ کړم    دا دوهم را باندي غرپ وهي چه غلې
نه د دین نه دَ دنیا دي ځني نوري    دَ یاغي دَ اېل په منځ کښ و بلښلې
چه اوربشي کړِي کله غنم وشي    پټه نه ده چه کړې هغه آخلې
یو ئې ټوله په محنت ګا بل ئې یوسي    راشه ګوره چا اولجه کړه چا ساتلې
یا دارو دَ لېونتوب وکړه خوشحاله
یا ناحقه دروغ خلقه سرَه ملې

چا ئې راز د خولې تحقیق ندئ موندلي    که صفت ئې واړه خلقو دَئ ویلَي
په چشمانو کښ ئې سحو دَ بابل دئ    په ملال ملال کاته کښ ما لیدلَي
یَو نظر ئې راته وکړ نور په تله شوه    د ما زړه وړي دَ ښو په تار پېیلَي
و چمن لَره چه درومم تللَي نشم    د مخ باغ ئې تر لَمني یم نیولَي
په هر لوري کښلي ډېر دِي خلق وائي    څوک دِ یَو راته ښکاره کا هسي کښلَي
چه و مرګ وته مي مینه ستا غمزه کا    خداي دِ ستا له لاسه روغ کا د ما څلَي
تر جلب نیولَي تل باندِي سپارلي کا    زړه مي پټ مړني سپور دَئ خال دِ پلَي
چا به بې دَ عشق له کاره بل کار نه کړ
د خوشحال دَ خولې ویل که چا منلي

چه سړی تر عقل تېر شِي مخبط شِي    زیست روزګار دَ مخبط سرَه غلط شي
دَ حرص درياب تر شرقه دَئ تر غربه    حریصان پکښ غوټې خوري لکه بط شي
نن ځما بېړی لاهو شوه په دریاب کښ    لا به کله دا لاهو بېړئ په شط شي
دته درزي جامې قدر قیمت ډېر وئ    دَ اَغوستي سر و پاي قدر وسط شي
غاښ وتلی ډېره سپینه ازمویښت دی    لا د ما و عاشقی وته نمط شي
جاودانه خوښي دا ده په جهان کښ    چه دِ زړه دَ عشق په کار کښ منسبط شي

[1] چه پخوا په خاطر نه وې ما لیدلې.

Downloaded from: ketabton.com



ښایسته یاران مي هسي ملك ته ولاړل | چه نه ځاي دَ پیغامونو نه ئې خط شي
دَ خپل یار وَ تېغ ته سر کښېږده خوشحاله
دَ قلم خوبي هاله ګڼه چه قط شي!

چه د لویو کتابونو دانشمند وِي | دَ هلکو کتابونو په کار بند وي
چه خرما ئې دَ بلوڅ نه وِي خوړلې | و هغو وته پټوي[1]خرما خوند وي
چه دَ هند په شکر قندو خبر نه وي | و هغو وته ګسځري شکر قند وي
دَ اټك په مناره به نظر نه کا | چه هغه ته دَ دهلي ملك ځرګند وي
هر سړي دَپل وطن ثنا صفت کا | د هر چا تر فهم کښلي خپل فرزند وي
دَ ناپوه سړي دَ پند سَرَه کار نشته | ما چه ولیده دانا محتاج دَ پند وي
زه خوشحال ئې دَ دانش په سترګو وینم
د هر چا چه بده پوهه غلط سند وي

چه ئې مخ تر ګل زېبا دَئ یار ځما دئ | چه په مخ ئې عندلیب شوم کار ځما دئ
چه ئې تش په کوڅه تېر شوم لېوني شوم | که ئې ووینم په سترګو زار ځما دئ
که واعظ مي له ښه مخ له میني نیسي | که مي لاس ورباندي بر شي پلار ځما دئ
بې له کښلیه زېبا مخه که ګلزار دئ | چه هر ګل وته نظر کړم خار ځما دئ
چه هر لوري وته درومم په غم اوړم | ته به وایې غم یکلخته ښکار ځما دئ
همېشه به په ما وار دَ رقیب نه وُ | بیا له خپله بخته خوښ شوم وار ځما دئ
دَ خپل یار سَرَه دوږخ ځما قبول دئ | که بې یاره جنت مومم نار ځما دئ
بت پرست کله دَ بت له میني اوړي | زه که مینه دَ یار پرېږدم عار ځما دئ
زه خوشحال چه دَ منصور په مذهب خوښ شوم
اوس څه غم چه زه دَ دار یم دار ځما دئ

چه دَ خلقو نېکخواهي لَري په زړه کښ | مبارک شه بادشاهي لَري په زړه کښ
که ئې غوږ دَ دانشمند په نصیحت وئ | څه عجبه آګاهی لَریی په زړه کښ
دَ ناصح په نصیحت به اصلاح نشي | هر سړَی چه تباهي لَري په زړه کښ
دَ مردانو په معراج به ورتلي نشي | که دَ سعِي کوتاهی لَري په زړه کښ
مختورن دَ دواړُو کونو نه دئ څه دئ | چه هر چا سَرَه سیاهي لَري په زړه کښ
نېك بختان به اندېښنه کاندي دَ نېکو | ګمراهان به مناهي لَري په زړه کښ[2]
په هغه هنر کښ ټینګ اوسه خوشحاله
هر هنر چه سپاهي لَري په زړه کښ

---

[1] دا کلمه حل غواړي.

[2] نېك ګردار سره به فکر وی د نېکو | بد بختان به ګمراهی لری په زړه کښ

Downloaded from: ketabton.com



چه مي اوښي هسي آلا شوې دواړه سترګي مي سره لال شوې
چه په نور څه پسې ندي واړه ستا دَ مخ په خيال شوې
ليونَی شوم خوب مي نشي راته ته پري مثال شوې
نور مي محو شول له دله چه مي ته په زړه نهال شوې
دَ زړه داغ دِ مبارک شه چه مَيَن دَ شاه په خال شوې
خلق خوښ ګرزي هوس کا د ما زړه ولي بد حال شوې
مګر نول دَ بېلتانه دئ په ناله کښ لکه نال شوې
نور څوک هم شته دَئ اې غمه
که يوائې دا خوشحال شوې

چه ئې تل کښېښوې په سر دَ خيال دړی تور وېښته شو دَ هغې سپيني وړی
دَ روانو اوبو کار دَ عمر يَو دئ بيا به ورځ و شپې را نشي دَ نړی
محبت بې خدايه واړه که ئې ګورې دَ درياب په مخ دَ خليو پل تړی
ته پدا حسن جمال چه درته ګورم نه پوهېږم ښاپېرئ يې که سړي
بې مدد دَ باد نه رسم مراد ته که هر څو روانوم دَ زړه بېړئ
ستا دَ زلفو له ښاماره وېره نکا چه تر خوله ئې ستا دَ ميني شي جړئ
دَ خوشحال زړه په تقوا کښي لکه غر وُ
ستا په مينه بکباره شو و ووړي

خداي راکړه په غېږ کښ د رويبار منت را باندې سپينه خوله سرې شونډي دواړه زلفي اوېزاندې
يار را سَره يار دَي د هر غم مي غمګسار دَي غم اندوه مي نشته چه رقيب را رخه[2] کاندې
پرېږده چه پرې سوځي ستا د مخ بلا آخلي عشق دِ لکه اور دَي عاشقان دِ لکه سپاندې
دا څه بارخونه دي، نه پرېشاني توري زلفي پروتو دِي په ګلو د سنبلو پاڼي تاندې
زه ور پسې دروم دَ يوه نظر په طمعَ بيارته نظر نکا هسي درومي مخ په وړاندې
بخت نه دِي نور څه دَي په دا هونبره دېره مينه
ژاړي رخه کړوني چه خوشحال خټك ته خاندې

څو بېړئ پدا سيند کښ ډوبې ولاړې[3] چه تخته ئی مونده نشيی که ئی غواړې
فراق هر څه ته لمبې دئ لګولې لکه لوند لرګی په اور يبنې څو ژاړې
غم ښادي سَرَه ترلي دي له ځايه هغه هونبره به وژاړي څو د وياړې
چا ئې نوم راته وا نه خيست چه دَ چا دئ مناري مي ډېري وَليدې وَلاړې
په زرو رنګه غمونه دَ جهان شته په زرُو رنګه نارې واوره دَ خراړې[1]
لکه راي ځما دَ زړه هغه لا نور دئ خلق څو خبري کاندي غاړي غاړې
دا طومار څه هسي نه دَئ چه تمام شَي غوړوې ئې پټوې ئې، لولي نغارې

---

[1] محشی ورته کښلی دی يعنی سرې.

[2] حسد او بغض.

[3] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



دین دنیا لَرَه په کا و خپله کرده ده　　لوند وِي حلق د هر سړي پخپلي لاړې
چه بې غمه بې وبا له ئې خواړه دِي　　د بادشاه تر خوا نه به گټم خځاړې
غافلان په غوږ کاږه دِئ نه ئې اروي
دَ خوشحال خټك دَ خولې خبري لواړې[۱]

څو چه مینه دَ دنیا پرېوزی په زړه کښ　　هونبره غم شدت بلا پرېوزِي په زړه کښ
څوک له ځایه پاکیزه ځني ناپاک دئ　　دانا پاکو بد په دا پرېوزِي په زړه کښ
په یوه ښیښه کښ شاش د قارورې دئ　　او دَ بلي ښه صهبا پرېوزِي په زړه کښ
چه څه نه ویني نه اَوري نه څه وائې　　دَ سړي هغه هوا پر ېوزي په زړه کښ
چه څه ني ویني نه اروي نه څه وائي　　وایه کومه تمنا پرېوزِي په زړه کښ
نېك و بد پخپل قسمت وئ له چا نه وئ　　په ناحق کینه له چا پرېوزِي په زړه کښ
نه په پند ځي نه په بند ځي نه په نور څه　　چه مزه دَ ناروا پرېوزِي په زړه کښ
چه صحبت دِ له چا کېږي هسي ته شې　　هم هغه خو یو نه ستا پرېوزِي په زړه کښ
دَ بلبل محبت یو دَئ له بلبل وئ　　چه د گل ئې هر سبا پرېوزِي په زړه کښ
نا آشنا عالم دَ چا په فکر گرزِي　　اندېښنه خو دَ اشنا پرېوزِي په زړه کښ
د بهار په وخت دا درد وئ دَ دردمنو　　چه ئې سیر دَ صحرا پرېوزِي په زړه کښ
د خوشحال غندي به بېل شي له عالمه
د هر چا چه دا سودا پرېوزِي په زړه کښ

څوک په لوري دَ کعبه ځِي په هی هی　　څوک دیورې لَره چلېږی په جی جی
دواړه توکه په معني په حقیقت کښ　　په هر لوري غوزوي واړه دی دی
عاشقان ئې سل هزار یَوه معشوقه　　په هر لوري ورپسې دئ په پی پی
څوک په کور دننه ناست ور سره کېل کا　　حڅوک همېش ور پسې گرزي په لی لی
مېخانه یَوه هزار پکښې خمونه　　دَ مستانو ئې نارې دِي چه می می
که همای دئ که کجر دئ که کرگس دئ　　دَ هر چا مي خپل خپل شان دئ خپل فی فی
که څوک وصل د خپل اصل پسې غواړِي　　چه نارې دَ خدایی وَهي نی نی
زه خوشحال چه دَ وحدت په میو مست شوم[۲]
وایم دا چه کاوس کله وُ کی کی؟

څوک به ستا د مخ نقاب کارتي پتي　　څوک به ستا په اننگیو کښېږدي کوتي
که دِ بیا نوي شېوې په خاطر نه دِي　　د وُربل غوتۍ دِ څه له ده آرتِي
مظلومانو وته څه خو نظر وکړه　　په دربار دِ فریادِي دِي څیري ختِي
چه ئې پسي شاله ما هونبره ویل کړه　　مخامخ د هغو ولي ژبي نښتِي
پخپل یار به ئې کېدې دا هسي شندي　　چه همېش د رقیب خبري نغوتِي
یار په هر لوري جلوه کا ورته گوره　　که دِ نه دئ د لیدلو سترگي تِړِي
په نوروز کښ دا غزل واخله مطربه　　په آواز به دِ بلبلي شِي ساکتِي
گل ته چا دا هسي زېب و حسن ورکړ　　چا ئې هسي تِه په تِه پاڼي پرانتِي

Downloaded from: ketabton.com



د خوشحال په پالنگ بیا راغله سر شاره
په زعفرانو په چووه[۱] لړلې ختې

ځما مرگ هغه زمان دی چه رشتیا دَ یار هجران شې / که هجران له منځه ووزي نور به هر مشکل اسان شي
زه به ځان جهان ښندمه، په اشنا پسي به ځمه / پرې به پاسه قدم ږدم، که دښتونه بیابان شي
تا زړه ورکړ یوه هرنه یوه هر یوه بشر نه / لکه اوبه دَ جوي له سَرَه هورې ځي چه بېل وان شي
یَو خدنگ ئې وَویشمه وائي بل به دِ هم ولم / ورته پروت سر مي نېولي چېرې نه پدا پښېمان شي
ما دَ شاه دَ خولې سودا کړه په کروړونو ئې بها کړه / خوله ئې لنډه دَ هر چا کړه مگر دا په شاه جهان شې
له یو هسي مي روزگار دَئ، چه گه یار کله اغیار دئ / په همه کاره هوښیار دئ خو په ما باندې نادان شي
دَ خوشحال خاطر سوخته دَئ ستا په جور آموخته دئ
درد و غم ئې اندوخته دئ هم دا درد ئې بې درمان شې

ځما مَیَنه یاره چه نن ناست ځما په کټ یې / موندلی مي په بخت یې که موندلی می په مټ یې
آرام شته دَ زړه کام شته دَ چمن لاله غوړېږي / په دَور دَ شرابو ساقي ولي هسي لټ یې
نه دین لَرم نه دل لَرم نه صبر شته نه عقل / په دواړو سترگو ورځیو تا لا کړوني دَ درست هټ یې
چه مخ وته دِ گورم لکه نمر هسي ځلېږي / قربان دِ تر جمال شم په معني تر نمره غټ یې
چه ته را څخه نه وې یو کنگال[۲] دَ زمانې وم / پادشاه دَ درست جهان یم چه له ما سَرَه لټ پټ یې
پېرې به په گلزار کړې که بلبله دَ گلزار یې / گندگی لَره به درومې که په اصل تور گونگټ یې
دوه درې حجانه څه دئ چه ئې ته په مخ کښ نېسې / په زر پردو کښ کښېنه بیا د ما وته په چپټ[۳] یې
په خوب په بیداري کښ همېشه په فکر ستا دَئ
اورنگ وته خیبر دَئ وَ خوشحال وته کوهټ یې

ځما زویه دَ ننگ ندي نمر پیټار[٤] دئ / پرې پوهېږم چه همه واړه مردار دئ
نه ئې لویه اندېښنه نه ئې لوي کار شته / دَ مغلو وَ طباخ وَته تیار دئ
دَ منصب دَ اضافو خبري کاندې / په عزت په حرمت کله خبردار دئ
اتفاق یگانگي ئې سَرَه نشته / همگي روان په بېله بېله لار دئ
یَو څرگند قابل هر گز په دوي کښ نشته / که و دېرشو ته نیژدې د ما په شمار دئ
په الکش الکش[٥] ئې ستړي کړم ښکار نکا / د کوټه سپی کوکري پکښې سه چار دئ
یو څو دي پکښې هر گوره نا پکار دئ / دا نور زویه مي لا لږ او ډېر پکار دئ
نه دَ نوم دئ نه دَ شرم نه دَ ننگ دئ / اندېښنې ئې د ناکس دَ ناسردار دئ
نه له پلاره نه پیدا دئ نه له موره / خو صندوق بخچې ئې دواړه مور و پلار دئ
چه به تلل دَ نا قابل سرې دَ وړاندې / څو دا هسي بېرقونه نگونسار دئ

---

[۱] څو وه.

[۲] په شیدو ککړ لوښی چه اوبه ولغړوی، کنگال یې بولی.

[۳] دا کلمه په یوه نسخه کښ چټ لیکلې ده.

[٤] برگ بروگ ځناور یا مار.

[٥] په الکیش په الکیش.

Downloaded from: ketabton.com



شکایت له نورو مه کوهَ خوشحاله
چه خپل زویه هم په ننګ له تا وېزار دئ

ځما خرابه دله ته یو څرنګه خراب شوې — چه وو در څخه لاړل، په هر څیز پسې کباب شوې
دَ مښکو دور تېر شو دَ کافورُو دور راغي — چه نوم دِ د شباب وُ په نامه دَ شیخ شباب شوې
دَ باغ نرګس دِ هم لکه تازه وه هسي ندئ — دَ باغ دَ لاله ګلو دِ هم پاڼي پیچ و تاب شوې
دَ خولې حقه دِ ډکه په ګوهرو وَه خالي شوه — په حزن په حسرت دَ یوه هر درِ نایاب شوې
په باغ[1] به دِ چه کښلیو ښایسته بلبلو بړغ کړ — یوه بلبله نشته ثمرې ئې دَ غراب شوې
ښېرۍ دِ دَ سینې په زور چه پاسه تله په غرونو — غوټه خوري پکښ ګرزي اوس خسرې دَ دریاب شوې
مزري به دئ له ترسه په هیبت وه په کوهسار کښ — نیژدې درته وېغ وېغ کا دَ ګیدړو لا جواب شوې
چه ډکي په ښو مښکو په عنبرو هغه خولې وې — بد بوئ چار چوبې د زمانې په انقلاب شوې
په عمر چېرۍ وېښ وې بیا به هم چېري ویښېږې — هَي هَي دَ خوشحال بخته ولي دا رنګه په خواب شوې
پېرې لَرِي خوشحاله دَ اسمان ننداره وکړه!
چه څه وې پکوم شمار وې دا زمان په څه حساب شوې

خلقې واړه دَ شاه د خولې په غم دئ — چه د شاهي خوله ئې کښل کړه هغه کم دئ
چه د شاه د زلفو خیال لَري په زړه کښ — هغه تل په زړه پرېشان په صورت خم دئ
که په زړه باندي ئې زر داغونه جوړ شي — چه دَ یار له داغه آه کا هغه ګرم دئ
عشق یو څه عظیم بادشاه دئ که ئې ګورې — چه ګدا ئې له سلطانه محتشم دئ
ته دَ عشق سپروته سهل نظر مکړه — چه بې زرو بې لښکرو لکه جم دئ
دا دَ عشق د ګدایانو هسي چار ده — چه د فقر په جامه کښ محترم دئ
دَ چندڼ دَ وني ځکه بوي روان شو — هر چه ولي ئې دَ عشق په اوبو نم دئ
چه له عشقه خبر نشول خداي ئې واخله — که ظاهر صورت بادشاه دَ کل عالم دئ
د آتش لمبه کړو لَره پیدا ده — په هغو دَ اَتش څه غرض چه سم دئ
که په زړه زخم لرې دارو طلب کړه
د خوشحال وَیل دَ خوږو زړو مرهم دئ

خلق فراغت کا زه تل ستا په غم نیولَي — څه بده بلا وې زړه ما نه وې پېزندلَي
له کبره ډېره خیاله به څه سم وایې و چا ته — دَ کلي د محلت سَرَه چه زیست کا نا نمنځلَي
له ګوره نه به پاڅي رنګینه جامې اغوستي — دَ حشر په ساعت به هم څرګند وِئ تا وژلي
چه سترګي په رنځور کړې برنده کښېنې خوري زلفي — چه غټ به درته ګوري یویو مرد بویه بللي[2]
هر ګز به اروېدلي دَ لیدلو مخي نکړم — خوبی دَ یوسف اروم ستا جمال مي دَئ لیدلي
په ورځ دَ جدایيِ څوک څه وائي و ما ته — مرده وته هم کله نصیحت دَئ چا ویلي
که پسله مرګه زړه دَ خوشحال وګورې په ګور کښ
هر ګز به دَ ښه مخ محبت نه وئ ځني تللي

---

[1] په باغ کښ چه د کښلیو.

[2] یو یو بویه مرد بللی.

Downloaded from: ketabton.com



خلق نادیده دئ په خبروُ پسې ځغلي　　ځار تر عارفانو چه په حال دئ پوهېدلي
دو اویا مذهبه پکښې هونبره قال و قیلَ　　واړه سر هوا پخپل مطلب پسې دئ تللي
ډېر دئ کتابونه مشتمل په دېرش حرفونه　　کل واړه که گورې له الفه دِئ زوولي
سل بهي سل سېبه چه ئې مات په یَوه ځائ کړې　　سل به بلل نشي سَرَه یو دئ لا لیدلي
واړه نور دَ نمر دئ هم دَننه هم دَباندي　　هر چرته دا نور دئ په هر ښهر په هر کلي
زه خوشحال ختِك یم دَ رندانو په مذهب کښ
نور وَیل مي نه زده مختصر دِئ ما وَیلي

خوله دئ غنچه گل ده تور گیسو دَ سنبل پاڼي　　پښې دِ دِئ دَ زرکي سپنه غاړه دِ دَ زاڼي
شونډي دِ ژوندون بخښي په سترگو کړې خونونه　　ژبه دئ شکري ده دننه په زړه پاڼي[1]
مهر دِ له دله لکه مو له مخه ورک شو　　رایشه نا ترسی لُور دَ ترک که د پټاڼي[2]
هیڅ پرې نه پوهېږم دا دِ زنې که مټه ده　　خال دِ دَئ په زني که دانه ده د ممانې[3]
ته په پالنگ پرېوزې زه حیران په فکر لاړ شم　　پنډِ دَئ د گلونو که دا ته په پټه په پاڼي
زه هغه خوشحال یم چه دِ راز لَرم ساتلي
ولي هسي وایې چه تا عشق نزده ناځاني[4]

خندني هسي لر بر گرزي برسېرې　　برابر په تورو ورېشي سر تېرې
یَو مرغه په سر و په سپینو قیمت مومي　　بل هزار حیله په توره پیسه پېرې
په غوټه کښ ټپوس کله لکه باز دئ　　که ئې خلق دَ منگلو څښتن شمېرې
مړني لیوه حمله په ښکَر ورکا　　د نامرد یا په ورغومی یا په لهټېرې[5]
دا دوه څیزه پټوه په څه به پې شئ　　د نامردو نامردي د ښځو نمېرې[6]
اوښتو لره پخه کوتر بایده دئ　　دَ باز یو هنر هیڅ نزده کټمېرې
په جاهل خلق کښ ورک شوه چه عاقل دئ
یو یو بیت به دَ خوشحال پېرې په زېرې

خسته زړه مي چه نگار هورې هورې وئ　　هو بلبل مي چه بهار هورې هورې وئ
زه ئې ځکه دَ زلفینو په ارمان مرم　　هر ځوک وائي چه گنج مار هورې هورې وئ
که ته یار غواړې ورځه رقیبان گوره　　د گلابو گل چه خار هورې هورې وئ
د ښادئِ خوان ئې نورُو وته کښېښې　　غم ئې واړه چه دَ خوار هورې هورې وئ
په هیڅ رنگ ئې اوښته ورځنی نشته　　لېونی منصور چه دار هورې هورې وئ

---

[1] مطلب ئې پان دی، چه خوله سره کوی.

[2] پټان یې.

[3] مېوه ده چه په غره کښ کېږی.

[4] نادان یې.

[5] دا کلمه په یوه نسخه کښی لېری لیکلې ده، دَ سیند خاوند کښلی دي، چه لټېره یعنی بله گرداو بیهوده.

[6] د ښځو حېض راتلل (دریاب، پښتو لغت) .

Downloaded from: ketabton.com



ټپوسي مي په مردارُو بانديِ گرزي    و هندی[۱] شهند چه ښکار هورې هورې وئ
په گلونو باندي گنبت گانديِ بلبلي    پروانه غریب چه نار هورې هورې وئ
نه په باغ وِئ په راغ نه په بل لوري
د خوشحال خاطر چه یار هورې هورې وئ

ښتکي له ښتکي نه خوند آخلي    همسایه له گاونډی نه پند آخلي
څه به غم دَ صغیره گناه هغه کا    چه په غاړه کبیره څرگند آخلي
هوښیاران دَ نېکخواهانُو وَیل نغوږي    ناپوهان دَ بد خواهانو سند آخلي
دَ مظلوم آهونه کاڼی د غره سېځي    ظالمان به آزارُونه چند آخلي
دَ هغه لاسونه مه سېځِي په اور کښ    چه له پښو دَ بندیانو بند آخلي
که په زړه کښي ډېر غبار دَ غلیم پروت وئ    پرې خوروه چه غبارونه شخوند آخلي[۱]
خوشحال خپلو خوږو شونډُو وته پرېږده
چه طوطا خوږه مزه دَ قند آخلي

خوږې شونډِي دِ شکري ندئ څه دئ    کښلی غاښ دِ مرغلري ندئ څه دئ
بې له تا چه راته نور مخونه ستائی    دا و ما وته خبري ندئ څه دئ
چه تسخیر په تورو سترگو کا دَ زړونو    سیه چشمي سحرگري ندئ څه دئ
چه د زلفو په خنځیر ئې مزري بند کړل    هوسۍ سترگي زورَوَرِي ندئ څه دئ
چه د باغ سبري ئې پستي تر قامت دئ    پښتنې په قامت ستری[۲] ندئ څه دئ
وایې نوري میني لیري کړه له دله    ستا دَ مخ په دور لیري ندئ څه دئ
چه لاشه[۳] ئې دَ خوشحال په زړه څو خېږي
سرې لښتی ئې سرې ښبوري ندئ څه دئ

خبر ور څخه نه وم په څه خیال راغله پېري    په لوړو په ژوَرُو دم در حال راغله پېري
د سترگو په جوهرو مي په سی[٤] کښ را ښکاره شوه    په منښکو په گوهرو مي په کال[٥] راغله پېري
تر مرگ څه کمه نده ما ئې ښه ننداره وکړه    په زور او په قوت په ملك و مال راغله پېري
په زړه چه را په یاد شي دَ ځوانۍ تلاښونه    د َوارو تلاښونو پایمال راغله پېري
دَ مخ ده که دَ تن ده که دَ لاسو که د پښو ده    د کل واړو خوبیو په زوال راغله پېري
اقبال په مثال گل دئ تن په مثل لکه بوټي    په تن باندي چه راغله په اقبال راغله پېري

---

[۱] یعنی زننده.

[۲] یعنی جگی او لوئی.

[۳] لاشه یا لشه یعنی نېښ.

[٤] محشی لیکی چه سی د ابجد په حساب ۷۰ دی یعنی پر اویا کالو می د سترگو لیده لږ سوه.

[٥] محشی ورته لیکی چه مطلب له منښکو تور وېښته او له مرغلرو سپین غاښونه دی، او کال په ابجد ۵۱ کېږی چه پر دغه سن وېښته سپېن او غاښونه وزی.

Downloaded from: ketabton.com



ور درومه آئینې په يَوه کنج[۱] دَ مخکي پرېوزه    د کښليو په جمال په خط و خال راغله پېري
چه جونو وَته گوري خجالت ورځي پخپله    په عشق او محبت کښ انفعال راغله پېري
نه ښکار شته نه گزار شته اوس دِ جوړ سلامت گرزي
دَ تورو د غره بزونه، په خوشحال راغله پېري

دا چه وايې چه ډېر مهر په فلانې کړې    په ياري دِ رضا نده بهانې کړې
ستا وصال په دعا غواړم نه ئې مومم    ما په ډېر ورتله راتله ستړي ستانې کړې
زړه مِي ستا وَ تير ته نخښنه دَئ قتال!    پرې به کله جوړ دَ غشيو پر خانې کړې
چه جمال وَته دي گورم حيرانېږم    خداي په ما باندِي يوسف دَ زمانې کړې
سحر گر په سحر توري اوبه پرنِ[۲] کا    تا ځما اوښي په مخ دانې کړې
زه چه شونډِي ستا په شونډُو باندِي کښېږدم    وايم نوشي مي دَ مېو پيمانې کړې
ځما زړه لکه مزرَي وُ خاوند خداي مي    ستا دَ سترگو وِ هوسيُو ته ژانې[۲] کړې
دَ خوشحال په دود به ستا ورته پراته وِئ
چه په پښو ئې ستا دَ زلفو زولانې کړې

دا چه وايی چه دا بد کړې يا دا ښه کړی[۲]    که رشتيا وايم زه نه يم واړه ته کړې
چه په بين الا صبعَين[۱] زه خبر دار شوم    په لحظه کښ څه چاري په زړه کړې
په خطا باندِي عطا په طاعت قهر    چه په وهم فهم نه وِي هغه وکړې
دا چه اوس وَ واړه خلقُو ته رسېږي    چه دِي کړي په ازل دِئ هغه کړه کړې
دَ هر چا په باب چه شوِي هغه کېږي    په هيڅ رنگ به خپل مبرم حکم نور نه کړې
چه ښېگاه ډکي په شهد و په شکر دَئ    په سبا دَ هغو خولو خاوري په خوله کړې
چه هر دم د العطش نارې وهينه    په ساعت ئی د مقصود په رود اوبه کړې
په يوه مځکه يوه باغوان کَرَلِي    عباسي گلوُنه زيړ و سپين و سره کړې
د سحر گټنه ډېره تر هر څه دَه    ځني ځني ورته وېښ ځنی اوده کړې
چه په تور وېښته مغرور پخپل پرهېز شي    دَ صنعان غُندئ ئې خوار په سپين وېښته کړې
آلوده لَړَلَي درغَي درگاه ته
هيڅ مي نزده چه به حال د خوشحال څه کړې

دا خونِي سترگِي چه ته لرې دلبرِي    په کشتن به خلقې کاندې ډېرِي
لا به کله ځما خوار طالع مدد کا    چه به ستا سترگِي په ما شِي برابرِي
په حرام حرام راځه چه بوي ئې واخلم    دواړه زلفي په عنبرو معنبرِي
په عارض دي دَ زړه داغ دَ لاله ورکړ    ياسمن دي داَ پېغور کړل سمنبرِي
باز د جال کوتره وَوينیِ پر وَرشِي    ټپوسي باندي پېرې کا لر و برِي
گوره چرته وي په چرته گرزېدلې    چه فراق کړې هونبره اُوښِي را خبرِي

---

[۱] کنج د زنگ پرېوزه.

[۲] دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



محتسب دِ ځَنِي ليري ليري كرزِي
مست خوشحال څخه كوتك دَئ د پنبري[۱]

دا معنې دِي زورَوري [۱]سمِي چېرِي دِي خبري
ځوک چه لب كا سره بيارته ځَنِي توئي شِي سكري
ځوک چه كښېوزِي په ويَلو واړه وايي خاوري سَري
دَ مشكينو په بازار كښ تويی نه وي مرغلَري
خپلي خپلي شلومبې ستايي چه سلومبې پلوري گجُرِي[۱]
هر هر سكني ئې وَگوره په هنر زَغيږِي زغري
ډېر دِ ښه ووی خوشحاله
بس كړه مه درومه ډېر ليري

دواړه شونډي دِ خوږي شكر پاري دئ دَ گلابو گل د دِ واړه رخساري دئ
دَ هغه خوني څه باک دَ چا له مرگه چه په تېغ ئې روغي شوي مناري دئ
چه دِ لاف دَ سپيني خولې كا هغه سر خوري په دربار دِ دَ سرونو انباري دئ
د خپل يار كره دی گل نشته له باغه دَ اغيار كره پراته په پشتاري دئ
[۱]دَ دردمنو له آزاره وېره وكړه ورځ و شپه ئې ستا په ورباندي ناري دئ
شيخه ته راته دَ پند خبري وائې چه مي غوږ ورباندي ندئ شماري دئ
پدا اور كښ دِ د ما لَمن و نه سوه په هر لوري رسېدلي شراري دئ
حريفان ډكي پيالې اخلی له ورايه
د خوشحال خټك په بخره ننداري دئ

دَ الفت غُندي ئې ته په قامت سم كړې خداي ځَما دَ زړه په سر باندِي رقم كړې
مخ به چېری راته سم كړې په ياري كښ كه دا خوي به تل ځما دَ عمره سم كړې
دا گلزار دَ هيڅ گلزار سَرَه سَم نه دئ چه زلفيني په سپين مخ راته خم خم كړې
در پوهېږم چه مي سر وته په څو يې كه هزار ځَله ځَما په سر قسم كړې
چه له دم سَرَه مي كښته پورته كرزې ته په ما باندِي دا چاري په كوم دم كړې
هم دِي وَوژلم پخپله هم بيا گوره بيا په ما باندِي تېتر وهې ماتم كړې
چه په زړه مي كرزيدې هغه خبرِي كور په كور په هر ديار خوري عالم كړې
دَ هجران ورځَې چه كښې پشمار دَ عمر دَ قضا كاتبه عدل كه ستم كړې؟
چه ويار وته تَل غندې رقيبَ! څه په دا به دَ يار مهر له ما كم كړې
چه دِي سر تر پايه درست په غم كښ ليو[۱]كړم
راته وايې اوس خوشحال اوسه څه غم كړې

دَ ځَوانی په خوبيه كښ څه شك دئ د پېریِ عمر درست له عيبه ډک دئ
پرهارونه می په زړه تازه تازه شي د ورولي په پرهار باندي نمك دئ
كه څه ښه در باندي راشي پر خوښ مه شه په ښادِي پوري هر كله غم لك دئ

---

[۱]دا كلمه عيناً وليكله سوه، معني ئې حل طلبه ده.

Downloaded from: ketabton.com



هیځُ فریار دَ چا د ظلم جور مکړه    په هر چا باندي چه شندي کا فلک دئ
غم ئې بې حکمته ندئ پیدا کړئ    د نامرد دَ مرد په منځ کښ غم محك دئ
څو چه ډېر ډېر لذتونه ډېر غمونه    ښه هغه چه بس ئې ګېډي ته کنډک دئ
توره چا وته ترم چه زه ملنګ شوم    ښه خو دا چه مي په غاړه يو کوتك دئ
تفحص که څوک دَ خوړو زړونو کاندِي
د خپل قوم له لاسه ورک خوشحال خټك دئ

د عطار خوني عطار وته اظهار دئ    که جلاد ئې د خطا د د ملك تا تار دئ
خدايه ته مي په ښه مخ باندي مَين کړه    دَ عاشق دَ عاشقی سَرَه څه کار دئ
څوک ئې هونبره مينه کښيږدی په کوکل کښ    عندليب چه په ګلونو مينه دار دئ
نه ليلی زده نه مجنون زده پدا منځ کښ    يو نازک لطيف رموز باريك اسرار دئ
د هر څه رموز مونده شي په جهان کښ    چه نظير ئې مونده نشي ځما يار دئ
عقل صبر و دل و دين ولاړ شه په عشق کښ    خو را پاتو يو ژوندون شه پدا لار دئ
د دې ښهر دلبر واړه زړُونه سَم خوري    پل به نړدی پدا لوري چه هوښيار دئ
ساقي زه دَ جرعه نوشو غُندي نه يم    ډکي ډکي پيالې راکړه ځما وار دئ
که دِ وينم په سترګو ستا په ياد مي    شګفته تازه دَ عمر لاله زار دئ
چه سنبل ئې دَ زلفينو نمودار شي    هغه ځاي دَ تورو مښکو څه مقدار دئ
تا هر ګز دَ چا دَ زړه دلاسا نزده    چه پتا باندِي مَيَن شول تل ئې زار دئ
مګر ستا دَ زلفو نوسي ئې وکاږي    چه مي مات د ښلتانه په زړه کښ خار دئ
دَ سونډک مونډک سيلی آحري کېږي    په بلبلو خبر وکړ بيا بهار دئ
په وصال کښ ئې بادشاه دَ زمانې وُ
چه له کښليو نه جدا شو خوشحال خوار دَئ

وايم له تا ولاړم که په ناسته مې ملال يې    کبر لوئي مکړه که هر څو صاحب جمال يې
ولاړم ستا له وره ستا په يادو به مشغول وم    ولاړم له ما نه ځِی دا چه ته مې په زړه نهال يې
زه غريب نامرد يم څه و ما وته ګواښېږې    قهر کړه هغو ته چه دِ سيل دئ يا ئې سيال يې
هېڅ ګناه مي نشته چه مي وژنې يا مي ولې    واړه دِ مستي ده نه ترلي په وبال يې
خدای خو خبردار دئ چه له تا به ئې دريغ نکړم    لږ و ډېر مشتاق ځما دَ سر که يا د مال يې
تل جور ستم کړه هغه نه يم چه زړه بد کړم
سل جور جفا کړه بيا لېمه د خوار خوشحال يې

د دنيا خاني ميري په زور و زر شي    عاشقي په نور څه نشي پخپل سر شي
و عاشق ته نصيحت په مثال څه دئ    لکه اور چه په پوکلو تازه تر شي
کار ځما او دَ مجنون سَرَه يو رنګ دي    لکه دوه لرګي په اور کي سر په سر شي
چه په دار ئې آبدست کړ پخپلو وينو    کوم سړی به دَ منصور تر ځايه ور شي
څو به راز دَ زړه پنهان لَرم له خلقه    عاقبت به لوي هلك ځني خبر شي
په هر باد پسې پرېشان پرېشان جار وړم    که په بوي مي ستا د زلفو سوړ ټېر شي
خوار خاطر مي چه مقيم شو ستا په ورکښې    کله وئ چه ستا له وره ور په ور شي

Downloaded from: ketabton.com



کله کله چه په مهر بوسه راکړې ستا تر خوله دِ صدقه شهد و شکر شي
چه په غولي ئې نظر وکړم ستا له ورایه خارو خس ئې راته گل د پیغمبر شي
زه به هیڅکله وانوړم ستا له کویه کور او کلي که همه راته لښکر شي
که هر څو سرَی وېښته څوِی په پوهه چه قضا وربانديِ راشي کور و کر شي
دَ یار غم له خلقه پټ لَره په زړه کښ که لاله غُندي دِ ویني درست ځگر شي
چه ئې وروځې ور ښکاره کړې خلقو بویه
چه خوشحال ئې دَ کښتیِ قلندر شي

دریاب څه دَ جالې دَپاره نه ځي که څوک وائي پخپله رضا درومي جاله هم ورسَرَه بیائي
په غرونو واوري اوري بارانونه په ملکونو له هیچا خبر ندئ چه په موږه هم څوک پائي
په دوولس برجه گرزي نمر پوره په دوولس میاشتي پدا خبر دار ندئ چه صیفي دَئ که شتائي
په درست جهان کښ گرزي باد حیران په څلور کنجه په هر لوري چه گرزي نا خبر چه څه پیمائي
مېوه غلي گلونه ځني رنگ رنگ نعمتونه له مځکي پیدا کېږي مځکه پروته گل ولائي
څلور واړه عنصر چاکران دئ اې خوشحاله
چاکر هغه خدمت کا چه صاحب باندي فرمائي

دَ دانا په حال نادان کله خبر دئ چه پخپله نادانِی کښ اوتر دئ
د لېچن په سترگو وځلېده ستوري و عالم ته ئې ناري وکړې چه نمر دئ
دا داغونه مي چه ښښي په ځگر دئ خو هم ما زده چه مي پوخ ځني ځگر دئ
که څوک خپلي سترگي وساتي غم نشته چه په زړه تندر پرېباسي خپل نظر دئ
خداي دِ هیڅوک پدنیا کښ عاشق نکا عاشقي پخپل صورت باندي لښکر دئ
لېونَی زړه مي پرون په خندا ولاړ وُ راشه گوره چه نن بیا په ژړا سر دئ
چه د فکر مرجونا له بحره وکیښ
راشه گوره د خوشحال کلام گوهر دئ

دَ چا به څه لره مانه له بله شي نیك و بده په عمل موندله شي
هر چه وَکړِي هغه به وَرېبي له خپله لاسه هره کرَله شي
دا خود نمایه محبوبه گوره چه کله گل شي کله بلبله شي
کله غوغا کا په خرابات کښ کله دَ ذکر په حلقه داخله شي
لون لون ښښوې ئې دېرى دئ اول به کومه یَوه ویله شي
نورو خوبنیو وته به شا کړې که دَ یار دَ میني خوبني دِ خپله شي
شمعي چه ژبه په راز اوږده کړه ځکه ئې هسي کله وهَله شي
چه زاهدان ئې په زهد مومي دَ عاشقانو په آه گټله شي
جفا ئې واړه په وفا حساب کړه دَ یار جفا په وفا نیوله شي
که اور در لگی چا ته مه وایه چه اور را بل دَئ سینه مي سوله شي
خوشحال فهم کړه مجلس دَ عامو دئ
د منصور پیاله به په منصور نوشله شي

Downloaded from: ketabton.com



دا نه زهد پارسائی دي چه کېږي　　په هر لوري رسوائی دي چه کېږي
نصیحت دَ دانایانو لکه باد شو　　دَ وګړي خود رایی دي چه کېږي
هر ناپوه پخپله پوهه افلاطون شو　　څه نابودي دانایی دي چه کېږي
مخ بد رنګ زر و ګوهر زېور پرې پوري　　څه بې ځایه زېبایی دي چه کېږي
نه ئې داد نه ئې دهش نه ننګ نه شرم　　دا دَ خلق کد خدایی دی چه کېږي
دَ رشتیني مینې بوي نشته خوشحاله
دَ دروغو آشنایی دي چه کېږي

دَ دنی دنیا دا هسي قرارداد دَئ　　چه ګهي ئې را نیول کله ئې داد دئ
عاقبت به دَ دنیا په غم غمجن شي　　هغه زړه چه دَ دنیا په ښادي ښاد دئ
دَ دوشش نارې وهي دوه خال ئې پرېوزي　　دا دنیا په مثال نر د سړي نراد دئ
له دنیا نه هیچا کام موندلي ندئ　　که شیرین وُ که خسرو وُ که فرهاد دئ
دَ دنیا مثال که وګورې عاقله!　　په حساب لکه اُوبه یا لکه باد دئ
نه اوبه په یوه ځاي کښ قراري کا　　نه دَ باد په یوه ځاي باندي اِستاد دئ
مبتلا ئې همېشه په زړه محزون دئ　　طلبګار ئې هر زمان په بلا یاد دئ
تر وفا ئې د جفا خویونه ډېر دي
ځکه هسي دَ خوشحال ځني فریاد دئ

دَ عاشق په زړه دباندي بار دَ یار وئ　　خداي دِ نکا چه به لاندي تر بل بار وئ
یَو ځل بیا سر توره مسته را ښکاره شوي　　چه ئې زلفی آوېزاندي په رخسار وئ
ستا په نه لیدن ئې شمار نه ئې حساب شته　　اندېښنې په زړه اړاندي صد هزار وئ
چه تا ووینم تازه غزل انشا کړم　　پرې بلبلي فریاد کاندي چه ګلزار وئ
په درست ملك کښ چه څوک لافی دَ ښایست کا　　همګي دِ لکه سپاندي ستا بخار وئ
ستا تر هر چاري ځاربېږم بلا دا شوه　　په ما خوار پوري چه خاندې څوک به آر وئ
تا وَیله چه خپل زړه و ما ته راکړه　　دا خوار زړه مي ستا دَ وړاندي که پکار وئ
زه خوشحال دَ یار دیدن وته تلوار کړم
تل بلبلي ځلبلاندي دَ بهار وئ

دَ ښو غشي ئې کل واړه د لدو زدي　　عاشقان دَ دغو غشیو غم اندوز دي
نن مي بیا په نظر کښېوته مهر شه　　تر لباس ئې شرمنده اهل نوروز دي
په مثال ئې توره شپه دا توري زلفي　　ګلعذار ئې څراغُونه شب افروز دي
په بارخو باندي ئې خرپ دئ د غاښونو　　دا چیچل مي دَ عاشق نو اموز دي
اغوستن لره ئې پاښی د سوسن دئ　　که دَ نورو جامې روغي شمند روز دي
د کوتری اشارت د دیو مرګ دئ　　عاشقان تر کله تېر بازونه بوز دي
سر تر پایه په لمبه باندي ګذر کا
د خوشحال وَیل پدا سبب دلسوز دي

Downloaded from: ketabton.com



دَ نادان په یاري څه لره څوک ویاړي — هر زمان ښکاره یاري را ځني غواړي
دَ یاریِ هنر هیڅ ورځخه نشته — که پندونه ورته وایم راته ژاړي
هسي مست بې پروا یار ځما په کار دئ — چه د خلقو پېغورُونه سَرَه نغاړي
دَ رقیب په بد ویل عاشق داړه شي — لکه سپی پخپلو داړو سری داړي
ډېر می وګانډه ګرېوان د عشق پکار کښي — نور په ما نشي وهل د ګرېوان نماړي
دَ وصال په وخت امان دَ رقیبانو — دَ بهار په موسم ډېر ګرزی غوباړي[۱]
هر شاعر څخه تازه مضمون دَ ځان دئ
د ښه لیندي صدقه خوري د ښکار شاړي

دَ همه خلقو نظر پخپل بهبود دَئ — په هر څه کښ ورته څرمه خپل مقصود دئ
چه څه درد دَ عشق لري ترې به ځارېږم — که مؤمن دئ که کافر دئ که جهود دئ
چه خپل یار وَته نظر وَکړم خوشحال شم — تر جمال پوري ئې بل جمال مفقود دئ
دَ یار مخ که په ظاهر له ما جدا شو — په باطن کښ هر زمان راته نمود دئ
دَ عاشق دَ آه له غشي بویه ویره — چه توبري ئې تمامي زهر آلود دئ
دا آسمان چه سراسر کبود لیده شي — پرې پوهېږې پورته لاړ دَ زړونو دود دئ
بیا ځما طالع مدد وَکړ په خداړو — چه رقیب دَ یار له وره نه مردود دئ
دَ جهان ښاديِ کل واړه ځما دئ — غم مي کل واړه په بخره دَ حسود دئ
دَ خپل ور خاوري که ورکا ځان ئې واخلي
دَ خوشحال خټك پدا سودا کښ سود دئ

دَ خاطر مي له اندوهه نه څه ننګ دَئ — که ئې زده چه دا ښادیٔ ساعت یَو درنګ دئ
لا مي یو خدنګ له زړه وتَلي نه وئ — بیا ځما په زړه نوبت دَ بل خدنګ دئ
هر سحر په ما له ورایه تېغ وکښلي — خول په سر یېښي راځي په نیت دَ جنګ دئ
تر چشمانو مي اوره ګټه بې نمه — تر محنت پوري مي غر لکه لا سنګ دئ
په خروار عیش و عشرت کاندي وګړي — خو د ما دَ زړه په بخره عیش تنګ دئ
ما دَ زړه په سترګو رنګ د زړګي وکوت — همګی دَ غم په سرو وینو کښ رنګ دئ
دا اسمان چه پاس په سر باندې څرخېږي — په چا چتر مرصع په چا پلنګ دئ
دَ دنیا په لوئې څه باور خوشحاله
پرُون دَور دَ خرم[۲] نن دَ اورنګ دئ

دلربا خوبا وربل دِ تېر و بېر دئ — هو هو تار ئې دَ عاشق تر زړه چاپېر دئ
دَ اوزبك تاړاک مي هم دا هسي نه وئ — لکه ستا د سترګو تاخت په خوارو تېر دئ
د ما زړه چه دَ مزري تر زړه تېرَي کا — ستا دَ سترګو وَ کبلَیوُ وته زېر دئ
هغه راز چه به ما تا سَرَه تنها کړ — نه به هېر شي له خاطره نه مي هېر دئ
د غمزې په تېغ ومرم خوني مي ته یې — بیا به وایې چا وهَلي په شمشېر دئ

---

[۱] یعنی د خره مچ.

[۲] خرم: شاه جهان، چه خپل زوی اورنګ بندی کَی.

Downloaded from: ketabton.com



دَ خوشحال و مرگ ته څه توري وکاږي
دبنو ناوک دِ هم ور لَرَه ډېر دئ

دا کلام مي دئ هغو ته چه په هوش دئ — نصيحت ته ئې نيولي دواړه گوش دئ
په ټکي ټکي جامو کښ که لويي ده — دَ سپلمی ملخي هم الا چه پوش دئ
دَ مردانو دَ خپل شرم کاروبار دئ — نور ئې هر څه له خاطره فراموش دئ
دَ زنانو په حساب دِي مردان مشه — چه له زېبه له زينته هم آغوش دئ
شړی ور پښتون به سل په ډکه يوسي — کشمېرى چه بغرگ شالونه ئې په دوش دئ
هوښيارانو څخه ډېره هوښياري ده — په مجلس کښ چه سامع نشته خاموش دئ
په هغو ئې دَ جهان ښادي پېرځو ده
چه په غم کښ دَ خوشحال سَرَه په خروش دئ

دا ويي ځما دراز دئ — دا منزل دور و دراز دئ
تازي سوار دئ پکښي پاتو — ځُه ټټو څه ټټو تاز دئ
دَ نائي ډېره ناسازه — دَ بل ډېرى وته ساز دئ
دَ دانش کښېدې بويه
نه دَ سرو زرو طراز دئ

دَ کمال لافي دِ نکا نا درستي — چه تلقين ئې دا کامل نه وِئ آخستي
دانشمند دَ معما په علم پوه دئ — دَ ابجد په حساب څه خبر نا لوستي
هيڅ کمي و ځان ته نه پرېږدي په ژبه — دَ کردي په کار کښ غوڅ په گيسو سکښتي
دَ دانا تر سر مي دُر گوهر نثار کړي — دَ نادان په سر مي پنډ دَ خاورو لوستي
ارادت ئې بر سېرن په وراندي نه ځي — دَ خپل پير په عيب سر شه يقين سستي
دَ ململو قدر چا وته ښکاره دَئ — چه ململ ئې همېشه په تن آغوستي
په هغې يارئِ څه باور خوشحاله
چه پيوند ئې په وېښته سَرَه آمستي[۱]

دَ يار غم کله اغيار وته وَلاړ دَي — دَ يار غم خو هم خپل يار وته وَلاړ دئ
د هغه بادشاه له ملکه عالم تښتي — چه د ظلم و آزار وته وَلاړ دئ
بې همت سړی له هر کاره غرېږي — همت ناک سړی هر کار وته وَلاړ دئ
د هغه شاعر مخ تور شه چه په طمعه — و هر وَر و هر دربار وته وَلاړ دئ
خلق هيڅ را خبر ندي چه په عشق کښ — څو فکرونه و ما خوار وته وَلاړ دئ
چه دِ توري زلفي ووينم حيران شم — په حيرت سړی تور مار وته وَلاړ دئ
په بورجل باندي دِ هسي نا قرار شم — لکه څوک چه و گلزار وته وَلاړ دئ
ليوني خوشحال په نن دَي ديدن ورکړه
د سبا فکر هوښېار وته ولاړ دئ

---

[۱] محشی ورته ليکلی يعنی تړلی.

Downloaded from: ketabton.com



دا ستم چه خپل آشنا دَئ په ما کړئ     نا آشنا سړی به نه وئ په چا کړئ
په یارئِ دِ ئې هیڅوک غلط نشي     وار په وار ئې درست عالم دي تر شا کړئ
گوره سر به ئې په رندکه په زاهد شي     د غمزې خنجر ئې اوس دئ تر ملا کړئ
دَ مخ خال ئې تور تارو دَئ په گلزار کښ     دَ زړه باز مي دَئ نظر پسې وا کړئ
خدایه ته ئې دَ زړه مهر په ما وکړه     چه دِ زه په ظالم یار یم شیدا کړئ
دَ فراق غمونه هسي را پسې دِئ     درسته شپه ئې و ما خوب ندَئ را کړئ
زه به ولي دَ ښه مخ نندارې نکړم     نندارې لره ئې زه یم پیدا کړئ
یَو وصال دَ ښو یارانو بل هجران دَئ
چه خوشحال ئې په خندا په ژړا کړئ

دَ تقوا لافي وهي دَ صادقی     په قاضي ئې گواهان تېر دَ فاسقی
په رشتیا خبرُو هم متردد یم     په وسواس کړم دَ عالم منافقی
دا چه وائي څوک به هست کړم څوک به نیست کړم     سکه دعوا کاندي سړی دَ خالقی
که عذرا په ملك کښ شته مخ دِ ښکاره کا     زه په تن کښ زړه لَرم دَ وامقی
آدم زاد په تفاوت سَرَه پیدا دي     یَو په بل تېري لَرِي دَ فایقی
دَ بزرگانو په مسند هغه تېرَي کا     چه لري واړه اسباب دَ لائِقی
ننگیالیو سَرَه وېره دَ سر نشته     سر سړی پرېکا دَ خره په سارقی
نمر په گوته پټاوه نشي خوشحاله
هېڅ منکر مه شه دَ خپلي عاشقی

دَ هغو چه گرزېدَنه ستا په تل شي     ستا په تل به ئې آخر سرُونه تل شي
ستا چشمانو مي زړه یو ښو قبل کړ     دَ هغو به څه احوال وِئ چه قبل شي
دَ وصال دَ ناوي مهر څه دَئ غم دَئ     هغه هم واړه یکباره معجل شي
عشق یو څه دَ مزرې برېت دی په کوگل شي     دَ رنځور ئې په څو ورځې رنگ بدل شي
ښایسته که هر څو لافي دَ ښایست کا     چه ئې ته په نظر کښېوزې نور خجل شي
یو گلزار په یوه درنگ کښ شگفته شي     چه ئې زلفي په بارخو باندِي وَلَول شي
تر هرر حرف ئې دَ خطا نافې ځاربېره
آفرین دِ د خوشحال پدا غزل شي

دا چه گرزي کښېني پاڅي پایڅې لنډي[1]     شانکي وَهِي در بلي څربي لنډي
دا همه واړه زهزن د طریقت دِي     خپلي خوني لَرهَ وړِي پردئِ گنډي
نیك و بده چه و چا وته رسېږِي     پخپل ځان ترِي دا دواړه په ډوډنډي[2]
د عالم رخنې تړه په سبا دَي مره     خبر نه دَي دا گیدي[3] له خپلي انډي

---

[1] دا بدله عیناً وکښله سوه اکثر ابیات ئې حل طلبه دي.

[2] په بله قلمي نسخه کي ډونډ کښلي دَي.

[3] گیدي سید راحت په معني دَ خره راوړي دي یعني دا خر له خپله انډي (بار) خبر نه دَي.

Downloaded from: ketabton.com



ورنځور ته ورکوه صحت په نذر[۱] کښلي زوي[۲] په دروغ ورکړه و شنډي
قتلولَي ورکولَي باور وکړه چه هم دا دِي په دنیا کښ دَ دین خنډي
چه به بې خداي یقین په نور څه کاندي د هغو دَ ایمان یو وړې شیطان ونډي
عالم کفر ته وباسه په زمان کښ دَي تر خپل ایمان وتلي لا په څنډي
شرعَ منډ۰[۳] د بني ده چه ولي دَي یو قدم په بل سر نه درومي له منډي
دا ئې ذکر دَ کامل نه دَي اخستي لکه خرونه نارې شوري[٤] وهي ترنډي
لا به کله دا سګان وژني خوشحاله
چه به دا ثواب حاصل کړې پنډي پنډي

دا سړی خو په ادب سره سړَی دئ چه ادب ور سرَه نه وئ نور څاروی دئ
چه وفا ور څخه نه وئ سړَی نه شه تر هغه نه په وفا کښ بهتر سپی دئ
عادلان می دَ جنت دَ ګلزار ګل دئ ستمګر مي دَ دوږخ دَ اور لرګي دئ
سپی چه چا سره آشنا شي چه بر وَخوري و هغه ته ئې تم نه وِئ څو ژوندي وئ
دَ انصاف د ښبنتن غم دَ دوږخ نشته دَ انصاف مي تر طاعته لا پرخی[٥] دئ
په ښه خوي دَ سړی قدر قیمت کېږي بد خصلت سړَی یا د یو دَئ یا پېړی دئ
چه ئې علم هنر نه وِئ ځني تښته بې هنر سړَی که وګورې لا شي دئ
چه په پند په نصیحت دِ بندي نشه تور زنجیر ور لَره بویه که مزري دئ
په روا په ناروا دَ ملحد څه دئ په مذهب دَ ملحدانو کوکري ورَی دئ
دَ راحت په وخت دَ یار تجربه نشي چه محنت در سره واخلي یار دِ دَئ دَئ
هر زاهد چه زهد واخلي بې مرشده
دَ خوشحال خټك په پوهه تش ملخی[٦] دئ

دواړه شونډي دئ شراب پرتګالي دئ په سره والي له یاقوتو په سیالي دئ
په سپین والي په ښایست په زېبایَی واړه غاښ ئې مرغلري لآلي دئ
په ښېوه ښېوه چه پل کښېږدي په لاري کښلي پښې ئې دَ ګلزار په پایمالی دئ
په کالیو سرَه مخ ښایسته کېږي ستا په مخ ښایسته ستا دَ مخ کالي دئ
په طلب په استغنا چه تجربه شول عاشقان معشوقي دواړه جنجالي دئ
نن هغه سړی که غواړم مونده[۷] نشي چه خوشحال د ما دَ زړه په خوشحالي دئ
هره چار ئې قبلوه که پرې میَن یې ښایسته کله له خیاله نه خالي دئ

---

[۱] دا کلمه په ټولو نسخو کښ نظر راغلې ده مګر ندر به صحیح وِي.

[۲] کښلي زوي ورکوه دروغ د شنډ.

[۳] دې کلمې ته محشي لار ترجمه کښلې ده.

[٤] دا کلمه په هره نسخه کښ جلا املا لري.

[٥] د ضرورت نه زیات (دریاب، پښتو لغت)

[٦] پلی دی.

[۷] نه ئې مومم.

Downloaded from: ketabton.com



په ورېښمینو نهالیو دِ نور خوب کا    دَ کوځې خاوري ئې ما ته نهالي دئ
دَ فراق په وخت د ما سترګو ته ګوره    په ژړا ژړا شېبې ښنکالي دئ
تل ژړا نارې بلغاکي خوب په څو کا    چه میشته دَ فراقجن په حوالي دئ
زه دَ مستي په پېزواند باندِي مَین یم    که دَ مخ کالي ئې غوره غوټیالي دئ
نوم ئې مه اخله خوشحال وته په ژبه
مخ ئې تور که په یاري کښ ټېټالي دئ

دَ هوښیار دَ نادان هونبره تفاوت دئ    څو دَ مځکی دَ اسمان په منځ کښ وت[۱] دئ
نادان څورب فراغت ګرزي خوښي کا    هوښیار تل تر اندېښنو لاندي چت پت دئ
که په ما باندي څرخ خوری پروا ئې نکړم    د هر هر کله دانا سره په نښت دئ
که حاتم شي یا رستم شي خوله ئې ګوره    چه ئې لافي د خولې وکړې نور انډت دئ
عشق یو مست هاتي وَلاړ سَرَه ښورېږي    دا په ځان خوني عاشق ئې مهاوت[۲] دئ
چه دِ کم اختر پرې وشو لوي به هم کړې    چه خیرن در څخه نشي دا یوخت دئ
څوک د بل د کورته[۳] خوري ور پسې ګرزي    چا خوړلي به درست عمر ښکار د ګورت دئ
د تحصیل او د ترتیل بلا په ده شه    چه ملا د حق ګویی په کار ساکت دئ
حاجي ولاړوُ و مکې ته راغي ده مي    په دروغو په حرص ډک کړئ کت دئ
چه دیدن ئې دَ ګلرویو سَرَه کېږي    مي دِ خوري نوروز دِ کا بهار ئې نت[٤] دئ
چه په کور کښ ئې کښېږدي په چا ئې نه خوري    خدایه مال ئې و ما راکړه چه معنت[٥] دئ
چه کردار ئې موافق د ګفتار نه وئ    همېشه دَ دروغجن په ږېره ېت دئ
دَ باطن په سترګو ګوره هغه مخ ته    ظاهري نظر دَ نمر په لیدو تت دئ
دَ خوشحال کلام شیرین دئ تر نباتو
چه په خوند ئې خبر نه دئ ورته کورت دئ

دَ سوخته وو، یو وصال دئ    چه هجران پکښ محال دئ
دَ یار غم چه معشوقه شي    نور ئې وصل لا یزال دئ
که هزار پردې تر منځ وي    هغه واړه اتصال دئ
چه راځي دَ یار له لوریه    ورته بس هغه شمال دئ
چه په عشق کښ ئې سوخته وئ    ور ښکاره هغه جمال دئ
دَ هغه بیلتون له کومه    چه تل خوښ دَ یار په خیال دئ

---

[۱] یعنی سوری او درز او فاصله.

[۲] دا کلمه هندی ده یعنی فیلبان.

[۳] یو قسم پخکړې چه د اربشو د اوړو او شوملو نه جوړېږی (دریاب، پښتو لغت)

[٤] یعنی غنیمت.

[٥] دا کلمه عیناً ولیکله سوه په ځنو نسخو کښ مغت راغلې ده تحقیق غواړی که داسی سی معنا ورکوی، مال ئې و ما را کړه غنیمت دی.

Downloaded from: ketabton.com



مخ دَ يار گوره په تيل[۱] کښی
دَ خوشحال ختټك مثال دئ

دَ فساد فکر نشته خداي حاضر دئ خپل ساعت به تېروم عمر آخر دئ
اطاعت دَ اولو الامر ځکه نکړم خليفه د زمانې په زړه کافر دئ
پلار ئې ووژي په بند ورونه په توره په آزار دَ مومنانو بهادر دئ
دَ ابليس غُندي مکرونه ئې په زړه کښ په فريب کښ تر ابليسه لا ماهر دئ
په باطن ئې ودانی ته نظر نشته په ظاهر که ودانیِ ته ناظر دئ
دَ چا زړه به ځني روغ په دنيا نه وئ
د خوشحال ختټك چه چاود ځني خاطر دئ

دا دنيا ده چه پدا کښ څه موجود دئ دَ دنيا سَرَه همه واړه نابود دئ
بد هغه چه ئې نظر په سود و زيان دئ ښه هغه چه نه په زيان نه ئې په سود دئ
نه محمود شته نه اياز دور ئې تېر شو په جهان پاتو خبري دَ محمود دئ
د خپل دين د خپل ملت سيله ثنا کا مؤمنان دئ که ترسا دِئ که جهود دئ
تربيت ئې له فلکه دَئَ موندلَي که پوهېږې چه دا درې واړه موجود دئ
که آفتاب دئ که ماهتاب که واړه ستوري ورځ و شپه په عبادت کښ دَ معبود دئ
پخپل حکم به ئې بيا سَرَه تازه کا دا هډونه چه په مځکه کښ فرسود دئ
آغوستن که ئې زربفت وِئ که شريه پدا دواړه توکه ښه سرِی خوشنود دئ
که دَ ليري که نيژدې شمارونه مکړه چه به درومي يا را درومي واړه زود دئ
په قيامت په بل ژوندون چه شك گمان کا
شگ پرې مه راوړه خوشحاله چه مردود دئ

دَ هوښيار غلطي نه وِئ او که وئ خو دَ خندا شي پخپل عقل غره مشه که غره شې حيف دا شي
دَ دنيا مينه ډېر مکړه دَ دنيا مينه څو ډېر کړې و زړه ته به دِ هونبره ډېر غمونه را پيدا شي
قربان ئې تر همت شم ځني هسي ليوني شته که تخت د سلطنت وِئ پرې دَ دوي کله پروا شي
چه ستا نصيب قسمت دئ که طلب ور پسې نکړې په غېږ کښ به دِ واړه خواه ناخواه در لَره راشي
دَ يار دَ زړه ساتنه په مثال دروغ کالي ده هيڅ حال د کالي نه وئ که پيوند دَ کالي بيا شي
چه باز دِ پرواز وکا په طلب ورپسې گرزې که بخت مدد کاري کا چه ئې ونيسې بيا ستا شي
نادان دئ که هوښيار دئ له هر چا نه عقل اخله يا تور عشي خطا کا دَ هلك غشي رسا شي
چه دئ وخوړ هغه ستا دئ مال چه نخورې[۲] بلا دا شي په مرگ يا په ژوندون به په نصيب گوره دَ چا شي
مدد د طالع بويه چه هنر سَرَه همراه وئ هنر به سود ونکا دَ طالع که درته شا شي
په زړه کښ خپل غرض دئ چه هيڅوک ځني خلاص ندئ يا يافت دئ يا نيافت دئ چه خندا شي يا ژړا شي
خپل ځان وته ئې وائي خوشحال دا خوږې خبري
حلوا ده د نباتو که تر خوله دِ دا حلوا شي

---

[۱] تيلې يعنی اورلکيت يا کوگړ (درياب، پښتو لغت)

[۲] تحويلدار يې.

Downloaded from: ketabton.com



دنیا بده بلا ده چه و ما وته ښکارېږي　　په دې له خپله پلاره سکه زویه وېزارېږي
چه څوک و بله خپل دئ ولي فهم فکر نکا　　چه مرگ شته په دنیا کښ سره ولي نه ځارېږي
په هر لوري چه گورم و عالم وته حیران شم　　وینا د هیچا نده په دنیا سرَه خوارېږي
و بل ته توره واخلي پدا کار کښ ډېر حیران شي　　چه خپل دِ په بدي شي ستا وَ جنگ ته تیارېږي
چه بخت را سرَه مل وُ مار به مار ته څومښکۍ شو　　چه بخت و ماته شا گړه څومښکۍ راته مارېږي
دنیا دَ مست هاتي په خوي خصلت ده که ئې گورې　　چه یو مهاوت ومړ بل ئې شاته تیارېږي
عالم عالم غمونه چه خوشحال وینی له خپلو
غم خور ئې که پیدا شي خپل پردي ته به شمارېږي

دَ ناکس دَ تربیت سرَه څه کار دئ　　دَ سنگیړ دَ زراعت سرَه څه کار دئ
که خپل پلار ئې په ډېر مهر ورته وائِي　　دَ نادان دَ نصیحت سرَه څه کار دئ
که تر ملا ډکه درسته په ښه آس سپور شي　　دَ نامرد دَ شجاعت سرَهَ څه کار دئ
ٰورځ و شپه دِ په آرام باندِي تېرېږي　　دَ بې ننگ دَ حمیت سرَه څه کار دئ
په پالنگ که درته کښېنې کنبلې حوره　　د نامرد د ښه صورت سره څه کار دئ
د گاوزو ور مېږونه مزري نموړي　　د گیدړو د قوت سرَه څه کار دئ
چه هوسیه په میدان وهي تازیان دئ　　دَ کوټه د دې حالت سرَه څه کار دئ
فصاحت دَ باغ بلبلو څخه غواړه　　دَ کارگه دَ فصاحت سرَه څه کار دئ
چه له ځایه یې په بخره سلامت شو　　د زاهد دَ ملامت سرَه څه کار دئ
درومه هر لوري ته گښت کوه خوشحاله
دَ رندانو دَ خلوت سرَه څه کار دئ

دا دروغ دَئ چه په ستوریو سود و زیان شي　　سود و زیان واړه په حکم دَ سبحان شي
که دَ رنگ خوبی ئې شته لوئي له کومه　　دَ کاغذ گلونه هم دَ گل په شان شي
زمانه په طبیعت دَه دَ هلکو　　هلك تل چه و چا ورکا ژر پښېمان شي
دَ دنیا اقبال چه مخ کا وَ نادان ته　　دانشمند ئې دَ خبرو نه حیران شي
دَ منصب سرَه دَ ما خبري دُر وې　　اوس راضي یم که په چا باندِي مرجان شي
گوره کومه چار به کانده مخ ښکاره کا　　دَ عالم خبري ډېري تر دا میان شي
دا دنیا لالچ څو ډېر اندوه ئې ډېر وِئ　　چه ئې ډېره ټولَوِي ډېر پرېشان شي
دانشمند څخه چه مال دَ دنیا نه وِئ　　وَ عالم وته په مثل دَ نادان شي
زه خوشحال خټك هغه یم قدر نشته
دا مي واړه له افغانو نه افغان شي

دا مستي به دي تَل نه وِي څو به گرزي　　په خمار سره اَوُښتي سترگي سري
که بې شماره خزانې کړي سرَه ټولي　　دَ دنیا ارمان به بیا وَگور ته وري
ستا پخوا دَ طبیلو څښتن وگوره　　چه په کور باندِي ئې گرزي غوا و خري
همېشه وایي فاني دنیا گنده دَه　　که گنده دَه ولي نه تېرېږې ترِي
په دنیا څو ډېر مین هونبره غمجن شِي　　جگّي جگّي راشه مکړه مینه پري

Downloaded from: ketabton.com



يَو غفلت بل جهالت دريم شهرت دَی
دَ خوشحال دَ خان بلا دِي هم دا دري

دا يم راغلم پدا عمر چه مې ويني    زلمی توب را څخه يوور ږيږی سپيني
يَو دا ښکار بل دَ کتاب بل دَ دلبرُو    په جهان کښې نوری نشوې دا درې ميني
دَ همت جامه مي سپېڼه پاکښيزه ده    پرې دوستی دَ زرو څه وه لکه ويني
شيخ ملا زاهد عابد ور خبر ندئ    چه په زړه کښې دَ عاشق دي دلنشيني
که ټټر وَهې له تيږی گمان مکړه    چه به مهر په تا وکا زړه سنگيني
دا دوو گَونو مراد کل درکا په غېږ کښ    په خندا چه در کنار شِی مه جبيني
نور به کوم ارمان دا گنج دَ کنجينې کا
چه په غېږ کښ ئې نيولی تن سيميني

دَ باطن په تجلي ظاهر صفا وِئ    دَ بد ذات په آشنائي کښ سل جفا وِئ
لکه نوم چه دَ کيميا دَ عنقا اروې    تر دا دواړو نه نايابه لا وفا وِئ
د ناکس سرِی نه زر خبري واروې    په يَوه وينا ئې کله اکتفا وِئ
د دې دور په يارانو غلط مشه    مخامخ ئې درته مخ قفا قفا وِئ
دَ هغه طبيب طلب کَوه خوشحاله
چه دَ مخ په تجلي کښ ئې شفا وِئ

د ما کومه اندېښنه ده که ما پرېږدي    ته به نوم د بې وفا په خپسر[1] کښېږدي
زه يو هسي يار لرم که مي روزي شِي    که صفت ئې درته وکړم و به رېږدي
ته سرِی يې که څاروي يې رنگ دِ ورک شه    د بهار په سرو گلونو باندې پښې ږدي
ما په ډيرو ستِو اور دَي لگوَلَي    په دا څه که څو خسرِي باندي کښېږدي
زه چه ستا په دا اُوږدو زلفو مين شوم    لا به څو دور او درازي راته بلېږدي
د خوشحال خاطر په مثل سجنجل شو
واړه ته د خپل جمال نخښې بکښې زدي

دا څه بارخو دي ستا دَ تورُو زلفو لاندي    پروتي دي په گلو د سنبلو پاڼي تاندي
تل ئې په طلب وم آخر خوښ له خپله بخته    هسي يار مي بيا مونده چه عالم ئې کيسې[2] کاندي
قيس وُ که وامق وُ که فرهاد وُ که خسرو وُ    هر چه عاشقي کا[3] سل رحمت په واړو باندي
نور خلق فاني دِي که باقي دِي هم هغه دِي    هر چه په فاني دنيا يادېږي ورد ستور ړاندي
نوري کيسې څه دي و خپل ځان ته نصيحت دَي    شمع ته نظر کړه خود[4] به وژاړې چه خاندي

---

[1] دا کلمه په ټولو نسخو کي دغسي ده، په يوه قلمي نسخه کښ محقي ځان ورته کښلي دي، ممکنه ده چه مخفف د "پخپل سر" وي.

[2] دا کلمه په ټولو نسخو کي دغسي ده، يا به کيسی وي په معني د معما او چيستان، يا به مفغن د قصې وي.

[3] هر چه عاشقان دِي.

[4] خو به وژاړې.

Downloaded from: ketabton.com



ته گوره په چرته، زه خوشحال په کوم ملکونو
پاس په زړه پرتې دي ستا د تور وربل پياندې

دواړه سترګې مې چه ستا په لور دوخته شوې    په لمنې کښې مې اُوښې اندوخته شوې
په مانړې مانړې ئې خوره مزه ئې اخله    ته ځما دَ زړه په وينو آموخته شوې
په لکونو په کروړونو دِ بها دئ    دَ يوسف غُندې په سهل فروخته شوې
ما وې ته ځما دَ تورې شپې څراغ يې    ولې تلې په بله څُونه افروخته شوې
چا دا اور در لګولې دئ خوشحاله
چه لاله غُندې دا هسې دلسوخته شوې

ډېر مېن په تازه مينه سره تېر شي[۱]    په هجران ئې خوږ ژوندون زهر ګنډېر شي
لا يو غم مې تمام نه وئ څه نصيب دئ    چه ناڅاپه نور غمونه را برسېر شي
زه په وير دَ معظم په غم کښې ډوب وم    خبر نه وم چه طاهر به تېر و بېر شي
لکه ډېره دَ طاهر نوې په زنې    دَ هر هر وېښته ئې غم را باندې ډېر شي
خدايه هسې غم بل ما ته پيدا مکړه    چه په ده مې طاهر خان له دله هېر شي
"طاهر وَ مړ په شباب کښې" دا تاريخ دئ
چه به کال دَ ده وَ مرګ ترې را برسېر شي

راستې لاره ده بادشاهي    پکې نشته ګمراهي
دَ رشتينو پروا نشته    دَ جهان په بد خواهي
دَ رشتينو سره مل وي    تل نصرت دَ آلهي
دَ رشتينو ځاي جنت دئ    دَ قرآن په ګواهي
بيا به نه مومې خوشحاله
په راستې کښې تباهي

رفتار ئې مستانه دئ    په غمزه کښې يګانه دئ
دا پسر په لب شکرې    چه هر غاښ ئې دُر دانه دئ
که په سترګو ئې نظر کړې    کل له نازه همخانه دئ
که و مخ وته ئې ګورې    لاله ګل ئې نښانه دئ
پدا پېچ و تابو زلفو    چه دَ مښکو خزانه دئ
لا ئې پې څاڅې دَ شونډُو    په هر کار کښې فرزانه دئ
ځما ځان تر ده فدا شه    چه هم ځان هم جانانه دئ
نه چه زه په ده مېن يم    دَ همه خلقو ستانه دئ
خپل صورت ستائې پخپله
دَ خوشحال زبان بهانه دئ

---

[۱] دا بدله خان دَ خپل زوی طاهر په مرثيه کښې ويلې ده، په آخر بيت کښې "ظاهر و مړ په شباب کښې" دَ ابجد په حساب (۱۱۳۰) راځی، چه دَ مړينې کال ئې دَی.

Downloaded from: ketabton.com



رنگ دِ ورک شه بده روې  را پسې يې سينه سوې
له يوې فتنې دِ خلاص شم  را پيدا کړې بله نوې
ستا غمونه هسې ټوغ کړم  وکښې نه شمه سيلوې
چه اوده وې هونبره ښه وې  کشکه تل وَي اوده شوې
پرې به کله باران وشي  چه به و ټوکېږي سوې
فصل نه کوي خوشحاله
څو پټې نشي په يوې

را ښکاره دِي د دې دور لنډ لستوني  پردي مال وته اوږده لاسونه موني[1]
که په باغ ئې دَ يتيم دَ کنډي ګډ کړې  دَ انګورو به خواږه ږنکوري چوني
دَ خوږو مزه پوښتي بزه ئې هېره  ښې څربې لنډې وهي ور باندي سوني
کله سر په سينه ومنډي سرګي شي  کله سر موږي دَ مار لکه سربوني[2]
چه په ښهر په اولس کښ ساده هېښ وئ  ورځ و شپه پرې حواله وئ لکه کوني[3]
پخپل ځاي لکه شا خوږي خر خوله خشکه  په بل کور لکه آس په راتب پوني[4]
که څه کار دَئ دَ رندانو دَئ خوشحاله
چه ظاهر باطن ئې دواړه دئ مخ روني

راشه ګوره نامردان بلا وَهَلِي  دَ بري ميدان پرېږدي لري ته زغلي
دَ اسمان دَ پاسه ګنبت نندار نکا  کوز د مځکي د تلی په منځ کښ ملي
کم دليل دِ دَ سر دواړه سترګي وخوري  په تور تم د جنازې سره څملي
مره هغه چه نه ئې نوم نه ئې نښان شته  تل تر تله په ژوندون پائي ښاغلي
څوک پخپل پټي کَرل کا دَ اغزيو  چا پخپل پټي ګلونه دِئ کرلي
پسينه کرله هونبره فائده نکا  چه په وخت کرله وکا بر آخلي
دَ کرلو وخت آخر شو تخم لَږ دئ  خوار هغه چه ئې له کره لاس ختلي
چه محنت په ځان قبول کا راحت مومي  رنځ و ګنج سَرَه دا دواړه دِئ تړلي
چه لذت شهرت ترک نکا ولي ندئ  اولياء ندئ دَ نفس په خوښي تللَي
دَ هوا ترکَول عروة الوثقی دي  درويشان پدا وَيل دِي پوهېدلي
چه دَ نفس د ظلماني کوهي را ووزي  دَ هغو سترګو ملکونه دِي ليدلي
درخانی پکښي يو آدم خان خوښ کړ  يوسف زئي ځوانان ډېر وه سپاره پلي
څو مخلص تمام خالص نشې خوشحاله
خطر ونه دِي چا پېر در جار وتلي

---

[1] سرمايه، رقم.

[2] موش خرما، خړ رنګه ځناور چی د مار سره جنګ ئې ډېر مشهور دی.

[3] ګنځی.

[4] ميده شې، ووړ شې.

Downloaded from: ketabton.com



ډېر مین وه چه ئې لافي کړې د میني — په ارمان و بله تېر شول که ئې ویني
څوک چه یار په اوښیو ژاړي ژړانده — ژړا دا ده چه ئې وژاړي په ویني
دَ رشتیني میني کار خو دا خپل زړه دي — دروغجني میني غواړي توري سپېني
دَ مجنون او دَ لیلی مینه رشتیا وه — دَ پروېز او دَ فرهاد او دَ شیریني
ستا په رنگ به په جهان راغلي نه وي — په جهان که ډېري تېري دي رنگیني
توري سترگي دئ شهلا نرگس دا باغ دئ — توري زلفی دِ سنبل دي مخ نسریني

له د یو خاورُو نه چه گل زېږي خوشحاله
دا پدا چه تل ور درومي مه جبیني

راشه گوره څه کارُونه درنگ په درنگ شي — په ساعت دَ دنیا چارې په بَل رنگ شي
واړه وَسوځَي په اور کښ خبر نه یم — بیا له کومه را پیدا هونبره پتنگ شي
لا به کله مخامخ را سَرَه خاندي — چه کاته ئې گه گهي راته په څنگ شي
چا وَیل دَ کښلیو جنگ پسې آشتي وئ — ولي ما سَرَه آشتي نکا په جنگ شي[1]
په هر چا باندي ئې زړه دَئ لکه ژاوله — خو په ما باندي چه راشي زړه ئې سنگ شي
حال دئ وگوري د ما بیا دِ آهنگ کا — دَ هر چا په عاشقی ته آهنگ شي
په فراق دَ مهوشانو لا چینه دئ — که روان ځما له دواړو سترگو گنگ شي

تا په خپله رضا وینو په غوره
اوس دِ ولي دَ خوشحال دَ یاری ننگ شي

راشه لېونی شه چه دئ نور خلق غم خور شي — څو چه هوښیاري کړې غم به لا درباندي زور شي
هیڅ پرې نه پوهېږم چه دَ چا وَیل رشتیا کړم — سل رنگه خبري پدا منځ کښ لور په لور شي
صبر دَ دردمنو زړونو هر کله اثر کا — خدایه لا به کله دَ غماز سری مخ تور شي
زر هنر وکړه نصیحت په کوم حساب دئ — هر چه ځائي خوي دِئ فکر مکړه چه به نور شي
یو هندو بلا دَئ چه په مکر ټیکه کښېږدي — څوک به ترې خلاصېږي هغه ځاي چه درې څلور شي
سپین جمال دِ گوره ښایسته په تور خالونو — تل په کښیده باندي ټکی دَ انځور شي
درسته شپه مي تېره په فریاد او په نارو کړه — شپه ئې دَ هجران وه سور پالنگ په ما سور اور شي
غیر بېگانه چه اخلاصي شي ورور هغه دئ — ورور چه بېگانه شي راته وایه کله ورور شي

ډېر دي په دا چم کښ چه پټ پټ دَ میني لاف کا
ولي اوس یوازي وَ خوشحال وَته پېغور شي

را ښکاره چه دَ دلبری وَ مخ خال شي — لکه ښکار دَ ښکاري ولگي خوشحال شي
په څو ژبي شاعري په جهان کېږي — دَ هر چا ثنا صفت دَ ښه جمال شي
دنیا دار کره چه نه وِئ ښې دلبري — اور دِ پوري دَ دنیا په ملك و مال شي
په وصال دَ سمنبرو زړه تونگر شي — چه ئې نه ویني په سترگو خوار کنگال شي
چه عاشق دَ معشوقې په عشق کښ غرق شي — جدائي له منځه ولاړه تل وصال شي
ارمان دا دَي چه به زه همېشه نه وم — همېشه به سره گلونه کال په کال شي
دَ گلونو وخت تېرېږی ساقي گرم یې — که دَ جام په راکوَلو دِ اهمال شي

لکه باغ چه په گلونو مالا مال دئ
د ما جام دي په شرابو مالا مال شي

---

[1] تل ئې ما سَرَه آشتی ده که په جنگ شی.

Downloaded from: ketabton.com



راشه گوره دَ یارانو بې غمي ... هونبره مهر هونبره مینه محرمي
زه دا هسي په فراق په اشتیاق کښ ... حقیقت ئې راته نه کړ قلمي
اسمان لېړي مځکه کروړه عاشقان دي ... چه په څو رنګه غمونه تل زغمي
ما پدا جهان کښ غوښته مونده نشوه ... که په بل جهان پیدا شي خرمي
څوک چه دم دَ همدمی وَهي ترې سوړ شوم ... چه مي ولیده دَ خلقو همدمي
چه په هیڅ ساعت خالي نه وِي له غمه ... مګر غم لَره پیدا دَي آدمي
هیڅ طبیب نشته چه حال ورته معلوم کړم ... چه په کوم زحمت کښ پروت یم المي
ته چه ما ته عربي خبري وایې ... دَ عربو ژبه څه زده عجمي
که خبر په دا مثال یې وئې وایه ... چه په ګوته یوه ګوته دوه غمي
بادشاهان به ئې مېڅ کم نکا خوشحاله ... که یو خداي دَ سرِی نشي په کمي

که قدم دِ دَ وفا په لاري ټینګ کړ
دَ خوشحال په پوهه دا ده رستمي

راشه ګوره خلقه نصیب په څو خوري ... توري نور ځوانان وهي منصب صد وخوري
په غارونو کښ مزري څټي منګلي ... په تیاره د ګردې و ازدي پیشو خوری
هغه ېک طباخ په سپی خوړلي ښه دئ ... چه تر څنګ ئې دَ عورتو پر سوپر وخوری
لکه څوک چه ېک چلم څکوي په غم کښ ... فواقجن هسي لوګي دَ اندېښنو خوری
دَ فلك د نا قابل سَرَه عیرت دئ ... نا قابل به دَ نباتو حلوا څو خوری

لا به کله هغه ګنج ورکوې بخته!
چه خوشحال به ئې په پلیو په سپرو خوری

را ښکاره شوې دَ جهان بې وفایی ... نور مي را څکاوه قلم په آشنایی
لکه اور په بوټی ولګي بیا نه وئ ... یو څو ورځې دَي ارمان دَ جدایی
روښنائی دَ معرفت تر نمر والا ده ... څوک دِ و نه وزي له هسي روښنایی
له یوه څاڅکي نه څه صورت پیدا کا ... هم په خداي ښائي کارونه د خدایی
تا هاله و ګل خبل زړه ورکړي بلبلي ... که ئې تل وَئ دا بازار د زېبایی
په ګلزار کښ ناستي هم دا هسي نه وئ ... چه خبر شوم ستا له قدره تنهایی
چه پخپل کوښښ بهبود دَ دنیا غوارِي ... تا ته هېڅ نه دِئ دَ خلقو دانایی
چه ځما دَ درد علاج لَره پیدا دِئ ... زه له چا غواړم دا هسي مومیایی
چه بلا ورسره وصله دَ فراق ده ... دَ دلبرُو حسن څه لَره ستایی
چه ګوهر تر خر مهرو په قدر کم دئ ... مګر نشته جوهري دَ بینایی

چه په چرته ښه صورت هوري ئې زړه دئ
څو ثنا کړم دَ خوشحال دَ پارسایی

رحمت په اکوړی شه چه ئې ونیوه ځاي سراي ... چه ښه فهم ئې وکړې باور وکړه ځاي دَئ ځاي

Downloaded from: ketabton.com



تور غر ئې د هوډی دئ تر تیراه پوري سم تللي    نیلاب و لنډی دواړه عجب سر ینبي په پاي
پرې سازه لویه لار دَ هندوستان و خراسان ده    گذر ئې دَ اټك دي چه ترې ترس کا شاه گداي
هر فیض د ِ دَ جهان څه چه یادېږی پرې را درومي    که ملك ئې باراني دَئ څه بهار لري هاي هاي
که سوات که اشنغر که بېښور دَئ دا ملکونه    رجوع لَري وَ ده نه فیض ور درومي دَ هر ځاي
په هر لوري ئې ښکار شته دَ شاهین دَ باز دا هر څه    واه واه کاله باټه ئې چه ئې ښکار دئ دلرباي
ځوانان ئې چاق درست چست و چالاک دئ په هر کار کښ خوښ سترگي سپین او سره بلند بالا دئ په نماي
پکښې میشته مي زویه خېلخانه نمسي اولس دئ[1]    چه ځوک پکښې میشته دي په امان اوسه دَ خداوي
اسمان ځني جدا کړ لاس دَ چا رسي اسمان ته
خوشحال له سرایه ندئ جدا شوي پخپل راي

زلفي د دلداري چه زنار فرمائيي    څه لَره و ما ته ځوک بل کار فرمائيي
سهل دَي دا امر که مي سر و مال قبول کا    ځوک به دا وَیل کا چه دشوار فرمائيي
څه لَره اې عقله ډېر له صبره راته وایې    زه بنده دَ عشق یم دَی تلوار فرمائيي
ځو راته ناصحه نصیحت کړې لېوني مي    کله هسي کار کا چه هوښیار فرمائيي
ما ترې توبه وکړه چه دَ عشق په شریعت کښ    دین مذهب هغه دئ چه دلدار فرمائيي
قطع لېوني دي چه دَ یار دَ مخ په دَور    ځوک وَ ما ته سېر د گلزار فرمائيي
خپله رضا پرېږده که رشتیني ئې په عشق کښ
کړه هغه خوشحاله چه د ِ یار فرمائيي

زوړ سری چه د ځوانی هوس کاندې    ورته وایه چه د څه په کُنه خاندې
چه په کال کښ ئې زړتوب وي هم ځواني وي    د سري تر کاره ښه دَي کار دا سپاندې
لکه هسي په ځوان موړ شي چه ئې نه خوري    کله ځوان ته سترگي آړَوِي نغلاندې
په نیتونو په صوتونو په لاسونو    خلقې دِي سَرَه یو تبله هړاندې
اوس په سپینه ږېره څه له مرگه ډار کړم    یاران توري ږیري ولاړل تر ما وړاندې ِ
چه د مځکي مخ ئې لاندِي وُ تر حکم    راشه وگوره هغه تر مځکِي لاندې
دا عالم رېگ روان دَي که ئې گورې    خو هم هسي سَرَه اَوړي لاند ِ باندې
د قضا تنور ما ولیده په سترگو
ما خوشحال چه پکښ سیحِي وچي تاندې

زه چه ستا دَ مخ گلزار گورم په کور کښې    دَ بهار گلونه وسېځم په اور کښې
ما پدا تندي اخیستي ستا دَ پاره    که زه تا غُندي یار مومم په پېغور کښې
دَ ټولی په مخ کښ ځِي په شین شین    لکه مست هاتي چه یون کاندي په بور[2] کښې
اوس په هر چرته جهان په بلا ډک شو    که پخوا به لباسي وه په لاهور کښې
په قراره قراري کښ عالم خوښ دئ    ما د ِ خداي لَري دَ عشق په شر و شور کښې
که رستم دَ زمانې شې گمان مکړه    زمانه به د ِ پرېښږدي پخپل زور کښې

---

[1] کر زویه که نمسی که خېلخانه ده که اولس دی.

[2] هغه رودبار چه څنډی ئې زنگل وِی، دَ قندهار د جنوب و خوا ته يَو رود هم په دغه تقویب بوری بولی.

Downloaded from: ketabton.com



دَ سلیمان په ګوتې کښلې دا وینا وه      چه دا تخت به دَ سلیمان نه وي په ګور کښې
د خوشحال دِ له هغو نه لاس په سر وئ
چه به ځاي د ګوتي غواړي په څلور[۱] کښې

زه خو شرابي یم شیخه څه را سَرَه جنګ کړې      بخري ازلي دئ کشکي ما دَ ځان په رنګ کړې
ښه وايې واعظه برکت شه ستا په ژبه      ښه یې په وَیَلو دَ دریاب اوبه کرنګ[۱] کړې
ولاړَل و جنت ته چه په پوهه خبر نه وُو      ولاړل وَ دوږخ ته چه ئې لافی دَ فرهنګ کړې
پند دَ محمد (ص) دَ ابو جهل پکار نه شو      څوک به ئې صیقل کا چه ئې خداي اَینې زنګ کړې
کښېنې په خلوت کښ شیخه سود ئې راته وایه      ولي پخپل ځان دا هسي ارت جهان تنګ کړې
زه خو دَ زړه درد غواړم په هر یوه مذهب کښ      تا زده ستا خبرُو چه نقلونه رنګا رنګ کړې
رایشه مطربه! دَ نوروز سرود آغاز کره      ښې نغمې زړه سوزي په رباب په نئ و چنګ کړې
هر لوري ته ګل دِئ شقایق نرګس سنبل دِئ      بې ګلزاره بد که وَ بل لوري ته آهنګ کړې
چا در پسې دېري توښې واخیستې طلب کا      ځنو مسلی دَ بې ننګی در پسې لنګ کړې
کاشکې[۱] دَ عمل تله درنه په قیامت شِي      موم په رقیبانُو په عاشق باندِي زړه سنګ کړې
مرګ لَرَه ئې واړه دَ دهلی لښکر راغلَي:
ته لا دَ خوشحال په مرګ ځان روغ نه کښې ننګ کړې

زلفی ئی سبب دِئ د عاشق دَ پرېشانی      ننداره ئې بهانه ده دَ بېحدي حیرانی
درد مي سرشته ده دَ هزار رنګه دارو وُ      غم ئې لا تېري کاندي تر ډېري ښادمانی
زخم ئې مایه دَ لاربزاله حیاتګي دي      ورانَي ئې دَئ موجب په جاودانه ودانی
محتسب چه احتساب لَره ور ځي مجال ئې نشته      که دَ برندو سترګو مست ئې همېشه کاندي ورانی
ما په عشق کښ رسَولی دَي خپل کار تر هسي حده      لکه څوک په متِ د توري سزاوار شي دَ خانی
زه خوشحال خټك د عشق په کار هونبره خوشحال یم
څو سلطان غره پخپله بادشاهي او سلطانی

زه او عشق بې قراري      دم په دم ژړا زاري
تېغ وکښلې را ښکاره شوه      خوار عاشق دِ ځان سپاري
چه هر دم په ما ستم کړې      ستا دا هسي ده یاري
ستا له مهره ستا له لطفه      زه لَرم امید واري
دا یم ستا دَ غم ورَی وړم      شرط دَ عشق دَئ بردبادي
خاکپاي اوسه خوشحاله
لوی به کاندي خاکساري

زه اول در خبر نه وم چه دا هسي بې وفا یې      په ورځ سل سوګنده وکړې بیا له واړویې پروا یې
ما چه زړه و تا ته درکړ خلقې را باندي غاو کا      ولي هسي خبر ندئ چه ته څه رنګه زیبا یې
اې چه ما وته وَیل کړې چه په کښلیو نظر مکره      څوک به ستا په وَیل غوږ کا چه دَ مرګ خبري وایې

---

[۱]محشی ورته لیکي چه مطلب څلور یاران (رض) دی.

Downloaded from: ketabton.com



په ما يو وېښته د خپلی معشوقې تر حوري ښه دي — ملا څه په هر زمان دَ جنت حوري راته ستا يې
د ګلونو قدر هر زاغ و زغن نزده طوطا زده — هسي مه وايه نادانه چه په څه صورت شيدا يې
دا څه توري سترګي ندئ چه ځما زړګي ئې يووړ — دا څه لا نوري بلا دي خدايه ته دا نابينا يې
دانه خال نه زنخدان دَي نه پرېشانی توري زلفي — دا يو راز آلهي دَئ که ته پوه پدا وينا يې
دا دَ خلقو ملامت دَئ که پېغور دَئ د وګړي — دا همه ځما قبول دئ خو که ته له ما پخولا يې
نن به څراغ په کور کښ نه بړدم چه ګمان هيڅوک ونکا — دا نېژدې دَ چم وګړي چه نن ښه مېلمه ځما يې
ما وَيل چه د زړه غم به درته وَوايم چه راشې — غم به څه وايم و تا ته چه په راغله غم زدا يې

چه دَ زلفو نافې تل تل څنډوې دَ باد و مخ ته
خوشحال خود په تا پوهېږي چه هوسيه دَ خطا يې

زړه به ستا له جوره ظلمه په څو ځان وړي — غم دَ درد به دِ تر کومه پدا شان وړي
ما دا هسي رنګ هندو ليدلَي نه وُ — چه په حسن دين و زړه دَ مسلمان وړي
هغه لاس چه دِ کوتاه دَئ تر لمني — هر زمان ئې په ډېر غم کښ تر ګريوان وړي
دَ هغه عمر څه حال حلاوت نشته — چه ئې بې له تا په غم کښ په پايان وړي
چه هرس دَ هغو شونډو غاښو کاندې — دَ ارمان ګوتی هر دم پخپل دندان وړي
ستا دَ زلفو و َچوګان وته حيران يم — چه دَ زني ګوي دِ څرنګ په ميدان وړي
پکښي بند زړونه وګاږي که ئې ګورې — چه دَ سر زلفيني تل تر زنخدان وړي
چه دِ زړه په ما هغه حکم فرمان کړه — د ما زړه به د تا هر حکم فرمان وړي
دَ خاطر خوښي مي هر کله پدا ده — چه دا ستا غمونه هر کله پرېوان وړي
دَ نور چا په ما څه کار دَئ زه پرې خوښ يم — که مي دين و زړه همه واړه تبان وړي
دَ وفا خصلت چه خداي ندئ ورکړي — څوک به څه لَره په کښليو دا ګمان وړي

دَ زړه مينه ئې په کښليو ماته نکړه
خوار خوشحال به له دنيا نه دا ارمان وړي

زر ځما تر لاسه نه راځي وېرېږي — که هر څو مي دلاسه ور سره کېږي
ځما لاس ورته تر اوره هم بتر شو — لا په اور کښ ئې يَو درنګ ساعت تېرېږي
زه او زر سَرَه له ځايه غليمان يُو — په جهان کښ غليمان سَرَه رغېږي؟
چه غليم دَ مرني بپه نظر کښوزي — نور ئې زړه دَ ده و مرګ وته پړ کېږي
شاه زلمی به خپل غليم کا تر ځان وړاندی — و نامرد وته به سل حيلې درېږي
په قرآن کښ ستا اصوال په غليم ياد دئ — بل به کوم حجت تر دا قوي يادېږي
کاڼي زر که سَرَه وګورې يو رنګ دئ — فرق ئې دا دَي چه په زرو زړه رغېږي
هغه زر تر کاڼی لوټه لا بتر دئ — چه ئې وَمنډې په مڅکه نه خرڅېږي
چه اوبه په ځای حصار شي نور خسا شي — صفائي ئې هم پدا ده چه بهيږي

تل دِ لاس په غليم بر اوسه خوشحاله
غليمان دِ شرمنده تر تا ځارېږي

ساقي ګل شګفته کېږي — خس له باغه رفته کېږي

Downloaded from: ketabton.com



که دَ باغ خوښي په زر شي  دَ راغ هسي مفته کېږي
دُر گوهر ځما بې ميو  په مژگانو سفته کېږي
که ئې پټ لَرم له خلقه  راز مي نه نهفته کېږي
باد دِ زلفي آشفته کا  ځما زړه آشفته کېږي
هغه راز چه به ما تا کړ  په محفلو گفته کېږي
دَ خوشحال بخته بيدار شه
تَل څوک کله خفته کېږِي

ستمگر به همېشه په دنيا نه وئ  پس له مرگه به لعنت لعنت په ده وئ
هسي خوښ دَ ظالمی په کار وَلاړ دئ  ته به وايې مرگ ئې نشته تل به ژوئ
ظالمان په نور څه هيڅ راغلي ندئ  خو دنيا وته ځوئيږي لکه روي
چه د خپلي کامرانی په کار راشي  که عالم ته وبا لا شي پرې ئې زړه وئ
په گفتار کښ دَ فرښتو سرَه سيالي کا  په کردار کښ شيطانان ترې پوري څه وئ
که په سول ئې دَ دنيا مقصود حاصلېږي  دَ مکې په وره به هم پوري کا سوئ
پخپل زويه ورور يې زړه نه وئ ترلي  دَ خپل پلار و مرگ ته هم موږي[1] ورغوي
په هغه چاړه قلم روغ کا قرآن کښ  په هغه چاړه دَ وروره مري سکومي[2]
په رکوع کښ تسبيحات دَ مال و ملك کا  په سجود کښ خپل حشم غواړي که ښه وئ
که نېکخواه ورته دَ پند خبري وکا  چه دَ بدو خصلت پرېږدي زړه ئې چوي
زه خوشحال چه دَ اورنگ بادشاه نوکر يم
که وَ زويه ورکَول کړم زړه مي نه وئ

ستا له جوره ظلمه هيڅ نکړَي ژړلي  چه له وره دِ په څو گرزم شړلي
همېشه ځما دعا په غوږو اروې  يَوه ورځ دِ په ښکنځا نه يم زېرلي
رقيبان دِ لکه سپي په کوڅه غاپي  هم ترې ځيرې جامې وروهم هم خوړلي
چه به ته دَ هغه ټال په پريو زانگې  هغه پرې دَ ورېښمو وئ غړلي
قافلې دَ همراهانو شوې رواني  ما هم بار دَي دَ خپل کوچ پسې ترلي
حاسدان بې غمه خوب کا درېغه درېغه  چه په کور ئې دَ بلا نفيل نړلي[3]
د خوشحال ئې و کرم وته اميد دئ
که هر څو په گناهونو دَي لړلَي

سا دَ کښلی مخ په خال مي زړه په داغ دئ  پدا داغ مي له عالمه زړه فراغ دئ
سخ چه ناست يم دَ گلونو په چمن کښ  بيا ساقي راته نيولي ډک اياغ دئ
يا د ښو زلميو خيال دي په شمله کښ  يا دَ ښو جونو دَ تور وربل دماغ دئ

---

[1] ژويی.

[2] يعنی پرې کول او پوستول.

[3] نړلی يعنی غوغا کول او دربول او ډَبول.

Downloaded from: ketabton.com



دَ زلفينو په تور تم کښ به ئې غوارِم    دا ورک زړه که را ښکاره کا مخ څراغ دئ
چه دَ کښليو دَ جمال ننداره کاندِي    وَ هغو ته سپېره ډاگ سير دَ باغ دئ
په سپين مخ ئې تازه خط نوی ټوکېږي    زه به زړه ورځني ژغورم روږد[۱] دي زاغ دئ
دَ گلونو په بوي ځِي په گلزار ورشي    دَ گلونو بوي بلبلو ته سراغ دئ
نه په اصل هونبره ښه نه ښايسته يې    تا په کوم توکي راوړي دا دماغ دئ
دَ خوشحال سترگي هورې چه ښايسته وي
خلقه زړه ئې نه په باغ دَئ نه په راغ دئ

ستا وصال لکه درياب دَئ زه ماهَی    په هجران دِ هر زمان دَئ په ماهی
په ژړا بی ځني خواست دَ شپېني خولې کړ    په خندا ئې وې چه څه کا دا سړی
ويې څوک يې چه ځما په کوڅه گرزې    ښه حاضر ځواب مي ورکړ ستا مريَی
هم په څو رنگه ناله هم په تن نال شوم    ښېلتانه را باندي وکړ کار دَ نَی
دَ ځوانی بهار څه ښه دَي درېغه    دا بهار که همېشه په دنيا وَی
گل، سنبل، نسرين، نرگس لاله غوټيه    دَ مقدم سَرَه دِ راوړه[۲] درست پسرلَی
چه ئې ونيسم په غېږ کښ راته گوري    لکه مست دَ مور په پيو کم کبلَی
دا شيرين ياران به نه وينم چه وَمرم    خدايه ما په جهان تَل لرې ژوندی
غم خو ستا دَ رسوائی کړم نه دَ سر کړم    که مي دا انديښنه نه وي تا کتَی
هسِي ستا دَ ښېلتانه په آتش سوځم    لکه څوک په لمبه کښېږدي وچ لرگَی
ډېر صفت دَ ښاپېريُو اَرويده شي    ولي ستا دَ مخ څوک نه وينم مخَی
په ښايست کښ هيڅ لقب درباندي نشته    که دِ څه خو دَ عاشق نمنځه کړَی
اورنگ زيب به د کابل دَ خلل غم کا    ساقي وخت دَ نوبهار دَي راوړه مَی
چه زړه سوَی دِ دَ خوشحال په فرياد نشِي
په سينه کښ دِ سندان دَي که زړگَی

ستا په غم کښ لکه زه يم بل به نه وِئ    دروغجن يم که بل هسِي لکه زه وِئ
ستا له غمه مي ځگر له وينو ډک شو    چا ته وويَلي نشم زړه مي چوِئ
تا ويل ځما ديدن قيمت بها دئ    زه حيران يم ستا دَ مخ بها به څه وِئ
سر به درکړم په بها کښ ديدن را کړه    په سودا کښ خلل مکړه که دِ زړه وئ
هسي گل دَ گلستان په منځ کښ نشته    هر چه ستا رنگ و بوي پوري په ده نه وئ
که تل تا لَره درځَم ملامت مکړه    دَ بلبلو تل و گل وته ورتله وئ
د ښه څيز پوښتنه مه کوَه له اصله    دَ يو هر دوکان چه وِي کالي دِ بله وئ
که صورت ژغورې له غمه کاته مکړه    زړه هاله په غم اخته شي چه کاته وئ
زه خوشحال چه آشنا وينمه[۳] خوشحال شم

---

[۱] روږد يعنی آموخته او بلد او آشنا.

[۲] راشی.

[۳] ووينم.

Downloaded from: ketabton.com



لکه ګل چه تازه شوي په اَوبه وِئ!

سړی هونبره څو ئې نیت وئ    جامه هونبره څو قامت وئ
ګرګډن ګردن دَ فیل خوري    څه میړی څه ئې قوت وئ
نه هر خره دَ عیسی بار وړي    نه هر سر سَرَه دولت وئ
وَ صورت ته نظر مکړه    په ګرده دَ مرد قیمت وئ
زه مرَیَي دَ هغه کس یم    چه صورت وِئ هم سیرت وئ
که صورت سیرت دِ جوړ شول    سر تر پایه عنایت وئ
دَ خوشاحال په وینا غوږ کړه
په ویَل کښ ئې لذت وئ

ساقي تل به دئ دا ست وئ که به نه وئ    له جهانه به مهلت وِئ که به نه وِئ
راشه ډک دَ میو جام په مي ناب کړه    تل به هسي فراغت وِئ که به نه وِئ
هر هوس چه دَ صورت کړې نن ساعت دئ    ګوره کانده به صورت وِئ که به نه وِئ
په رشتیا وَ ما ته وَوایه طبیبه!    چه دَ رنځ مي به صحت وِئ که به نه وِئ
دَ وصال وعده دِ وکړه ستا سوګند دئ    پدا کار کښ به غفلت وِئ که به نه وِئ
که په تا پسې ملنګ دَ مسلې شم    شاه په تا مي به قیمت وِئ که به نه وِئ
سپینه خوله که بې ریباره ور پېښکښ کړم
په خوشحال به مي منت وِئ که به نه وِئ

ستا په تور مي مال تالا مانۍ نړېږي    راشه ګوره که پدا دِ زړه سرېږِي
ستا غمونو لَره هر کله ژوندون وئ    پدا لږ عمر مي زړه کله مړېږِي
وایې ما وېشتلي څه کا حال ئې څه دئ    په کوڅه کښ دِ لا دم وَهِي غړېږي
دَ فراق په شپه ئې خوب په ما حرام کړ    وائي مالګي مي په سترګو کښ دوړېږي
لا به ګوره څه شان شان غوټۍ وا کا    دَ ښایست بهار ئې اوس نوَي غوړېږي
ما به هیڅ په ورڅ ورڅ نه ژړل عالمه    ولي څه کړم چه مي ننه زړه ژړېږِي
دَ رشتیا خبري خېر و برکت دئ    په قاضي دَ دروغجن ژبه اړېږي
دَ خوشحال خټك په کار پوري حیران یَم
مینه لا وربانده زور شوه څو زړېږِي

سخ د آئِنې دئ چه دِ مخ وته تل ګوري    سخ دَ لونګین دَئ چه دِ پاس په ټټر ښوري
نه دِي ستا دَ غوړو غټي غټي مرغلرۍ    وصل دِئ په میاشت پوري یو سر بل سَره ستوري
روغ مي کړې له رنځَه چه د خولې ښبېرې دِ اورم    شهد و شکر را ګړې چه مي ستا شونډي وزوري
ظلم دِ دَ سترګو پما خوار هر ګوره ډېر شو    څه کړم توان مجال دَ زور وَر لَري کمزوري
زه که ډوب په غم یم تل دِ ډوب وم چه عاشق یم    تا دِ خداي معشوقه تل هَري بلا ژغوري
ما وته ارزان دِئ ډېر په مښکو په عنبرو    څوک به توري خاوري ستا د پله په بها پلوري
تل ځَي ستا وَ لور ته په ارمان کاته کا

Downloaded from: ketabton.com



سپین ئې په کاته شي دَ خوشحال دَ سترګو توري

ساقي راکړه وَ ما می     یَو څو جامه پیاپَی
دا هم ظلم دَئ که ګورې     چه بې میُو ځَي پسرلَی
هغه ځَاي چه ګل و مل وئ     ورع څو کاندي سړَی
ګوره څه وایي پر غوږ کړه     چه آواز کا چنګ و نَی
بیا به تېر شاعت را نشي     آه ارمان ارمان هَي هَی
دَ دنیا ژوندون هم ښه دئ     که تر تلو همېش وی
چه تر تلو همېش ندي     نور ئې وګڼه لا شَی
ډېر مَین ئې و بله تېر کړل
فلك نه لَري زړه سوَی

ستا په زړه د دنیا څلِي[1]     دَ دوږخ لمبې دِئ بلِي
چه دَ ګور لَړم ماران دِئ     هم دا څلي دئ پېیلي
که دِ یَو ځَله ځَان خلاص کړ     غم دِ نشته هورې ولي
دا لَړم شلوه له دِله     که دِ نه وِئ لیچی شلي
چه به وه تسپې په لاس کښ     مخ ئې تور ږېري ئې کلي
ته اصیل ځَان دِ مريَي کړ
هي توبه خوشحاله ولي؟

ساقی چه مهربان شِي په پیاله کښ مَي زیاتېږی     چه مَي ور ځَني اخلِي دَ رقیب ښیښه ماتېږي
قربان ئې شم تر سترګو په طالع کښ زورور دئ     چه هر کله ئې سترګي په زېبا جمال لواتېږي
بوسه دَ سپینِي خولې راکړه بد مه وړه مستحق یم     دَ حسن له نصابه دِ څو توکه زکاتېږي
آفت دَ هلکوالي وُ جمال دَ هغې تُرکي     چه کال باندِي تېرېږي آفت لا څه تازه[2] کېږي
ژوندون دَ عاشقانو دَ معشوقي په وصال دئ     چه بیل شي له معشوقه ژوندي ندي وفاتېږي
چه اوسپني تر خېژي هغه کاڼي رنګاررنګ دئ     ترخې خوږې ترې خېژي څوک فولاد ترې مراتېږی
دَ چا خوني چه وَ مرِي پسله مرګه شي مېراتي
دَ چا خوني خوشحاله په ژوندُوني مېراتېږِي

سترګی دِي که ورځَي که ئې زلفي که اوربل دئ     څو توري بلا دي چه مي زړه پکښي قبل دئ
چرته به خلاصېږِي دا بلا تر زړه چاپېري     مخ ته ئې که ګورې لا په سرو لمبو اوربل دئ
خیال ئې دَ زلفینو عقل و صبر و دین و زړه وړي     نه پرېږدي په کور کښ ښه کالي دَ خوني غل دئ
نور عالم لا پرېږده چه عاشق وته څه وایي     پلار که نصیحت کا و عاشق وته خجل دئ
قیس وُ که وامق وُ بیا فرهاد ورپسې نور وه     ما را وړي ندَئ دا دَ میني دود اول دئ
مینه الستي شته لباسي شته نفساني شته     مښك شته دئ هم هوړه نفساني لکه بصل دئ

---

[1] دا بدله په نورو نسخو کښی نسته، له یوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه.

[2] آفتېږی.

Downloaded from: ketabton.com



هر چرته يو مخ دَئ که په سترګو احوال نه يې    يو چه ورته دوه شي خود پوهېږي چه احوال دئ
جام بينا ته ورکړه چه ئې ډک يوسي تر ځايه    جام ورکړه ړانده ته هسي ووايه چه تل دئ
عشق دئ نور څه ندئ چه غواص په درياب ډوب کا    ځان سوځې په اور کښ ښځه عشق ور سَرَه مَل دئ
ځاي په ځاي چه ګورم زه خوشحال ورته حيران يم[۱]
بله غوغا نشته همګي دَ عشق کل کل دَئ

ستم دِ دَ عينينو ياره عين عنايت دئ[۲]    بند دِ دَ زلفينو دَ خلاصِی کنايت دَئ
په شپه ځما وَيل کله آمېز وُ له هستی    په ورځې ځني دور يم هغه حرف چه شکايت دئ
خبري دَ مجنون او دَ ليلا ولاړې زړې شوې    ځما و ستا خبره تازه نوی حکايت دئ
دَ ما او ستا خبري دِي پټ راز څه هسي ندئ    چه چا ته ئې پيدا يا بدايت يا نهايت دَئ
په مخ چه ښايسته شوې که په پسول پسللی نه وئ    ساده دَ ورځيو خال دئ د درست حسن کفايت دَئ
هېڅ کله له مرګه دَ خوشحال اندېښنه مکړه
چه وې وژنې دلبري خون ئې روغ په روايت دئ

سر په ببږي ببډ يا ونيوي ژړلي    په صحرا دَ ونو پاڼي پټ خوړلي
که اشنا که نا اشنا واړه ليدل شي    دَ همه واړو په ږېره ورخړلي
چه دَ قام دَ خېلخانې په حال خبر شوم    څه روزګار به پکښې شي په غم لړلي
په ناحق مي آزادۍ ته تلاښ کړ    په زندان دَ اورنګ زېب ښه وم تړلي
خپل پردی چه دَ دنيا شکر خواره دي    لکه مچ هسي له ځانه وشړلَی
دَ ما حال به و هغه وته معلوم وُ    که دا هونبره ډېر آهونه چا نغړلي
که خوشحال پنجهزاري کا مه ئې وينه
دَ مغل له نوکرۍ دئ اغېړلي[۳]

شين مرزي چه ګېډي داړي    باند نخېژي خسي زاړي
څه عظمت[٤] څه مهموتي دئ    چه په مرګ به ئې څوک وياړي
دَ ښادی سترګي دي ووزِي    پربېږده دَي ور پسې ژاړي
په يَوَه غوټه يَو نيسي    باز نه دوه تارو ونغاړي
عابد خان ځما شنقار دئ    په غوټه وهي دوه ښاړي
هم شنقار مي هم شاهين شته    هم ښه باز لَرم لك غاړي
وخت دَ ښکار دَئ سهيل وخوت    خپل خپل ښکار به پسې غواړي
زه په ښکار يم دَ سر خابو    وړاندِي زاغ راځي مرداري
خرقه څېري دَ زاهد شوه    رنګ ئې نه وينم دَ نماړي

---

[۱] شم.

[۲] دا بدله له يوې قلمی نسخې را نقل شوه، په نورو کښ نسته.

[۳] يعنی قی وهل، بد هضم کېدل.

[٤] عظمت خان او مهموتی او ښادی خان د خان معاصرين وه، چه په دې بدله کښې ياد سوی دی.

Downloaded from: ketabton.com



ژر به ورک شي مدعي مي     يو څو مچ دئ دَ غوباړي
ازميښت گوره دَ دهر     راته ليندي شول اوس شاړي
تېغ پرې سور مکړه خوشاله
چه لايق دِئ دَ څو باړي

شفاعت دَ محمد (ص) ثابت په نص دَئ     دا په دا چه دَئ دَ درست جهان اخص دئ
دَ موسى دَ عيسى کله دا صفت وُ     دَ لولاک نعت پده باندِي مختص دَئ
اولياء ئې دَ امت واړه ممتاز دئ     هر ولي ئې په ارشاد کښ مرخص دئ
سر حلقه دَ اوليا وُ هغه شماره     چه شيطان ئې بندي کړي په قفس دئ
دَ رستم دَ مړنتوب خبري هيڅ شوې     ذوالفقار چه ئې ياد شوي په قصص دئ
دوستداران دَ اهل بيت له اوره خلاص دئ     بې دوستيه ئې عالم کله مخلص دئ
په وِلا که دَ على رافضي کيږِي
سکه خوشحال ئې په وِلا کښ مشخص دَئ

ښې ښې شپې شي ځني پېښي     غيږ په غيږ شي شفت حُبېښي
څښي څښي ښيښې تشيږِي     نن به شي بخښني ښې ښې
چېن چېن څوښي ځِي په شين     بتي زشتي فتنې پېښي
شي په چين تشي پوښتني     چين چين څوښي پښتنې شي
هسي ځِي په شين شين     نخښي نخښي ختي پښې ښې

ښه سر راست ټوپك دئ چه نظر ځني لر بر شي     گوره چه گزار دَ کم خطا په چرته شر شي
ولي هسي نه وئ چه وېښته چوي په عقل     بيا چه درې څلور مصلحت وکاندی ښه چرشي
څوک چه مخه ولی ليندی ډېر و بله کښېني     کله په سپينکي دَ هلك غشى برابر شي
نوري لولى هيڅ دئ دَ نسب که دَ نور څه دئ     ښه لوئي هغه دَه چه لوئي ئې په هنر شي
ډېر دَ سروریِ دعوا کاندي په جهان کښ     يو سړی په زرو کښ په بخت سَرَه سرور شي
آس تر کته لاندِي شا په څو ځايه زخمي وئ     ځاي دَي دَ حيرت په رابتونو ساته خر شي
يو توريتي نشته چه خپل حال ورته معلوم کړم     کله به د ما دَ بخت دَ ستوري لا اثر شي
زور لرې که عقل پدا دواړه مه نازېږه
بخت راوړه خوشحاله چه دِ کار لکه سره زر شِي

ښه هغه چه ولاړ بې خوده په خيال ستا دئ     که اشغال دئ په جهان کښ اشغال ستا دئ
ښه مي وليدل په سترگو واړه کښلي     چه تر واړه لا تېرَي کا جمال ستا دئ
دَ دنيا په مخ به ډېر وِئ ښه مخونه     چه تر هر څه ډېر لذت کا وصال ستا دئ
دواړه زلفي دِ حلقه کړې لکه لومي     چه دانه دئ پدا لومه کښ خال ستا دئ
دواړه پښې گلگوني سرې پدماغ درومې     گوره بيا څونبره وگړي پايمال ستا دئ
ته کشتن دَ غمزې کړه مه وَدرېږه     مقتولانو قبول کړي وبال ستا دئ
تا خو نوم دَ جنجالي را باندِي کښېښ     که په زړه کښ مي جنجال دَئ جنجال ستا دئ

Downloaded from: ketabton.com



که همه دَ خلقو کښلي سَرَه ټول شِي خسته زړه مي په ټولی کښ لېوال ستا دئ
چه دِ څوک په کوڅه تېر شي نور مېَن شي چه تمام له عشقه روغ دَي ديوال ستا دئ
که مثال دَ صورت غواړِي گوره مياشته چه پوره دَ دوو هفتو شي مثال ستا دئ
چه سبا ببگا ئې لوند لَرم په اُوښيو ياد گاري را څخه پاتو رومال ستا دئ
څو ريبار در سَرَه نه بيايې دَ وراندِي چه په چم به ئې تېرېږي مجال ستا دئ
که په قهر ئې شرېږ په لطف ئې برلې
چه ئې نه پرېږدي په هيڅ کښ خوشحال ستا دَئ

ښاپېرک که په هوا ځِي په تور تم کښي[۱] په راتله دَ رڼُا ورځِي دَئ په غم کښي
لکه چتي درسته ورځ درومي په پورته هغه هونبره باز شاهين درومي په دم کښي
د چندڼ او ښوانه[۲] فرق سَرَه هيڅ نه وُ که چندڼ تر ښوانه ښه نه وِئ په شم کښي
چا له ډنډه دُر گوهر نه دِئ وکښلي قيمتي لولو لالا غواړه په يم کښي
که گيدڕ په خم کښ رنگ شو پدا څه شي خو بيا هم هغه گيدڕ دئ په شيم کښي
زاهدان شيخان مي وليدل نامرد دئ مرد عالم رباني دَي په عالم کښي
څرخ مي ځکه په سر لوني گلونه چه ئې خاوري غُندي پروت يم په حرم کښي
که هاتی دَ بادشاه ومري غم ئې نشته چوهړي دَ سپی په مرگ دئ په الم کښي
عشقه واړه ستا د غمونه خرخښې دئ چه په سوات را سَرَه گرزي هم په سم کښي
گوتي وَمنډه په غوږو ترې تېرېږه ذاکر زر ذکرونه کا زړه په درم کښي
که خوښی د وصال ورسَرَه نه وِئ عاشقان کله خوښېږي په ارم کښي
هغه چر دواړه گوټو ته نظر کا چه ئې وِئ سترگي نيولي په صنم کښي
آفراين دِ په وَيَلُو شه خوشحاله
چه دَ تورو رژول کړې په قلم کښي

ښه هغه چه ښه ئې رنگ ښه ئې جمال دَئ ښه هغه چه په قوت دَ هر چا سيال دئ
ښه هغه چه په ميراث خاني مېري کا فراغت بې غمه ناست صاحب اقبال دئ
ښه هغه چه که احمق وِئ که جاهل وِئ په طالع په تخت صاحب دَ ملك و مال دئ
ښه هغه چه په رشوه قاضي گري کا په مسند دَ قضا ناست په قيل و قال دئ
ښه هغه چه ډېر لښگر ورپسې درومي ډېر ئې کبر ډېر ئې جاه ډېر ئې جلال دئ
ښه هغه چه په مجلس دَ ملوک ناست وِئ تمامي عمر ئې زيات روزگار ټېټال دئ
په عالم کښ بدي نشته واړه ښه دئ
چه وَ بدُو ته روغ دئ يو خوشحال دَئ

ښارونی دِ غواشينِ پسې غواړي باز دَ غره ښايسته زرکي سَرَه نغاړي

---

[۱] دا بدله له يوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه، په نورو کښ نسته.

[۲] راحت زاخيلی ښوون په معنی د زيتون دَ وَنی راوړی دی.

Downloaded from: ketabton.com



که په رنګ کښ لکه غلوځه[۱] هسې روغ دئ | دَ خوږو هیله وَمکړه له غوباړې[۲]
یو آواز دَ ښو آسونو دَ ششنا دئ | بل آواز د ګنده خرونو دئ چه ناړي
څوک ژړا دَ آخرت دَپاره کاندي | څوک د دې جهان دَ سود دَپاره ژاړئ
دَ ګزار دَپاره لیندي په څو ناست دئ | دَ قطرې په حرص ګرزي پسې شاړي
مرتبې دَ دواړو ندئ سَرَه سمي | څوک دَ ځایه باز شهند څوک چوړي ځاړي

که دَ ځنګ پرونه ئې هر څو کنبلي روغ دئ
دَ بازونو پرواز مه غواړه له ځاړي

ښه سړی ګڼه هغه چه په زړه صاف وئ | همېشه ور څخه شرم هم انصاف وئ
چه دا څو توکه ئې نه وئ سړی نشه | هر چه کاندي نور د ِ کا هغه معاف وئ
په دنیا چه دا عالم سَرَه خلاف کا | لکه سپی چه په مراده ئې خلاف وئ
نوشیروان چه مخ په عدل په انصاف وُ | که ئې ګورې تر قیامته ئې اوصاف وئ
که دانا سړی بدرنګ وِی پدا څه شي | که د ښه توري ساز شوي بد غلاف وئ
دَ هیچا غرض پدا خوبرو نشته | قلپ سره چه سره پېژنی صراف وئ
جوهري به ئې خود کار سَرَه ښکاره کا | تر یاقوتو که شبه په رنګ شفاف وئ
دَ یاری دپاره ګرزم نه ئې مومم | چه وفا لري هغه په کوم اطراف وئ
دَ بخملو په اودل به خبر نشي | په شماره که د اودنیو بوریا باف وئ
عشق په حق په باطل هیڅ ندئ راغلي | تر کعبه ئې ډېر وَ بت وته طواف وئ

ښایسته هر ګوره ډېر شول پرې وېرېږم
ما خوشحال چه دَ تقوا وهلي لاف وئ

عاشقان که ستا دَ لاسه په جفا مري | باري شکر چه په عهد په وفا مري
بېدلان مي دَ هجران په تېغ قتیل وي | دا یَو حرف دَئ چه په توره دَ قضا مري
زه مرده وم ستا دَ جام په ګوټ ژوندي شوم | چه ئې دا جرعه نوشلې غه په چا مري
زړه مي ستا طرې طراري ته هوس کا | ځان مي ستا غمزې بیماري ته رشتیا مري
اې تازه ګله بلبلي ته نظر کړه | په نوا کښ ستا له شوقه بېنوا مري

خوار خوشحال په مرګي حال دَئ ځکندن کا
راشه ګوره په ارمان دَ لیدو ستا مري

عاشقان له بېش و کمه آسوده دئ | له وجوده له عدمه آسوده دئ
دَ ساقي له لاسه ډکي پیالې اخلي | په مستي کښ دم تر دمه آسوده دئ
بت پرست دئ دَ مغان په خرابات کښ | خوش خرم خوشحال له غمه آسوده دئ
ورځ و شپه باندي تېرېږي په ښادي کښ | هر زمان مي له ضمه آسوده دئ
تل ساقي دَ میو داد کا بې منته | کریمان مي له کرمه آسوده دئ

---

[۱] یعنی د شاتو مچی.

[۲] د خره مچ.

Downloaded from: ketabton.com



همېشه شونډي دَ جام په مورګه[١] ينبي    په خاطر له جام جمعه آسوده دئ
بادشاهان که خزانې و بله آسپي    دا ګداي مي له درمه آسوده دئ
په درياب ګښ ئې دَ عشق دَيئ غسل کړی    له حدوثه له قدمه آسوده دئ
اې خوشحاله که نظر درباندي وکا
ډېر ئې تا غُندِي له دمه آسوده دئ

عاشقان چه دَ معشوقي دلداده دئ    له همه واړه غمونو آزاده دئ
په يَوه لحظه کښ هست په بله نيست شي    که ئې ګورې عاشقان په زړه ساده دئ
مګر زه له ځَايه غم لَره پيدا يم    په هر دم راته غمونه آماده دئ
نه يو زه دَ نظام پور په ګوټ ګښ پروت يم    سوختګان ئې په هر لوري افتاده دئ
په درون دَ عاشقانو نظر وکړه    دَ لاله غُندِي دَ داغ سَرَه زاده دئ
ترک تاجيك عرب عجم عاشقان واړه    مست بې خود دَ ديو خمرو په باده دئ
دَ هوا خدايان دِ ليري کا له دله    يَوه خداي وته چه ناست په سجاده دئ
چه تر خپلی رضا تېر شي اولياء شي    اولياء له هَرَه غمه آزاده دئ
غوبانه شپانه ظاهر سړی ليدل شي    په معني کښ دَ پاده سَرَه پاده[٢] دئ
شيخه ته چه ډېر طاعت کړې جنت غواړې    و جنت وته ورتله په اراده دئ
عاشقان که معشوقه په تېغ ورژنی    ور مېړونه ئې و تېغ ته نهاده دئ
چه دَ ننګ په چارُو نر نه دئ خوشحاله
که ئې نر وينې په سترګو هم ماده دئ

عمر هر زمان ګداز کا لکه واورِي    يا به ستا له مرګه واورم يا به واورِي
هغه تېر ياران به بيا بيارته[١] را نشِي    که په سر باندِی را لونم توری خاورِي
بړبوکیِ[١] چه پوزې واخلی پورته درومی    نه پوهېږم چه به کوم لوری ته ماورِي[١]
زور دَ چچ د وړلو نه لری نادانه    نه پوهېږم چه دا دروند وری په چاروِي
په سمن دَ شهلا نقش دَ سيور زېب کا    په شېوه چه سترګی کوزی له حيا ورِي
دواړه سترګی مِی چه ستا په مخ دوخته شوی    عجب ښه له ځَانه دوه قبله نما ورِي
دَ خوشحال غُندِی به ډېر دا هسی نور وئ
ته چه هسی رنګه زړُونه رو نما ورِي

ارتبې په عقل کمي    خود بخود دَ صورت غمي
ته دَ ديو سَره سم يې    دُوي له تا شره نا سمي
زر نېکیِ ور سره وکړه    په يوه ذره برهمي
درته زهر شي تا وژني    چه ئې ته ګڼې مرهمي
دَ وفا په خوي کښ ندي    همېشه جفا شيمي
دَ آدم په صورت روغي    په معني کښ نا آدمي

---

[١]يعنی کناره.

[٢]دې کلمې ته محشی ليکلی دی: يعنی چارپای.

Downloaded from: ketabton.com



تاس به گرم په لږ گناه کا    دوي په لوي گناه نا گرمي
څو ئې کج وږې هونبره کجي    څو ئې درد وږې هونبره خمي
په هر کار کښ ديگر گوني    په خوله رامي په زړه رمي
پاسه تن ئې ښيسته وي    په درون لکه ارقمي
نور څه مه وايه خوشحاله
تر وجود ښې دي عدمي

غم آخر شو دَ ښادئ روزگار راغَي    چه موسم سو دَ گلونو گلزار راغي
په تلوار ئې تياري دَ سيل کاندي    و بلبلو وَته وايه بهار راغي
پدا هسي خاصه وخت دَ ښو گلوُنو    دَ مطرب دَ ساز آواز مي په کار راغي
دا ئې واړه له خزانه نه فرياد شي    چه گلونو ته طوطي په چيغار راغي
دَ هجران مشقت ډېر وُ خداي آسان کړ    بيا مي سخ دَئ چه عشرت د ديدار راغي
که په نوُرو باندي هر کله اختر دَئ    په ما دا زمان اختر دئ چه يار راغي
لون لون کالي بيا پېري خواجه شو
چه خوشحال دَ يار دَ مخ په بازار راغي

غم ښادي چه په چا وېر شي[1]    لکه وېر شي هسي تېر شي
سر رشته ئې مونده نشي    گوناگون دَ دور پېر شي
چه په خوا په خاطر نه وِئ    هسي چاري په تا دېر شي[2]
په هجران کښ غم دَ يار دئ    چه همېش تر زړه چاپېر شي
هر چه وَواته له سترگو    عابت له دِله هېر شي
چه به سخه په خوشحال کا
گُندي ژر دَ ده په څېر شي

غنيمت گڼه گلُونه ميخوري کړه په چمن کښي    چه به پس له هفتې نه وِی دا گلونه په گلشن کښي
په غنچه چه تطاول کا صبا دا کله باطل کا    دَ بلبلو کام حاصل شی[3] دَ گلزار په شگفتن کښي
وطن ښه دَئ که غمخور وِي ښه ياران دِ لور په لور وي    څو چه شته که هونبره نور وئ لا غريب يم په وطن کښي
هم مابی شته هم عتاب شته هم ترخه تروه خواب شته    نه ئې شمار نه ئې حساب شته څه خوبي ده په ديدن کښي
اور اوبه نده نور څه ده چه په تله يا په راتله ده    په راتله په اور اوبه ده اور را بل کا په رفتن کښي
که ئې تل په ظلم زړه وئ که مې زړه له غمه چوِي    خداي دِ نکا دا به نه وِئ چه ئې خوږ کړم په گفتن کښي
چه بلبلي وته گوري له آوازه ژبه زغوري    د بلبل په آواز ښوري هونبره ژبه په سوسن کښي
چه جدا شی وَ دِ مرينه له غمونو چه خلاص شينه    څوک چه بې ياره پائينه سود ئې کوم دَئ په زيستن کښي

---

[1] وېر شی د قندهار په محاوره (ورشی) مگر دا کلمه په يوه نسخه کښ ډېر شی ليگلې ده.

[2] دير شي يعنی درشی.

[3] حاصل کا.

Downloaded from: ketabton.com



که دَ سپی غُندِي ئې ولي په رو روبه پسې زغلي
خوار خوشحال به ئې اَخلي څو چه ځان لَري په تن کښي

گله ته چه په بلبلو هونبره خیال کړې — دا خیالونه همگي پخپل جمال کړې
دا جمال به دي جاوید په جهان نه وِي — ښه خو دا گڼه چه شکر په دا حال کړې
دَ انصاف په سترگو ښه ننداره وکړه — جهان څو کښلي چهره هسي پایمال کړې
ډېرِي خوني دَ هجران په لمبو وسوې — ما لیدې چه تجلې ئې په وصال کړې
دا بهار گلزاره ښه یې خوي دي بد دَئ — چه راتلَنَه یَو څو ورځې په درست کال کړې
تر قدرت به دي ځارېږم ذوالجلاله — رنگارنگ گلونه ښه[1] هسې نهال کړې
دَ بلبل دَپاره تَل وَي په چمن کښ — د پسرلي گله تله ولي دم در حال کړې
که دي سترگي دَ عرفان شته مبارک شه — دَ گلزار په ننداره چه استقلال کړې
گل ته هسِي رنگ و بوي ورکړيَ چا دَئ — دَ لاله دَ گل چا هسي پاښي لال کړې
چه گلونه دَ گلشن همېشه گوري
لکه خضر هونبره عمر دَ خوشحال کړې

که په زغرو په چپَو کړی نېزې څوري[1] — چه نیکي در څخه نشته واره کوړي[2]
دَ هر چا سَرَه خوږه ژبه بایده دَه — په خوږه ژبه ما هم وزی له سوړي[3]
واړُو دُوړو سَرَه فوج دَ سپرو نه وئ — په جهان کښ لږي نه دِئ تشی دوړي
یاوه گوي دراز زبان مه شه که گورې
بیهوده خبري مکړه پوچي بوري[1]

که په زړَه کړې دَ خوشحال خبري زبري — دَ دانش له کاره نه دِي لري بري
خلایق په تفاوت سَرَه پیدا دِئ — پوهی نه دِي سَرَه واړه برابري
په زرگونوُ کښ یَو دوه سرِي خبر دَئ — نوري واړه خلقې دِي ناخبري
لکه کار دَ خوي خصلت په تفاوت دئ — هسي زېږي په ښایست سَرَه دلبري
دَ سیرت زیبایي ښه دَه تر صورت
چاري واړه د باطن دي معتبري

گه مي یاد که مي نایاد کاندي مخدوم دئ — دَ چاکر مي له ښتنه حجت کوم دئ
دا گدا ئې وَ وصال ته څه هوس کا — چه بادشاه ئې له لیدنه نه محروم دئ
په عاشق چه ستا له لوریه ظلم وشو — اوس په هر لوري چه دَئ دروهي مظلوم دئ
همېشه ئې سوږ سوږ آه وئ گونه زېړه — دَ ویشتلو حال که نه وایې معلوم دئ
په جهان کښ چه څه رنځ وُ څه محنت وُ — هغه واړه سَرَه ټول شول عشق ئې نوم دئ

---

[1] دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.

[2] محشي ورته لېکي یعني عیجن او دروغ.

[3] سید راحت لېکي، چه بطزي کزي ته وائي، په قندهار کي بُري بولي.

Downloaded from: ketabton.com



هغه یار چه وفا دار دَئ مونده نشي په جهان کښ دَ وفا هنر معدوم دئ
دَ خاطر ویني مي خوري په ننکي ننکي له گناهه وېره نکاندي معصوم دئ
که یار سر غواړي له ده نه نه به نکا هر چه پوه دَ عاشقۍ په رسوم دئ
چه په عشق کښ موافق نه وئ اې دله دَ هغه لیدَل په څه گورې چه شوم دئ
دَ دوږخ لمبې به نه رسي عاشق ته چه دَ عشق په توره مړ شو غه مرحوم دئ
ما خوشحال ته ستا دَ خولې اسرار مکشوف شو
که دا راز دَ چا له سترگو نه مکتوم دئ

که مې نوم په ژبه نه اَخلې هیچري په تش نوم به دي هم سود کوم دلبري
دَ زاهد دَ سترگوُ آب هونبره په ځاي دَي چه ئې سترگې باندې[1] نه دي برابري
دَ ښادیی نوم پرې زوړ[1] دَي تَل تر تله چه په زړه ئې ستا دَ غم شیتي[2] شي سري
زه به څه ځَني مانه کړم یَو زه نه یم په غمزه ئې خلقې کړلې ډېري
دَ ښو سبوره ئې خار[3] په پېښو څرخېږي له حیا چه کوز کوز گوري ناز پروري
شونډې ستا لکه نبات هسي خوږې دي تریخ ویل ځَني نه ښايي لب شکري
وایي شته په چین ما چین کښ کښلي ډېري خداي دي نه کا چه تر تا به وي بهتري
بې خبر له ځانه ډېر ورته[4] پراته دئ ته یې هم په حال خبر شه بې خبري
دَ ختا دَ ملك نافي واړه خجل شي چه د تا زلفي ښکاره شي معنبري
که دي چېري دَ آشنا په لور گذر شي
دَ صبا باده! ځما سلام پر وري

که یَو دم دَ یار په غم فراغت کښېني پدا دم به له عالم فراغت کښېني
که دِ کار دَ محبت وینو په لاش کښ پدا کار به خوښ خرم فراغت کښېني
که گداي شي دَ مغان په خرابات کښ همېشه به لکه جم فراغت کښېني
ډېر و لږ دَ زړه زحمت دَئ که عاشق شې ته به تل له بېش و کم فراغت کښېني
که اختر دَئ که نوروز دَئ خو هم دا دئ مخ په مخ چه له صنم فراغت کښېني
که په کوي کښ ئې مقام وکړې زاهده په خاطر له ارم فراغت کښېني
لاس په لاس بهشت دا دي خوشحاله
چه خپل یار سرَه هیو دم فراغت کښېني

که دا عقل دَ همه خلقو یکسان وَئ سکه بایده وَ چه همه سرِی لقمان وَئ
د دې لال قدر به نه وُ په عالم کښ که دا کانې واړه لال دَ بدخشان وئ
په پخسر[4] به دَ هر چا کرَه پراته وُ که دا دُر مي دَ ژلی غُندي ارزان وئ

---

[1] په قلمي نسخو کښ زوړ لیکلي دي داسي: نوم پر زوړ دي تل تر تله.

[2] شتي.

[3] دِ خار.

[4] دا کلمه عیناً ولیکه سوه په ځنو نسخو کښ پېخر راغلی دی تحقیق غواړی.

Downloaded from: ketabton.com



هيڅ حساب به ئې په هيڅ جنګل کښ نه وُ        که درمي[۱] واړه کني دَ هندوستان وئ
په خوراک به خرو غويو نه قبلولي        که ډېره دَ ونې پاڼي واړه پان وئ
دا ټپوس به هم په لاس دَ بادشاه ناسست وُ        که دَ باز او دَ شهند غُندي ئې شان وئ
دَ ليلى او دَ مجنون مينه به هيڅ وه        که همه خلق لېلى او مجنونان وئ
ما خوشحال دَ حقيقت په ژبه ووې
دريغه دريغه که څوک پوه پدا زبان وَئ

که صورت وته دِ ګورم په صورت کښ يو حيوان يې        که معنو وَته دِ ګورم شاهزاده دَ کل جهان يې
چه ظلوم جهول يادېږې کنت کنزا هم پوهېږې        ته و دا ته نظر مکره چه دا غوښې استخوان يې
چه مسجود وُ دَ ملکو ځاي ئې پاس وُ په فلکو        ته خلف دَ هغه هسي خليفه پدر نښان يې
غوښى هډِ څه په کار ندى داد ګاو دَ خره هم وئ        دَ ګداى په ګند کښ پټه ته يو څرنګه سلطان يې
چه ئې ستا په حال پېغور شو تر ابده ئې مخ تور شو        دَ چا نوش يې دَ چا نېښ ئې د چا درد دَ چا درمان ئې
د دنيا عقبى باغونه پکښې واړه نعمتونه        واړه ستا دَپاره جوړ دئ ته مقصود دَکن فکان يې
که هر څو ګلونه ډېر دِئ تر حساب تر شماره تېر دئ        دَ فطرت په حديقه کښ نو باوه دَ ګلاستان يې
نور به څه وايې خوشحاله له دې حاله له احواله!
هم دا هونبره وَيل بس دئ که پوهېږې نکته دان يې

که په باغ کښ رنګارنګ ګلونه ډېر وئ        هسى نه چه دَ ګلاب دَ ګل په څېر وِئ
آشنايي دَ ګبينه دَه که شکري        چه خواړه ئې په څو رنګه را برسېر وِئ
ستا دَ ور دَ سپيو څو ثنا صفت کړم        چه تر پيره ميره زړه وته را تېر وئ
آرزو به دَ حيوان دَ اوبو نکا        عاشقان دِ چه دَ خولې په ميو سېر وئ
چه په عشق سَرَه ژوندي دي مرګ ئې نشته        که په ګور کښ تر دا تورو خاورو زېر وئ
دَ غمزې توره ئې هر چرته وژل کا        لور په لور ئې شهيدان په دا شمشېر وئ
تل ئې لوبي دي د ما د زړه په وينو        ستا دَ سترګو آهو ما ته لکه شېر وئ
ستا دَ زلفو هر هر پېچ وته چه وګورم        همګي په رنګ و بوي لکه کستېر[۲] وئ
په خوشحال دِ يو زمان ليده وَ نکا        يو زمان ورته تر کاله هم لا ډېر وئ
مګر هيڅ ئې دَ زړه حال ور ښکاره ندئ
چه ليده ئې دَ خوشحال سَرَه ډېر ډېر وئ

ګه دَ لويو کتابونو دانشمند وئ        دَ هلکو کتابونو په کار بند وئ
چه خرما ئې دَ بلوټ نه وِئ خوړلې        و هغو وته پټوي[۳] خرما خوند وئ
چه دَ هند په شګر قندو خبر نه وئ        و هغو وته ګاځري شکر قند وئ
دَ اټك په مناره به نظر نه کا        چه هغه ته دَ دهلیَ ملك څرګند وئ

---

[۱] يعنى نل.

[۲] دا کلمه عيناَ وليکه سوه، معنى د مشکو به وى يا يو قسم خوشبو دار ګل.

[۳] د مېزرى دانه او تخم (درياب، پښتو لغت) .

Downloaded from: ketabton.com



هر سړی دَ خپل وطن ثنا صفت کا ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ د هر چا تر فهم کښلي خپل فرزند وئ
دَ ناپوه سړي دَ پند سَرَه کار نشته ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ ما چه ولیده دانا محتاج دَ پند وئ
زه خوشحال ئې دَ دانش په سترګو وینم
دَ هر چا چه بده پوهه غلط سند وئ

که راضي مي په جفا[۱] او په وفا یې ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ نور را درومه چه زه ستا یم ته ځما یې
بې له ما که جهان ستا شي په اوربشه ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ چه زه ستا شم که اوربشي خورې دارا یې
که دِ طمعه دَ مخلوق له وره پرېکړه ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ بادشاهي دِ مبارک شه که ګدا یې
غاړي غرونه خبر دار دئ چه مجنون یم ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ که جهان پدا خبر دَئ چه لیلا یې
ستا دَ غم په توره مړ په وردِ پروت یم ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ کله کله راته ګوره مسیحا یې
جګي جګي په لیمه مي قدم کښېږده ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ چه ږندې سترګي مي روغي شي طوطیا یې
کله ما و تا روزګار په یوه ځاي کړ ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ بر بر راشه دَ یار سپیه چه اشنا یې
چه یاري له یاره کړې دَ سود له مخه ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ په خاوند مي دِ سوګند وي بې وفا یې
چه دَ یار سَرَه پخپل غرض یاری کړې ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ دَ یاری بلا په تا شه یار دَ چا یې
چه دِ بولم معطل مکړه را درومه ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ که دَ باز غُندې حاضر په بِغ دَ بیا یې
په دربار مي چوتري دي دَ سرونو ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ راشه واروه چه پخپل وَژل شیدا یې
چه دِ خوي خصلت دَ رنګ سَرَه جوړ ندئ ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ رنګ دي ورک شه که هر څو په رنګ زېبا یې
پدا هسي ښایسته جمال چه ستا دَئ ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ غم شدت فتنو اَفت لَره پیدا یې
په امید دِ دَ لیدو په ور کښ پروت یم
ګه ته هر څو له خوشحاله بې پروا یې

کله خپل بشر دَ ګل غُندې نما یې ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ کله کله دَ بلبل په ژبه وایې
چه هر هر زمان په هر شګل جلوه کړې ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ عجائبه دلربایه خود نما یې
په یوه وېښته دِ نه ارزي دوه کَونه ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ په غایت لکه ګوهر قیمت بها یې
دَ خپل درد دوا به زه له چا نه غواړم ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ چه هم ته محبوبه درد یې هم دوا یې
کله ناز کله ښکنځل کړې کله مهر
له خوشحاله مَروره که پخولا یې

که ئې لري له جماله نه جلباب شي ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ حبطه به ئې تر مخ پوري اَفتاب شي
که ئې بوي دَ پېچا پېچو زلفو ورشي ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ په خطا کښ به بې قدره مشکباب شي
څو بوسې که له دشنام سَرَه اًمېز کا ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ شماتت به ئې په قند و په ګلاب شي
که هر څو له زېبا مخه خاطر نیسم ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ زړه مي بیا په اضطراب لکه سیماب شي
یکباره ئې قرارَي له ما نه واخیست ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ درسته شپه په ما احرام شه که مي خواب شي
دَ هغو طاعت قبول ندي نور څه دئ ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ چه سجده ئې تل دَ ورځیو په محراب شي
دا پیاله چه ځما نوش دَه زه پرې مست وم ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ دا مستي مي نه په بزم دَ شراب شي
دَ رندانو دَ شرابو هسي کار دئ ‌‌‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌‌‌ چه زاهد ئې هم په بوي سره خراب شي

---

[۱] په جفا هم په وفا یې.

Downloaded from: ketabton.com



نا محرم مي و صحبت ته څه هوس کا  چه ځما له محرمانو هم حجاب شي
که يو ټول دَ ښايسته وَو سَره کښېني  خو هم بويه دَ همه وُو انتخاب شي
غه روپي چه دَ ټنگ سال له لاسه نه وئ  و صراف وته ظاهره په هر باب شي
دروغجن غشي که هر څو ثابت روغ کړې  خو به بيا دَ هلوکانُو تېر پرتاب شي
دَ خرما وَنه خو سازه کړي له مومو  دَ خرما غُندِي به کله ترې دوښاب شي
ما خوشحال چه په پښتو شعر بيان کړ
دَ پښتو ژبه به اوس په آب و تاب شي

که په عشق کښ زړه دَ نورُو په ليده ځِي  ځما زړه په ارويده تر ليده ښه ځي
نوري ميني ئې ځما له دِله يووړې  يکباره مي په ليدو پسې لېمه ځي
هسي ياد بويه چه يَو ځله يار ياد کړې  نور دِ ويني لکه باز تر هر وېښته ځي
پکښې خيال دَ سبر قد و دَي پالم ئې  چه مي هر کله تر دوو سترگو اُوبه ځي
که په زړه شوي زه به اوس دَ يار سَرَه وم  چا وې دا چه پښې هورې درومي چه زړه ځي
نه په زړه ده نه په پښو دَ خداي په کړه دَه  دا غريب سړَي همه دَ خداي په کړه ځي
که دَ مال وه که دَ ملك وه که د زر وه  وار په وار مي دَ زړه مينه له هر څه ځي
دَ دنيا مينه په زړه باندي لوي بار ده  آزاده به بار په زړه و گور ته نه ځي
روغ به خوب دَ بې غمِی کا خوشحاله
چه څه خوږ دَ زړه لري خوب د هغه ځي

که ميوه دَ چندڼ نشته هسي شنډ دئ  لا ئې ښه تر ميوه دارُو ونو ځنډ دَئ
وايې زه به په تا وکړم ځني چاري  زه دَ دې چاري ارمان لَرم ډېر ځنډ دئ
که مي ځان ځِي که جهان پرې به ئې نږدم  ما نيولی اوس دَ عشق دَ سپرو منډ دئ
پدا لار دَ شهسوارانُو ختل گران دَي  گوډه څو به باندِي خېژې ملکنډ[1] دئ
زه او دا دَ هر ناکس سازي ناسازي  که رشتيا وايم خپل ځان را باندِي پنډ دئ
که مثال ئې په دنيا غواړې له ما نه  چه الا بلا پکښې وِي هغه ډنډ دئ
دَ چړې دَ لاره کار نشته  ناپوهه  چه تبرُونه پرې ماتېږِي هغه خنډ دئ
يا سبا دَئ يا غرمه دَه يا ماپښين دَئ  مازديگر دَ ښکار تکل کړم ساعت لنډ دئ
څوک دَ حج، څوک دَ تلقين څوک دَ مکتب شول
يَو خوشحال په واړه خلقو کښ لونډ دئ

کام دَ زړه که هر څو ښه دَئ  تر ايمانه نه ښه نه دئ
چه ئې دا انديښنه نه وِئ  هغه کس سړی په څه دَئ
اعتبار پدا دنيا کښ  دَ سړی لکه لېمه دئ
دَ هر چا چه لېمه نه وِئ  که بادشاه دئ خوار په زړه دئ
سپی به ښه کړم تر مزري نه  سپی دَ کور مزري دَ غره دئ
خرکه بد دئ بيا وري وړي  بد سړی بتر تر خره دئ

---

[1] دا کلمه په يوه نسخه کښی جلا ليکلې ده مله کنډ يعنی مه ځه چه کنده په مخ کښی ده.

Downloaded from: ketabton.com



ته ئې ويښ وينې په سترګو　　غافل ويښ ندئ اوده دئ
په رشتيا کښ زوال نشته　　دا د ما کلام په وله دئ
اوليا بللي بويه　　چه حلال په خوله په زړه دئ
ته ئې سست وينې په سترګو
دَ خوشحال اختيار تېره دئ

که په حسن دَ کشمير خوبا اوښار دي　　يا د چين او دَ ماچين يا دَ تاتار دي
ښښنې جونه چه ما په سترګو ځير کړې　　هغه کل واړه خجل دَ دُوي تر کار دي
په ښايست باندې ئې ختم دا وينا ده　　چه په اصل دَ يعوب قوم و تبار دي
هېڅ حاجت نشته دَ مښکو دَ ګلابو　　په پنځه وخته لمانځه عطر عطار دي
که ټيکه که کټماله که نور سنګار دي　　دا همه تر تورو زلفو پورې خوار دي
که اوړنی[1] مقيش دوزي که سالو[2] دي　　دا همه واړه تر سپين پروني ځار دي
تر صورت ئې دَ سيرت خوبي افضل ده　　تر ظاهر ئې دَ باطن خواړه بسيار دي
کل روزګار ئې سر تر پايه پرده پوښ دي　　نه ګرېوان تر نامه څيرى په بازار دي
له حجابه پورته غټ کتلي نشي　　نه آموخته په ښکنځلو په پايزار دي
ما خوشحال له ډېرُو لږ دي څه وَيلى
له دې حاله ګوي مګوي وَيل بې شمار دَي

کله رند غُندې ملا واقف دَ راز دَئ　　دَ کتاب دَ مسلو زبان دراز دَئ
زه مريَي دَ هغه چا يم ترې ځارېږم　　چه دَ زړه سَرَه ئې جوړ دَ خولې اواز دئ
چه ئې رَو دَ خولې دَ زړه سَرَه يَو نه وي　　که په هر لمانځه اودس کا هم بې نماز دئ
وار په وار ځما په زړه کا هسې چارې　　که دَ سترګو ئې غمزې دئ که ئې ناز دئ
لا به ډېر ګلوُنه وا شي پدا باغ کښ　　دَ ګلزار دَ غوړېدلُو ئې آغاز دئ
څوک به نه وئ چه به غاو ورباندې نکا　　د َهر چا وَ ملامت ته عاشق ساز دئ
ځان و تن سَرَه مثال کړه دواړه توکه　　محنت که حقيقت دَئ که مجاز دئ
چه عزت ترې پيدا کېږي قناعت دئ　　چه خوارى ور ځنى زېږي هغه آزاد دئ
زه خوشحال له خپله بخته دلګير نه يم
چه ځما ستورې ځائې دښمن ګداز دَئ

که هر څو پخپله پوهه کښى سقيم يې　　دَ حکيم په حکم کار کړه نور حکيم يې
که په خوله په غوږ په سترګو څه زده نکړې　　نور ور درومه ازلي سيه ګليم يې
دَ سيرت خوبي پيدا کړه چه جوهر دَه　　په صورت خو هډ وغوښه وينه ريم يې
پير اوستاد مرشد به واړه درته شا کا　　که په جهل مرکب کښ مستقيم يې
عاقبت به د په بخره ندامت شي　　چه دا هسې دَ جاهل سَرَه نديم يې
دا دانش چه دَ هندو دَ شمار حساب دئ　　که ته دا دانش دانش کښې لئيم يې

---

[1] پرونی، چادر.

[2] که شالونه.

Downloaded from: ketabton.com



سخاوت په روایت په روخ په رنګ کړه    نه چه درسه دنیا وَ بازې کریم یې
همېشه په زړه خوشحال اوسه غم مکړه
په اخلاص چه وَ دانا وَته تسلیم یې

که هر څو په هوا پرونه وَهِي چتي    بیا ئې زړه وِي په ډکي دَوني نښتي
شاه زلمی توري[1] نېزې خوري تردد کا    په برېښنا دَ توري تښتي تېر آرتي[2]
سترګه ور اور اورکي ویني چه برېښي    نوې میاشت په سترګو نه ویني سترګ تتي
ناسوتي عالم په څو په دنیا شخ دئ    هلك تل دَ مور په تي پوري وئ نښتي
دَي دَ خپلي ګوتي غم کاندي که نه وئ    په شګون کښ عالم ښه ګڼي شپږ ګوتي
په هر ښکار به بې خطا چورب آلوزي    ما خپل باز دئ په پهرو پهرو پرانتي
که ئې بل له بد بویې سبېرمې نیسي    دَ خپل بوي په بد بوئي خوښ وئ خسا ګوتي
څوک به څه لَره خوشحاله ته نصیحت کا
عاشق نه دئ نصیحت دَ چا نه نغتي[3]

که هر تار ئې دَ کوڅې مشك تا تار دَئ    دَ کوڅې تر تار ئې ښه دَ زلفوو تار دئ
هغه ځاي چه مي دَ زلفو بازار جوړ شي    هغه ځاي مي دَ ماتیو[4] تش بازار دئ
چه لذت دَ تورُو زلفو را تر زړه شي    دَ ماتیو زیست روزګار کله په کار دئ
دا خبره څه عجب دَه چا ویلې    چه دَ تورو زلفو بد سوي تاتار دئ[5]
چه دَ تورو زلفو خیال ورڅخه نشته    توري خاوري ئې په سر عمر ئې خوار دئ
که همه دنیا پرې وَښندي هم هیڅ ده    هغه کس مي چه دَ زلفو خریدار دئ
خوار خوشحال چه ډېر صفت کاندې دَ زلفو
په قیمت دَ تورُو زلفو خبردار دَئ

که هزار ځله هنر کا هیلي بیلي[6]    څوک به نکا دَ ازل چاري تبدیلي
دَ ازل حکم په مثل دَ هاتي دَئ    دَ سرِي فکر مثال پري دَ ډیلي[7]
دَ حیات اُوبه سکندر په هیلو غوښتې    حضر بیا مونده عبث شوې دَ ده هیلی
یَوه څرنګه خونرېزه لار دَ عشق ده    پکښې ډېري قافلې شولې قتیلي

---

[1] توری تېرې خوری.

[2] په برېښنا دَ توری تښتی تېز آرتی یا په پرېښنا دَ توری نشی تېز آرتی.

[3] نغوتی.

[4] دا کلمه په یوه نسخه کښی ماتویو لیکلې ده یعنی څوڼی چه یوې خوا او بلی خوا ته وی.

[5] ناتار دی.

[6] خپلی سیلی.

[7] یو راض چمنی واښه دی.

Downloaded from: ketabton.com



عشق یو هسي پوديرشم توري را زده کړ
چه په دېرش توري څکوم دَ قلم کيلي[1]
عاشقانو ته اندک دَ دنيا مال دَئ
تر همت پوري کثيري دِي قليلي
دا دلبري چه په دا کشور کښ نن دي
په کشمير کښ به ئې نه مومې عديلي
هغه تُرکه چه ځان جوړ کا را ښکاره شي
تر جمال ئې حوري هم ندئ جميلي
په ارمان ارمان مي ځان راغي په شونډو
تا دَ شونډُو دارُو نه راګړه بخيلي
بيا هاله دَ محبت په کوڅه پَل ږده
که دِ ويني لکه ما کړلې سبيلي
خپل پردی به دِ هيڅوک سيله وَ نکا
اې خوشحاله که دِ بخت نشي په سيلي

که خاطر دِ دَ خوشحاله نه دلګير دئ
په خوشحال باندي هم ستا دَ مانې وير دئ
دَ بيمار ساهه په شونډُو باندِي راغله
دارُو ګر ئې لا علاج ته په تدبير دئ
دَ موسی په معجزه به څه ګروهېږي[2]
دَ فرعون چه هامان غُندي وزير دَئ
يار ځما په پالنګ ناست زه ولاړ په خوب يم
سرا سر ځما له لوريه نه تقصير دئ
ما خپل سر تر فلك وليده په پورته
د دې خوب مي معبره کوم تعبير دئ
بيا مي کينه سترګه لاندي باندي راپې
مګر بيا مي زړه يارئ وته خير دئ
په وفا سړی دِ يار دَ هيچا نشي
چه دايم ئې په يارئ کښ تزوير دئ
په ژړا پوري مي خاندِي چه مي وکوت
دا همه واړه د ما د بخت تاثير دئ
هيڅ يَو مخ به ئې مخي دَ ښايست نکړم
ما چه ستا جمال ليدلي په ځېر ځېر دئ
د ما زړه دَ يار زلفيني سرَه ګوره
ليوني په ليونتوب کښ په ځنځير دئ

که پکار دِ ده دَ خداي پېژندګلي
پير وي دَ محمد (ص) کړه دَ علي (رض)
هر آيت چه به راته پاسه له عرشه
لا په عرش به ئې علي وُ متلي
محمد چه هغه راز ئې په معراج کړ
يکايك وُ و علي وته جلي
په محشر به هغه تور مخونه پاڅي
چه ئې نه دِی توري خاوري دَ تلي
محمد علي چه دوه ويني په سترګو
پدا کار کښ احولي دَه احولي
دَ زړه زنګ په بل صيقل نه ليري کېږي
په دوستي ئې دَ علي ده مصقلي
که دا هوبنره وَيل کا ورته رخصت دئ
محمد دي پيغمبر علي ولي
چه په بغض دَ علي يا د عمر(رض) دي
رافضي دي خارجي دَي خللي
دَ على دَآل دوستي دَ ايمان زړه ده
څوک دي شك پدا په زړه نه راولي
چه تر منځ دَ چار يارانو بد وَيل کا
په مذهب کښ دَ هغو ده درغلي
دَ علي دَآل په مدح کښ جنت دَئ
دَ خوشحال ختِك پدا دَه تسلي

---

[1] يعنی خط او د ګاډِی د عربې خط.

[2] يعنی منل او ګرويدن.

Downloaded from: ketabton.com



که رُویت ئې نا ممکن وَئ په دنیا کښې　　دَ اَرنی وَیل به نه وُ په موسی کښې
چه موسی وته ځواب لن ترانې وُ　　څه عجب جلوه لیدله شي پدا کښې
چه په ملك په ملکوت کښې مونده نشي　　هغه هسې څيز ئې اېښې دَئ پما کښې
زه حېران یم پدا خلقو نه پوهېږم　　تږې مري ولاړ تر حلقه په دریا کښې
چه په لا احصی وَیل ئې خبر دار کړم　　چا د ما ژبه گویا کړه په ثنا کښې
دَ عاشق دَ معشوقې سرَه یو راز دَئ　　چه هیڅوک ترې خبر ندئ په دنیا کښې
چه لیلي کړه دَ مجنون کونډئ[1] ماته　　خوار مجنون ئې سر افراز کړ په هر چا کښې
نور که هر څو پاکیزه زه گناهگار یم　　غم مې نشته بیا مې ځاې دَئ په ماوا کښې
دَ خوشحال دَ هغو لار سرَه جدا دي
چه ئې غوارې په مسواک په مصلي کښې

که چرگان کرکره[2] دار دي　　بیا و باز وته ناچار دي
نه یَو باز دَ ښکار دَپاره　　نه که چرگ چرگې هزار دي
دَ معشوقې ښېوې واړه　　دَ نور چا ندي دَ یار دي
عاشق عشق لَره پیدا دئ　　کفر دین ئې څه په کار دئ
عاشقان دَ معشوقې دي　　نه دَ مور دي نه دَ پلار دي
دَ خپل وَر عاشقان گوره　　چه په څو پراته خاکسار دي
په هغو دَ خداې نظر دئ　　چه مَین په ښه دیدار دي
عشق ناپوه وَته اسان دئ　　ورته گران دئ چه هوښیار دئ
په خوشحال به عیب نکا
چه په حال ئې خبر دار دي

که اسمان دَ چا په حکم جار وتلي　　ځني څه چارې به وشوې تا کتلي
په رِندو باندي لا هسې توره شپه دَه　　که همه عالم ئې وینې نمر ختلي
هم ئې هیڅ راته پرې نښول هم بیا وائي　　چه ډاډه اوسه لا هیڅ نه ئې نتلي
بیا ئې شکل په څه شان راته ښکاره کړ　　لکه باز وِي له کرېزه را وتلي
چه ادب ور څخه وِي صحبت هغه کا　　بې ادب له مجالسه وِي یستلي
هغه یار مې لکه باز په پرواز ولاړ شو　　طالع بیا ځما تر لاسه را وستلي
ځان چه نن تر مَین ځار نکړې خوشحاله
ځان به تا وي وَ نور چا وته ساتلي

که په کور کښ دِ سر دي دَ بدخشان وئ　　یا ږنکوري دَ انگورُو یا رمان وئ
چه ئې زړه ور څخه موړ وِي نه ئې گوري　　دَ وږِ سترگیو ورته څو رنگه ارمان وئ

---

[1] دا کلمه تحقیق غوارې ممکنه ده چه گونډه وي، یا به کونډيَ وي یعني په مقابله کې دَ گا دریدل.

[2] یعنی طره او کاکل.

Downloaded from: ketabton.com



مور به څه پوښتې له نغن[1] چه نغن څه دي    وړې سپی خوړلي نغن ته نګران وئ
کله کښلي معشوقې ته نظر نه کړې    کله کوځې درته هم راحت جان وئ
په ساعت ساعت کښ حال باندې نوربړې    چه مي وليده سړی کله يو شان وئ
دَ سړی فکر په مثل دَ سيماب وئ    اضطراب ئې هر هر خوا ارمان ارمان وئ
کله کله ښاېسته شي په ګلونو    ګله کله لکه باغ باندې خزان وئ
کله کله دَ خوښی په صحبت کښېني    کله کله په غمونو کښې حيران وئ
چه دايم په يَوه حال دَئ هغه خداي دئ    چه حالونه پرې ور دروميي دا انسان وئ
آخر تله دي له جهانه باور وکړه
که هر څو خوشحال ژوندی پدا آوان وئ

که هر څو يې پدا خپل حسن کښ لويَ    دَ يارئِ حق هم پېژندلی بویَ
ما به زړه لتا نه وتاړه په بله    که موندي شوي هسي تا غُندي دلجویَ
دَ شرابو په خوړو کښ فهم وکړه    چه دِ نه شي دا پياله له لاسه نويَ
چه مکان ئې نا پيدا نښان ئې نشته    څوک به څه غواړي دَ شپېنُو بازو هویَ[2]
د تشنه خودَ اوبو سَرَه مقصود دئ    که اُوبه ئې دَ درياب وِئ يا له جویَ
عاقبت به برخوردار پخپل مراد شِي    که دَ پلار په نصيحت کښ درومي زویَ
دَ خوشحال وَيل خواږه تر نيشکر دي
که په خوند ئې خبردار شې وئې ژویَ

که ته خوله و ماته نه راکړې ملکی    بلي هم راته نومړې دَه خولکیَ
په غمونو کښ دي هسي ځنځيري[3] شوم    لکه اوړکی چه زبون شي په بلکیَ[4]
په کړکتيو[5] کښی دِ ډېر زړُونه پراته دي    پدا دوه زلفو دَ زړونو يې غلګیَ
چه څراغ ورځني دورمي پتنګ خوار شي    يو زمان له ما نه مه درومه دلکیَ[6]
ما دَ ښو مخونو ښه ننداره وکړه    نشته تا غُندِی زيبا بله جلکیَ
ما ساده پښتانه څه زده چه ئې وائي    په پارسي پارسي خبرو مغلګیَ
جدائي ئې هسي سخته په خوشحال دَه
لکه ځي دَ چا له ځانه نه سلګیَ

---

[1] يعنی د تبی ډوډی.

[2] ها يا هوی يعنی هګی او بيضه.

[3] زنځيری شوم.

[4] د وړو ماشومانو د ستونو مرض.

[5] پړکه، دام، جال.

[6] د دل اسم تصغير.

Downloaded from: ketabton.com



که اشنا که نا اشنا دِئ    بولاق واړه بې وفا دِئ
که ئې خوښ کړې یا ئې خپل کړې    شاهي بیگ غُندی بلا دئ
چه آصف خرم ښه نشه    نور خرم په یار دَ چا دئ
خوشحال که یار غاروه    هم دَ ده نه دا غوغا دئ
که ئې ځان کړم یا ئې زړه کړم    ځان و زړه کله ځما دئ
نه ئې ننگ شته نه ئې شرم    نه پخپل قول وینا دئ
چه گوتك ورته ښکاره کړې    لکه ښځې واړه ستا دئ
پخپل سود پخپل مقصود دئ    بند په خپله مدعا دئ
د سیالانو خوي ئې ندَي    په بېکار خصلت پیدا دئ
مخامخ و تا ته خپل شي
پردی واړه پس شا دئ

که په فضل شي څه غم دَئ    که په عدل شِي ماتم دَئ
له گناهه به خلاص نه وِئ    چه په نوم بنی آدم دئ
چه ظلوم جهول ئې یاد گړم    که پوهیږې ډېر کرم دئ
په لاتقنطوا تکیه دَه    گڼه اور ووري تور تم دئ
زه هغه ناتوان ضعیف یم    چه مېږي تر ما محکم دئ
پدا ضعف هغه بار وړم    چه ترې تښتي درست عالم دئ
که لویئِ ته مي گورې    میاشت و نمر دَ ما پرچم دئ
اسمانونه مي خیمې دِي    پرې دَ ستوریو زینت تم دئ
لا مي نور باغونه نور دِي    کمکي باغ مِي دَ ارم دئ
غم مي هیڅ نشته خوشحال یم
که خپل بخت را سَرَه سم دئ

که دَ یار دَپاره غم شدت څوک مومي    په خندا خندا دِ مخي ور درومي
دَ هغه سړي یاري څه یاري نده    چه بې یاره ئې اوبه درومي تر کومي
زه له ورایه ورته گورم یار مي گوره    دَ اغیار سَرَه دَ میو پیالې شومي
ما به څه پوښتې د ما دَ یار له نومه    یو بې رحم بې وفا بې مهر نومي
نه ئې زه یوازې قتل په غمزو یم    څو ئې ما غُندي په ورکښي دي لړومي
په فراق ئې دَ ما اُوښي هسي تله کا    لکه څوک چه اخته سوَي وِئ په دومي
دا دواړه بدان نه گوري له کسته    په ښه مخ باندِي و مشه دانې سپومي
که تازه یارئِ ښې نه دي خوشحاله
څوک به نه خوښَوِي غوښي دَ ورغومي

که سړی په مصلحت کښ لَربر نشي    زه ضامن چه دَ ده کار به ابتر نشي
و هغه ته سړی مه وایه چه پوخ[1] وئ    آراسته څو سر تر پایه هنر نشي

---

[1] چه پوچ وی.

Downloaded from: ketabton.com



که هر څو مشکل کارُونه درته پېښ شي
فکر مکړه چه آسان به په زر نه شي؟
ما چه ولیده خو زر دي پدنیا کښ
خو سَرِی دِ ئې په مینه کافر نشي
زویه یار که لاف کَوي باوري ندئ
څو په ډېري حادثې دِ باور نشي
دَ رستم دَ مړنتوب خبري اَروم
ولي څوک به بې لښکره صفدر نشي
چه دَ مرد دَ نامرد شناخت ور څخه نه وئ
بد صاحب څخه دِ هیڅوک نوکر نشي
دَ خوشحال خبري واړه نصیحت دئ
مگر خر وِي چه په زړه ئې اثر نشي

که تا وته حیران دئ دَ لیلی حکایت کړوني
و ما وته په ځان دئ دَ مجنون روایت کړوني
د هر وېښته په سر لَرم زه تا سره زر کاره
خبر ندئ له حاله دا بې کار نصیحت کړوني
څه ښه وشول طالع وې چه ئې ولیدې په سترگو
تر ما پوري خجل شول دا د ما ملامت گروني
دَ حسن یغما چه دِ الجه راوړي دَ زړونو
پځَك دِ ستا وَ سترگو ته بېل کا قسمت کړوني
چه درد لَري په زړه کښ دَ هغه دارو موندل شي
هیچا لیدلي ندئ دَ بېدرد طبابت کړوني
چه زه دَ بت سجود کړم مخامخ راته حاضر دئ
څه څیز ویني حیران یم دَ مسجد عبادت کړوني
کوم ملك دَئ له ما پاتو چه مي پل ندئ پریښي
هر ځای به ورته یاد کړم که څوک سته سیاحت کړوني
چه دو اویا مذهبه راته یو شول صلح کل یم
دَ کوم یوه مذهب دَي اوس ځما عداوت کړوني
په هسي ځاي مین یم چه ئې نوم واروي وگړي
نور تښتي تار په تار شي دَ خوشحال حمایت کړوني

که هر څو په سر د خیال د ستا زرین ږدې
عاقبت به سر دَ خاورو په بالین ږدې
دَ سلیمان غُندي هم پرېوتل له تخته
په فرس باندِي به څو دَ زرو زین ږدې
دغه پښې به دِ خوراک شِي دَ چمچیو
چه ئې اوس په شین شین په قالین ږدې
په ارمان به خالي لاس ورځني درومې
که په کور کښ په هر لوري سره اوسپین ږدې
په الا بلا که ټول دَ دنیا گنج کړې
پخپل زړه به داغ په دم واپسین ږدې
چه کردار ئې دَ گفتار سرَه سَم وِي
تش گفتار واړه په ځان نابدي نفرین ږدې
تا په زړه کښ سل خدایان دِي کښېنولي
راته وایه سر و چا ته په زمین ږدې
دَ غفلت تسپې په ورځ و شپه جار باسې
څو منت به په کرام الکاتبین ږدې
هر آیت ئې دَ معنو په سترگو گوره
دَ صورت سترگي تر کومه په یاسین ږدې
یو قدم که په رشتیا له دنیا واخلې
خداي ږو بل قدم په پاس په علیین ږدې
که اسلام دَ خلقو دا دَئ اوس خو بویه
چه هندو غُندِي ټیکه پخپل جبین ږدې
زمانې څه نا انصافه را ښکاره شوې
پانیاتونه پدا دور آخرین ږدې
شاه جهان غُندي بادشاه په بند بندي کړې
په اورنگ باندِي خطاب د محی الدین ږدې
دَ مچی لاشه هم جوړه ور سرَه وړې
په هر حلق کښ چه خواږه دَ انگبین ږدې
دَ خوشحال خټك کوم جرم کوم گناه دئ
چه په زړه کښ ئې آهونه آتشین ږدې

Downloaded from: ketabton.com



که منصور غُندي کافر دَ محبت شي　　ته به هاله مستقیم په شریعت شي
دَ هوښیارُو مجالس به ورته هیڅ شي　　که دَ عشق دَ لېونیو په صحبت شي
دَ جهان خواږه به تا وته ترخه شي　　که خبر دَ یار دَ مینی په لذت شي
فراغت به دِ هاله وَ زړه ته ورشي　　که له خلقو کناره کنج و خلوت شي
دَ جهان په خزانو به دي خندا شي　　که تونګر په خزانو دَ قناعت شي
که نظر دَ کیمیاګر در باندِي وشي　　که ته خاوري ئې تر زرو به قیمت شي
دَ بې آبي مرغلري هیڅ قیمت وِي　　په ښکلا سیرت به قدر دَ صورت شي

اې خوشحاله بتخانې دِي زړې[1] پوندي
خلیلي ناره پرې وکړه په همت شي!

که په مخ باندِي خالُونه عنبرین پردې　　[2]هونبره داغ به په خاطر د ما مسکین پردې
دَ پیالې اُوبه خوږې شي تر نباتو　　په پیاله باندِي چه دواړه لب شیرین پردې
خدایه زړه په ما دَ ښکلیو مهربان کړې　　ته په زړه کښ دَ بتانو مهر و کین پردې
دواړه زلفي چه وَلوَل سَرَه حلقې کړې　　په هر وَل کښ ئې ګلونه دَ نسرین پردې
خدای دِ نکا چه ئې یَو سر کړم یا بل سر　　که تل مي په دا چشم جهان بین پردې
ستا دَ پله خاوري رنځور غُندِي آخلم　　په هر ځای چه قدمونه په زمین پردې
ستا تمامه خندا بخت دَئ څوک ئې مومي　　په دا نیمه خندا طعن په پروین پردې
چه لیدلې دي دَ عشق قمار خانه دَه　　په لمړی بازي به یار ته دل و دین پردې

آفرن دِ په وَیَلُو شه خوشحاله
په بیاض باندِي عجب شعر رنګین پردې

ګله ته چه ښایی د دې چمن یې　　خار و خس وته په څه په خندیدن یې
دَ خپل ځان په قدر ولي نه پوهېږې　　پدا باغ کښ خو یَو ته نازکېدن یې
دَ بلبلو ږغ به تل در باندِي نه وِئ　　ښکلیه ګله په وفا کښ مبرهن یې
پخپل بوي دَ بلبلانو خاطر خوښ کړه　　یَو څو ورځې چه تازه پدا ګلشن یې
که جفا و چا ته وایم شمار ئې نشته　　پدا هونبره ستمونو جان من یې
چه دَ یار له جوره چا وته ژړا کړې　　دَ یاری بلا په تا شه دروغجن یې

په یاري پوري دِ پېچمي کا خوشحاله
فکر ښه وکړه په چا باندِي مین یې

ګل کرَم اغزی ترې ښېري　　نوشدارو مي زهر کېږي
چه مي څراغ په اوبو بل وُ　　اوس په تېلو نه بلېږي
که ئې مخ وِي که ئې شا وِي　　پخپل بخت هر څوک پوهېږي
هَرَه ورځ که سل غمونه　　له جهانه را رسېږي
ځما زړه پدا ډاډمن دئ　　غم ښادي واړه برېږي

---

[1] دا کلمه په ځنو نسخو کښې زړ پوندِی لیکلې ده، یعنی نسل، ختِه، نسب.

[2] دا بدله په نورو نسخو کښې نسته، له یوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه.

Downloaded from: ketabton.com



هم خزان هم به پسرلی وي   چه اسمان په سر څرخېږي
ځما اُوښی ګرمي ندئ   که سيلاب غُنډي بهېږي
په حضور ديدن ئې ويني   ظاهر خان ځني ښلېږي
اوس خو اور په خوشحال بل شو
بيا به څرنګه سړېږي

که هر څو دئ ښښتنې جوني طنازي   دا دَ هند سکښې هم نه دئ بې نيازي
نه ئې جنګ نه ئې ماتی نه ئې هوډونه   څړه[١] مهري څړه مېښې څړه نازي
خو يوه زره پړه[٢] نا سازه در کا   په ماڼي کښ نه دعوې کاندي آغازي
په خدمت کښ تر صباحه لکه شمعه   په يوه قدم ولاړي ځان ګدازي
په غمزو په کرشمو په مکيزونو   فرخ بخشي، غم تراشي، دلنوازي
په ادب په ظرافت په رموږ پوهي   دَ صحبت په علم څو رنګه ممتازي
که هزار جورو جفا ويني له تا نه   بيا له تا سَرَه خندا کا په خوله وازي
نَوي نَوي شېوې کا درته جوړېږي   په څو رنګه جلوه کا جلوه طرازي
د ښو څوکي ئې نېغي ځي تر زړونو   چه تېره تېره کاته کا لکه بازي
په جيو جيو درته پسې خبرې وايي   هر زمان له تا په څو رنګه همرازي
عجب سرې په پاڼو شونډې درته خاندي   ميخي غاښ په مسي تور عشوه پردازي
غټې غټې تي لکه انار په ملا نرئ   سر تر پايه دَ اوُمو ورېښمو سازي
دَ صورت په لطافت بې مثله روغي   په قامت تر سر وِئ وني سر فرازي
خرخښې ئې دَ خوشحال له دله نه ځي
که جدا دي دماغي باريك مجازي

که مې سترګي د باور کړې سَرَه لواتي[٣]   په جهان کښ خو نېکي دَه نوري باتي[٤]
که دِ لاس د نېکي نه رسي دَ زړه کړه   راشه واروه "الاعمالُ بِالنياتي"
په جهان کښ که حجاج که نوشيروان وُ   هم دا داد، او دا بيداد شُو ځني پاتي
له قسمته به نه کم نه به څه زيات شي   دا دواړه انديښنې دِي کم و زياتي
که په څه هنر دِ هونبره توان رسېږي   چه به ته کړې د مرګي لښکري ماتي
بيا هاله په جهان خوښ ګرزه هوس کړه   ګڼه نوري انديښنې دِي بې ثباتي
د دنيا وداني خوني چه لېدې شِي   عاقبت به ئې نوم شِي د نېکی پکښ پاتي
سر تر پايه د خوشحال سره لباس کړې
خداي دِ واخله لباسي دنيا کم ذاتِي

---

[١] سه مهري.

[٢] منت.

[٣] محشي پرانتي ورته ليکلي دئ.

[٤] يعني نوري تشي خبري.

Downloaded from: ketabton.com



لاس په لاس مو سَرَه وَکړې څه چارې[1] چه پرُون مو تور منگور وژي په لاري
دواړه پښې له تا نيوَل له ما اخستل زه به پاس په سترگو کښېږدم ستا پايزاري
څه اغزي لري په مخ کښ زړه مې سکښې اې په تور بانه د ما د زړگي خاري
دَولت والي به ئې څو ثنا صفت کړم چه صبا کړې دَ غنچې پاڼي وېزاري
چه مې پاس په غاړه پروتی څنډېدلي ښې وې ستا مختولي[2] زلفي تار په تاري
چه په تا باندې ئې جوړ کړم زړه مې ښه شي نوم دَ حوري دَ پرئ اې نگاري
غړول ئې هم وتا وته ښکاره دي چه دا تورې سترگې ته لرې خونخواري
څه کوَم، که ته ښکنځل کړې لا خوشحال شم
چه کوَمه ستا دَ مخ زيبا نندارې

لکه يار را سره يار ووُ هسې ندئ چه ډېر ډېر به مينه دار وُ هسې ندئ
که په څو رنگه به ما ور باندې ناز کړ چه دَ ناز مې به خريدار وُ هسې ندئ
دَ بهار بلبلي ژاړه څو په تا شي لکه تل تازه بهار وُ هسې ندئ
شکر شکر چه ئې څه خو خوي بدل شو چه يك لخته ستمكار وُ هسې ندئ
ستا دَ مهر دَ باران باندې کمي شو چه مې جوړ دَ زړه گلزار وُ هسې ندئ
يا ئې وېره شي له خونه يا ئې هېر کړم چه مې مرگ ته په تلوار وُ هسې ندئ
ډېرې ميني دَ خوشحال عقل تغير کړ
لکه نور کله هوښيار وُ هسې ندئ

لاله گل ئې تر جمال پورې بد ررنگ دَئ دَ زلفينو ئې دَ چين له مښکو ننگ دَئ
تورې ورځي ئې ليندې بانه ئې غشي دَ عاشق تر زړه ئې تللي هر خدنگ دئ
دواړه سترگي ئې په تن توري بلا شوې همېشه ئې دَ عاشق له دله جنگ دئ
ته به وايې حبشي شکري پېري هغه خال ئې چه دَ دوو شونډو تر څنگ دئ
تجله ئې دَ جمال لکه مشال شوه خوار عاشق پدا جمال باندې پتنگ دئ
چه له غوږو ئې مقصود د مومې لښتې ده چه له پوزي ئې مراد مومې لونگ دئ
په ښايست کښ ئې تقصير دَ صورت نشته څه خو دا عيب لَري چه په زړه سنگ دئ
دَ هر چا پخپل غرض پسې کوښښ دَئ
دَ خوشحال ئې په جمال پسې آهنگ دئ

لکه بځن[3] چه حلوا خوري عاشق سپينه خوله دَ شا خوري
څوک دِ غاؤ ورباندې نکا واړه خپله خون بها خوري
زه ئې تل خورم خوږې شونډي که دا نور من و سلوا خوري
دواړه تي ئې ناشپاتی دي چه ئې يَو يَو امرا خوري

---

[1] دا بدله په چاپي ديوان کښ نسته..

[2] دا کلمه په ټولو قلمي نسخو کښ دغسې ده، چه معني ئې نسوه را ښکاره.

[3] حريص (درياب).

Downloaded from: ketabton.com



هغه هیڅ مړني ندئ    چه به توره په قضا خوري
هم عاشق مرِي ستا له لاسه    هم سوګند په سر د تا خوري
وړی څه پوښتې له حاله    چه روا که نا روا خوري
خوله ئې پټه خوره خوشحاله
باز دَ ښکار غوښې په غلا خوري

لکه قلپ مهر په لاس باندې برېښنا کړې    چه دَ اور په تاو کښ پرېوزي ځان رسوا کړې
هیڅ ځما په زړه کښ ستا اشنایي نه وه    کومي چاري لَرَه خداي د ما آشنا کړې
که ډېر بد را سَرَه کړي په ښه ئې نیسم    خپلی میني راته ستا ترخې حلوا کړې
چه په تا باندې مین شوم حال مي ګوره    مګر خداي ځما خوارۍ لَرَه پیدا کړې
که وعده دي دَ لیدو په ماخستن وئ    په بورجل باندې دِ ناست په ما سبا کړې
که د ما په دوکان ناست يې کالي ګوره    په زر سل ځایه په څو ځایه سودا کړې
کله مخ کله دَ شا وِی و بلبل ته    ګله ته چه ښاېسته شوی دا په دا کړې
په دا خوي دي اور د ما په کوګل بل کړ    زه د شمع غُندې ژاړم ته خندا کړې
چه وفا دي دَ خوشحال سَرَه ونکړه
راته وایه اوس به چا سَرَه وفا کړې

له شیخه خبر نه یم چه په کوم عمل مشغول دئ    چه عشق ئې را فرمائي هغه کار ځما قبول دئ
عشق لکه بادشاه دَئ زه په مثل دَ چاکر یَم    چاکر چه دَ صاحب په حکم نه وِي نا معقول دئ
دَ سبا نسیمه پاڅه په تلوار تلوار را دورمه    په هغو مي سلام وایه چه په ور کښ ئې نزول دئ
بل استواځی دَ عاشق د معشوقې په منځ کښ نسته    پدا میدان کښ ګوره محبت دَ ده رسول دئ
دَ یار غم مي له خلقه پټ پنهم درله په زړه کښ    ولی څه علاج ئې وکړه چه مي رنګ دَ مخ پدول دئ
چه په تور دَ لېونتوب مي هر سړی په زَولنو شو    ګرم ئې خلقو مه کړي هم هغه ځما د کول دئ
هم هغه دَئ همېشه ژوندون موندلَي له باور کړې    چه دَ مستي دَ غمزې او د جلوې په تېغ مقتول دئ
دَ ګلونو پاڼې بویه ګه کمیس شِي دَ ملوکې    دَ ورېښمو له کمیسه ئې نازک بدن ملول دئ
ګوره ښه جمال چه لا به کله ور ښکاره کا
دا چه همېشه دَ خوار خوشحال ور پسې نول دَئ

لکه زلفي دَ هغو چه سودا ستا وِئ    بویه دا چه ئې سروُنه تر پا ستا وِئ
لکه دَ سبر ونه لاف کا ستا تر قده    بویه دا چه دا په قدوبالا ستا وئ
هغه زړه چه تا ویشتلي زړه هغه دئ    تا ویشتلي زړه به تل په هوا ستا وئ
په خاطر کښ به ئې ځاي دَ نور څه نه وئ    په هغه زړه چه هوا تمنا ستا وئ
کله وِئ چه ستا له لاسه چا ته ژاړم    که هر څو بې حده جور په ما ستا وئ
که په سل رنګه زېبا دَ چمن ګل دَي    دَی به څرنګه په رنګ دَ لقا ستا وئ
د خوشحال غُندِي به مست ګرزي په میو
چه هوا دَ برندو سترګو دَ چا ستا وئ

Downloaded from: ketabton.com



له اوله په سر جوړي کا دړی    بیا ټېکه په ورځیو ښېښې[۱] خونړی
جړاوې حلقې په غوږ ښېسر په پوزه    قیمتي دَ مرغلرُو دوه لړی
مرصع باهو په لاس ګوتي په ګوتو    ژر نګهار ئې دَ پایلو دَ څړی
په ښېوه ښېوه عاشق ته ځان ښکاره کا    په غمزه ئې زړه کا وَو وړی
چه له هسي محبوبا ئې آشنایی وئ    پرې به کېږي پادښونه دَ نړی
په وصال به ئې په څو رنګه هوس کا    په هجران به ئې ساه راشی تر غړی
سر تر پایه آراسته شي په څو رنګه    په لیدلو ښاپېری دَه نه سړی
دَ زلفینو ښاماران ئې هسي ندئ    چه خوړلي ئې رغېږي په جړی
خلقو زه دَ تورُو زلفو لېونی یم    لا مي ښه په خنځیرونو وتړَی
زړه ئې هسي دَ هجران غمونو موړ کړ
دَ خوشحال تر ستوني ندرومي نمړی

لکه زه په یار مین یم بل نه وِي مین هسي    لکه زه پسې غمجن یم بل نه وي غمجن هسي
هم مي ووژني پخپله هم پما باندِي ژړا کا    څه ښه یار دَئ ښه ئې مینه وژل هسي شیون هسي
مخ ئې درست سَرَه ګلزار دئ رنګا رنګ لَرِي ګلونه    تفرج دَ بهار ګوره پکښې نشته ګلشن هسي
زړه داغدار غرقه په وینو لاله ګل وَته وګوره    هیڅ شهید ندي راوړي له ازله کفن هسي
تورُو زلفو ته ئې ګوره ښایسته دواړه رخساره    دَ جهان په مخ نه وِي[۲] سنبل هسي سمن هسي
لکه زه ئې ننداره کړم ورځ و شپه پخپله خونه    خوار مجنون لېدلَي نه وُ په درست عمر دیدن هسي
که دَ ګل پاڼي ئې خط کړې لا به هم باندِي څرخېږي    دا نازک بدن چه ستا دَئ دَ چا ندي بدن هسي
که ئې رسم یا ئې دود دَئ یا وفا دَ هندوګی    چه له یاره سَرَه کښېني حؤک به وکا سوختن هسي
چه څوک ټاپ در پسې وکا سَرَه ټك وهي لاسونه    دا ژوندُون دَئ مردن ندَئ که دِ وشي مردن هسي
دَ ارم آرام مي بیا موند ستا په غولي کښ خوشحاله[۳]    خوښ له بخته له قسمته چه ئې را کړ وطن هسي
چه خوشحال خټك ئې وایي په پښتو ژبه خبري
په پارسي ژبه به نه وِئ که پوهېږې سخن هسي

له غمونو به خلاص شې دَ غم خوېش یې    که بد ګوي و بد آموز بد اندېش یې
مه بد وایه مه بد اروه مه بد ګوره    دروېشي دِ مبارک شه نو دروېش یې
ستا په زخم به دارُو مرهم نور کښېږدي    که په ځان مرهم دارُو دَ چا په رېش یې
که دِ ځان پخپله شمار تر هر چا کم کړ    نور ځما په پوهه ته تر هر چا بېش یې
یا به دد یا به منګور یا به لړم یې    که داړل کړې یا چیچل یا په چا نېښ یې
پخپل دین نظر لَره دینونه ډېر دِئ    څه جاسوس دَ چا دَ دین دَ چا د کېش یې
که هر څو در ځَنی غړېږم بده خویه    څه په هَره کوڅه بیا وَ ما ته پېش یې

---

[۱] کښېږدې.

[۲] د جهان په باغ کښ نشته.

[۳] خوشحال شوم.

Downloaded from: ketabton.com



په کردار توره مشکښې يې خوشحاله!
په گفتار سَرَه دَ سپينو درو وېش يې

ما ليدلی دِي په دا سترگو پوهړيَ[1] لکه نخښي دَ هر چا غشِي ته بَرِي
په زړه څو ځايه ورټوپنِ ئې روغي په خوله نر ناحق و هر چا وته زيړي
په خندا خندا ئې اوښی ځي تر سترگو لکه چرگه دَ مستی وهي چقړي
په سبا بېگاه ئې فکر نور څه نه وِئَ تل ئې ذکر د ذکر دئَ ولپړيَ[2]
هيڅ له خپله خويه نه اوړي په عمر که ئې دَړي په تندي کړيِ دړي وړي
همېشه سترگي نيولي و خپل ښکار ته وغوټېِ وته وار ساز کا[3] لکه لگړي
ږغ ئې ولاړ په درست جهان د بد کاریِ سور بيرغ د چټگي پوري په لگړي
په چووه په عطر غرقه سر تر پايه دَ اجمير په فليل دواړه زلفي غوړي
د محل دننه ناستي زربفت پوښي چوهړي ته ووزي پريوزي په غوشيړيَ[4]
که ئې پلار نيکه له ځايه بادشاهان وِئَ نه د پلار نه د نيکه په شرم اړی
مړ هندو غندي په سر و لمبو کښ وسوئَ
چه ئې ولېدې خوشحال دَ اور لوخړي

مخ ئې را څرگند کړ ويې هسي رنگ آفتاب وئَ زلفی ئې نمود کړيِ ويې هسي مشکناب وئَ
وېِ مي خپله عمره په شتاب له ما نه مه ځه ويې که دِ عمر يم دَ عمر تله شتاب وِئَ
هسي ئې بې آبه دَ گلابو گل تر مخ شو زرمنه که وسېځې حرام که پکښي آب وئَ
هجر مي وژلو ته تيار دَئَ که خوله راکړې هجر به هلاک شي زه به خلاص شم ستا ثواب وئَ
مرم دَ عشق له لاسه نه دَ مستي په غمزه مرم کار تېره چاړه کا لاس او زړه خو دَ قضاب وئَ
هر چه ته ئې وليدې په تا ئې زړه باي نه کړ زه وايم سړی ندي هغه به هم دواب وئَ
نن کانده هر گوره په آزار دَ زړونو متې کړې هسي فکر نکړې چه آزار دَ زړه عذاب وئَ
نور به دَ خپل يار سَرَه څرگند مهر آغاز کړم څو مي به له خپلو له پردَيُو نه حجاب وئَ
ستا دا بې نظېر جمال چه وَوينم په ده کښ
تر زر سحر خېزیِ ښه خوشحال ته هغه خواب وئَ

ما چه ستا په جمال سترگي کړيِ رُنې کښلي واړه ستا دَ مخ دی د بنې
چه په داد و په فرياد مي نه رسېږي دا دلبري بې پروا دِي که کښې
گنُدي وِي چه بيا مي راشي په منگل کښ لکه باز دَ زرکي توې کا بنې
سپهنه زنه ئې منه سمرقندي دَه گوره څوک به خوږ کا زړه پدا منې
که دِ سپين بارخو کبود کړم په چيچلُو اوس مي نه گښې هاله مي به گښې

---

[1] بد لمني ښځي.

[2] وله پر.

[3] و غوټې ته وار ساز کا.

[4] مردار ځاي.

Downloaded from: ketabton.com



بخته ته که دَ خوشحال سرَه مدد کړې
دَ رقیب په سر ئې وَشلوه پنې

ما خو توبه وکړه که زړه هم را سرَه مل شي      عشق دَئ چه همېش ئې په توبه باندِې یرغل شي
ډېر کاندِې فکرونه دا سرې په ډېر رنګونه      کاشکې دَ چا چارې پدا خپل فکر فیصل شي
څو وایې پندُونه دروهه اې نصیحت ګویه      زه څه هغه نه یم چه و ما وَته اټکل شي
هوبنره رسوایې دم وهَل دَ پارسایې      راشه که ئې ګورې چه دا څه دغا دغل شي
کار دَ عاشقې څه آسان او سهل ندئ      اوس چه پشیماني کړې دِله دا فکر اول شي
زهد په لاس واخلم چه به نه ګورم دلبر ته      خیال ئې دَ زلفینو راته بیا دَ زهد غل شي
زه وایم که تل دَ ښایسته وو نندارہ کړم      شرم دَ پېرې تر دا منځ راته خلل شي
تل به په ارمان ارمان مګس موړي لاسونه      یاد ئې چه په زړه دَ شاه دَ لام و بې عسل شي
اور دَ محبت دَئ چه ځما په زړه کښ بل شو      ګوره پدا اور به اور په څو ځایه نور بل شي
زه په بېلتانه کښ دَ وصال نارې وهمه      څوک چه اوُبه واخلي و پایاب وته ئې زغل شي[1]
کښېنمه په طمعه دَ مَین دَ مخ په اور کښ      نور ځایونه پرېږده که تنور راته بورجل شي
نه رسي تر یاره هر چه ډېري اندېښنې کا      نوري کیسې پرېږده دَ عشق کار په توکل شي
ګې شم په ګلشن کښ لَمن ډکه کړم دَ ګلو      بیا بې خوده ولاړ شم واړه ګل را څخه تل شي
هر چه بد غلیم دَئ ګرفتار په عاشقی شه      اور ئې پیدا نه ولي دَ ده سینه منقل شي

هونبره دَ خوشحال ختټ تقوی زهد پرهېز شته
ستا چه توری زلفي په سپین مخ باندِې ولول شي

ملاحت چه صباحت سرَه آمېز شي      دَ دلبرُو حسن هاله شور انګېز شي
خدای پخپله په ښه مخ باندې مَین دئ      خدای ئې واخله چه له کښلیو په پرهېز شي
په زمان به د زاهد خونه اُلجه کا      که د سترګو دَ ترکانو ئې پرې خېز شي
دَ غمزې سمند ئې جوړ کړو جولان ته      ګوره بیا به ئې په چا باندِې مهمېز شي
دَ دوږخ لمبې به هم ورځنې ډار کا      که دا اور مې دَ خاطر په حشر تېز شي
دَ عشق بوې مې به ولاړ نشي له هډُونو      که هر څو په تورُو خاورو کښ رېز رېز شي

چه ګه ناز کا ګه عتاب کا کله مهر
دا ئې واړه له خوشحال سرَه مکېز شي

مخ دِ آئینه دئ باندې ندې تر سېرې      آه دا خوار عاشق دئ ډار ئې وکړه دَ چېرې
سر تر پایه زېړې زعفراني جامې اغوستې      راشه توري زلفي فلیل پوري اجمیري
تا وې چه دَ مخ قدر قیمت مې پتا څو دئ      څو به درته وایم په ما دوه ګونه پېرې
راز دَ خوار عاشق دَئ چه په شپه دَ جدایی      درسته شپه بې خوابه دَ اسمان ستوري شمېري
تا وَیل ځېر ځېر مې مخ ته ګوره کُندې موړ شې      زه یَم هغه وږي څه له ما غوارې سېرې

---

[1] په ځنو نسخو کښ داسی دی: و پایاب ته ئې اړل شی. زغل به د زغستل مخفف وی، اړل په معنی د حرکت او رغبت دی.

Downloaded from: ketabton.com



تا سَرَه په سيل دَ ګلونو سهيلی هسي نمائي کا لکه بلبل دَ سېري[1]
واړه را څرګنديِ دیِ دَ درست کلي دلبري ته ګل دَ نرګس يې نوري ګل دَ ګنډېري
سترګي دِ بلا دِئ چه ئې واړويِ ملالی زخم پيدا نه دننه زړُونه خڅيري
ته چه په ښه حسن جمال تيره تر ليلي يې
ځکه تر مجنون دَ خوشحال ږغ دَئ دَ تېري

مزري کله پرهېز ګار دَئ خو راغلي په خپل ښکار دئ
خوره خوروه له خپلو لېچو مزري دا کا چه رويدار دَئ
چه په توره ترک تازي کا هغه هر کله کامګار دئ
چه اخلاص لري په زړه کښ هغه واړه ايمان دار دئ
چه ئې زړه نه وِي دَ توري هغه زړُونه څه په کار دئ
ننګيالي چه په ننګ راشي نه په زويه نه په پلار دئ
سل دَ ښکار تر تازيِ ځار شه کوټګان چه دَ بازار دئ
مور دِ نشي باندي بوره چه مېړُونه دَ کار زار دئ
څوک چه شته تر شرقه غربه د تورزنو خدمتګار دئ
سر دِ نه غروِي خوشحاله!
دَ بلا نه چه سردار دئ

مخ دي په پلو کښ که څراغ دَئ چه بلېږي خوله ده چه وَيل کا که شکري دي تلېږي
سترګي دي که وروځي که په څو کښ تېر انداز دي شونډيِ دي که غاښ دئ که دا لعل دُر ځلېږي
زړه دَئ په کوګل کښ که دا کاڼي په سپين زر کښ قد دَئ که شمشاد دَئ چه تازه نوي څلېږي
مهر خندا پرېږده دَ دلبرو درته وايم تش خالي کا ته ئې هم په هيچا نه چلېږي
چا ئې چه په غولي باندِي يښي چېري پل دئ بيا چه ځني دورمي په ځاي پاتو شي شلېږي
تا ويشتلي ګوره چه جدا له نوره خلقه سريِ سترګي اوښتي په ژړا ژړا نخولېږي
ستغ لري هم ځوړ لري دَ غره غُندي سينه مي تل باندي دَ اوښيو کاروانونه دِئ چلېږي
څه حساب شمار کړيِ چه په سر ګرزي دا ژونده څو عالم ئې دَل[2] کړ لا به څو عام دلېږي
لاف به مېړه نکا که ئې چېري تر خوليِ ووت بيا که نور وَيل کا نور دَ ده ږيره کلېږي
هيچا ئې صفت دَ مخ دَ موتر سَرَه نکړ سل د سخندان په ورځ و شپه سَرَه للېزي[3]
زه خوشحال پښتون چه په پښتو په پارسي طاق يم
لا مي په پښتو ژبه کښ ژبه در غلېږي

---

[1] وقف سوی ځای، دَ مسجد يا زيارت دپاره کوم ځای جلا کول، چه له هغه ځايه هيڅوک ښکار او نوره شخصي استفاده نسی کولای.

[2] يعني ووړ او ميده.

[3] لل يعنی ويل.

Downloaded from: ketabton.com



ما څه شونډې غاښ دَ هغه یار ندي ستایلي　　راشه که ئې ګورې لعل و دُر مې دِي پېیلي
هر چه عاشقي کا خوب خندا باندی حرام شي　　نور عالم به څه کړې ما په ځان دئ آزمیلي
ځني عاشقان هوا هوس کا په وصال کښ　　څوک جدا له یاره په آه آه کښ زېړ ځېښېلي
یو مزي وېښته په طریقت کښ لوي حجاب دئ　　ځکه قلندر ږېره بریتونه دِي خریلي
ما پدا جهان کښ بل استاد ندئ لیدلَي　　پېر مرشد مې عشق دئ واړه عشق دي را ښیلي

سل سره بني دِ تر دا یو غزل ځارېږه
نن چه دا پښتو دَه ګرلاني خوشحال ویلې

ما چه وکوت دَ دنیا خلق مختوري　　قابوچي دي واړه ګوري پتاو سیوري
چه ئې څه دَ دنیا سود څه ئې فایده وئ　　دَ خپل زړه په یرغ نیسي هغه لوري
خپل ئې لا په بدي پاڅي تر پردَیُو　　خو دِ خداي دَ بدو نکا دَ چا ستوري
یا دَ لېچو زور پکار دَئ یا دَ زرُو　　خوار هغه شو چه په دواړه وئ کمزوري
سر تر پایه منافق واړه بد بوي دئ　　که په سر ئې سپین مندیل دَئ لکه اوري[1]
کال پل کال چه ورته وګورم نور نشه　　دَ لاله دَ زړه په داغ ختلي غوري[2]
د ناپوه بخره ښادي دَ هوښیار غم ده　　څوک به وران کا دَ ازل دَ قلم توري
دَ یوه ګوله په خوله دَ بل په زړه کښ　　په حساب لکه کړ وري[3] شه دوه موري

غل بې غمه نندارہ کاندي خوشحاله
په تهمت تړلي ساد[4] درومي سر توري

ما فراق دَ حبیبانو ژړَوي　　زړه په ما دَ رقیبانو سرَوي
چه سیلاب ځما د اوښو را روان شي　　عمارت د ما دَ صبر نړوي
عشق ځما په عقل وکړ هسي چاری　　چه هلك مي په خبره واړَوي
مه هجران وَي مه دَ ده ترخه غمونه　　چه مي تل له خوږه عمره مَرَوي
دَ فراق په شپه ئې خوب په ما حرام کړ　　دائم مالګي مي په سترګو دوړَوي
په پیغام ئې دَ وصال هسي تازه شم　　لکه باد دَ ګل غوټۍ غوړَوي
یمه پوخ دَ عشق پکار لکه کَودري　　نور مي څه دَ غم وَاورته کړَوي
په لیدوُ پسې ئې مرم سخ دَ هغو دئ　　چه وَ مخ وته ئې سترګي غړَوي

که دَ زړه په محبت شي خوشحال ځوان دئ
پدا سپین وېښته ئې خلق زړه وِي

مښك افشانه په کاکل یې　　عنبر بېزه په سنبل یې!
چه و مخ وَته دِ ګورم　　په مخ درسته لکه ګل یې

---

[1] یعنی سپلنی، خردل، چه دننه تور او دباندی سپین دی.

[2] غور په معنی د پیغور ده.

[3] یعنی پسه.

[4] پاک، سوتره، ایماندار (دریاب)..

Downloaded from: ketabton.com



تنگه خوله دِ غنچه گل دَه    په لبانو لکه مل يې
په رفتار کښ لکه زرکه    په گفتار لکه بلبل يې
پښتنه يې په بد جهل    ستمگره تر مغل يې
پدا تورو شهلا سترگو    هم شاهين هم ئې منگل يې
څو خوبئِ دَ جهان دي    آراسته په واړه گل يې
لکه سبر په چمن کښ    په قامت په تجمل يې
دَ خوشحال وَ مرگ ته ناسته
په غمزه په تغافل يې!

مار که هر څو پېچ و خم ځي    خپلي سوري لَره سم ځي
دَ غفلت له خوبه وېښ شه    شېرين عمر دم په دم ځي
مرگ به هيڅ سرى پرېنږدي    وار په وار به درست عالم ځي
بې دليله به ځان ورک کا    مسافر چه په تور تم ځي
دَ پښو وار ئې خطا کېږي    چه قاضي لَره څوک گرم ځي
که قضا وَته تسليم شي    هم پدا له دِله غم ځي
دَ دوږخ دَ اور علاج کا    چه سحر تر سترگو نم ځي
هغه عمر لکه باد دَئ    چه په غم دَ بېش و کم ځي
چه تور مښك دِ حبطه کړل    په کافورو څه ستم ځي
چه نه تول لَراي نه پوله[1]    هغه هر چرته خرم ځي
منډي پرې مړده خوشحاله
که دِ سر لکه قلم ځي

مست دَ هغه مخ يَم چه مخموري لري سترگي    هسِي پرې غوځېږم وايي تورِي لري سترگي
يار مى په ښايست کښ بې نظېره بې مانند دئ    لا په درست صورت کښ ډېر مشهوري لري سترگي
ډېري کښلي سترگي ما ليدلي دِي دَ کښليو    تا غُندي يَو يَو په ښو پري لري سترگي
سل ځله دي شيخ ملا صفت ورځني کاندِي    ښې به ستا تر تورُو سترگو حوري لري سترگي؟
ناست دي لکه څري[2] رقيبان و خوار عاشق ته    ځکه ستا له مخه هوري دوري لري سترگي
هر چرته چه ته يې هغه لور ته مِي نظر دَئ    هر چرته چه زاڼي شاهين هوري لري سترگي
نشته په جهان کښ تل طلب ور پسې کرمه    يو هسي منظور چه نن منظوري لري سترگي
نه گوري و چا ته څو پخپل ښايست غره[3] دَه    گوره دا خيال په څو مغروري لري سترگي
سخ دَئ دَ هغه چه خوښ خورم دَ يار په وصل    هر ساعت دَ يار په مخ مسروري لري سترگي

---

[1] چه نه پول لرى نه پوله.

[2] سيد راحت ليکلي، چه څرئ هغه لرگي ته وايي، چه د ستون پر سر ئې کښېږدي، او شهتېر پر واچوي مگر دغه معنا دلته ښه نه ورسره لگېږي.

[3] وى.

Downloaded from: ketabton.com



راشه که ئې ګورې چه خوشحال په درد و غم کښ
ورځ و شپه بې تا په اوښيو پرې لري سترګي

مګر رسم دين آئين هسي لري    چه دا خوار زړه مي غمګين هسي لري
دا دَ زړونو مېني وراني پرتې ښې دئ    چه تل آس دَ جفا زين هسي لري
عاشقان به لکه مچ وربانديي ګرزي    دواړه لب چه شکرين هسي لري
څه نسرين[۱] دِ دَ سنبل سَرَه دسته کړه    چه دَ تورو زلفو چين هسي لري
دا يو ستوري دَ اسمان دئ که تېکه ده    چه ئې ښې په جبين هسي لري
کله کله به مرهم وربانديِ کښېږدې    که همېش مي په زړه خوږېن هسي لري
لکه مخ ځما دَ يار دَئ اې باغوانه!    په درست باغ کښ يَو نسرين هسي لري
په کوڅه کښې ئې څه ته ګرزې زاهده    که دا خپل عقل دوربين هسي لري
مياشت به څه لَره اوس لافي دَ خوبی کا    ته دلبره چه مخ سپين هسي لري
که هر څو ښايسته ډېر لري کشمېره!    لکه يار يَو نازنين هسي لري
چه ئې پورته کړې ګلونه تر ښکاره شي    يو پلو دواړه آستين هسي لري
دَ خوشحال په حال به چېرې ترحم کړې
مستي ته چه زړه سنګين هسي لري

ښېتر ستا دَ قد سيالي و نه کړه دنګي    اور ئې بل کړ پخپل ځان په ننګي ننګي
سَرَه ښه دَ زړه خوښي کاندي همزولي    نه دَ لوی نه د هلك، وی[۲] يار دا کنګي
په خيال خيال ئې تر پوې بدري[۳] و مه خوره    وَ منډيل شملې پرېښې سپور دَ منګي
دَ خوشحال وَيل و هر چا ته ښکاره دي
نه دَ مښکوُ بوي پُټېږِي نه دَ هنګي

نصيحت دَ دانايانو دَ کتاب دَئ    دَ احمق ځواب هم نه ځواب ځواب دَئ
چه عيسی په غرونو تښ له احمقانو    دا تعليم ئې راته پاتو پدا باب دئ
لکه دد دَ صحرا ډېر دِي په هر لوري    په هر ځاي دَ احمقانو څه حساب دئ
سړي واړه سَرَه سم ندي په عقل    يو آفتاب دئ بل مهتاب دَئ بل شهاب دئ
يَو په قدر شهنشاه دَئ په دنيا کښ    بل دَ دين په مرتبه قطب اقطاب دئ
دَ هوښيار چه له نادانه زيست روزګار شي    که ئې ګورې دا هم سخت ګنده عذاب دئ
دا سړی دئ چه اغزی دئ سر تر پايه    دا سړی دَئ چه همه ګل ګلاب دئ
ما خوشحال چه ځان له خلقه کناره کړ
دا پدا چه نادان ډېر دانا نایاب دئ

---

[۱] نسترن دی د سنبل سره دسته کړه.

[۲] دِی.

[۳] په ځنو نسخو کښ بودری ليکلې ده يعني نوک خوړل او خطا وتل.

Downloaded from: ketabton.com



نه د عشق مدار یواځې په دیدن دئ    پدا کار کښ لا په هورته شنیدن دئ
ښه چه شپه دَ جدایۍ خداي آخر کړه    سبا کېږي اوس دَ صبح دمیدن دئ
تل په ستغ په خوړ دَ اوښیو قاصدان دي    چه طلب ئې دَ دلبرُو دَ دیدن دئ
دَ خطا آهو په بوي دَ نافې ښکار شي    راته بس دَ هغو زلفو شمیدن دئ
دا ستم په عاشق هغه کا نه نور څوک    چه و کښلیو ئې ورکړي دا دَیدن دئ
کله کله به آرام د ما دَ زړه شي    که یك لخته ئې زده کړي رمیدن دئ
خوند دَ شهدو دَ شکرُو راته هیڅ دئ    څو مي یاد دَ هغو شونډُو مکیدن دئ
نور دارُو ور لَره مکَوَه طبیبه!
چه خوشحال ور پسې مري هغه دیدن دَئ

نفس شیطان دواړه بلا دئ    را پسې څرګند په غلا دئ[1]
ځني چاري لَرِي پټی    ځني چاري ئې ملا دئ
دَ هغو جزا سزا کا    چه په جهل مبتلا دئ
خداي ئې خلاص لَره له عُجبه    څوک چه ناست په مصلی دئ
دَ دنیا دَ هوا چارِی    سر تر پایه ابتلا دئ
جاه به چاه شِی وَ هغو ته    چه دَ جاه په تولا دئ
دَ دنیا ښادیِ واړه    که باور کړې واویلا دئ
اندیښنې ګوره خوشحاله
چرته سري په قلا دئ

ناقرار زړُونه قرار شوي    د زړه غم ئې تار په تار شوي
دَ هجران غمونُه لاړي    بیا دَ وصل دندو کار شوي
هغه لاس چه بې حنا دئ    بیا حنا سَرَه نګار شوي
شانه ورغلي تر زلفو    رانځه سترګو سَرَه یار شوي
دَ پایلو دَ څړیِ    په هر لوري ژر نګهار شوي
په ګنګو دِ زیړ پړوني    په څو وه سَرَه خالدار شوي
وار دَ غم دَ ژړا لاړي    وار دَ بوس او د کنار شوي
په عذار دَ مهوشانو    بیا کبود کبود پرهار شوي
چه خوشحال ور پسې مرینه
ور ښکاره هغه دیدار شوي

نن ځما کره مېلمه عزېز دَ خداي دي    چه ئې پاس ځما په سترګو باندي ځاي دئ
پخپل ځاي نانديِ قائم دَئ لکه قطب    همېشه دَ ګم ګشته وُو رهنماى دئ
چه پرې څه خو توجه دَ فکر وکا    یَو زه څه چه دَ هر چا مشکل کشاي دئ
چه ګذر ئې پدا غولي بانديِ وشو    سعادت ئې ور سَرَه راوړ همای دئ
ما پرې اوس د غلطیِ کرښه وکښه    پخپل راي مي چه منلي دَ ده راي دئ

---

[1] را پسېالا الا دی.

Downloaded from: ketabton.com



دَ پادشاه څخه ئې مه غواړه چه نشته — هغه گنج لکه په کور کښ دَ گداي دئ
تناونه به ئې ورسي تر نمره — لکه زلفي چه ئې سرېښي په پاي دئ
دَ ښه حسن به ئې څوک کاندي ستاينه — چه دَ خپل حسن پخپله خود ستاي دئ
لکه عمر لارغه[1] رايشي ژر درومي
په هجران ئې دَ خوشحال خټك هاهاي دئ

نن دَ يار دَ لاسه بيا يو تير راغلي دئ — بد رسا دَ ځان په وړلو خير راغلي دئ
زه چه دو اسپه له عشقه تبنم پټېدلم — بيا را پسې گوره گير اگير راغلي دئ
ښه چه پکښي بند شو وَئې مشلوه له زلفو — زړه مي ليوني دئ په خنځير راغلي دئ
چرته يې اې عشقه چه وربوز ئې راته مات کړې — بيا گوره چه عقل په تدبير راغلي دئ
څو نبره ښايسته يې چه دَ مخ په ننداړو دِ — درست وگړي مات شه ما وې پير راغلي دئ
ټول محبوبه راغلې سمن بوئي سيه چشمي — ما وې چه ته راغلې درست کشمير راغلي دئ[2]
څوک که جهان نيسي په لښکرُو هغه ترک مي — گښي ځان دَ زړونو په تسخير راغلي دئ
زړونه ئې زخمي کړه چه ئې گوتی په بم کښېښوې — غوږ باسه له بمه اوس په ځير راغلي دئ
وچولي چه تر يو کړې ورته نه گورې په مهر
وايه له خوشحاله کوم تقصير راغلي دئ

نادانان پخپلی چاري ښه پوهېږي — دانايان که ئې په چارو اندوهيږي
چه نادان ئې په مخ وخوري هاله پوه شي — گڼه هونبره په خبره نه گروهېږي
کاڼي بوټي وچ لانده هر څه پر مخ وړي — مشيت لکه درياب دَي چه بهېږي
چه سرې اوبه ئې کښېوزي په نظر کښ — کله تړي له سرو اوُبو سهېږي
په هغو خوړو پېښ مشې چه ئې نخورې — سرَی هسي په ليدو ورته سوهېږي
که وَيل ئې په هزار رنگه سودمن دي
دَ خوشحال په وَيل کله حؤک گروهېږي

نن ځما په خېلخانه کښ څونبره غم دَئ — چه حيران ځموږ په کار پوري عالم دَئ
ناخلف زويه اغزي کري خپل پلار ته — د خلف زويه گلزار له عمره سم دئ
نا قابل زويه دوږخ غُنډي پيدا دئ — ښه قابل زويه په خونه کښ ارم دئ
ښه فرزند دَ پلار په خونه څراغ بل شي — بد فرزند دَ پلار په خونه کښ تور تم دئ
په لوي والي کښ ئې خوي د دام وَ دد دَئ — اوس دَ زويه خوبي هونبره وئ چه کم دئ
نالايق زويه ننگ نام دَ بابا ورک کا — که ولاړ ئې دَ نيکه دَ پلار علم دئ
دَ قابل سرَه به غم دَ نام و ننگ وِئ — ناقابل په غم نيولي دَ شکم دئ
چه دا هسي رنگه سپي ځني پيدا شول
لا په شك يم چه خوشحال کله آدم دئ

---

[1] يعنی رهرو، او مسافر او پر لاری تلونکی.

[2] ما وې چه په راغله ئې کشمير راغلی دی.

Downloaded from: ketabton.com



نور څوک نشته لاندي باندي　　واړه دَي دَي چه څه کاندي
د ده حکم به نور نشِي　　که ژړا کوې که خاندي
دَی قادر دَي باندِي ښايي　　که کيميا کا گل د سپاندي
څو سينې ئې کړې قراري　　چه په غم وې ځلبلاندي
څو ړې بيا وربانديَ پاس کړل　　چه پراته وُو تر بل لاندِي
خلقې ئې دِي که گورې　　سرَه يو تر بل هړاندِي
په ليدو دَ يار مړې شوې
دَ خوشحال سترگي نغلاندِي

نه مي زړه په سرداری درست خوشحال دئ　　نه ځما دَ خپلخانې څه حال احوال دَئ
دَ ختك اُولس په ننگه نه پوهېږي　　کار ئې درست دَ ناديده وو په خصال دئ
پښتانه لکه مگس ورباندِي گرزِي　　ورته ښني دَ مغل دَ حلوا تال دئ
نور ئې واړه تکئې تار په تار خپرې شوې　　اوس په منځ کښی يو کرم دَ ذوالجلال دئ
ايمل خان دريا خان واړه خورد بين ولاړل
اوس خو پاته و مغل ته يَو خوشحال دئ

و سړي وته دا خپل عيب وښته دَئ　　دَ بل عيب ورته لا کته تر غره دئ
پخپل ځان پسندنه نېکه په بل بده　　دا مذهب دَ مؤمنانو مذهب نه دئ
هنر وريې نېك سير يې لوړ اختر يې　　که بل تا وته تر خپله ځانه ښه دئ
چه مي يَو ځله اخلاص ور سرَه وشو　　يار که سل ځله جفا کا تور لېمه دئ
بيا دِ خپل مَيَن د ما له سترگو نه ځي　　که په سترگو کښ مي څرخ لکه بانه دئ
چه غمونه درته راوړي سترگي غوړِ دَي　　چه دِ ځان دَ بل مريَي کا هغه زړه دئ
که خواړه خوري که اوبه څښي پدا څه شی　　مرده دل که ژوندي وينې شمار په مړه دئ
د ما زړه تر کاڼي کلك وُ ښوي ترې پرېووت　　تر الماس ئې دَ غمزې غشي تېره دئ
که ياران مي تر حساب تر شماره تېر دي　　په کوگل کښ مى زړه يَو دَئ دَ يوه دئ
دَ سړی دَ صورت کار دا هسي نه وِئ
چه ئې زړه دَ خوشحال يووړ لا نور څه دئ

و څراغ ته دَ اور پښتي حال معلوم دئ[۱]　　په دا منځ کښ دَ خبري حاجت کوم دئ
يو د بل له حاله نه کاندِي پوښتنه　　دَ دې ښهر په عالم کښ بد رسوم دئ
يا يك لخُته هغه يار واړه جفا زده　　يا له ما سرَه جفا کا بخت مي شوم دئ
نن چه زه باندِي مَيَن يم په ډېر رنگه　　درئې وښيَم چه کوم دَي څه ئې نوم دئ
يَو په حسن بل په دا چه عاشق وژني　　په دا دوه توگه په درست جهان کښ سلوم دئ
نندارچی ئې دَ جمال دئ نور څه ندئ　　چه په هر لوري هر ځاي خلق هجوم دئ
چه گلُونه دَ بهار باندِي ليدل شِي　　دَ بلبلو سير تل په هغه بوم دئ

---

[۱] دا بدله له يوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه په نورو کښ نسته.

Downloaded from: ketabton.com



څه به هر یَوه ته حال وايې خوشحاله
دَ لېمو په حال خبر کله ادوم دئ

واژگونه شوې همګي دَ دنيا چاري[١] — چه ليدې مي هَسيي نه دِي واړه لاري
زوی ئې پلار سَرَه کا رُونه دَ غليم کا — لُونِي مور ته لکه بَنِي دِي تياري
چوهړي[٢] پلا وشولې خوړه حلوا خواري — په سيد باندِي حلالي دِي مرداري
باوري دَ بادشاهانوُ لکه غله شول — رهزنان ئې په دربار کا ځَني چاري
بلبلان طوطيان حيران په بيابان ګرزي — په ګلزار باندِي کارګان کاندِي چيغاري
په وښو د عَراقيانو ژواک ژوندوُن دَئ — راتبونه[٣] وهي زويَ داَ حماري
نادان خوښ بې غمه خوب په فراغت کا — په هوښياروُ باندِي راشي شل دشواري
په ښتنو باندِي حکم کا مريوُنه — تر مېرمنوُ تَل وينځِي دِي روېداري
په دوران دَ عالم ګير بادشاه خوشحاله
خانه زاد ئې واړه بخرِي لَرِي خواري

ورځ په ورځ دَ باغ غنچې دِي چه غوړېږي — دَ بلبلو وړي سترګي پرې مئړېږي
چه ښه مخ وته نظر کاندي لازم دئ — که ئې سترګي وَ بل مخ وته غړېږي
جګي جګي مانې مکوَه پخولا شه — چه پما دَ رقيباُنو زړه سرېږي
دَ عاشق خاطر په مثل دَ نافې دئ — که کالُونه پرې تېرېږي نه زړېږي
زه جدا له ياره خوب په شپه و نه کړم — وايې مالګه مي په سترګو کښ دوړېږي
روغ عالم خندا خوښي هوا هوس کا — پرهار ژلي په غمونو کښ نړېږي[٣]
نور عالم ئې تار په تار تښتي له غشيو
يو خوشحال دَئ چه ئې غشيو ته برېږي

وايم خلق نه دري — زړه مې يوړ يَو مزري
دا خبره چه زه وايم — تر وېښته ده لا نرئ
چېري نه وئ لېوني شم — چه په خوب وينم پرئ
زه له ياره سَرَه څه يم — دَ يوه مزي مرئ
چه ئې خوند دَ ميوې خوړ وي — هم هغه بوټي کري
ته هم خر ور سَرَه مشه — که څوک خر شي په خري
په کهترو د نظر کا — څوک چه غواړي مهتري
بله نه ګوري بل مخ ته — تل دَ سترګو کړم ږغري[٤]

---

[١] دا بدله په چاپي ديوان کښ نسته.

[٢] مزدور او خاوري پاکونکي.

[٣] ژړېږي.

[٤] ږغول او ژغول يوه معنا لري.

Downloaded from: ketabton.com



دَ وروشتي پسرلي نرګس دئ
دَ خوشحال قدر لَري

و ښه مخ وته نظر دَئ هر چا کړي    نه دا دود دَئ په جهان کښ ما راوړي
زه به هیڅکله له عشقه نه وانوړم    که هر څو راته وَیل کاندي وګړي
ما وَیل چه زړه به نه ورکوَم چا ته    ولي څه کړم چه بد زړه لَرم و ووړي
دَ عاشق دَ رښتینيِ نخښه دا دَه    چه په عشق کښ سر حساب کانديِ خسړي
په یو ګوټ به ئې دَ عشق دَ میو هېر کړي    که دِ واړه دَ جهان لذت دئ نغړي
چه په ښاخ باندي ئې اوړي ژمي ګل وئ    خداي ځما په زړه کښ نهال کړ هسي زړي
چه به بیا په څه علاج په لاس کښېوزي
دَ خوشحال خاطر ئې ندی هسي وړي

و مجنون ته دَ لیلا له شونډُو وايَ    لال و دُر یاقوت وَ نورُو وَته ستايَ
دَ مجنون له ودانی سرَه څه کار دَئ    هر چه ورانه ویراني هورې ئې بیايَ
چه به بله اندېښنه کاندې اغیار دئ    یار دِ څوک دَی چه دِ نه ووزي له رايَ
درست جهان دِ تېرې توري درته واخلي    یَو وېښته به دِ کنډَو نکا بې خدايَ
ما دا هسي دماغ اوس ندئ راوړي    زه دا هسي دماغ راغلم له ځايَ
وايې کانده به خپل مخ درته ښکاره کړم    زه په کانده مانده نه یم نن ئې نمايَ
دَ دولت شهپر کارګانو څخه نشته    که ئې غوارې خو ئې غواړه له همايَ
ته دَ زړه اَغزي په کوم طبیب وکاږې    چه و کښلي ئې اَغزَي ندي له پايَ
دَ منصور په حال خبر نه یې خوشحاله
درته چا وې چه دَ راز خبري وايَ

ورته ګوره ځما یار څه ننداره دئ[1]    لکه اوړمکی په ستوریو کښی ښکاره دئ
څو عاشق په معشوقې باندِي مَین شي    هونبره دَئ و معشوقې ته بېچاره دئ
ما وې عشق خو یَو ښه څېز دئ خبر نه وم    چه دَي لا تر مست هاتي نه خونخواره دئ
چه نصیب ئې دَ ښه مخ ننداره نشوه    هغه څوک ځما په پوهه آواره دئ
غم ځما له دِله نه درومي بل لور ته    ته به وايي چه ځما په اجازه دئ
عقل، علم، هنر مه یادَوَه ما ته    چه مي ولیده مدار ئې ستاره دئ
هغه زه یم چه دَ اوښ وري په شا وړم    دَ غوا وري ځما په پشتاره دئ
چه علاج ئې په چا نشي څوک ئې څه کا    چه په ما باندِي ئې زړه سنګ خاره دئ
غم په نورُو یَو ځل وَریشي بیا تېر شي    خو پما باندِي که ګورې سل باره دئ
چه ئې هېڅ دَ ښایسته وُو مینه نه وئ    رنګ ئې مه وینې چه نفس اماره دئ
دَ ښه مخ ننداره نکا خلوتي شو    زاهد ځان ژاړي بې ځایه هیچکاره دئ
بادشاهان دِ هم سیالي ور سرَه نکا:
خوشحال ستا دَ ور مرییو په شماره دئ

[1] دا بدله په نورو نسخو کښ نه وه، له یوې قلمي څخه را نقل سوه.

Downloaded from: ketabton.com



ولاړم قلندر شوم دا مي حال دا مي احوال دئ   مات کچکول په لاس کی بل مې گند دَ دنیا مال دئ
وران وګړي ګوره په څو قلب کارُونه کاندي   واړه اقبال غواړي ولي لابقا اقبال[1] دئ
زه تر هغه ځار شم چه ئې راکړه تر ځان ځاره   ځار تر ما هغه شه چه ځار شوي تر مثقال دئ
هیڅ په منځ کښ نشته په خالي دکان غوغا دَه   ما چه فهم وکړ واړه وهم خوب و خیال دئ
یَو په ګور کښ ښخ کا، بل په ګور کښ نکا فکر   درې ورځې ماتم وي څلورمه ورځ بل حال دئ
ما خو لاس په غوږ کړل ځني تښتم که خلاصېږم   خلق پر خوارېږي شهوت څه عظیم جنجال دئ

نور عالم به څه کړې دَ خپل ځان په خلاصي مې کړه
لاندې یې خوشحاله دا یو څه دَ بلا جال دَئ

وې مې که زه درشم ستا تر ځایه خوله به را کړې؟   وَې سکه هزار سَرَه لَرې چه دا وینا کړې
وې مي چه په مخ دِ توري زلفي تور ښامار دئ   وَې تروسکه، څه لَرَه ښامار وته ویسا کړې
وې مي چه په کوم توکي به تا وته نزدې شم   وَې چه که سر له تنه بې تیغه جدا کړې
وې مي چه په تا هر ګوره لېوني یم   وَیی چه په دا عقل به لا صورت رسوا کړې
وی می چه ما تا سَره خندا په یوه وخت کړه   وَیې هغه څوک وُ چه ئې تا سَرَه خندا کړې
وې مي چه هر ګوره کبریا شوې خداي دئ ویني   وې چه که کبر کړم ستا څه دَي چه غوغا کړې
وی می چه دَ سپینی زیبا خولی عاشق دی زه یم   وَې چه خداي څه دا عاشقیِ هم ویړیا کړې
وې مي چه له نتي دي چارګل په پوزه زیب کا   وَې دا خبري کړه هاله که چا په تا کړې
وې مي که زه ستا په کوي کښ وَمرم ستا رضا دَه   وَې کشکي خلاص له دردِ سَرَه سپی ځما کړې

وې مي چه په رنګه خوشحال په تا مَین دَئ
وَې دَ ختګ سړِی دَ میني څه ثنا کړې

همېشه مي تر پرهار ویني بېږېږي   که هر څو باندې دارو ږدم نه لږېږي
که فریاد له درده کړم ملامت نه یم   چه پرهار په پرهار وشي خو خوږېږي
همېشه مي دَ یار یاد دَ زړه سبق شو   چه ډېر ډېر ئې یادَوم زړه مي خوږېږي
زړه مي ګل دَ نیلوفر مخ ئې آفتاب دَئ   نیلوفر مي و آفتاب وَته کږېږي

دَ خوشحال دَ خوشحالی وخت هم دا دَئ
چه رباب سرینده جوړ سَرَه غږېږي

هېڅ صفت ئې نه ځائېږی په تحریر کښ   چه دَ زلفو مښک عنبر کړم په نظیر کښې
ستا دَ مخ دَ شونډُو مثل را معلوم شو   لکه نهر دَ جنت شهد په شیر کښې
نه چه خوله دَنه زړه مي هم په خوږ شي   چه دِ نوم دَ شونډُو واخلم په تقریر کښې
ما چه ستا دَ څهرې ښه ننداره وکړه   څوک به ستا په حسن نه وِئ په کشمیر کښې
زړه مي ستا په زلفو بند شو پرې خوشحال شوم   لیوني ترلي ښه دَئ په ځنځیر کښې
که هوا دَه که سودا دَه پکښې ستا ده   بل خیال فکر مي هیڅ نشته په ضمیر کښې
زه چه ستا په تیر زخمي شوم فراغت شوم   چه عجب دارو دي ېښې وه په تیر کښې

---

[1] دَ "اقبال" حروفونه چه قلب شی لابقا شی یعنی چه پاتېده نه لری.

Downloaded from: ketabton.com



لکه بوي دَ يار دَ زلفو دَئ عطاره    هسي بوي نشته په مښکو په عبير کښي
محبت مي هډ و پلو سرَه مخلوط شو    ناصحانو راته شا کړه په تدبير کښي
چا به هونبره دَ عشق گنج را عنايت کړ    که مي نه وَئ خپله بخره په تقدير کښي
دَ خوشحال ويل په نورُو کښ څرگند دئ
لکه ږغ دَ ويره ژلي په گڼ وير کښي

همېشه مي له ښه مخه گفتگوي شي    چه په لوښي څه دِئ هغه ترې توي شي
دَ بلندي په قامت باندِي مَيَن شوم    هر چه لوئې چاري کاندي هغه لوي شي
چا خپل يار په غېږ کښ ونيوه خوښي کا    لا دَ چا ورپسې هسي جست و جستجوي شي
دَ منصور غُندِي به غل دَ خاص و عام شم    که ښکاره مي و عالم ته گوي مگوي شي
په زړه هونبره پروتي ندئ چه ئې شمار شه    اوس ئې چا وته سپړ نه موي په موي شي
خارو خس سرَه ئې څه مهر پيوند دَئ    دَ بلبلو مينه تل په رنگ و بوي شي
نه به زهد وِئ نه علم نه څه نور څه    که څرگنده مي عالم ته پدا روي شي
ځکه هر کله خوشبوي او معطر دئ    دَ صبا ئې چه په چم کښ تگ و پوي شي
دَ ناپوه ياري په مثل دَ ډک جام دَه    له هر څو ئې ښه ساتم را څخه توي شي
دَ خوشحال ژړا څه نر ناحقه نده:
چه ئې تېره درسته شپه په هاي و هوي شي

هر دم تر نقاب لاندِي    و عاشق ته شېوه[1] کاندِي
تازه اوربل اودلَي    توري زلفي آوېزاندِي
انگڼ ئې ښايسته کړ    چه را وَوَته دباندِي
ځما په مرگ دِ زړه دَي    چه بې درودو سرَه خاندِي
څه ظلم څه ستم کړې    چه پلو نيسې دَ وړاندِي
څه عجب غزل ئې ووې
آفرين په خوشحال باندِي

ءهر گناه چه په توبه په استغفار ځِي    دَ هغه گناه به څه په زړه کښ ډار ځي
ساقي راشه سره شراب راکړه سرې شونډې    تر چشمانو دِ ځارېږم چه بهار ځي
په هر چين کښ ئې دَ څوڼو مښك دَ چين دئ    لخلخې ځني توئېږي چه په لار ځي
دَ خپل زړه خبري واړه ويراني کا    يار هغه چه همېشه په زړه دَ يار ځي
جهان ځاي دَ خوښي ندئ وَ ناورين دئ    چه طوطا له گلستانه په چيغار ځي
په وار وار چه په دنيا باندي راغلي    عاقبت به ځني واړه وار په وار ځي
که له دردِه مي خبر ندئ وگړي    چه مي سرې ويني تر سترگو په رخسار ځي
دَ هغه طبيب نوم څه اخلې په ژبه    چه بيمار ور لَره رايشي بيمار ځي
که مي پېژني هغه ليونَي زه يم    چه نادان را لَره رايشي هوښيار ځي
دروغجن به همېشه وِئ په خزان کښ    دَ رښتينو په مخ هر کله بهار ځي

[1] جلوه.

Downloaded from: ketabton.com



د رقیب خلل به نه ووزي له میانه    وخت نېژدې راغي دَ وصل دندو کار ځي
چه محروم ئې دَئ له میو يَو خوشحال دَئ
ګنه واړه حریفان ځني سر شار ځي

هره مینه چه په خال په زخه کېږي    هغه واړه دَ ښه مخ له مخه کېږي
زړه[۱] دلګیر مشه دَ خلقو په جفا کښ    په عاشق دَ رقیبانو رخه کېږي
خاوند خداي دِ سر زنش دَ هغو وکا    چه په جال ئې دَ دردمنو سخه کېږي
غه مرغه به له همایه څه پرواز کا    چه لا اوس ئې تن وجود په پخه کېږي
که هوس کوي خوشحال هوس ئې نهېل[۲] شه
غه هوس چه به بې ستا له مخه کېږي

هر زمان چه دَ فلك مهر بنیاد شي    نا مرادي د مانې[۳] پخپل مراد شي
په هر شام پسې سحر شته نظر وکړه    عاقبت چه څوک غمجن شي بیا به ښاد شي
ساقي نن دَ سر شارئ شراب راکړه    محتسب چه حاضر ندئ څه هِداد شي
چه نه مَئ نه معشوقه پسرلی رفتن کا    نن ځما له خپله بخته نه فریاد شي
يَو له بله زده کَوي دَ جهان دود دَئ    له اوله چه شاګرد شي بیا استاد شي
یار به مخ راته ښکاره کا لکه شمعه    عاقبت[۴] به دَ رقیب خو را نامراد شي
یا ډېر زر بویه یا بخت بویه یا توره    چه په سپینه ږېره څوک دَ چا داماد شي
دَ ملحد په زړه به نه لګي خبري    که وَیل دِ ورته تل دَ نون و صاد[۵] شي
زمانه به ئې پرېږدي و ثبات ته    په هوا چه دَ حباب غُندي پر باد شي
صورتی عمر فاني دَئ باقي دا دَي    چه ئې پسله مرګه نوم دَ نېکو یاد شي
عقله ته له عشقه لیري لیري ګرزه    مخالف چه سَرَه وریَشي فساد شي
دَ هغه سړی په مرګ ژړا هیڅ مکړه    چه دَ بدو نوم ئې خپور په هر بلاد شي
په هر ځاي باندې ئې زړه دَئ لکه ژاولي
په خوشحال باندې ئې زړه لکه فولاد شي

هر سړی که رشتیا ګوي وئ    نه دَی مړ که سرئې ګوي وئ
دَ لویی لافي به نکا    چه په اصل هنر جوي وئ
که ئې نغاړې پټ به نشي    په هر ځَای چه رنګ و بوي وئ
چه خپل یار له ما بېلتون کا    د ما سترګي پسې جوي وئ
په بېلتون دَ مَیَنانُو    زړه تر دوو سترګو را توي وئ

---

[۱] ته دلګیر مشه.

[۲] مایوس، نا امید، محروم (دریاب).

[۳] نامرادی د نړئ، یا مراد دَ زمانې.

[۴] عاقبت به د رقیب په سر مراد شی.

[۵] نون و صاد یعنی نص چه په اسلامی احکامو کښی اساس دی.

Downloaded from: ketabton.com



چه قیمت دَ کالي څونبره پسی هونبره جستجوي وئ
څو جفا کا زه خوشحال شم
یار دِ هر کله بد خوي وِئ

هر ناپوه زلموټی څه زده، چه څه دَه دَ عشق بازي ترو څه مچ څه ئې مجال چه په هوا کا پروازي
هر قلاش چه خپل صورت په عشق کښ باي کړ که باور کړې په مذهب دَ عاشقانو هم شهید وئ هم غازي
که دَ یار به غم کښ وَمري خاصګي ژوندون هغه دَئ که په پښو ئې تندي کښېږدي هم دغه دَه ممتازي
حقیقي سجده هغه دَه چه دَ یار په لور[1] ئې کړې د کعبې ته چه سجده شي دا سجود دِي مجازي
تورُو زلفو ئې په باد کړه ډېر سرُونه دَ مظلومو توري سترګي ئې په زړونو کا همېشه ترکتازي
اې خوشحاله چه عاشق شوې اوس له خپله سَرَه تېر شه
دا ځما خندا خندا ته بازي مه ګڼه بازي

هغه دم چه مي دَ یار سره صحبت وئ دَ فرښتو آواز په ما باندي زحمت وئ
ګه له یار سَرَه باده خورم په خلوت کښ باده! ستا دِ له غه ځایه نه رخصت وئ
ښه یاران چه سَرَه ناست وِئ محبت کا چه اغیار وَرباندِي راشي قیامت وئ
تل ګدای په بادشاهانو مَیَن شوئ نه دا کار به له ما خواره نه بدعت وِئ
عاشقي مي خداي له ځایه خوي خصلت کړه هم هغه کاندي سرِی چه ئې خصلت وئ
ستا د شونډُو تر لذت به نه رسېږي که هر څو مي دَ شکرُو زیات لذت وئ
ما به زړه د معشوقې له لاسه خلاص کړ ولي دریغه که له عشقه اجازت وئ
دَ زنخ دَ څا دَ بند فراغت غواړم په تنور کښ پراته کله فراغت وئ
ښه صورت خو هم هغه چه زړه ئې یوور نه چه کړه اووړه ئې ښه وی ښه صورت وئ
ما به سترګي لکه باز درلې اندرتي[2] که مي زده وئ چه دَ سترګو بد شدت وئ
خو به مه راځه په ملك ځما دَ سترګو ګڼه ځان به دِ په وینو کښ لت پت وئ
شیخ به ولي دَ رندانو عیب نکا تل له مرد سَرَه نامرد په غم غیرت وئ
ستا په زلفو کښ مي خوار خاطر ښاد نشو دَ مومن په کفرستان کښ څه حرمت وئ
مګر واړه جوهري په مرګ تام شول چه تر دُر به دَ ژلیِ زیات قیمت وئ
بل جنت ئې شیخه تا وَته بخښلي
دَ خوشحال دِ هم دَ یار کوڅه جنت وِئ

هغه مخ چه ښایسته دَ ننداړو وئ[3] چه ئې ویني دَ هر چا پسې هو هو وئ
دَ بلبلو له بلغاک نه دلګیر مشه هغه ځاي چه رنګ و بو وي ګفتګو وئ
که هر څو ښایسته ډېر دي ګمان نکړم چه به بله لکه ته پاکېزه رو وئ
تور ګیسو پر همګي صورت خپاره کړه چه دِ درست صورت همه دَ مشکو بو وئ

---

[1] په لوری کېږی.

[2] پټې (دریاب) .

[3] دا بدله له یوې قلمی نسخې څخه وکښل سوه په نورو کښی نسته.

Downloaded from: ketabton.com



زه به سترګي ستا له مخه نه وانخلم | مخامخ که تیر انداز راته یو څو وئ
قاصدان ځما دَ اوښیو ښتو پورته | همېشه دَ ښلي مخ په جستجو وئ
نن چه ته لمانه ځې زړه مي خوشحال کړه | یاره ستا وعده به کله دَ راتلو وئ
کاتبان به ئې په کومو ګوتو کښینه | غه خبري چه سوځونکي تر لمبو وئ
دَ سحر په بلا ته یاد شې اې چرګه! | ستا په ږغ دَ عاشق زړه په پرهرو وئ

دَ خوشحال خټك له حاله خبر دار شوي
چه په زړه به ئې دَ عشق داغونه څو وئ

هغه څه دَي روغ صورت دئ | چه بهتر تر سلطنت دئ
دَ دنیا دولت که ښه وئ | یَو دولت نه ښه عزت دئ
چه ډېر ښه دئ تر توقیره | یَو عفت بل صداقت دئ
چه سړی له غمه خلاص کا | هغه څه دَئ قناعت دئ
په طاعت که ته لوئي کړې | حبطه هغه طاعت دئ
چه فایده لري بې شماره | هغه څه دئ، مصلحت دئ
په منت چه ورکول کا | هغه کله سخاوت دئ
چه دوږخ دئ په دنیا کښ | دَ ناپوه سره صحبت دئ

خپل نیت ښه لره خوشحاله
که څه ښه دَئ خو ښه نیت دئ

هغه یار که په ظاهر له ما جدا دَئ | په باتن کښ هر زمان را هویدا دَئ
دَ ژوندیو یو سَرَه ګرزي په علم کښ | خوار عاشق په معشوقه باندي فدا دئ
کښت چه وسیځي باران وورباندي مشه | که په خوارو به کرم کړې ساعت دا دئ
که ئې غواړم په کوګل کښ مونده نشي | زړه مي ولاړ دَ ښایسته وو په سودا دئ
خدای به امن دَ هر چا له سترګو وکړه | یو عجب صحبت دَ مینی ابتدا دئ
زه به زار کَوم له دِله نه له یاره | چه په څو په بې پروا باندي شیدا دئ
خپله مینه په عاشق باندِي سور اور شوه | چه پرې سیځي خبر دار باندي خدا دئ
ګوره څو قرنه کالونه باندِي تېر شوه | چه فرهاد په بې ستون کښ لا صدا دئ

زه خوشحال به چا ته څه وایم له حاله
دَ زړه حال دَ مخ په رنګ پوري پیدا دئ

هر سړی چه دَ اخلاص په لاري درومي | که هر څو په غرونو درومي نه به نغومي
نومیدي د ښه بادشاه په درګاه نشته | هر سړَی چه خدمت کا نتیجه مومي
د ما زړه دَ ټول دلبرو تر میان ورک شوم | نوم دَ کوم یوې آخلم چه څه نومي
ښه چه زه په عاشقی کښ شهید شوم | پدا لاري کښ څه لږ ندئ لړومي
ما دَ سویو ښکار کاوه هوسی ښکار کړه | د ما زوق به کله تله دَ بل تر کومی

نور دِ صافي پیالې خوري نصیب ئې غم دئ
که خوشحال په درد و دوک کښي پیالې شومي

Downloaded from: ketabton.com



هغه یار چه له ما لیري په هواد[1] دئ همېشه راته حاضر دَ زړه په یاد دَئ
دَ وصال خوښي ئې هم لا هونبره نده چه مي زړه دَ ده له خیاله سَرَه ښاد دئ
بېهوده له یاره زار کوَم وَ چا ته دَ خپل یار له جوره چا مونډلي داد دئ
پما واړه چارِي وکړې آشنایی په ناحق مي له ښېلتونه نه فریاد دئ
چه مي هیڅ اثر دَ آه ورباندې نشي دا ناترس خاطر ئې کاڼی که فولاد دئ
دَ خطا هوسی په بوي دَ نافې ښکار شي راته بس دَ هغو زلفو بوي مراد دئ
ته چه ما وته ارشاد کوې په عشق کښ کله غوږ دَ عاشقانو په ارشاد دئ
چه په هیڅ توکي د ما له زړه نه ځي دَ خپل یار دَ میني څه محکم بنیاد دئ
یو زمان ورځني خلاص نه یم په عمر په ما خوار باندې دَ عشق جور معتاد دئ
څه عجب ښه بوي راځي دَ یار له لوریه نن ځما دَ زړه دمه دَ صبا باد دئ
تل گرېوان په اوښیو لوند ساړه آهُونه
چه خوشحال مَین کېده دا ئې هِداد دئ

هر خاطر چه نا قرار شي قراري ئې په دیدار شي
چه خپل زړه و چا ته ورکا هغه څه په خواري خوار شي
هسې سیند لَرم په سترگو چه جمنا ورته رودبار شي
یَو څه راز لَرم په زړه کښ هیڅوک نشته چه راز دار شي
هسې ژاړم له ښېلتونه چه غلیم را سَرَه یار شي
زه هم عار لَرم له خلقه که دَ خلقو له ما عار شیي
واویلا علاج ئې څه کړم پرهارونه په پرهار شي
هونبره ډېر پیران شیخان دئ نشته یَو چه مدد گار شي
په ښېلتون دَ خندا مخو
دَ خوشحال ژړا آزار شي

هوسی سترگي لب شکري په غاښو یې مرغلري
تا به ستایم په څو رنگه ستا ثنا دَ مخ دلبري
چه جمال وَته دي گورم حیرانېږَم سمنبري
خوي دي نن را سَرَه نور دَئ دَم واهَه نشي له ویري
ذکر ستا د تنگی خولې دَئ رنگینه پري پېکري
زړه چه ستا سَرَه یاري کړي سلامت به اوسي چري
شور دي گډ کړ په وگړي صبر ورُوني شور و شري
صبر وړې چه له تا دور شي طربناکې ناز پروري
ظاهر نن له تا جدا یم عینِ ما ته برابري
قامت سَم لرې تر سرو کج کلاهي قد عرعري
لیري مه درومه له ما نه مخ په ما کړه مخ قمري

[1] هیواد.

Downloaded from: ketabton.com



نور به ستا له وره نه ځم     وینا دا ده پرده دري
هر چه ستا رضا هغه کړي
خوشحال وَینوې په غوري

هي هي توبه لتانه ستا له خویه بویه تښتَي     د ما خاطر دِ وریت کړ لکه سیخ په لمبو یښتَي
له سترګو ورځیو زلفو له بنو به دئ ځان څه وړم     دَ مخ سپایان دِ هسي راته جوړ لښکر زه ګُښي[1]
د ما په بخره نیاز دئ چه عاشق یم زه به نیاز کړم     دَ ناز اسباب مي واړه معشوقې وته پریښيَ
په مخ دَ مهوشانو چه څه خال و خط لیده شي     بلا دَ ځان دَ زړه دي که ئې ګورې ګُښي ګُښيَ
عاشق په اندېښنو کښ دَ تازي غُندي نس نغښتي     غافل په بې غمي کښ دَ سنډه غُندي بد غوښيَ
بد خواه دِ په قصد کړې دَه خوشحاله ملا محکمه
څه وېره څه اندوه کړې ته هم وروته یې چابلښيَ

هر چرته چه ته کښېنې هغه ځاي دَ ګلو باغ شِي     چه درومې په چمن کښ دَ لاله شینه داغ داغ شِي
چه باد دِ توري زلفي په سپین مخ کاندي پرېشاني     دَ مښکو دَ عنبرو بوي پرېشان په هر دماغ شِي
په زلفو کښ دِ ورک د ما زړګي شو مخ څرګند کړه     دَ ورک کالي غوښتنه تل په توره شپه په څراغ شِي
چه ما مزه موندلې ستا دَ شونډو دروغځن یم     که دا مزه به هم مونده دَ میو به اياغ شِي
پیغام ځما اې باده تر شیدا بلبلو ورووړه     لا شك چه پدا باغ کښ دَ ګل بوي د ګل سراغ شِي
یَو دم دَ خوار خوشحال سَرَه ته هم فراغت کښېنه
چه زړه ئې له د یو ډېرو اندېښنو څه خو فراغ شِي

یا ما زده یا مي سترګو چه نن شپه را باندي تېر دئ     یا ما زده یا هغو زده چه وهلي په شمشېر دي
دارو ئې د درد مکړه نه ئې روخ دَ رغېدو دئ     چه خود په زړه داړلي دَ خوبا دَ چشمو شېر دي
له درده نه خلاصېږم چه طبیب پسې طلب کړم     ګنه هیڅ کمي ئې نشته طبیبان په جهان ډېر دي
عاشق دِ لا دوخته خپله زېرمه دَ کفن کا     چه تور بانه ئې غشي و کشتن وته دلیر دي
عاشق ته ښکارېږي لکه مخ په آئینه کښ     دَ شاه دَ جمال نخښي که تر زر نڅقَ تېر دي
څه ته و ما ته وایې اې ناصحه چه عشق هېر کړه     چه بې دَ عشق له کاره مي نور ټول کارونه هېر دي
خوشحال ختك چه بیا مونده لذت دَ یار د شونډُو
و ده وته نور واړه دَ جهان خواږه ګنډ هېر دي

یا خو مکړه لېوني سَرَه یاري     یا دَ ګند د پهوړی[2] کړه تیاري
چه په نور څه ئې حساب ګڼی هغه زده     زه بې یاره عمر کل ګڼم خواري
چه دَ یار دَ راغلو زېري په ما وکا     تر هغه سړی به زه شم بلهاري[3]
په خرام کښ د هوسی علامت ګوره     دَ ګزار وار ئې خطا کړ دَ ښکاري

---

[1] زه کښی.

[2] پهوړی یا پوهړی یعنی بوریا.

[3] محشی ورته قربانی لیکلی دی.

Downloaded from: ketabton.com



ځما حال به و هغه وته معلوم وِئ    چه تمامه شپه بیدار ستورِي شماري
خداي دِ تا په جهان تل لَرِي اې باده    چه ځما دَ یار تر منځ کړې رهباري
معطر دَ شاه دَ زلفو نه را درومې    ستا له بویه نافه ځار شه تاتاري
چه وعده دَ یار دَ وصل نېژدې کېږِي    دَ عاشق له زړه نه درومي قراري
که ئې ستا د وروځیو خال په نظر کښېووت
دَ خوشحال شِي نور له غمه وېزاري

یَو قدم چه په خلاف دَ نفس روان شي    په هغه زمان ولي هغه انسان شي
چه دَ نس په حکم درومي هغه خوار وِئ    سړی توب ور ځخه مه غواړه شیطان شي
دا سړی چه فرښته دئ هم شیطان دَئ    که سړی و خپل عمل ته نګران شي
یو په بد عمل کښ ځِي تحت الثراي ته    بل په ښه عمل کښ پاسه په اسمان شي
دا سړی دی چه په عقل کښ سړی دئ    دا سړی دئ چه په عقل کښی ددان شي
دا خونونه په ټوپك په توره نشي    دا خونونه چه دَ خلقو په زبان شي
تربیت که دَ باغوان له لاسه مومي    په هر ځای باندِي ګلونه دَ بوستان شي
هوا ستا د سَرَه چه کښېني یَو ځو ورځې    دَ هغه هنر په ده کښی نمایان شي
دَ نېکانو په صحبت کښ به ښه کېږِي    اولیا له اولیا نه را عیان شي
چه مغلو سَرَه کښېناسته مغل شه    دَ افغان سَرَه که کښېنی نور افغان شي
دَ خوشحال سَرَه که کښېنی یَو ځو کاله
دا دَ غره خټك به واړه شاعران شي

یا په تخت باندِي بادشاه وَئ    یا دروېش دَ خانقاه وَئ
چه په لار دِي هغه ډېر دِئ    یَو ځو ما غُندي ګمراه وَئ
زه هر دم په بسم اللّٰه یَم    که یاران په بسم اللّٰه وَئ
چه ئې کار دَ مېړه نه وئ    هغه نه وَئ مېړه داه[1] وَئ
په شماره مي زویه ورک دِئ    که یو ځو بکښېي واه واه وَئ
غاړِي غرُونه ځني ډک دي    سر انجام که دَ سپاه وَئ
ابلقي په کار کښ هېڅ وئ    یا درست سپین وَئ یا سیاه وَئ
توره شپه دَه دَ غمونو    دَ ښادیِ صبح ګاه وَئ
په خوشحال به ئې بد نه وې
ګه ئې ځوک په حال آګاه وَئ

# لمړی ټوک بشپړ سو

[1] محشی ورته وینځه کښلی دی، یعنی خدمتکار.

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com - ebooks library**